تَنوِیرُ الجِنان

فِی

مُشکِلاتِ القُرآن

جلد اول

(پښتو)





شیخ القرآن والحدیث حضرت العلامه مولانا

محمد طیب طاهری سلمه الله الباری

ناشر مکتبة الیمان دار القرآن پنج پیر صوابی پاکستان

www.panjpir.org



عظیم الشان خوشخبری



★ اب مکتبہ اشاعت آپ کے جیب میں ★

دنیا میں کسی بھی جگہ علماء جماعت اشاعت التوحید والسنۃ کے تمام تصانیف

Play Store اور Website سے بالکل فری انسٹال / ڈاؤن لوڈ کریں۔



انسٹال / ڈاؤن لوڈ کرنے کا طریقہ



Play Store سے " مکتبۃ الاشاعت " انسٹال کرنے کے بعد ایپ میں مطلوبہ کتاب ڈاون لوڈ کریں نیز اپنی کتاب کو Website / Play Store پر مفت شائع کرنے کے لیے بھی رابطہ کریں۔

نیز ماہنامہ التوحید والسنۃ پلے سٹور اور ویب سائٹ دونوں پر دستیاب ہے۔

نوٹ

ویب سائٹ پر جماعت اشاعت التوحید والسنۃ کے تمام تصانیف مثلاً تفاسیر، فتاویٰ جات، شروح، سوانح حیات، نوٹس، درس نظامی کے کتب وغیرہ دستیاب ہیں آپ وقتاً بوقتاً Play Store اور website پر چیک کیا کریں مزید معلومات کے لیے دیے گئے واٹس ایپ نمبر پر رابطہ کریں۔ وہاں آپ کو آسانی کے لئے مطلوبہ کتاب کا link دیا جائے گا اور آپ کو بہترین رہنمائی دی جائے گی جس سے آپ کو مطلوبہ کتاب آسانی سے ملے گا۔ پلے سٹور پر ترجمہ و تفسیر یا سورتوں کے نوعیت والے تصانیف دستیاب ہوں ہیں کیونکہ ایک PDF میں اس کا مطالعہ مشکل ہوتا ہے تو ہم نے آسانی کے لیے ہر ایک پارے کے لیے الگ الگ بٹن بنایا ہے تاکہ قارئین کے لیے پڑھنے میں آسانی ہو باقی تمام نوعیت کے تصانیف مندرجہ ذیل ویب سائیٹ پر دستیاب ہوں گے۔ جو Goggle پر مزکورہ ویب سائیٹ میں سرچ کرنے سے یا ہمارے مندرجہ بالا app " مکتبۃ الاشاعت " کو پلے سٹور سے انسٹال کرنے کے بعد ایپ میں سرچ کرنے سے ملیں گے۔ آسانی کے لیے ویب سائیٹ پر links ملاحظہ کیجئے۔ جزاکم اللہ

WhatsApp:0320-1914145

ویب سائیٹ **maktabatulishaat.com** (مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام)

حقوق الطبع محفوظة للناشر

اسم الکتاب: تنویر الجنان فی مشکلات القرآن

المصنف: شیخ القرآن والحدیث حضرت العلامه مولانا
محمد طیب طاهری سلمہ اللہ الباری

کمپوزنگ: محمد اعظم طارق بدخشانی حفظہ اللہ

جلد اول

طبع: اوّل

تعداد: ۱۱۰۰

تاریخ الطبع: ۱۰ رمضان ۱۴۳۲ھ ۱۰، اگست ۲۰۱۱ء

الناشر: مکتبۃ الیمان دار القرآن پنج پیر صوابی پاکستان

فون: ۰۹۳۸،۲۲۱۸۰۳

دار القرآن پنج پیر ویب سائٹ website: www.panjpir.org

مطبع: اشاعت اکیڈمی عبدالغنی پلازہ محلہ جنگی پشاور
۰۹۱،۲۵۸۰۳۲۵

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(اعتذار)
یہ جلد اول کے صفحہ ۳۰۹ نہ
رو صفحوں یہ غلطی سے حصہ دوم
لیکھے گئے سے دو۔ آئندہ ایڈیشن
کئے۔ اصلاح کر دی گئی ہے۔
شکریہ

بسم اللّٰہ الرحمن الرحیم

سریزه

الحمد لله الذی انزل علی عبده الکتٰب ولم یجعل له عوجاً، والصلوٰة والسلام علی رسوله مبشراً ونذیراً وداعیاً الی الله باذنه وسراجاً منیراً، وعلی اٰله واصحابه اجمعین وعلی من تبعهم باحسان الی یوم الدین.

اما بعد ـــــ د بنی نوع انسان ژوندتیرول بغیر د قانون او ضابطے نه مشکل او گران وو، خو دغه قانون که د انسان جوړ شوے قانون وی، نو دا وقتی طور فائده مندشی، خو دوام نه لری بلکه وقتی طور هم ناقص او دیو څو کسانو د رائے برابروی لیکن که دا قانون او ضابطه دهغه ذات د طرفنه وی چه هغه دا مخلوق پیدا کړے دے نو هغه ذات د بنی نوع انسان، په هر ضرورت فائده او نقصان عالم دے نو دا قانون به مداومت لری حکه چه پدے کښی د انسان د جوندار ود دنیا او آخرت تولے لارے گودرے خودلے شوے دی، حکاره خبره ده چه هغه قانون د الله تعالیٰ کتاب قرآن کریم دے او دا یو مکمل ضابطه حیات دے، خو د افسوس خبره داده چه قرآن کریم صرف د تلاوت د پاره گرخولے شوے وو، او د دے مقاصد او مطالب او دهرے زمانے سره لگول او په هره زمانه کښی پدے باندے د مخلوق علاج کول پریخودے شوے وو الله تعالیٰ دے، خما په والد محترم حضرت العلامه شیخ المشائخ شیخ القرآن والحدیث مولانا محمد طاهر رحمه الله رحمتونه اوکړی چه هغوی پدے صدے کښی د قرآن فهمی تحریك او چلولو او په لکهونو شاگردان ئے

پیدا کړل چه ددنیا په مختلفو ملکونو کښې هغوی دقرآن کریم درسونه

کړی،څه په څېله،

سعودی عرب، دبی، شارجه، الفجیره، العین، دوحه قطر، ابوظبی، ملیشیا، چین

العرض چه کوم ملك ته لاړیم نوهلته دحضرت شیخ القرآنؒ والد محترم

شاګردان دقرآن کریم درسونه کوی په هغې شاګردانو کښې یوادنی شاګرد

څه هم ووم چه مادخپل والد محترم نه دیرش ۳۰ څله قرآن کریم ویلے

دے اوپه هردرس کښې ماڅه ناڅه نکات اواهمے خبرے په پښتوژبه

کښ لیکلے دی اوبیاوخت په وخت چه کله دحضرت شیخ القرآنؒ دوفات

نه بعدماپه ۱۹۸۷ ،کښې درس قرآن شروع کړونوپدے لیکلو کښې مے

کمے اوزیاتے هم کولو، ددوستانو اصرارو و چه دامشکلات القرآن منظر

عام ته راشی،نو دهغوی دتمنا پوره کولواودحضرت شیخ القرانؒ د صدقه

جاریه په نیت موښردچهاپ کولواراده وکړه، اوددے دپاره ما نوم،

"تنویر الجنان فی مشکلات القرآن "منتخب کړو، که پدے کښې څه قسم

غلطی وی نو څه دعلماء کرامونه امید کوم چه مابه خبر کړی او آئنده به پل

ایډیشن کښې موښردهغے ازاله اوکړو ځکه چه بغیر دالله تعالی د کتاب نه بل

کتاب دغلطی نه خالی نه وی

په آخر کښې، څه دخپل خصوصی شاګردمولوی محمداعظم طارق بدخشانی

شکریه اداکوم چه هغه ددے کتاب کتابت په کمپیوټرو کړوالله تعالی دے

ددے اجر په دنیا او آخرت ورکړی آمین ثم آمین،

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

تفیسر سورۃ الفاتحة

مکی سورت دے په نزول کښې ه پس دسورۃ مدثر نه نازل دے،

اول موږ دا بیانوو چه قرآن کریم کوم ترتیب سره زموږ تاسو مخے ته پروت دے پدی ترتیب باندې لوح محفوظ کښې هم وو، خو کله چه قرآن به نازلیده نو هغه آیتونه به راتلل چه د کوم ضرورت وو او سره د دې به ئې نبی علیه السلام ته داسې ووئیل چه دا آیت فلانی ځائې کښې دے، د دې مثال داسې دے لکه یو هلك د ډاکټری کورس کوی نو اول د سر علاج بیا د مرئی علاج، بیا د ګیډے علاج زده کوی خو کله چه وطن ته راشی او هغه ته د ګیډے مریض راشی نو هغه ته د ګیډے علاج کوی، نه اول د سر دارنګه د مقرر مثال دے چه د قرآن کریم نه هغه آیتونه راخلی چه د هغه د موضوع موافق وی نو د قرآن کریم به هم هغه آیتونه راتلل چه هغې ته به ضرورت وو، پس د دې نه موږ به هر سورۃ په ابتداء کښې پنځه خبرې ذکر کوو، انشاء اللہ،

اول ..... ربط د سورۃ چه د دې سورۃ مخکښې سورۃ سره څه مناسبت دے،

دویم ..... امتیازات د سورۃ چه دا سورۃ د نورو سورتونو نه په څه خبرو ممتاز دے،

دریم ..... دعوی د سورۃ چه د دې سورۃ کښې مرکزی او مقصودی مسئله څه ده،

څلورم ..... تقسیم د سورۃ او خلاصه د سورۃ یعنی سورۃ په څو حصو تقسیمول او د هغه تجزیه ذکر کول.

پنځم ..... مشکلات د سورۃ

ربط باره کښې علامه سیوطیؒ المتوفی ۹۹۱ وائي،
(واعلم انّ علم المناسبة بين السور علم قل التفات المفسرين فيه لدقته)
امام فخر الدين الرازيؒ وائي
(اكثر لطائف القرآن مودعة في الترتيبات والروابط)
مفسرينو پدې مستقل کتابونه هم ليکلي دي لکه علامه ابو حيان جعفر بن الزبير المتوفی ۷۰۸ پدې (البرهان في مناسبة سور القرآن) ليکلے دے او امام برهان الدين ابراهيم بن عمر البقاعي المتوفی ۸۸۵ھ په شل جلده کښې نظم الدرر في تناسب السور ليکلے دے جلال الدين السيوطيؒ المتوفی ۹۱۱ پدې تناسق الدرر في تناسب السور ليکلے دے ،او اسرار التنزيل کښې هم ورته اشارے کړې شيخ ابوبکر النيشابوريؒ ته وائي چه علماء دبغداد دې طرف ته توجه نده کړې شاه محمد حکيم القزوينيؒ چه د جلال الدينؒ شاګرد وو هم دې روابطو او مناسبتونو ته اشارے کړې دي امام فخر الدينؒ په تفسير کبير کښې اشارے کړې
تفسير قرآن کريم دپاره څلور طريقے دي
۱ تفسير القرآن بالقرآن
۲ تفسير القرآن بالحديث
۳ تفسير القرآن باقوال الصحابةؓ
٤ تفسير القرآن باقوال التابعين
دريمه خبره داچه په ځائي کښې دمفسرينو کرام اقوال وي نو شيخ القرآنؒ چه کوم قول ته ترجيح ورکړې وي هغې ته به ترجيح ورکوم او دهغه

تائید کښې به د مفسرین اقوال پیش کوم انشاء الله.

ربط — ربط د سورة ماسبقه سره محکښې سورة نشته نو مونږ اسماء د سورة فاتحه او فضیلت ذکر کوو. د دې سورة ګڼ نومونه دی او ګڼ نومونه دلالت کوی په عظمت د شی باندې.

اسماء السورة الفاتحه

الفاتحة — داورته ځکه وائی چه په د سورة شروع کیږی.

الشافية — داځکه چه په دې سورة کښې شفاء ده د خلقو دپاره.

الكافية — داځکه چه دا سورة دنیا او آخرت کښې کافی دے.

الرقية — داځکه ورته وائی چه دا سورة دم دے لکه ابوسعید خدری یو قوم ته لاړو او هغوی ورته میلمستیانه وه ورکړی نو د هغوی مشر ړوند او چیچلو نو هغه کسان دوئی ته راغلو نو ابوسعید خدری ورسره لاړو او هلته ئے اووه ځله سورة فاتحه پرے دم کړه نو هغه جوړ شو بیا هغه مشر ورته دیرش چیلئی ورکړے نو دوئی ترے واخستی.

(د دې روایت نه دم کړ دلیل نیسی په اجرة علی الرقیة باندې مونږ وایو چه دینه دلیل نیول ندی صحیح یو د دې وجے نه چه دا دارالحرب وو، او دارالحرب نه مال په هر طریقه راښکل جائز دے دوجے نبی علیه السلام ورته اویل.

(اجعلولی فیها سهما) نو پیغمبر ﷺ به دم کښې څه حصه وه خو دا مال فئی وو.

وافیه — داځکه چه په اعتبار د مضامینو پوره دے.

واقیه — دا سورة بچ کوونکے د جهنم نه دے.

الصلوة ــ داځکه چه مانځه کښې لوستے شی،

الحمد ــ داځکه چه دا اول سورة دے چه هغې کښې حمد دے،

الکنز ــ دا سورة هم خزانه ده دعلومو،

سبع المثانی ــ ځکه دا ۷، آیاتونو دی او بیا بیا ویلے شی په هر رکعت کښې،

اساس القرآن ــ بنیاد،

ام الکتاب ــ ام وائی اصل ته لکه عرب پردے ددماغو ته ام الدماغ وائی،

اومکے ته ام القری وائی ځکه چه هغې ته خلق راجمع کیږی او یاده چه دنیا ترے خوره ده نودی سورة ته ام الکتاب وائی ځکه چه د قرآن ټول مضامین پکښې جمع دی،

امتیازات السورة

(۱) ــ دا سورة ممتاز دے په ګڼړو نومونو باندی،

(۲) دارقطنی دی باره کښې وائی چه څومره صحیح روایات دی سورة باره کښې راغلی دی، دومره د بل سورة بارے کښې نشته،

قال علیه السلام فیها انه لم ینزل فی التوراة ولافی الانجیل ولافی الزبور ولافی القرآن مثلها،

(۳)..... سعیدبن المعلیؓ نه په صحیح بخاری کښې اوږدروایت دے قال علیه السلام لأعلمنك سورة هی اعظم سورة فی القرآن قال الحمدلله رب العالمین هی السبع المثانی والقرآن العظیم،

(۴)..... حدیث دابو هریرةؓ کښې راځی چه نبی علیه السلام ابی بن کعبؓ ته اووے

الاعلمنّك سورة ماانزل فی التوراة ولافی الانجیل ولافی الزبورولافی القرآن مثلها پس زه امیدساتم چه دمسجد دوتونه مخکښی لیے درته وښائیم اوبیانبی علیه السلام اووے چه مانخه کښی ته څه والی نوابی بن کعبؓ سورة فاتحه ولوستله فقال علیه السلام (والذی نفسی بیده ماانزل فی التوراة ولافی الانجیل ولافی الزبورولافی القرآن مثلها انهاالسبع المثانی والقرآن العظیم الذی اوتیته)

(۵) ـــ امام بیهقیؒ المتوفی ۴۵۸ھ شعب الایمان کښی حسن بصریؒ نه اسنادحسن سره نقل کوی څه والی (انزل مائة واربعة کتب ثم اودع علومهافی اربعة منها التوراة والانجیل والزبوروالفرقان ثم اودع علومهافی المفصلات ثم من المفصلات فی فاتحة الکتاب فمن علم تفسیرهاکان کمن علم تفسیرجمیع الکتب المنزلة)

د قرآن کریم ټول علوم په سورة فاتحه کښی جمع دی اودی دپاره ګرو جوړه دی (ددی وجے نه ورته ام القرآن والی)

دو لــــــــــــــس وجهــــــــــــــے

اوله وجه ـــ قرآن کښی چندمضامین ذکر کوی اوهغه سورة فاتحه کښی ذکر دی

(۱) ـــ علم الاصول چه دهغه مداردی په معرفت دالله اودهغه د صفاتو اوهغی ته اشاره په (الحمدلله رب العالمین) سره،

(ب) ـــ معرفة النبوات، اوهغی ته اشاره په (صراط الذین انعمت علیهم) سره،

(ج) ـــ معرفة المعاد، اودیته اشاره په (مالك یوم الدین) سره،

(د) ـــ علم العبادات، اودیته اشاره په (ایاك نعبد) سره،

(ه) ـــ علم القصص والاخبار، اودیته اشاره په (صراط الذین انعمت علیهم

غير المغضوب عليهم ولا الضالين)سره.

(۲) دویمه وجه ،امام غزالیؒ المتوفی۵۰۵ھ په خپل تفسیر جواهر القرآن کښې ذکر کوی چه قرآن کښې (۱۰) لس علوم ذکر کیږی.

التزكية	ذكر المعاد	معرفة الأفعال	معرفة الصفات	معرفة الذات
احكام الفقهاء	محاجة الكفار	ذكرغضب الأعداء	ذكرنعمة الأولياء	التحلية

اوّل اته مضامين سورة فاتحه کښې ذکر دی او دوه آخری نشته لیکن ،شیخ القرآن وائی چه دے پوه نه شو بلکه د ا آخری مضامین هم په فاتحه کښې اياك نعبدو اياك نستعين کښې ذکر دی (وشیخ القرآنؒ (سمط الدرر کښې) وائی چه دازه یواځے نه وایم بلکه دا، کماذکرعن السیوطیؒ او دینده نه غلطی کیږی(فسبحان الذی لاینسی)

امام غزالیؒ خپله هم اقرار کړے دے چه ما عمر ضائع کړو.

(وقد ضيعنا شطراً صالحاً من العمر في تصنيف الخلاف منه وصرفنا قدراً صالحاً منه الى تصانيف المذهب وترتيبه الى بسيط ووسيط ووجيز)

او دهغه شاګرد قاضی ابن العربی المغافری المتوفی۵۴۳ھ وائی (شیخنا ابو حامد دخل في بطن الفلاسفة ثم اراد ان يخرج منهم فما قدر)التاج المكلل.

او علامه ابن تیمیه په خپل کتاب الرد على المنطقين صفحه ۵۱۰ کښې وائی.

امرضه الشفاء(الشفاء كتاب ابي علي بن سينا)

(۳) دریمه وجه ،دا سورة مشتمل دے په حمد،ثنا،تحمید،استعانت او دعاء باندلکه حدیث کښې هم راغلی قسمت الصلاة بيني وبين عبدي ځکه چه اوّل اوصاف دالله دی اوبیاسوال د بنده ذکر کوی.

(٤) خلورمه وجه، قرآن په درے اقسامو مشتمل دے،

(الف)......الأسماء والصّفات، (ب) ......وعدوعيد، (ج)......احكام،

اول ته اشاره په الحمدلله الرحيم سره دويم ته په مالك يوم الدين سره او دريم ته په

اياك نعبدو اياك نستعين سره،

(٥)......پنځمه وجه ......آياتونه دقرآن په دوه قسمه دی،

(١) ......علمي (٢) ......عملي (بعضو باندصرف علم ضروری وی لکه اسماء

دالله) نو فاتحه په دواړو مشتمله ده په اول باندی (الحمدلله تامالك يوم

الدين) دويم باند (اياك نعبدو اياك نستعين)،

(٦) ......شپږمه وجه ......(ابو عبدالله المازنیؒ) قرآن په دروقسمو باندے دے

(١) ......الٰهيات (٢) ......نبوات (٣) ......اوامر او نواهی،

قرآن کښی دادرے واړه کله يو ځائی ذکر کوی لکه سورة فاتحه په دی درے

واړو مشتمله ده اول ته اشاره په (الحمدلله رب العالمين) سره،

دويم ......(نبوات) ته اشاره په لسو نکتو دا ثبات الرسالة سره (دالس تکی به راشی)

دريم ......(او امر او نواهی) ته اشاره په (اياك نعبدو اياك نستعين) سره،

(٧) ......اوومه وجه (ابو عبدالله المازنیؒ) قرآن په درو حصو تقسم دے

(١) ......قصص (٢) ......احكام (٣) ......اوصاف، او سورة فاتحه کښی دادرے

واړه اقسام شته اوّل ته اشاره په (الذين انعمت تا ولا الضآلين) سره،

دويم ته اشاره په (اياك نعبدو اياك نستعين) سره،

دريم ته اشاره په (الحمدلله تايوم الدين) سره،

(٨) ......اتمه وجه، قرآن کښی مقصود دی خبرامور دی

(الف) الهیات(ب) معاد(ج) نبوات(د) اثبات القضاء والقدر لله تعالی،

اول امرته په سورة فاتحه کښې اشاره کوی په (الحمدلله رب العالمین الرحمن الرحیم)سره.

دویم امرته اشاره په (مالك یوم الدین)سره،

دریم ته اشاره په (اهدنا الصراط المستقیم) سره(صراط مستقیم نه مراد یا اتباع د پیغمبر علیه السلام ده)او څلورم ته اشاره په ایاك نعبدو ایاك نستعین سره(ځکه چه دا آیت دلالت کوی په نفی د جبر او قدر باندې)

(۹) نهمه وجه ،صاحب کشاف(محمود بن عمر بن محمد بن احمد الزمخشری المتوفی ۵۳۸ وائی چه قرآن کښې ثنا ،صفت ،اوامر ،نواهی ،وعد ،وعید ذکر کیږی اوهغه سورة فاتحه کښې شته،

(۱۰) لسمه وجه(قاضی بیضاوی)قرآن کښې دوه قسمه احکام بیانوی،

(۱) احکام نظریه(۲) احکام عملیه (د اوّل تعلق عقیدې سره دې دویم تعلق عمل سره دې او دا دواړه سورة فاتحه کښې ذکر کوی احکام نظریه په اوّل درو آیاتونو کښې او احکام عملیه په ایاك نعبدو ایاك نستعین کښې(وایضا مراتب الابرار وشقاو الأعداء هما فی الفاتحة،

(۱۱) یوولسمه وجه(علامه طیبی)قرآن په څلورو علوموباندتقسیم دې،

(۱) علم الاصول(یعنی معرفة لله وصفاته)(۲)علم الفروع،

اوّل ته اشاره په (الحمدلله رب العلمین الرحمن الرحیم)سره

دویم ته اشاره په (ایاك نعبد)سره،

(۳)...... علم الأخلاق چه سړے کمال ته پری رسی او دا په ایاك نستعین اهدنا الصراط المستقیم) سره بیانوی،

(٤)...... علم القصص والاخبار او دا په (انعمت علیهم غیر المغضوب علیهم ولا الضآلین) سره بیانوی،

(۱۲)...... دولسمه وجه (شیخ المشائخ مولانا حسین علیؒ) قرآن په، څلورو حصو تقسیم دے او هره حصه شروع ده په الحمدلله سره،

(الف)...... اوله دسرنه سورة انعام پورے وفیها خالق لکل شیء هو الله

(ب)...... دویمه دسورة انعام نه ترسورة کهف پورے په دی کښی اصل مسئله مربی لکل شیء هو الله

(ج)...... دریمه دسورة کهف نه سورة سبا پورے پدی کښی اصل مسئله مبرك فی کل شیء هو الله

(د)...... څلورمه حصه دسباء نه تر آخره پورے په دی کښی دوه مسئلے بیانوی،

(۱)...... اثباة القیامة (۲)...... نفی الشفاعة القهری،

ذی ټولو حصو ته سورة فاتحه کښی اشاره کړی اوله ته اشاره په الحمدلله سره دویم ته اشاره په رب العلمین سره دریم ته اشاره په الرحمن الرحیم سره څلورم ته اشاره په مالك یوم الدین سره،

دعوی السورة الفاتحه

اثبات د توحید هغه ذکر دے په ایاك نعبد و ایاك نستعین

خلاصه السورة الفاتحه

په دی سورة کښی مقاصدار بعه عالیه ذکر کوی،

(۱) اثباة التوحید په ینځو صفاتو سره الله، رب، رحمن، رحیم، مالك،

(۲) اثباة الرسالة په لس نکتو سره،

لس نکتے د اثباة الرسالة

(۱) — الحمدللّٰه مونږ ته طریقه دحمدنه وه معلومه محمودنه وو معلوم نو پیغمبر مونږ نه وښودل،

(۲) — رب العلمین اللّٰه زمونږ رب دے تربیت په دوه قسمه دے،

(۱) — تربیت بدنی (۲) — روحانی،

نو بدنی تربیت دپاره ئے زمکه کښی اشیاء پیدا کړل او روحی تربیت دپاره ئی انبیاء علیهم السلام رالیږلی دی،

(۳) — الرحمن الرحیم اثباة الرسالة داسے شان چه د اللّٰه مهربانی عامه ده چه د انسان بدن خیال ساتی نو د روح خیال هم ساتی اللّٰه وائی،

(ومآارسلنك الا رحمة للعالمین)

(٤) — مالك یوم الدین سره اثباة الرسالة ته اشاره داسے شان چه که اللّٰه انبیاء نه وی رالیږلے نو قیامت کښی سزا ولے ورکوی (یوم الدین معنی ورځ دجزا او سزا) لکه سورة بنی اسرائیل ۱۵، مائده ۱۹، نساء ۱٦۵، قصص ٤۷،

(۵) — ایاك نعبد سره اثباة الرسالة ته اشاره مونږ ته لار دعبادت نه وه معلومه ځکه چه په عقل عبادت نه معلومیږی، مسلم الثبوت کښی وائی۔

فان العقل لا تستقل بمعرفة الشرائع ځو لیکی عقل او نقل دواړه منځ کښی

اتفاق شته حوځکه عقل سلیم وی پدی علماو کتابونه لیکلی دی لکه شاه ولی

الله حجة الله البالغة او علامه ابن تیمیه (دفع التعارض بین العقل والنقل)

نامی کتاب لیکلے دے۔

علامه ابن قیمؒ دهغه باره کښی وائی

فاقرأ کتاب العقل والنقل الذی ما فی الوجود له نظیر ثان

او مبتدعین ځکه غرق شول چه پیغمبر طریقه ئی پریخوده او عقل پسے روان

شول لکه سورة جاثیه ۱۸ او ګوره ائمه کرامؒ مبتدعین نه ور بلکه هغوئی

مظهر للشریعة و شیخ القرآنؒ سمط الدرر کښی وائی وقیاس الائمه مظهر

للحکم الشرعی لیس بمخترع للبدع کما یظنُّ

(۶)..... ایاك نستعین، مونږ ته د استعانت طریقه نه وه معلومه نو پیغمبر را اعلوم مونږته ئی

وښودل،

(۷)..... اهدنا صراط المستقیم، صراط مستقیم اتباع د پیغمبر ده نو معلومه شوه چه

الله پیغمبر رالیږلے دے۔

(۸)..... صراط الذین انعمت علیهم، منعوم علیهم مونږ ته نه وو معلوم کله چه الله

پیغمبر راولیږل کومو خلقو چه هغه تابعداری وکړه نو مونږته معلوم شول،

(۹)..... غیر المغضوب علیهم، مغضوب علیهم مونږ ته پته نه وه نو مونږته ئی پیغمبر

راولیږل،

(۱۰)..... ولا الضآلین، مونږته ضآلین نه وو معلوم الله پیغمبر راوستول مونږته ئی

وښودل،

۳)..... صداقة القرآن، په اهدنا الصراط المستقیم سره بیانوی (مراد د صراط مستقیم

نه اتباع دقرآن ده)

(٤) اثبات القیامة،په مالك یوم الدین سره کوی او درے ډلے ذکر کوی.

(١) منعوم علیهم(٢) مغضوب علیهم(٣) ضالین.

روابط بین الآیات

(١) الحمدلله،حمدونه ولے رایم ځکه چه رب العالمین دے،

(ب) الحمدلله،حمدونه ولے وایم ځکه چه الرحمن الرحیم،

(ج) الحمدلله،حمدونه ځکه وایم چه مالك یوم الدین،

اوس که دپنځو صفاتو والا ذات راضی کوے نو ایاك نعبدوایاك نستعین نوعبادت ئی ځنګه وکړم اهدناالصراط المستقیم دپیغمبرپه طریقه یاندقرآن په طریقه باند که دادی او کړل نوسترګی به دی روښانه شی ډلے به درته معلومی شی،

(١) منعوم علیهم(٢) مغضوب علیهم(٣) ضآلین،

دادرے ډلے وپیژنه،

(٢) اول توحیدفی الالوهیت دے په الحمدلله کښی،

(٣) بیاتوحیدفی الربوبیت دے په ربّ العٰلمین کښی،

دارنګه توحیدفی الأسماء والصفات په پنځو صفاتو سره

(الله، رب ،رحمٰن رحیم، مالك)

اول پنځو صفاتو سره عقیده سمه کړه بیاهغه نه پس عبادت دالله کوه ځکه الله وائی (وقدمناآلی ماعملوامن عملٍ فجعلنه هبآءً منثوراً)بل ځائی وائی

(ومن یعمل من الصّٰلحٰت وھومومن فلاکفران لسعیه) نو الله عبادت داپه ایاك

نعبدو ایاك نستعین سره ذکر کوی(استعانت من الله هم عبادت دے) بیا راشه

تنظیم سره تعلق ویسه اهدنا لصراط المستقیم سره،اوبالیکاټ وکړه دنا

کاره خلقو نه غیر المغضوب علیهم ولا الضآلین،

عبدالرحمان باباهم وائی،

نه کیږی خانانو ملنګانو سره کلی چرته عزیز خان چرته ملنګ عبد الرحمان

(٤) په سورة فاتحه کښی طریقه دسوال ښائی دسائل سوال دپاره چندشرائط دی

(١) یوجه دجانه سوال کړی دهغه تعریف وکړی،

(٢) دویم خپل ضرورت دهغه سره وکړی،

(٣) دریم داچه خپل حاجت ورته وړاندی کړی(لکه داډیونس علیه السلام

سوال کښی جمع دی (ان لااله الاانت سبحانك انی کنت من الظالمین)اوداټول

سورة فاتحه کښی شته،

اوّل شرط په اسماء خمسه سره،

دویم شرط په ایاك نستعین سره،

دریم شرط په اهدنا الصراط المستقیم صراط الّذین)سره،

٥) احکام دوه قسمه دی احکام عملی احکام علمی اوّل علم وی بیا عمل

نو سورةفاتحه کښی هم دواړه قسمه بیانوی احکام علمی په اسماء خمسه

سره او احکام عملی په ایاك نعبدو ایاك نستعین سره،وایاك نستعین سره،

اوبیا (اهدناالصراط المستقیم) کښی تیوری(tewrey)ده،

او(صراط الّذین انعمت علیهم)سره پریکټیکل(prqctical)دے، لکه کالج

کښی هلکانو ته اول تیوری (tewre) بیانی بیا پریکټکل (practical) کوی، (الحمدلله) په دی کښی یو څو بحثونه دی،

(۱)...... بحث په الف لام کښی (۲)...... بحث په حمد کښی (۳) بحث په صفت دالوهیت کښی او ډایه ترتیب ذکر کول،

(۱)...... بحث په الف لام کښی بعض خلق چه کله د ال، په الحمد کښی معنی کوی نو وائی چه ټول صفتونه الله لره دی، دایه هغه وخت کښی چه الف لام استغراقی شی خو مونږ وایو چه دانه دے صحیح چه الف لام داستغراق دپاره شی ځکه صفات چه څومره دی دایه درے قسمه دی،

تـــقـسـيـــم الـــصـــفـــات

(۱)...... اول صفات مختصه دالله تعالی پوری لکه خالق، رازق، قادر،

(۲)...... دویم صفات مشترکه بین الخالق والمخلوق داصفات ظاهرامشترك دی خومخلوق ته چه نسبت کوے نو جداحیثیت لری او الله تعالی ته چه نسبت ئی کوے نو جداحیثیت لری لکه نظر دابراهیم علیه السلام باره کښی راځی (فنظرنظرة فی النجوم) او دالله تعالی په باره کښی راځی، (لننظر کیف تعملون) خو دمخلوق دنظر په ظاهراسبابو او دخالق نظر بغیر دظاهراسبابو دے،

۳)...... صفات مختصه للمخلوق لکه کثرة الاولاد، عقم (شنډوالے) نوکه دامعنی اوشی چه ټول صفتونه الله لره دی نو صفات مختصه بالمخلوق به هم ثابت شی الله لره بلکه دلته الف لام عهدخارجی دی او معهودپه دی خاص

اومناسب صفات دالله تعالى دى لكه څرنګه سيدعلامه هروىؒ ذكر كړى دى

اوپه دى روسته لِلّٰه كښې لام جاره دپاره دتخصيص دليل هم ده چه تخصيص

دحمدپه الله تعالى پورې كوى نومرادصفاتي مخصوصه دالله تعالى دى،

نومعنى داچه صفات دالوهيت خاص الله تعالى لره دى،

(۲) — بحث په حمد كښې قرآن كريم اثبات دحمدپه ډيرعجيب اندازسره كوى

كله پس ددلائلونه كله پس دهلاكت دظالم نه كله پس دوصول الى الجنة نه

اوّل — پس ددلائلونه لكه سورة الجاثيه ايت ۲۷ (ولِلّٰه ملك السَّمٰوٰت والارض)

دلائل ذكر كړى نوحمدپرې تفريع كړى ايت ۳٦ (فللّٰه الحمد)هلته هم د

سورة فاتحه مضمون دے خوطرزبدل دے،

نوسالك وائى

به هررنگى كه خواهى جامه مى پُوْشىْ من اندازقدت راميشناسم

سورة لقمان ايت ۲٦ ،عنكبوت ايت ٦۳(فاحيابه الارض)دلته حيات ثابت

دے زمكے لره خولیكن اوړى خونه دارنگه سورة روم ۱۸ دلته وائى چه حمد

په كوم وخت كښې وايئ نو(فسبحان الله حين تُمْسُوْنَ وحين تصبحون وله

الحمدفى السمٰوٰتِ والْاَرْضِ وعشيًاوَّحِيْنَ تُظْهِرُوْنَ) سحرماښام دالله

حمدونه وايه چه مونځ كوى نواوّل (سبحٰنك اللّٰهم)اوبيا الحمد للّٰه وائى

دلته هم اوّل فسبحان الله اوبيا(وله الحمد)ذكركوى دمانځه په مطلب خان

پوهه كړه،چه نبى عليه السلام به مونځ كولونو سينے به ئى جوش وهلو

څكه چه په مطلب پوهه وو امام بخارىؒ چه كله بخارى ختموى نوحديث

راوړى،

(کلمتان خفیفتان علی اللسان ثقیلتان فی المیزان حبیبتان الی الرحمن سبحان الله وبحمده سبحان الله العظیم)

دلته ئې دوخله سبحان الله اووې او نفی دشرك ئې پرې او کړه او نبی علیه السلام به چه په اوچت خالی ځنلو نو(الله اکبر) به ئې ویلو ددې وجه داوه چه خرمره هم اوچت او ځیژم نو الله لوئی دې او اوچت دې او چه ښکته به راتلل نو سبحان الله ئې ویلو، ددې وجه داوه چه که څومره پاسه وځیژم نو الله لوئی ده او که ښکته ډیر لاړشم نو الله دزوال نه پاك دې نو هروخت الله لره حمدوایه کله چه خوب نه پاسې نو(الحمدلله الذی احیانا) دارنګه دمجلس په اخیره کښې وایه (سبحانك اللهم وبحمدك) دارنګه درزق دخوراك نه پس وایه(الحمدلله الذی اطعمنا) دارنګه کاری نه ده ځنلو نه پس وایه (سبحان الذی سخرلنا) او دارنګه دپریشان حالی په نظرراتلونه پس وایه (الحمدلله الذی عافانی) دارنګه سورة انعام اول کښې وائی حمدونه دی هغه ذات لره چه اسمان اوزمکه ئې پیدا کړی دی اوتیاره او رڼائې پیدا کړی ده نو اوس وائی حمدونه هغې ذات لره دی چه قرآن ئې رالیږلې ده او دی رڼاګانې راوستلی دی دارنګه سورة کهف ۱، سورة سبا ۱، فاطر ۱۔

دریم... دارنګه پس دهلاکت دظالم نه حمدوایه لکه سورة نمل ۵۹، مومنون ۲۸، انعام ٤٥، صفت ۱۷۹، ۱۸۲ (سُبْحٰنَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ) مانخه ته نیت تړلو نه پس (سبحانك اللهم) وبل دی او اخر کښې سلام (وَسَلٰمٌ عَلَی الْمُرْسَلِیْنَ) او مینځ کښې فاتحه (وَالْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ)

دریم دارنګه پس دوصول الی الجنة نه لکه سورة یونس ۱۰، فاطر ۳۳، ۳٤ چه

دنیا کښې ئے مونځ کړے وې نو جنت کښې به هم داخیږے کوی.

(۳)...... بحث په صفت دالوهیت او په اثبات دهغه کښې.

لِلّٰه کښې لام جاره دپاره دتخصیص دے چه مناسب حمدونه الله له ده دی

اله چاته وائی چه زړونه ورته عاجزی کوی.

معنی الاله

(۱)...... علامه ابن قیمؒ دی باره کښې وائی.

(فانّ الاله هو المستحق بصفات الكمال المنعوت بنعوت الجلال وهوالذى تاله القلوب اليه وتصمد اليه بالحب والخوف والرجاء)

(۲)...... علامه ابن تیمیةؒ لیکلی دی په العبودیه ص ٦ کښې

(فانّ الاله هوالذى تاله القلوب اليه بكمال الحب والتعظيم والاجلال والاكرام والخوف والرجاء)

(۳)...... محمد بن وهب الدنوریؒ داله معنی کوی.

(الخلق يالهون اليه عند قضاء الحوائج والشدائد)

(٤)...... شیخ عبدالقادر جیلانیؒ په الفتح الربانی صفحه۸۷ کښې فرمائی،

(كل ماتعتمد عليه فهوالهك و كل شيء تخاف منه وترجوه فهوالهك)

خوف، طمع، محبت بغیر ظاهری اسباب نه دالله تعالی نه کوه خکه وائی

که دے دطمع دمخلوق ددره پریخوه بادشاهی دمبارك شه که گدائی

دارنگه اله چه زړونه ورته اطمینان حاصلوی لکه عرب وائی،

(أَلِهْتُ الى فلان اى سكنت اليه او اله الفصيل) هغه وخت وائی چه کله بچے

مورنه جداشی اوهغه چغه اوهی، دالوهیّت صفت الله تعالی قرآن کښې خان د

پاره لابنوی او د غیرنه ئے نفی کوی،

اثبات الالوهیة لله تعالیٰ

لکه سورة بقره ۱۶۳ (والٰهکم اله واحد لااله الاهو الرحمن الرحیم)
سورة فاتحه کښی ویلی دی (الحمدلله الرحمن الرحیم) نو ایت ۱۶۳ کښی
مضمون بدلوی چه ذهن کښې قرار ونیسی دارنګه سورة بقره ایت ۲۵۵
العمران ۲، ۹۸، نساء ۸۷، ۱۷۱ (ولاتقولوا ثلثة) شاه ولی الله فرمائی،
(ماهن بلدة الاولها الهة تعبد) او کوره نصاراؤ درے خدایان بولی روح الله مع
کرل ئی صباهم دغه ترتیب دے چه دربار دریوته غوتی ورکوی او ددی
الفاظو مصداق جوړشوے دی چه کلی په کلی، کوتک په ولی، سپو دربے
غپلی، هرخالی شرمیدلی،
دارنګه سورة مائده ۷۳، انعام ۱۹ (لانذرکم به) انذار داسے چه ورته اوائی چه
داقول اوفعل شرك او بدعت دے، دا مه کوه خکه ددے عاقبت جهنم دے
دارنګه سورة طٰه ۹۸، سورة ص ۶۵، حشر ۲۲، مزمل ۱۸، مریم ۴۲ "
(اذقال لابیه یابت لم تعبد مالایسمع) دارنګه سورة شعراء ۷۲، عنکبوت ۱۶
انبیاء ۶۵ (ثم نکسوا علی رء وسهم) ابراهیم علیه السلام یودے لیکن د
پوره قوم سره ئي مقابله راشلیده دارنګه انعام ۷۴ سورة زخرف ۲۵،
(فانه سیهدین) اعراف ۱۴۸ (الم یروانه لایکلمهم) الله خو دغه خولك وی چه
دغه خبرے کولی شی دارنګه طٰه ۸۹، ۱۷ (ولایملك لهم ضراولانفعا)
الله دغه شان دی چه مالك دنفع او ضرروی،

(رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ)هر كله چه صفت دالوهيت لى خان نه ثابت كړ نو صفت د ربوبيت خان ته ثابتوى چه ره څنگه پالنه كوم نو داسے ئے بل ميخولك نشى كولے او داصفت د غير نه نفى كوى لكه العمران ٨٠ (اربابا)چه بل څوك دى رب ونيولو نو داد كفر عقيده ده(ايامركم بالكفر)او سره ددے چه خان ته مسلمان هم وائى(بعداذ انتم مسلمون)دارنگه سورةانعام ١٤ ،سورة نحل ٧٣،٧١ پدے مسئلے انبياء بحثونه اومناظرے كړى دى لكه موسى عليه السلام،فرعون ته بيان كوى نوفرعون اعتراضونه شروع كړل اوموسى عليه السلام ورله جوابونه وركوى فرعون پوهه شوچه كار وران دے نوحيلو تالى خبوته ئے اووے (الا تستمعون)او دا مقابله شعراء ٢٣ كښى ذكرده بيا فرعون وائى (انّ رسولكم الّذى) كم ضميرلى راوړو څكه (انّ رسول اللّٰه)نه وائى بلكه وائى كوم قاصدچه تاسو ته راستولے شوے دے (لمجنون)دے خوليونى دے دا ددشمن قانون دے چه ستاسپكاوے به كوى موسى عليه السلام لى هم نه پريږدى دائره پرى راتنگه وى ورته وائى (ربكم)ستاسو هم رب دے اوفرعون ته هم جواب وركوى په اشاره سره(ان كنتم تعقلون) دارنگه شعر ٧٩

(الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ)هر كله چه ئے صفت دالوهيّة اوربوبيت ئے ثابت كړو نو اوس صفت درحمانية هم ثابتى اودا صفت دغيرله هم نفى كوى لكه انعام ١٢ (كتب على نفسه الرحمة) په خان ئے مهربانى مقرر كړى ده، حديث كښى راځى(سبقت رحمتى على غضبى)لو آيت اوحديث دواړو

دامطلب دے چہ اللہ تعالی انسان لہ وجود ورکړو انسان دے پوی داسے کارونہ نہ کوی چہ ھغہ د اللہ دغضب سبب ګرځی (پہ دی توجیہ سرہ دا اعتراض بہ وارد نشی چہ پہ ځان ئی مہربانی مقرر کړی دہ او رحمت ئی مقدم پہ غضب دے نو عذاب ولے ورکوی دا رنګہ مؤمن ۷ کښی چہ فرشتے ہم قائل دی پہ رحمت د اللہ (واتبعوا سبیلك) ای القرآن چہ قرآن نہ کیناستہ نو رفرشتے ورلہ مغفرت دعاګانے غواړی او جنت ورلہ ہم غواړی دارنګہ سورۃ فرقان ۵۹ (الرحمن فسئل بہ خبیرا) ای تجدہ خبیرا اللہ نہ غواړہ ھغہ خوشحالیږی۔

اللہ یغضب ان ترکت سوالہ وبنی آدم حین یسئل یغضب

شیخ القرآنؒ پہ ترجمہ دسہیلی کښی پہ طبقات المفسرین کښی ذکر کوی دسہیلی مشہور اشعار دی۔

یَامَنْ یَّرٰی مَافِی الضَّمِیْرِ وَیَسْمَعُ	اَنْتَ الْمُعَدُّ لِکُلِّ مَایُتَوَقَّعُ
یَامَنْ یُّرْجٰی فِی الشَّدَائِدِ کُلِّھَا	یَامَنْ اِلَیْہِ الْمُشْتَکٰی وَالْمَفْزَعُ
یَامَنْ خَزَائِنُ رِزْقِہٖ فِیْ قَوْلِ کُنْ	اُمْنُنْ فَاِنَّ الْخَیْرَ عِنْدَكَ اَجْمَعُ
مَالِیْ سِوٰی فَقْرِیْ اِلَیْكَ وَسِیْلَۃٌ	فَبِالْاِفْتِقَارِ اِلَیْكَ فَقْرِیْ اَدْفَعُ
مَالِیْ سِوٰی قَرْعِیْ لِبَابِكَ حِیْلَۃٌ	وَلَئِنْ رُدِدْتُ فَاَیَّ بَابٍ اَقْرَعُ

(الرحمن) فعلان کښی وزن معنی دعمومیت دہ (الرحیم) فعیل کښی وزن معنی دخصوصیۃ دہ اللہ مہربانی وګړو ځانی تہ دھغہ موافق خپے او غوږونہ او میږی تہ دھغہ موافق خپے او غوږ نہ ور کړی دی۔

(مالك يوم الدين) محكښې صفت دالوهية ،ربوبية اورحمانية ثابت کړل

نواوس صفت مالكيت ثابتوی خان ته اوغیرنه لې نفی کوی دلته مالك يوم

الدين والى اومالك الدنيا نه والی ځکه چه قیامت کښې به ټول بادشاهان،

انبياء اولياء اوټول امتونه به موجودوی نوبیاهم واکدار یوالله وی نودنیا

کښې بطريقه اولى واکداریوالله دے دمالکیت صفت خان ته ثابتوی اوغیرله

نفی کوی لکه سورة الزمر ۶ (خلقكم من نفس واحدة) تاسومې دیو نفس نه

پیداکړی ییے (ذلكم الله ربكم) داالله ستاسورب دے (له الملك) ده لره

اختیار دے چه دانسان خلق ذکر شونوبیا ئې ربوبیت خان ته ثابت کړو

نومالکیت ئې هم ثابت کړوځومره عجیبه ترتیب دے (الله فرمائی چه) خالق

دهرشیء زۀ یم رب دهرشی زۀ یم، مالك دهرشئی زۀ یم نوبیاوالی حاجت

روازۀ یم (لااله الاهو فانّی تصرفون) اوداترتیب سورة فاتحه کښې هم دے

صرف طرز ئې بدل دے فاتحه کښې وائی (الحمدلله) هلته وائی (ذالكم الله)

فاتحه کښې وائی رب العالمين هلته وائی ،ربکم،فاتحه کښې وائي،

مالك يوم الدين،هلته وائی (له الملك)

بوساً لك وائی

به هر رنگی که خواهی جامه می پوشی　　من انداز قدت را میشناسم

دارنگه سورة النسآء ۱۲۶ دلته وائی چه مالك دهر شئی زۀ یم نوعالم پهٔ هر

شئی زۀ یم اختیارد الله تعالى دے دارنگه سورة انعام ۱۲،۱۳ (قل لله)

اختیار صرف د الله تعالى جليږي او ۱۳ کښې وائی (وله ماسکن في الّيل

والنهار) مطلب دادے چه شپه اوورځ راځی هغه الله تعالی ته محتاج دی الله

دى الله دے اختيارمنددار نكه فاطر ۱۳ (ذالكم الله)دفاتحے په شان مضمون
دے نوآخر كښى وائى (لايملكون من قطمير)د كهجورے د يوسكى برابر
هم الله اختيارنه ده وركړے المائده ۱۰ ٤(ان الله له ملك السمٰوت والارض)
اختيارمند دزمكى اواسمانونو يوالله تعالى دے باطل پرست وائى چه نه
زمكه كښى جداجداقلېمونه دى اوجداجداولى سره لى اختياردے دادقرآن
نه خلاف خبره ده،

(ملك يوم الدين)سره اشاره ديته هم ده چه كله الله تعالى واكدار دے نوپه
زوره خلاصول ترى څوك نشى كولے نفى دشفاعت قهرى كوى.

شفاعت په دوه قسمه دے،

(۱) ...شفاعة اذنى (۲) ...شفاعة قهرى،

شفاعت اذنى ديته وائى چه الله تعالى يوكس ته اجازت وركړى چه ته دومرة
كسان جهنم نه خلاصولے شے خوددى دپاره يوڅوشرطونه دى،

(۱) ...يوشرط چه داشفاعت به دالله تعالى په اذن وى،

(۲) ...چه داشفاعت به قيامت كښى وى،

(۳) ...چه شفيع اومشفوع له به دواړه موحدين وى،

(٤) ...اول شفاعت به نبى عليه السلام كوى،

اول شرط بقره ايت ۲۵۵ كښى(الاباذنه)

دويم شرط اول شفاعة به نبى عليه السلام په قيامت كښى كوى لكه حديث
كښى راځى نبى عليه السلام فرمائى چه زه به د الله دربار كښى سجده وكړم
او داسے ثناء به اووايم چه اوس ماته نه ده معلومه ماته به او يلے شى،

(ارفع رأسك يامحمد سل تعطى واشفع تشفع)

نبی علیه السلام لا شفاعة نه دے کړے او باطل پرست وائی چه بابازمونږ شفاعت کوی بلکه داچه چه بابا دد نیانه په ایمان تللے دے ددی پته به قیامت کښې لګی خکه دا خیره کول چه فلانے پیر جنتی دے ،غلطه ده پیر اوولی لا څه کوی چه د صحابی باره کښې هم دانشی ویلے لکه عثمان بن مظعونؓ وفات شو ،نبی علیه السلام دهغه کورته راغلوتپوس ئے وکړو کورواله ورته اووے چه هغه بیمارو و ،وفات شو (و اکرمه الله) اوالله ورته عزت ورکړو نبی علیه السلام ورته اوېل (ومایدریك) تاله څه پته ده چه هغه الله معزز کړو دادیو صحابیؓ باره کښې نوولی وغیره څودرکنار

اوله نبی علیه السلام شفاعة کړے دے ،نه قیامت راغلے دے اونه دشفیع اومشفوع له دایمان پته لګی اومشرك وائی ماله بابا شفاعت کوی ،

موږ شفاعة اذنی منو هرچه شفاعت قهری ئو هغه مونږئه منواوس هم داعقیده لری چه مادفلانی پیر لمن نیولی ده اوهغه به می خلاصوی لکه پنجاب کښې وائی ،

جو پکڑے خدا انجڑا دے محمدؐ جو پکڑے محمدؐ وہ چھڑا سکتا ہے کون

اودا هم وائی ، نبی علیہ السلام سے کوئی چھڑانے والا نہیں ،

دریم شرط ذکردے په سورة طٰه ایت ۱۰۹ کښې ،

څلورم شرط په روایت کښې راځی (انا اوّل من یشفع)

قرآن کریم هم نفی دشفاعة قهری کوی ،

نفی شفاعة .....یعنی په زوره د الله نه خلاصول قرآن کریم کښی ددی رد

دے لکه سورۃ بقره ۴۸ ،دلته شفاعت نه شفاعت دمشرك مراددے دارنګه
بقره(آیت الکرسی)انعام ۵۱ (لیس له من دونه ولی و لاشفیع)
اشکال ... پیغمبروالی (انا اوّلُ من یشفع) دلته والی ولاشفیع جواب ددی نه مراد
شفاعة قهری دے دارنګه انعام ٤ ،مریم ۸۷ ،اعراف ۵۱ ،یونس ۱۸
(لایملکون الشفاعة الامن اتخذا عند الرحمٰن عهداً) ځکه چه مؤحد تللے وی
هغه به شفاعت کولے شی طه ۱۰۹ (الامن اذن له الرحمٰن) انبیاء ۲۸ ،
(الا لمن ارتضی)روم ۱۳ (ولم یکن لهم من شرکائهم شفعاء)دلته ئے
تصریح او کړه چه دوی کوم الله نیولی دی هغه دوئی دپاره شفعاء نه وی
کفاروالی چه موږ دوئی نه وو رامدد کړی دارنګه سجده ٤ ،
سبا ۲۲ ،۲۳ ،زمر ٤٤ ،مومن ۱۸ ،زخرف ۸۶ ،دخان ٤۱ ،نجم ۲۶ ،
انفطار ۱۹ حاقه ۳۵ ، نباء ۳۷ ،
فتاوی مصریه لیکلی دی،
من ظن ان الدعاء عند القبور افضل من الدعاء فی المساجد فقد کفروقد اتفق
ائمة المسلمین بذلك)ص ۵۷
او شاه ولی الله دهلوی فرمائی
کُلُّ من ذهب الی بلدة اجمیراوالی قبر سالارمسعود غازی لاجل حاجة یطلبها ثم
فقد أثم اثماً اکبرُ من القتل والزنا)تفهیمات الٰهیه
سورۃ یٰسٓ ۲۳ صاحب یٰسٓ ولاړدے میدان کښی خپل قوم ته بیان کوی،
لا تغن عنی شفاعتهم شیئاًوّ لاینقذون)پهلنده خبره کښی اوږده خبره راجمع
کوی ځکه چه هوښیاروو (من فقه الرجل ان یقل کلامه)دسلیمان علیه السلام

خط خوموړ لیدلو (قبل ادخل الجنة) او که وه نه یې مونځ کړی دی نه زکوة نه یې حج کړی دی صرف توحید یې بیان کړو نو جنت ورته نصیب شو او دا کله تیر شوی ده علامه تفتازانی فرمائی چه ،رسل عیسی وو ،خو دا خبره غلطه ده ځکه چه عیسی علیه السلام نه پس قوم نه ندی هلاک شوی بلکه دې د عیسی علیه السلام نه مخکښې تیر شوی دی او نوموړې اوس هم ژوندی دی ،نو دشفاعة قهری عقیده دمشر کیو ده لکه یونس ۱۸۰ ،زمر ۳.

(اِیَّاكَ نَعْبُدُ) ربط ماسبقه سره،

(۱) مخکښې یې پنځه صفات دالله ذکر کړل الله، رب، رحمن،رحیم ،مالك ، نو داپنځه صفات او منه نو عقیده به دصحیح شی او عمل به دقابل قبول شی نو ایاك نعبد کښې عمل ذکر کوی ځکه چه عقیده دتوحید نه وی نو عمل قابل قبول نه دی لکه الله تعالی فرمائی،

(وقدمنآ الی ماعملوا من عمل فجعلنه هبآءً منثورا) او بل ځائی فرمائی،

(ومن یعمل من الصّٰلحٰت من ذکر اواُنثی وهومؤمن فلا کفران لسعیه)

(۲)...... ربط مخکښې پنځو صفتونه سره احکام علمی بیان کړل نو ایاك نعبد سره احکام عملی بیانوی،ځکه اول علم دی بیا عمل دی ددې وجې محدثین باب تړی باب العلم قبل العمل دصحابونه منقول دی ،

(تعلّمنا الایمان ثم تعلمنا القرآن) ددی مطلب دا دی چه موږ ایمان مجمل باندا وّل اقرار وکړو نو بیا قرآن نه کیناستو ،

نو بیا احکام علمی دی او بل احکام عملی قرآن کښې دادواړه قسمه دی تر

دی خالی بوزے احکام علمی بیان شول۔

دلته ایاك مفعول دے ،مقدم لے کړو علماء ذکر کوی تقدیم ماحقه التاخیر یفید الحصر والاختصاص ،نو د تخصیص معنی داده چه نعبدك ولا نعبد غیرك (هکذا نقل عن ابن عباسؓ) عبد ،یعبد درے حروفو نه مرکب ده لکه څنګه درے حروف لے دے دارنګه د عبادت درے اجزاء دی 3

الحب ،محبت دوه قسمه دے ،

(۱) یو حب ظاهری اسباب سره چه معبود ورته نه وائی ،

(۲) دویم حب په دی عقیده چه دا خما معبود دے داوّل مثال لکه حب الوالد والولد وغیره دویم مینه د الله سره (دا دویم جزء عبادت دے)

الخوف ،خوف دوه قسمه دے ،

(۱) خوف ظاهری اسبابو نه لکه د پړانګ نه دا خوف بغیر د الله نه دبل چا نه جائز دے ،

(۲) خوف بغیر د ظاهری اسبابو نه ،دا بغیر د الله نه دبل چا نه جائز نه دے ،

(لکه ولی ، پیر قبر نه یریدل چه تکلیف به را کړی ،دا دویم جزء عبادت دے

الرجاء ،طمع هم دوه قسمه ده،

(۱) یو ظاهری اسبابو سره لکه د پلار نه طمع کول چه ماته به پیسے را کړی ،

(۲) دویم بغیر د ظاهری اسبابو نه طمع کول لکه د الله تعالی نه طمع کول دبچی په خوشحالئی ،دا دویم جزء عبادت دے نو د عبادت د درے اجزاء نه مرکب دے که دوه وی یاصرف یو وی نو نه وی بیا هم عبادت نشی کیدے لکه شیطان خداترس وو چیله وائی (انی اخاف الله رب العلمین) نو عبادت نه شو

لکه څرنګه، کب د درے اشیاء نه حرکت وی چیے، بیے، اوبازوګان، صرف حیوته خولګ کب نه وانی،

قرآن کریم کله عبادت درے واړه اجزاء یوځائی ذکر کوی لکه بنی اسرائیل ۵۷ (یبتغون الی ربهم الوسیلة ایهم اقرب)(محبت) ویرجون رحمته (طمع) ویخافون عذابه (خوف)

اوّل محبت بیان شوځکه نزدیکت نه بغیرمحبت نشی راتلے دا درے اقسام په ایاك نعبد کښی جمع دی، لکه ابن عباسؓ نه روایت دے۔

(لکل شیء لباب ولباب القرآن الحوامیم ولباب الحوامیم فادعوالله مخلصین له الدین وخلاصتهاایاك نعبدوایاك نستعین)

دعبادت مسئله ډیره اهمه مسئله ده،

۱)—— ددی دپاره الله تعالی انسانان پیدا کړی دی لکه سورة الذاریات ۵۶۔

(الالیعبدون)جامیؒ نفحات الانس کښی وائی،

لام تعلیل بعبدون راواد یأکلون راقطعاً نکرياد

دلته یووهم پیدا کیدو چه الله تعالی انسانان عبادت د پاره پیدا کړو نو بیا په خوراك د کوم ځائی نه راځی نو وریسے دفعه دوهم،

(مااریدمنهم من رزق ومااریدان یطعمون ان الله هوالرزاق ذوالقوة المتین)

الله تعالی رزق ور کوی چه څوك کامل عبادت کوی داتجربه شوی خبره ده او حدیث کښی راځی (لوانکم تتوکلون علی الله حق توکل لرزقکم کما یرزق الطیر تغدوا خماصاً وتروح بطاناً)صبا کوی په لوږه او بیګه کوی په ډکه

(خیټه)

(۲) او ددی دپاره الله تعالی انبیاء رالیږلی دی لکه سورة انبیاء ۲۵ نحل ۳۶،
زخرف ۴۵ (اجعلنامن دون الرحمن الهةً یعبدون)محکمو انبیاء بغیر دالله نه
بل څوك دعبادت لائق نه وو کړخولی دارنګه مؤمنون ۳۲ کله دیوبونبی علیه
السلام بیان ذکر کوی لکه سورة اعراف ۵۹ (یقوم اعبدوا الله)نوح علیه
السلام وائی یاقوم قومیت ناجائزنه دے عصبیت ناجائز دے قومیت دیته وائی
چه دخپل قوم خیر خواهی لټوی او عصبیت دیته وائی چه دخپل قوم خیر
خواهی سره دبل قوم نقصان غواړے لکه یو ځل صحابه یو ځائی کښی ووهلته
اوبه وے نوانصاری صحابی په هغه سنګی راناؤ کړے اوډنډو کښے نی جوړ
کړو،بل مهاجر صحابی راغلو هغه ترے هم سنګی راناؤول شروع کړه نود
دوارو مینځ کښی خلاف راغلو نو مهاجر اووے یااهل المهاجرین او انصاری
اووے یااهل الأ نصار نبی علیه السلام چه کله دا اوازونه واوریدل نو وے
فرمائیل(دعوهافانهامنتنةٌ)دابدبو دار اوازونه پریږدے دلته نبی علیه السلام د
تعصب نه منع اوکړه لیکن بل طرف ته الله تعالی فرمائی .
(لقدتاب الله علی المهاجرین والانصار)علی المؤمنین ولے نه وائی داځکه
چه هلته عصبیت وونو منع شوه او دلته خصوصی رحم وو
دارنګه نبی علیه السلام میدان کښی اوار کړی (انا النبی لا کذب انا ابن
عبدالمطلب)دارنګه وائی (انا ابن الذبیحتین)اونوح علیه السلام وائی،
(یقوم اعبدوا الله)دارنګه هود علیه السلام بیان ۶۵ هود علیه السلام دوه
خبرے کوی اوّل(العبادة لله)دویم (مالکم من اله غیره)صالح علیه السلام
بیان ۷۳ هغه هم یقوم وائی څومره خوږلفظ ورته وائی دانبیاؤ مسئلی ته

تشدد تشی ویلې او که د انبیاؤ مسئله بیا اول تشدد وی نو بیا یقینی مونږ

متشددین یو تاسو متکاسلین ئی۔

وَاِنْ كَانَ تَشْدِيداً بَيَانُ كِتَابٍ	وَاِظْهَارُقَوْلٌ مِّنْ نَبِيٍّ مُّحَمَّدٍ
فَاِنِّيْ بِحَمْدِاللّٰهِ رَبِّيْ مُشَدِّدٌ	هَلُمُّوا اشْهَدُوا وَاشْهَدُوا كُلَّ مَشْهَدٍ

دارنګه د شعیب علیه السلام بیان ۸۵ دا مسئله د ټولو انبیاء مشترکه وه سره

ددی نه هم بعضی خلق د غیر الله په نوم منځته کوی او سوالونه ترې کوی

سجدی ورته کوی دا د ټولو انبیاؤ سره دشمنی ده، ټولو انبیاء په بیان

کښې دوه خبرې ذکر شوې (اعبدو الله) ایاك نعبد (مالکم من اله غیره)

(وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ) دارنګه ابراهیم علیه السلام بیان عنکبوت ۱۶، ۱۷ کښې

چه یو الله درزق ذمه دار دې، نو بیا ولې دغیر الله په نوم منځتې کوی،

واشکرو اله الله دربانډی احسان کړې دې نو شکر ئی ادا کړې او دهغه

کتاب اومنې،

شیخ القرانؒ لیکلی دی،

وَاِخْوَانٍ حَسِبْتُهُمْ دُرُوْعاً	فَكَانُوْهَا وَلٰكِنْ لِلْاَعَادِيْ
وَقَالُوْا قَدْ صَفَتْ مِنَّا قُلُوْبٌ	فَكَانُوْهَا وَلٰكِنْ عَنْ وِدَادِيْ

دارنګه بل ویلی

اُعَلِّمُهُ الرِّمَايَةَ كُلَّ يَوْمٍ	فَلَمَّا اشْتَدَّ سَاعِدُهُ رَمَانِيْ

دارنګه مریم ۴۲، انبیاء ۵۴ د ابراهیم علیه السلام د دریم محاذ نو سره

مقابله وه۔

(۱) پلاز سره (۲) قوم سره (۳) بادشاه سره، خو ابراهیم علیه السلام کلک وو قرآن ترې تعبیر په امت سره کوی (کان امة قانتا) او نه یې ری حکه خوړ مخالفین وائی (سمعنا فتیً یذکرهم یقال له ابراهیم) ددې وجې نه ابن کثیر فرمائی واکثر المستجیبین لله شبابا، شعراء ۷۲، صفت ۸٦ شعراء ۲۹، ۷۰، ۷۱ (اصناما) صنم هغې شکل ته وائی چه د نیك بنده وی لکه نن صبا قبرونو مجوری شروع ده، حالانکه دغې قبرونو والاهم ددې قسمه اعمالونه منع فرمائیلی ده د پیر مانکی کتاب دې هدایة الابرار ص ۱۰۰ کښې لیکی (فالذابح مشرك و المذبوحة میتة وامرته بائنة) او پیر بابا سید علی ترمذی هم دغه شان لیکی، تذکرة الابرار والاشرار کښې دارنګه سورة قصص ۳۰ کښې دموسی علیه السلام ذکر دې مورخین لیکی چه کله موسی علیه السلام ته ددې وحی اوشوه چه (انی انا رب العلمین) نو دی سره ئې خپله سخه هیره شوه هغه سخه ئې بیا دپلار کورته لاړه اوپنځوس کاله پس موسی علیه السلام خپل بچی ولیدل او سخه ئې وفات شوی وه نو موسی علیه السلام فرعون ته څې او د فرعون سره ئې جګړه خالص د توحید په مسئله وه لکه علماء لیکی.

(وقد جادل المشرکون الانبیاء فی العبادة)

سورة طٰه ۱٤، هود ٦۲، ٥٤، اعراف ۷۰ (ما کان یعبد اباؤنا) مشرکانو به ویل مونږ د پلرو مشرانو په طریقه روان یو اوس هم بعض وائی ابا مونږ خپل پلار نیکه پریږدو دارنګه بنی اسرائیل ٤٦ زمر ٤٥، ص ٥،

(ان هذا لشیءٌ عجاب) د توحید مسئلی ته شیء وائی قرآن کریم دی مسئلې

ته زیرترغیب ورکړے دے لکه سورة البقرة ایت ۲۱ ددی مسلي ترغيب او اعلان اهل کتابو ته هم دے لکه العمران ٦٤ (الى كلمة)

علامه ابن کثیر وائی ای الی کلمة لایختلف فيه القرآن والتورة والانجيل دارنگ سورة نساء ۳٦ کښ بشارت ورکوی هغه چاته چه د غير الله دعبادت نه ځان ساتی لکه سورة الزمر ۱۷ چه قرآن ته کښی دوئی ته زيرے ورکړه (واولئك هم اولوا الالباب) داخلق هم دوی دی عقلمند.

شيخ القرآن بيل السائرين صفحه۱۹۸ کښی ذکر کوی.

مَنْ كَانَ يَرْغَبُ فِي النَّجَاةِ فَمَالَهُ	غَيْرُ اتِّبَاعِ الْمُصْطَفٰى فِيمَا اَتٰى
ذَاكَ السَّبِيلُ الْمُسْتَقِيمُ وَغَيْرُهُ	سُبُلُ الْغَوَايَةِ وَالضَّلَالَةِ وَالرَّدٰى
فَاتَّبِعْ كِتَابَ اللهِ وَسُنَنَ النَّبِي	صَحَّتْ فَذَاكَ اِذَا اتَّبَعْتَ هُوَالْهُدٰى
وَدَعِ السُّوَالَ بِكَمْ وَكَيْفَ فَاِنَّهُ	بَابٌ يَجْرِى ذُوالْبَصِيرَةِ لِلْاَعْمٰى

پیغمبرته هم حکم دے په عبادت د الله لکه زمر ٦٦ بعض ملنګان وائی موږ ته پير صاحب ويلي دی چه تاسو ته عبادت معاف دے ،عجيبه خبره ده چه پیغمبرته ددعبادت حکم وی او ملنګ ته معاف وی ،عبادت دغير الله سبب دعذاب دے لکه صٓ ۲۵ ،ق ۲٦ ،الله زجرورکوی په عبادت دغير الله باند ،لکه ذاريات ٥٦ نبي عليه السلام موصوف کوی په عبديت سره لکه سورة النجم ۱۰ دلته په مقام ددوحي کښی ورته عبدوائی نورنه وائی ، نبي عليه السلام عبددے دعبددرجه د نورنه زياته ده نورانی مخلوق عبدته سجده کړے وه.

عبدیت بهترین صفت دے ځکه الله ورته دعبد لفظ استعمالوی،لکه په
وخت داسراء کښې ورته عبدوالی بنی اسرائیل ۱ په وخت دبیان اودعوت
کښې ورته عبدوالی لکه جن ۱۹ په مقام دمناظره کښې ورته عبدوالی بقره
۲۳ ،زمر ۳۶ دارنګه پیغمبرته والی چه اعلان وکره چه زهٔ عبدیم لکه سورة
الزمر ٦٤ دعبدیت حکم نبی علیه السلام ته ترمرګ پوری دے حجر ۹۹
(حتی یاتیك الیقین)نو په نبی علیه السلام مرګ راتلو نو ځکه ورته والی چه
حتی یاتیك الیقین نو حیات النبیؐ دکومه شو دنبی علیه السلام د مرګ نه پس
حضرت ابوبکر صدیقؓ اوفرمایل کوم مرګ چه الله تالره مقرر کړے وو هغه
تاته راغلو په وخت دبالیکاټ کښې هم ورته عبدوالی لکه سورة کافرون
عیسی علیه السلام ته هم عبدوالی لکه زخرف ۵۹ اوهغه پخپله هم
دعبدیت اقرار کوی لکه مریم ۳٦ (فاعبدوه) ځما رب دے نو عبادت ئے کوم
ستاسوهم رب دے نو عبادت ئے او کړئ العمران ۵۱، المائده ۷۲ عیسی
علیه السلام والی دالله عبادت او کړے او که دغیرالله عبادت
مو او کړونو داشرك دے ځکه والی(انه من یشرك)بیا ورته ظالم والی
(وماللظلمین)هر پیغمبر خومره سخت بیان کوی ظالم ورته والی چاچه
شرك وکړودارنګه مائده ۱۱۷ بندګانو دالله ته په عبادت حکم دے لکه
نجم ٦۲ (فاسجدوا لله)سجده الله ته او کړے بل چاته سوځخته نه کړئی،
صلوة جنازه کښې رکوع اوسجده نیشته ،وجه داده چه سجده رکوع بل
چاته جائز ندے اوپه جنازه کښې مخے ته مړے پروت وی،
یو سالك والی

تجھ سے بجز خدا کے کسی کے حضور میں اپنا سر نیاز جھکایا نہ جائیگا
زمر ۱۱ (ان اعبدو الله) چه زهٔ صرف الله ته سر ځکته کوم مریم ۹۳ چه ټول مخلوق الله ته عاجز او محتاج دی او الله ته تابعداردی لوئی اولیاء هم دالله تعالی عبادت او هغه ته فریاد کوی کهف ۱٤،۱٥،۱٦ رجل مومن هم داسے والی لکه مومن ٤١،٤٢ هر یو موحددتوحید چغه وهلے ده، دارنگه صاحب یاسین او کوره یس ۲۳ دارنگه پیریان هم دا بیان کوی احقاف ۳۱ چه کله د جناتو صفت کوی تو عبد ورته والی لکه دهر ٦ د جنتیانو صفت کوی تو عبد ورته والی لکه دهر ۲۷، او جنتیانو ته جنت کښی والی لکه طور ۲۷ (فمن الله علینا) الله په مونږ باند احسان او کړو او داحسان وجه داوه چه (انا کنا من قبل ندعوه) ځکه چه بیاد زمونږه د توحیدوو دعبادالرحمان صفت کوی فرقان ۹۳ (هونا) عاجزی سره دا نه چه مرمرروان وی
یو ځل حضرت عمرؓ یو کس ولیدو چه بازار کښی مرمرروان رو نو ورته والی چه بیمار ئی هغه اووے نه بیا ورته والی چه څه تکلیف درته شته هغه اووے نه تو عمرؓ په خبره ارهلو چه سم څه نبی علیه السلام به هم تیغ په لاره تلو او چاسره به ئے چه خبرے کولے تو تیغ به ئی ورته کتل دعالم د پاره هم پکار چه ویخ او چالاک وی چه نه ظاهری سست وی او نه باطن کښی مداهن وی سلاما ابن کثیرؒ معنی کوی (سداداً من القول) دانه چه سلام ورته او کړه قران کریم کښی رد په هغه چادے چه د غیرالله عبادت کوی لکه مائده ۷٦، انعام ٤٠، ٤٦، ٥٠ (عندی خزائن الله) نبی علیه السلام والی ماسره خزانے نیشته نن سیا داتا گنج بخش (خزانو بخونکے)

سیدعلي هجویریؒ ته واني،

(نکته) په مونځ کښې یواځې ولاړ وی نو هم واني (ایاك نعبد) دو احد صیغه اعبد نه والی دا ځکه چه جماعت ورته یاد شي ځکه چه داالفاظ واني خپله نومونځ په یوه درجه دے او چه په جمع وی نو په ۲۷ درجے دے لوچه عقیده دی صحیح شوه بیا مونځونه، نوافل او حجونه کوه۔

اقسام الثلاثه للعبادت

محکښی بیان شوچه دعبادت درے اجزاء دی نودغسے دعبادت دری اقسام دی

(۱) عبادت بالقلب،

(۲) باللسان،

(۳) بالجوارح،

دادرے واړه عبادتونه کوه که درے واړه نه وی نو یو خو کوه، لکه حدیث کښې راځي،

(من رای منکم منکراً فلیغیره بیده فان لم یستطع فبلسانه وان لم یستطع فبقلبه وذالك اضعف من الایمان ولیس ورآء ذالك خردل من الایمان)

نو چه سړے بدعت کوی نو اوّل په لاس ئے منع کړه،

عبادت بالقلب۔ عبادت بالقلب دیته ویلی شي،

(المحبة والخشوع والرجاء منه والتوکل والانابة الیه) توکل دیته نه والی چه اسباب پریږده بلکه اسباب به اختیاروی لکه سورة هود ۸۸ کښې شعیب علیه السلام په الله توکل کوی لیکن اسباب استعمالوی ۱۲۳ کښې والی،

(فاعبده وتو كل عليه) اوّل عبادت او كړه بيا توكل مؤمل ٨ چه اول اسباب اختيار كړه بيا توكل كړه۔

حضرت عمرؓ پوخل جماعت كښې څه خلق اوليدل تپوس ئې او كړو چه داخوك دى خلقو اووے (هم المتوكلون) عمرؓ اووے (لابل هم المتاكلون) (خوراكيان دى) توكاروته ئې لمن ډكه كړه اوپوبوئي ويشتلو۔

عبادت باللّسان (الدعوة الى الله والذّب عن الدين وتبيين بطلان البدع والقيام بالتبليغ)

عبادت بالجوارح (كالصلاة والجهاد والمسارعة فى الخيرات)

جهاددو كړلي توره راواخلئ خالدبن وليدؓ كيدونواووے چه دبے غيرتو دسترګي وچے نه شي ماپه جنګ كښې تهه ،تهه تورے ماتے كړې دى خوماته به الله مرګ دشهادت خوښ نه وو۔

نودايالك نعبدمعنى داده موږ محبت خشوع ،تاته كوواو په تاتوكل كوو۔او موږ دعوت ستادپاره دركوو مولځ اوجهادستاد پاره كوو

دعبادت ډيرمنازل دى اوپه دې كتابونه ليكلي شوى دى لكه منازل السائرين كښې دى۔

المراقبة	الرغبة	الرجاء	الزهد	الاخبار
التوكل	الاستقامة	التهذيب	الاخلاص	تعظيم حرمت الله
الحياء	الصبر	الاعتصام	التفويض	الانابة
اليقين	الارادة	العزم	الايثار	الصدق

الانس بالله	الاحسان	العلم	الحکمة	السکینة
الطمانینة	الشکر	الورع	التواضع	الرحمة
التسلیم	الذکر	الادب	وغیرهٔ	

(وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ) ...... عبادت پسے نی استعانت ذکر کړو ځکه اول دالله تعالی عبادت کول او بیا تری امدادغوښتل او د الله نه صراط مستقیم غوښتل یاهر کله چه الله خپل صفت ذکر کړو نوبیاخان محتاج کړه الله ته لکه یونس علیه السلام الله نه سوال کوی ۔

(ان لااله الاانت سبحانك انی کنت من الظالمین)په دعاء کښی دری شرطونه دی۔

(۱) ...... یو دمسئول تعریف کول(۲)......ضروریات هغه سره کترل

(۳) ...... خپل حاجت ورته وړاندی کول۔

اودادرے واړه خبری فاتحه کښی شته لکه اوّل د الله تعریف په الحمدلله تامالك یوم الدین ،دریم په ایاك نستعین ، کښی

دریم په اهدناالصراط المستقیم سره۔

(اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ) ...... هدایت په ډیرو معنو راځی۔

(۱) ...... هدایة عامه لکه طه ۵۰ (۲)لارخودل لکه انبیاء ۸۳ ،رعد ۷، حم سجده ۱۷،نور ۴۶ ،نساء ۶۸ ،بقره ۱۸۵،(۳)وصول الی الجنة لکه یونس ۹ ،اعراف ۴۳ (۴) توفیق (ثبات)محمد ۱۷ ،تغابن ۱۱ ،بقره ۲۱۳،

عنکبوت ۶۹، کہف ۶۳،

دلته څلورمه معنی مرادده فتح الرحمن او مفتاح السعادة،

مصداقات د صراط مستقیم،

(۱) صراط المستقیم مرادترې عبادت دالله تعالی دے،لکه العمران ۵۱،نو معنی داشوه کلك کړے مونږ په عبادت د الله تعالی نو اهدناالصراط المستقیم سره سوال دکلکوالی دے،

(۲) اتباع دپیغمبرمرادده نومعنی داشوه کلك کړے مونږ په اتباع دپیغمبر لکه سورة زخرف ۶۱،

(۳) اتباع دقرآن مرادده نومعنی داشوه چه کلك کړے مونږ په اتباع دقرآن بانده لکه حدیث کښې هم دې طرف ته اشاره ده نبی علیه السلم په صحابو ته دعا ښائی(اللّهم اعنّی علی ذکرك وشکرك وحسن عبادتك)دذکرنه مراد قران کریم دے لکه مریم ۶۳،۳۶ ،یسٓ ۶۱،اوداذکرکوی لکه سورة العمران ۱۰۱ انعام ۱۵۳ نواتباع دقرآن صراط مستقیم دے لکه،

شیخ القرآنؒ نیل السائرین کښې وائی،

ذاك سبیل المستقیم وغیره	سبل الغوایة والضلالة والردی

کله چه تا(اهدناالصراط المستقیم)اوائی نو د قران نه منعه کونکی به ددے صراط مستقیم نه منع کوی نو دا منع کونکی په پیر قسمه دی،

مــانــعــون مــن الــقــرآن

(۱) شیطن لکه اعراف ۱۶،نمل ۲۴ ملا جرګك (هُدهُد)هم پیژنی چه دالله ددین

نه منع کونکے شیطان دے دارنګه زخرف ۶۱، ۶۲۔

(۲) الاحبار والرهبان،

ناکاره ملایان اوپیران به دقرآن نه خلق بندوی لکه سورة التوبه ۳٤،

(۳) السادة والکبراء خراب مشران به دی دقرآن نه بندوی لکه سورة احزاب ۶۷۔

لایهتدون ولایهدون تابعهم	اضل المفقود ضل القائد الهادی

نو دنیا کښې چه څنګه دصراط مستقیم نه بنده ژنکی شته نو دغه شان صراط مستقیم ته دعوت کوونکی هم شته،

داعیین صراط مستقیم د صراط مستقیم داعیان انبیاء دی لکه سورة زخرف ٤۳ (وسوف تسئلون) تپوس به ترې کیږی چه تاله م علم دقرآن درکړے وو، تابیان کړے وو او که نه ،مؤمنون ۷۳ ، یوسف ۱۰۸ ،نمل ۹۲ (وان اتلوالقرآن) څه کاربیان دقرآن دے،

تدبّرالقرآن ان رُمتَ الهدٰی	فالعلم تحت تدبّرالقرآن

معرضین عن الصراط المستقیم

(۱) مشرکان دی لکه مؤمنون ۷۳، ۷٤ ،ابراهیم ۳۰

(۲) مبتدعین دی لکه ابراهیم ۳۶ (ومن عصانی) عصیان دپیغمبر بدعتیان کوی اوس دصراط مستقیم دپاره معیار په صراط الّذین انعمت علیهم سره بیانوی

(صِرَاطَ الَّذِیْنَ اَنْعَمْتَ عَلَیْهِمْ)

قانون داوی چه کله دکالج هلکان تیوری او انی نوبیا پریکټیکل کوی،

دا رنګ قرآن صراط مستقیم تبوری بیان کړه نو صراط الذین سره،
پیرنګیکر شروع شو،

(منعوم علیهم) شرك دي داسورة نساء ٦٩ کښې بیانوی (والصالحین)
نومنعوم علیهم صالحین دی نوانمه هم صالحین دی په مونږ کښې والی چه
ای الله دمنعوم علیهم لاره نه اوځالی اربیا امام ابوحنیفه پسې بد وائی
او دامام ابوحنیفه تقلید نه شرك وائی او خپله هم تقلید کوی دهرچا،

امام ابن تیمیه مجموعة الفتاوی ٤٣/ ج ١٨ کښې لیکی دی،

(اذا کان فی المسئلة وجهان او روایتان فهل یباح للانسان ان یقلد احدهما ام کیف الاعتماد فی ذالك)

الجواب اذا کان فی المسئلة قولان فان کان الانسان یظهر له رجحان احد القولین والا قلد بعض العلماء الذین یعتمد علیهم فی بیان ارجح القولین)

څمونږ جنګ په دی نه دے چه فاتحه خلف الامام شته یا نه یلکه مونږ داوايو
چه امام ابوحنیفه ته کنځل مه کوئی که امام ابوحنیفه بد سړے وو لو،
امام بخاری په دهغه ثلاثیات نه ذکر کول امام بخاری خپل کتاب کښې تقریبا
٢٢ ثلاثیات ذکر کړی دی اتلس ١٨ په کښې دامام ابوحنیفه نه دی باقی
اختلافی مسائل دی نو بدے مونږ سره کافی دلائل دی دهغے نه څه ذکر کوم،

بحث الفاتحة خلف الامام

(١) د قرآن او حدیث دوا رو نه لکه سورة القیامة ١٦، طهٰ ١١٤، اعراف ٢٠٤

(٢) مسلم کښې دابوموسی اشعری نه روایت دے،

(انماجعل الامام لیؤتم بہ فاذا کبّر فکبّروا واذاقرا فانصتوا)

(۳) مجموعۃ الفتاوی صفحہ ۲۰ / ج ۱۸ کے میں لیکی،

(وقد یکون الصواب مع مسلم وھذا اکثر مثل قولہ فی حدیث ابی موسی انّما جعل الامام لیؤتم بہ فاذا کبّر فکبّروا واذا قرأ فانصتوا فان ھذہ الزیادۃ صححھا مسلم وقبلہ احمد بن حنبل وغیرہ وضعفھا البخاری وھذہ الزیادۃ مطابقۃ للقرآن فلولم یرد بھا حدیث صحیح لوجب العمل بالقرآن فان فی قولہ تعالٰی واذا قرئ القرآن فاستمعوا لہ وانصتوا لعلکم ترحمون اجمع النّاس علی انھا نزلت فی الصلاۃ وان القراءۃ فی الصلاۃ مرادۃ من ھذا النص)

(٤) الدر المنثور صفحہ ٤ ٣ ٢ / ج ١٨ کمی عبدالرحمن جلال الدین سیوطیؒ ددی ایت (واذا قرئ القرآن) لاندلیکی،

(اخرج ابن جریر وابن ابی حاتم وابو الشیخ وابن مردویہ وابن عساکر عن ابی ھریرۃ فی قولہ واذا قرئ القرآن فاستمعوا لہ یعنی فی الصلاۃ المفروضۃ)

(۵) (واخرج ابن مردویہ عن ابن عباسؓ قال صلی النبیؐ فقرأ خلفہ قوم فنزلت واذا قرئ القرآن فاستمعوا لہ وانصتوا)

(۶) (واخرج عبد بن حمید وابن ابی حاتم والبیھقی فی سننہ عن مجاھد قال قرأ رجل من الانصار خلف النبیﷺ فی الصلاۃ فانزلت واذا قرئ القرآن الایۃ)

(وَأُتُوا بِهِ مُتَشَابِهًا) ایت ۲۵ دی میوو به رنګ ئیو شے به ځکه وی کړیلی دی چه

دنیا کښی ئی دغه خوراک طریقه زده کړی وی او جنت کښی دغی سره

نا آشنا نه وی،

(تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ) ایت ۲۵ دالهرونه په دځه وی ددیے تفصیل محمد ۱۵، اوتوبه ۱۰۰،

(اِنَّ اللّٰهَ) ایت ۲۶ ددی خالی نه دفعه دشبهے کوی د قرآن کریم داقاعده ده چه کله مسئله ثابتوی نو په هغی دلائل ذکر کوی اومثالونه ورلره بیانوی اوبیاچه پرے کوم اعتراضات، شبهات وی هغه هم دفع کوی،

مشرکینو به دا اعتراض کولو چه داځنګه کتاب دیے چه دی درعد اوبرق ذکر کیږی مقصد دادیے چه داخو دالله کتاب دیے پکارده چه په دی کښی قیمتی قیمتی اشیاء ذکر کیدیے نوجواب دادیے چه مثال دوضاحت دپاره وی دلته بعض خلق خطاشوی دی هغوئی وائی چه کله سورة عنکبوت کښی مثال پیش شو (وان اوهن البیوت لبیت العنکبوت) نو مشرکینو دااعتراض اوکړو کوم چه محکښی ذکرشو خو داخبره صحیح نه ده ځکه چه عنکبوت مکی دیے اوداسورت مدنی دیے نودمکے اعتراض جواب مدینه کښی ورکول صحیح نه دی بعض مفسرین ذکر کوی چه کله سوره حج کښی د مچ ذکر اوشو نو کافرانو دااعتراض اوکړو لیکن داخبره ځکه صحیح نه ده ځکه چه سوره حج په نزول ۱۰۳ دیے اوداسوره ۸۷ دیے نو آیاجواب د اعتراض نه مخکښی ورکړیے شو،

اصل کښی شیخ القرآنؒ به فرمائیل چه درعداوبرق نه پس دا اعتراض اوکړیے شو، داخبره حافظ ابن کثیرؒ، علامه قرطبیؒ اوعلامه ماوردیؒ هم ذکر کړی ده

(لَا یَسْتَحْیٖ) ایت ۲۶ حیادیو خیر نه داده چه هغه نه بیانویے نومعنی داشوه چه

حیا نه کوی یعنی باك نه کړی،

(ان یضرب)این عربی والی ضرب بحر ضرب یو دریاب دے یعنی دیره، معنی لے دی،

(۱) وهل، لکه اضرب بعصاك)(۲) بمعنی بیان لکه دلته ددی نه سوالوری معنی هم لری کله چه دتوحید مسئله بیان شی اوبیا لے پوره وضاحت په مثال سره هم اوشی نوخلق دوه ډلے شی،

(۱) فاماالّذین امنوا(مومنان)(۲) واماالّذین کفروا(کافران) دادوه ډلی وړیسے هم ذکر کوی،

(۱) یضل به کثیرا(۲) ویهدی به کثیرا،

(یُضِلُّ بِهٖ کَثِیْراً)ایت ۲٦،اشکال قرآن دهدایت کتاب دے څه د ګمراهۍ کتاب خو نه دے،

جواب ددے لفظ مطلب دادے چه په قرآن کریم دډیرو خلقو ګمراهي ښکاره کیږی لکه مثلا یو سړے وی ظاهری طورډیرنیك معلومیږی خوباطن کښې ناکاره وی زړه ئی توروی نوکله چه د قران کریم بیان شروع کړے شی نو دهغه خیانت ظاهر شی ددی تفصیل په مائده ٦٤،حج ۷۲مدثر ١٦، ١٨،او ددی وضاحت حدیث کښې هم راغلے دے،

(ان الله یرفع بهٰذالکتاب اقواماویضع به آخرین)مسلم،

(ویهدی به کثیرا)ایت۲٦،کلکه وی په دی ډیر څکه،ډیر خله یوموحدوی چه دقرآن درس ئی نه وی اوریدلے نو کلك نه وی او کله چه واؤری نو کلك شی،

(عهدالله)ایت ۲۷ حدیث کښې هم راځي (لاایمان لمن لاعهدله)یو بل روایت
کښې راځي دمنافق علامه داده (اذاوعداخلف)وعده خلافي ئي دمنافق علامه
خودلې ده دداسې کسانو باره کښې الرعد۲۵ کښې فرمائي(اولئك لهم اللّعنة)
دالعنتيان دی،
(کَیْفَ تَکْفُرُوْنَ) ایت۲۸ دمسئله توحیدنه پس اوس څلورنعمتونه ذکرکوي
داقانون دے چه کله یو مسئلے بل سری له دیو کاردپاره تیاره وی نواول ورته
دلائل بیانوی چه په دلائلو هم تیارنشي نوبیاپرے احسانات شمیری،
الله جلاله اوّل دلائل بیان کړه نوبعض کسانو خومسئله اومنله اوبعض
کسانو اونه منله نواوس هغوئي باندی احسانات شمیری
اول نعمت،چه نیشت نه ئې شته کړی لے یعنې عدم نه ئې وجود ته راوستي ئې
(کیف تکفرون بالله وکنتم امواتا فاحیاکم)
دویم نعمت، هرڅه ئې ستاسو دنفع دپاره پیدا کړی دی،
(هوالّذی خلق لکم ما فی الارض)
دریم نعمت،ستاسو نیکه ئې مسجودالیه دفرشتو کړځولے وو،
(واذ قلنا للملٰئکة اسجدو)
څلورم نعمت،ستاسو نیکه نه لغزش وشونوورته معاف ئې کړو دا په ۳۷ کښې
ذکر کوی،
(وکنتم امواتا)ایت۲۸ ،ابن کثیرمعنی کوی (امواتا ای عدماً)تائیدسورة
الدهر(۱) کښې وائي(لم یکن شیئا مذکورًا)دلته هم وائي چه اول عدم وی

بیا م دنیا ته راوستے بیا به درباندی مرګ راولم،

(ثم یمیتکم)مرګ دبدن نه روح وتلو ته وائی مومن ۱۱ کښی فرمائی

(ربنا امتنا اثنتین و احییتنا اثنتین)دوه خله مرګ،

(۱) مرګ در حم(۲) مرګ ددنیا،

او دوه ځله ژوند،

(۱) ژوند ددنیا(۲) ژوند د آخرت،

تو مرګ نه پس بیا دنیوی ژوند کوم ځائی نه راځی،مومنون ۱۴،نحل ۲۰ ۲۱ ،حجر ۹۹(حتی یاتیك الیقین)ای الموت،دنبی ﷺ د وفات مشهوره واقعه ده چه دعمر ی دوفات نه پس ابوبکر صدیقؓ راغے او دنبی ﷺ مخ مبارك ئی ښکل کړو او دائی اوفرمائیل چه کوم مرګ په تا راتلو هغه راغلو او بیا ئی بیان شروع کړو او دنبی ﷺ په مرګ ئے دا ایت مبارك پیش کړو (وما محمدٌ الا رسول قد خلت من قبله الرسل افان مات او قتل)او بیا ئی ئے صراحتا اوفرمائیل،

(من کان یعبد محمدا فانه قد مات ومن کان یعبد ربّ محمدٍ فانه حیٌّ لایموت)

نو ددی نه صفا دنبی ﷺ مرګ ثابتیږی باقی دحیات برزخی نه موږ انکار نه کوو لیکن په هغه ژوند موږ نه پوهیږو،

شرح العقیدة الطحاویه ۴۵۱ کښی ذکر کوی،

فالروح لها بالبدن خمسة انواع من التعلق متغائرة الاحکام،

احدها تعلقها به فی بطن الام جنیناً،

ثانیها تعلقها به بعد خروجه الی وجه الارض،

ثالثها تعلقهابه فی حالة النوم فلهابه تعلق من وجه ومفارقه من وجه،

رابعها تعلقهابه فی البرزخ فانهاوان فارقته وتجردعنه فانها لم یفرقا کلیا

بحیث لا یبقی الیه التفات البتة فانه ورد ردها الیه وقت سلام المسلّم

وورداته یسمع خفق نعالهم حین یولون عنه وهذا الرداعادة خاصة لایوجب

حیاة البدن قبل یوم القیمة،

خامسها تعلقهابه یوم بعث الاجساد وهو اکمل انواع التعلق بالبدن

ولانسبةلماقبله من انواع التعلق الیه،

البدائع والصنائع اخری صفحه کښی امام کاسانی الحنفی المتوفی ۵۸۷

وائی وانما وصفه فی حق احکام الاخرة الا تری الی قوله تعالٰی بل احیاء عند

ربهم یرزقون فاما فی حق احکام الدنیا فالشهیدمیت یقسم ماله وتنکح امراته

بعدانقضاء العدة ووجوب الصلوٰة علیه من احکام الدنیافکان میتا فیصلی

علیه

امام ذهبی په تاریخ الاسلام ۲۶۹ کښی وائی،والانبیاء احیاء عندربهم

کحیوٰة الشهداء عندربهم ولیست حیاتهم الخ،

سیر اعلام النبلاء ۱۶۱ ج ۹ ،اعلاء السنن ۲۷۲ کښی ذکر کوی،

(فتلك حیاة اخری لامن جنس الحیاة الدنیویة فهومیت باعتبارهٰذه الحیاة

الدنیویة حتی بتلك الحیاة البرزخیة المغائرة لهٰذه الحیاة)

داحنافو مشهور کتاب دے المبسوط لعلامه شمس الدین سرخسیؒ په ۵۰

جلد۲ کښی فرمائی(والشهیدحی فی احکام الاخرة قال اللّٰه تعالٰی بل احیاء

عندربهم فاما فی احکام الدنیا فهومیت)

فتاوی دار العلوم دیوبند ۲۹۷ جلد ۵ کښی وائی

(انبیاء کرام علیہم السلام کی حیات شہداء کی حیات سے اتم واقوی ہے لیکن اس حیات سے

مراد حیات دنیوی نہیں

آب حیات ۲۹ کښی مولانا قاسم نانوتوی وائی،

لیکن ظاہر ہے کہ بعد مرگ جسد مردہ من جملہ جمادات ہوتا ہے،

مشکلات القرآن ۹ کښی انورشاه کشمیری وائی د (کیف تکفرون) آیت

لاندی تحقیق کښی (بلکہ تحقیق آنست کہ معنی حیات تعلق روح بہ بدن است ودر قبر اصلاً تعلق

بہ بدن نیست بلکہ بقاء شعور وادراک روح را بعد از مفارقت از بدن تعبیر بحیات کردہ اند،

علامه رشید احمد گنگوهی په کوکب الدری کښی هم وائی او دباقی تفصیل

دپاره څما کتاب مسلك الاكابر او ګوره،

کشف المغالطات فی ردسماع الاموات دابراهیم دهلوی کتاب دے او په

هغی دخلیل احمدسهارنپوری، حسین احمدمدنی دعلماء دیوبند، اود

علماء بلندشیر دستخطونه دی دوئی صرف یو کتاب المهند په ترخ کښی

نیولے وی او هرځائی کښی ئی پیش کوی حالانکه ددیے کتاب دحقیقت نه

دوی خبر ندی،

مکاتیب شیخ الحدیث ٤٨٥ کښی مولانا زکریا نائب امیر تبلیغی جماعت

لیکی حیات النبی ﷺ کے متعلق میرا خیال تو یہ ہے کہ تم نے مولانا حسین علی کے خدام سے جو نقل

کیا ہے وہ صحیح ہے اور حضرت اقدس نانوتوی نے کتاب آب حیات میں کیا لکھا ہے نہ تو اس کے

دیکھنے کا تو کہیں ارادہ کیا نہ تو ہمت،

هو نړوایو که دا مسئله د اصولونه منی نو په قرآن ئی ثابته کړه او که فروعونه

لے معنی تو بیا داحناف علماء (منه او که دامام سیوطی (شفاء السقام) دلیل کښی پیش کوی نو هغه خو شافعی وو،

(هُوَ الَّذِیْ خَلَقَ) ایت ۲۹ ذکر ددویم نعمت،

(جَمِیْعًا) دهریو و اعتراض کوی چه هر څه کښی اشتراکیت دے او ملکیت نشته مونږ وایو چه (جمیعا) دلته مفعول دفعل محذوف دے ای اعتقدوا جمیعا من الله، او ددی تائید جاثیه ۱۳ نحل ۵۳،

(اِسْتَوٰی) قصدئی وکړو، کمایلیق بشانه، اول آسمان نه و بیا الله تعالیٰ پیدا کړولکه حمٓ السجده ایت ۱۱، ۱۲،

(وَهُوَ بِکُلِّ شَیْءٍ عَلِیْمٌ) ایت ۲۹ دلته صفت علیم ذکر کوی داسے ئی ذکر نه کړل (وهو لکل شیء خالق) څکه مخکښی بیان دخلقت دے،

جواب..... اول ئی او وے خالق دهر څیز، بیم نو اوس وائی عالم په هر څیز، بیم نو ماته چغه او هه،

(وَاِذْ قَالَ رَبُّکَ) ایت ۳۰ ددے ثانی نه دریم نعمت ذکر کوی چه ستاسو لیکه م معزز کړو فرشتو کښی،

(خَلِیْفَةً) ایت ۳۰ بعض خلق ددی معنی په نائب سره کوی لیکن داخبره صحیح نه ده،

......څکه چه دنائب ضرورت هغه چاته وی چه هغه خپل کارونه نشی پوره کولے نو هله دنائب ضرورت وی،

......دویم داچه نائب دمناب کارونه پوره کولے شی او انسان دالله کارونه نه شی

پوره کولے،

(۱) جواب اصل کښې دخلیفه معنی یو بل پسے راتلونکی ده یخلف بعضهم بعضاپه معنی راځی بعض کسان دلیل کښې داپیش کوی چه ابوبکرؓ ته به بعض کسانو داویل چه ته دالله خلیفه ئی،

یاخلیفة الرّحمٰن انامشعرٌ حنفاء لله تسجدبکرة وّاصیلا

لیکن علامة ابن قیمؒ مفتاح دارالسعادة ۱۹۲ جلد ۱ کښې ذکر کوی

ومنعت طائفة هذاالاطلاق وقالت لایقال لاحد انه خلیفة الله انمایکون عمن یغیب ویخلفه غیره والله تعالیٰ شاهد غیرغائب قریب غیربعید راءٍ وشاهد فمحال ان یخلفه غیره بل هوسبحانه الّذی یخلف عبده المومن فیکون خلیفته کما قال النبی ﷺ فی حدیث دجال ان یخرج وانافیکم فاناحجیجه دونکم وان یخرج ولست فیکم فامرؤٌحجیج نفسه والله خلیفتی علی کل مؤمنٍ، وایضا حدیث عبدالله بن عمروؓان رسول الله کان یقول اذاسافراللّٰهم انت الصاحب فی السفر والخلیفة فی الاهل،وفی الصحیح انّ النبی ﷺقال اللّٰهم اغفرلابی سلمة وارفع درجته فی المهدیین واخلفه فی اهله فاللّٰه خلیفة العبد قالوا واماقوله تعالیٰ (انّی جاعل)فلا خلاف فی ان المرادبه آدم وذریته وجمهوراهل التفاسیرمن السلف والخلف علی انه جعله خلیفةعمن کان قبله فی الارض قیل عن الجن الّذین کانواسکانهاوقیل عن الملآ ئکة الّذین سکنواهابعدالجن،

وقصتهمْ مذکورة فی التفاسیرواماقوله تعالیٰ الذی جعلکم خلا ئف ولهذا انکرالصدیق رضی الله عنه علی من قال له یاخلیفة الله قال لست خلیفة الله

ولکنی خلیفة رسول ﷺ وحسبی ذالك(انتهی)

اودا خبره چه بنده دالله تعالیٰ خلیفه دے پدے باندی کتاب المنتهی هم رد کړے دے هغه والی داعقیده دوحدت الوجود والاده،

ای الخلیفة عمن قبلك لاالخلیفة عن الله کمایقول بعض الاتحادیة ۵۵ (اتحادیه نه مراددوحدت الوجود قائلین دی)دخلیفه دړے معنے صحیح کیږی،

(۱)...... یو معنی یخلف بعضکم بعضاچه یوبل پسے به راځی دامعنی انعام ۱۶۵، فاطر ۳۹ نمل ۶۲ ،مریم ۵۹ ،زخرف ۶۰ کښی ده اودامعنی تفسیر قاسمی هم کړی ده اوزادالمسیرهم کړی ده،

(۲)..... خلیفة بمعنی نائب خونائب دجناتو یادملائکونه اودامعنی، مفتاح دارالسعادة تفسیرماوردی تفسیرقاسمی ذکر کړی ده،

(۳)..... خلیفة مامور یعنی ژه به ده ته حکم کوم اودے به نی خلقوته رسوی اوپه دی معنی انبیاء علیهم السلام اوعلماء کرام دالله تعالیٰ خلیفه ګڼان دی اودے به ماموروی لکه داؤد علیه السلام ته خلیفه ویلے شوی دی په سوره ص ۲۶ کښی دا معنی فتح الرحمن ی ده اودړے واړه معانی ماوردی ،قاسمی، محاسن التاویل کړی دی،

(مَنْ يُّفْسِدُ فِيْهَا)ایت ۳۰،اشکال..... ایا فرشتوته علم غیب وو چه دا خبره نی کړی ده او نن صبا فساد کیږی،

۱)..... جواب ،دا قیاس دغائب دے په حاضر څکه پدی زمکه دآدم علیه السلام نه مخکښی پیریان تیرشوی څېلو کښی به ئې جنګ جګړې کولی نوفرشتو،

قیاس و کړو چه انسان به هم داسې وي.

(۲) جواب یا دوئی دعقلي فلسفې نه داخیره کوله څکه انسان دعناصر اربعه نه تیار شوے دے.

(۱) نار (۲) ماء (۳) هواء (۴) ارض.

او داعناصر ډیر بل متضاد دي نو ضرور به یکښې فساد وي نو داخبره ئې څکه وکړه.

(نُسَبِّحُ) ایت ۳۰ تسبیح ناکاره صفاتو نه پاکول تسبیح په ذات کښې راځي اوتقدیس په صفاتو کښې راځي.

(وَعَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا) ایت ۳۱، اشکال آدم علیه السلام ته ئې ډېرلو څیزونو نومونه څنګه اوښودل.

(۱) جواب دلته کلها کښې کل عرفي دے یعني خلقو سره چه کوم څیزونه وو قرآن کریم النمل ۲۳ کښې هم ذکر کوي چه بلقیس ته ورکړے شوے وو هر څیزونه (من کلّ شي ء) نو ټول مراد نه دي څکه چه بلقیس سره خود سلیمان علیه السلام تخت نه وو.

(۲) جواب یا کلها نه مراد هغه څیزونه دي چه دانسان ورته ضرورت وي او دا روح المعاني هم ذکر کوي.

(والحق عندی ان الاسماء التي يقتضيها منصب الخلافة)

دویم اشکال..... الله تعالی آدم علیه السلام ته نومونه اوښودل اوفرشتوته ئې اونه ښودل نو دې کښې آدم علیه السلام ته په څه فضیلت حاصل دے.

(١)...... جواب، اصل خبره داده چه ادم علیه السلام ته ئے اثر څودلے (لکه اوبه لنده مالوی، رونړی لوره حصوری وغیره) او فرشتو ته نی هم او سودلو لیکن فرشتو ته اثر څکه نه وو معلوم چه هغوئی دی خبرو لو ته ضرورت نه وو، نو د انسان فضیلت او فوقیت په فرشتو څکه دے چه انسان د څپلو ضرورتیانو سره سره د الله عبادت کوی او فرشتو میخ بشری تقاضی نه وی.

(وَمَاكُنْتُمْ تَكْتُمُوْنَ) ایت ۳۳، او هغه چه تاسو لی پټوی پدی ځائی مفسرین لګیدلی دی چه ملائکو څه پټول اصل کښی ملائکو څه پټ کړی نه وو بلکه د په کلمه د شمول والی،

(اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ) ایت ۳٤، اشکال...... آدم علیه السلام ته فرشتے څنګه سجده کوی حالانکه سجده لغیر الله خو ناجائز ده،

(١)...... جواب اول داچه د اسجده د الله په حکم سره وه نو دے وجے نه ممنوع نه وه

(٢)...... جواب ابن عربی ذکر کوی چه ددی نه (وضع الاکف علی الجبهة) مراد دے کسلام الاعاجم (مونږ ورته سلوټ وایو) خو دیر روایت نه معلومیږی چه په لاس سلام اچول منع ندی او دبل روایت نه جواز معلومیږی نو د روایتونو په میڼځ کښی خو تطبیق دا دے چه په لاس سلام وکړے او په خوله السلام علیکم اوبلے شی،

٣)...... جواب، اسجدو الادم معنی ای لجانب آدم او په حقیقت کښی سجده وه الله ته لکه زمونږ سجده الله تعالی ته وی لیکن په طرف د کعبے وی،

)...... جواب یاسجده تعظیمی وه او دا مخکښی ادیانو کښی جائزه وه،

(اِلَّآ اِبْلِيْسَ) ایت ۳٤ بعض خلق وائی چه شیطان د ملائکو نه وو او د ملائکو

استاذ وو ،دا خبره غلطه ده ځکه چه شیطان دملائکو نه شو نو دا په پو شو وجوه باطله ده،

(۱) فرښتے خو دالله تعالی نافرمانی نه کوی (لایعصون الله ما امرهم) بل خالی فرمانی (وما منا الا له مقام معلوم)

(۲) شیطان ناری دے او فرښتے نوری دی،اصل کښی دا غلطی ددی وجی نه راغلی ده چه دوئی (الا) ته استثناء متصله وائی او بیا متصلے تعریف داسی کوی چه مستثنیٰ مخکښی داستثناء نه په دمستثنیٰ منه کښی داخله وی او دمنقطع تعریف ددی خلاف کوی مو ړ وایو دا تعریف دعامو دے

اصل تعریف د محققینو دے ،هغوئی وائی استثناء متصله دیته وائی چه مستثنیٰ مخکښی داستثناء نه په حکم او مفهوم دمستثنیٰ منه کښی داخل وی او منقطع ددی په خلاف ده او دا صحیح ده ځکه چه اول تعریف جامع نه دے ځکه که نه وائی (جاء نی القوم الا زیدا) دا استثناء متصله ده او دا هم وائی چه کچرے ستا قوم نه مرادفارسی بان او دزیدنه پښتون شی نو بیا استثناء منقطع جوړیږی نو دلته خو زید جنس دقوم نه دے او سره ددی بیا هم منقطع شوه،

دا رنګه نه وائی ،جاء نی القوم الا زیدا،نو ټول علماء وائی دا استثناء منقطع ده خو کچرے قوم نه مراد استاد توابع دقوم وی لکه سړے ښځه،مینه او خرو غیره نو بیا حمار استثناء متصله ګرځی ځکه چه حمار دقوم جنس نه شو،

خو اصل خبره دا شوه چه اعتبار مفهوم لره دے که مفهوم کښی داخل وی نو متصله ده لکه دویم مثال کښی حمار امفهوم کښی داخل دے او که مفهوم کښی داخل نه وی نو بیا منقطع ګرځی لکه اول مثال کښی زید چه پښتون

وویه مفهوم دقوم کښې داخل نه وو ځکه هغوی فارسی بان وو نودلته هم استثناء متصله ده شیطن په مفهوم د ،اسجدوا داخل دے په شان دملائکو نه داچه دجنس دملائکو نه وو او شیطن (اسجدوا) کښې داخل وو ځکه ده ته سجدے کولو حکم شوے وو لکه اعراف ۱۲ ،ابلیس داحکم دوجے دتکبر نه نه وو منلے یو تکبر دے اوبل احساس کمتری دی دواړو کښې فرق دے خو دا دواړه یو نه دی احساس کمتری دیته وائی چه الله تعالی چاله یو عزت او مرتبه ور کړیوی اودے وائی چه څه خو ډیر سپك یم او تکبر دیته وائی چه الله تعالی چاله یو مرتبه ور کړی وی اوهغه د هغی نه ځان غټ گڼړی،

تکبرپه باره کښې یو روایت کښې راځی چه دالله تعالی په نزد درے کسان ډیر مبغوض دی،

(۱)...... الملك الكذاب(۲)...... الشيخ الزانی(۳)...... الفقير العال ای المتکبر

اوچه کله انسان په خپله درجه ځان گڼړی نو داتکبر نه دے نبی ﷺ ته یو صحابیؓ راغلو چه ماته خلق وائی چه ته تکبر کوے (وقدلبست شملة وحلبت الشاة) او ما د نبی ﷺ نه اوریدلی دی چه چادا کارو کړو نو په هغه کښې تکبر نشته،تکبر شیطان کړے وو او تکبر همیشه کم عقل سړے کوی اود ځان صفتو نه به کوی،

یو شاعر وائی

په خپل ځان خپله ثنا څه پکار نه ده   هر بلبل به دثنا کړی که ته گل شے

شیطن داور نه پیدا وو نو په دی وجه یې تکبر او کړو او الله تعالی حکم ئی او نه منلو نو ذلیل شو او [illegible] علیه السلام د [illegible] نه پیدا وو ځکه او [illegible]

عرجو داورته بهتره ده.

(۱) اور حو ښتي سوزوی، او زمکه نی خان سره ساتی.

(۲) په خاوره چه اوربل شي نو خاوره نه خرابوی اوپه اور چه خاوره واچوی نو اورمړ کوی.

(۳) زمکه شي زرغونه وی په خلاف داور.

يوسالك وائي

دانه تاچون اندر زمين پنهان شود سرشان سر سبز اين بستان شود

دانه خاوره کښې دفن شي زرغونيږی نه دخاورے نه پيدا ئی زرغون نه شوی (وَكَانَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ)صٓ ۷۵، ۷۷، حجر ۳۳ څرك چه دابليس په قدم قدم اّ دی لکه فرعون نو دهغه هم هغه حشروی لکه زخرف ۵۳.

(الْجَنَّةَ)ايت ۳۵ بعض کسان وائی دجنت نه مرادجنت الخلددے خود جنت الخلدنه خوتل نشته څرك وائی چه داجنت آسمانونو کښې وو، موږ وايو چه پيداء شو په زمکه که او آسمان ته څنګه وُختو (يعنی رواياتو کښې صُعودِآدمؑ من الارض الی السّماء ،ثبوت نشته خواصل خبره داده چه ددی هيڅ پته نشته نه په دی کښې څه ثواب شته ،چه دا فلانے جنت دے.

(وَلَا تَقْرَبَاهٰذِهِ الشَّجَرَةَ)ايت ۳۵ دلته عبارت محذوف دے (ولاتقربا)وان تقرباهٰذه الشجرة فتكونا من الظّلمين،شئ به تاسو دكمی كونكونه خپلونعمتونو كښې اوظلم په معنی د كمی سره راغلے دے لكه سوره كهف ۳۳(ولم تظلم)ای لم تنقص فاطر ۳۲ (فمنهم ظالم لنفسه) بمعنی كمی دد يونس عليه السلام وائی(لاالٰه الاّانت سبحانك انی كنت من الظالمين)

داسے نه ده چه نه وائے چه دوئی ظلم او کړو (لکه مودودی چه وائی)
په دی خالی مدراک سره تحقیق کړے دے،
(فَأَزَلَّهُمَا الشَّيْطٰنُ) ایت ۳۶ دلته سوال دادے چه آدمؑ اوحواء بی بی
جنت کښی وو او شیطان جنت نه ویستے شوے وو لکه سوره اعراف ۱۳
نو بیا څنګه ئی وسوسه ورته واچوله،
جواب: شیطان اصل کښی به دجنت دروازے ته راتلو او هلته به آدم علیه
السلام او حواء به هم ددلته طرف نه دروازی ته چکر راوهلو نو دهغی وخت
کښی ئے ورته وسوسه واچوله او بعض خلق وائی چه شیطان دمار ګیډے
کښی ننوتو او جنت ته داخل شو نو ولے الله تعالی شیطان نه لیدو،
(اهْبِطُوا) ایت ۳۶ لارشی ذکر زیدو په معنی سره نه دے لکه بقره ۶۱ کښی
وی (اهبطوا مصراً) شهر خو زمکه کښی نه وو نو لکه ورته وے لار شئی شهرته
(فَتَلَقّٰى) ایت ۳۷ داخلورم نعمت ذکر کوی چه دآدم علیه السلام نه لغزش
او شو لو ما ورته معاف کړو،
(كَلِمٰتٍ) دلته اصل عبارت داسی دے فتلقى آدم من ربه كلمت فقرأها فتاب
عليه ،دا کلمات څه وو ،مستدرك کښی یو روایت ذکر کړے دے او بیا بعض
خلق دهغی نه وسیله بالذات هم ثابتوی خو دهغه روایت ضعیف دے سندا
ومتنا او دهغی تفصیل البصائر ۳۳۹ کښی شته،
۱) ددی نه علاوه دا کلمات قرآن کریم خپله ذکر کړی دی لکه اعراف ۲۳
۲) ... او ا داچه یو روایت داهم دی (لولا محمد لما خلقتك) چه دنیا د محمد ﷺ
دمخه پیداده حالانکه دا دقرآن نه مخالفه خبره ده لکه الذاریت ۵۶ کښی

فرمائي چه ددنيا خلقت عبادت دپاره دے۔

(فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ) ايت ۳۸ خوف او حزن دواړو کښې فرق دے او دواړه غم ته وائي خوف هغه غم ته وائي چه هغه راتللونکے وي حزن هغه غم ته وائي چه هغه تير شوے وي او کله کله دغم سبب وي کله کله نه وي نو سبب واله غم دادواړه (خوف او حزن) دی او چه سبب ئے معلوم نه وي هغې غم ته ،هم، وائي لکه نبي ﷺ ته يو صحابي راغلے ورته وائي چه زه ماړه پريشان دے نبي ﷺ ورته دا دعاو ښودله،

(اللّهم انّى اعوذ بك من الهمّ والحزن واعوذ بك من العجز والكسل واعوذ بك من الجبن والبخل واعوذبك من غلبة الدين وقهر الرجال)

نو دا موحد ته تسلي ده چه (فلا خوف فى الزمان الاتى ولاهم يحزنون بزمان الماضى) سورة طٰه ۱۲۳ کښې (فلايضل اى فى الدنيا ولايشقى اى فى الاخرة)

(يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ) ايت ۴۰ دی خالي نه دريم باب داولے حصے شروع کيږي او دی کښې خطاب خاص دے پس دخطاب عام نه او داوجه دربط هم ده مخکښې عام خطاب وو په (يآيّها النّاس) سره اوس خطاب خاص بني اسرائيلو سره چه که عام خلق دامسئله نه مني نو تاسو خونې او مئے ځکه چه تاسو کښې م بادشاهان پيدا کړي دی او انبياء عليهم السلام م درکښې راستولي دی اودې کښې درے قبائح ديهودو اودهغې مقابله کښې درے صفات دمومنانو ذکر کوي،

ديهودو درے قبائح دادی ،

.....تحريف (ولاتلبسوا الحق) ايت ۴۲ (۲)...... کتمان حق (وتكتموا الحق)

ایت ۴۲

(۳)...... ترك عمل(اتامرون النّاس)ایت ٤٤،

ددے مقابل درے صفات دمومنانو،

(۱)...... صبر(بِالصَّبْرِ)ایت ٤٥ (۲)...... صلوٰة(والصَّلوٰةِ)ایت ٤٥،

(۳)...... ایمان باالاخرة(الَّذِيْنَ يَظُنُّوْنَ)ایت ٤٦،

(يٰبَنِىٓ اسرائيل)اسرائيل ديعقوب عليه السلام، نوم وو قرآن كريم كله اسرائيل هم وائي لكه فرمائي (الا ما حرم اسرائيل)داعبراني لفظ دے اسرائيل په عبراني ژبه كښې (اسراء)عبد ته وائي او(أيل)اللّٰه ته وائي يعني عبداللّٰه ييادادعجمي نه نقل شوعربي ته اودي ته تداخل بين اللغتين وائي كوم ۹۹ نومونه چه حافظ ابن كثيرؒ ذكر كوي دينه هغه مراددي چه كوم حديث كښې راغلي دي ورنه حافظ ابن كثيرؒ ذكر كوي چه اسمآء حسنى داللّٰه تعالىٰ درے زره دي(۳۰۰۰)پديكښې اختلاف دے چه اسمآء داللّٰه تعالىٰ توقيفي دي كه غيرتوقيفي او دعربي نه سواژبو كښې جائزدي اوكه نه جواب...... داجائزدي لكه فتاوى اللجنة ذكر كوي لكه انگلش كه ورته گاډ وائي پښتو كښې ورته خدائي، عبراني كښې ورته أيل وائي ابن جرير الطبري مقدمه ابن خلدون كښې تفصيل ذكر كړے،

(وَاَوْفُوْا بِعَهْدِيْٓ)ایت ٤٠ قرآن داوعدي مائده ۱۲ كښې ذكر كوي،

(فَارْهَبُوْنِ)ایت ٤٠ رهب، يرهب بمعني خوف اوشوق هم راځي يعني خاص ماسره هينه وساتي،

(مُصَدِّقًالِّمَا)ایت ٤١ تصديق كونكے د تورات تصديق ئے كړے دے باددي

وجے نه چه تورات کښې داو وچه زه به آخری پیغمبر راليږم نو هغه صادقه شوه یادا سے تصدیق کونکے دے چه کومه مسئله تورات کښې وه هغه قرآن کښې هم بیانوی لکه دتورات مسئله بنی اسرائیل ایت ۲ کښې اوقرآن مسئله مزمل ایت ۹ کښې بیانوی،

(أَوَّلَ كَافِرٍ بِهِ) ایت ۴۱،اشکال..... اول کفرخومکے واله کړے وو نو دوئی ته ولے اول کافروائی جواب..... دوئی علماء وو داول نسبت علماء ته کړی ورنه اول کفرمکے واله کړے وو،

(وَلَا تَشْتَرُوا) ایت ۴۱ ددی دامطلب ندے چه لږے پیسے مه اخلئ ډیرے خیر دے که اخلے څنګه چه مبتدعین وائی،دامطلب نه دے قرطبی ذکر کوی الثمن القليل الدنياوما فيها ،توله دنیادقرآن دیو آیت مقابله کښې لږه ده لکه النسآء۷۷،قل متاع الدنياقليل،

یوسالك وائی

بدنیاتوانی که عقبیٰ خری بخرجان من ورنه حسرت بری

العمران ۱۹۷ مائده ٤٤ ،نحل ۹۵ ،توبه ۹ حدیث کښې راځی،

(لوكانت الدنيا تعدل عندالله جناح بعوضة ماسقى اللهكافرًامنهاشربة مآءٍ)

ددنیا تمامه زندګی لږه ده تیره به شی،

لکه یوسالك وائی

ستقلك المنايا عن ديارك ويبدلك الردى دارابدارك

وتترك ماغنيت به زمانا وتنقل من غناك الى افتقارك

فدود القبرفي عينيك ترعى وترعى عين غيرك في ديارك

ددی ایت په رڼا کښې په قرآن اجرت اخستل جائز نه دی داخبره فقهاء هم ذکر کړی ده عالمګیری ٤٤٤ جلد ٤ کښې ذکر کوی،
لایجوز الاستیجار علی الطاعات کتعلیم القرآن والاذان والتذکیر والتدریس،
شامی ٣٥ جلد٥ نیل الاوطار ٦٠ جلد ٢ کښې وائی، ولایوخذ علی اذانه اجرا،
مجموعة الرسائل ١٨٠ کښې وائی، ادخل الفقهاء اخذ الاجرة علی التلاوة فی الاشتراء ابن کثیر وائی رقال ابو العالیة لاتاخذوا علی کتاب الله اجرًا،
مبسوط السرخسی ١٥٨ جلد٣ ... وائی، الآخذ والمعطی هما اثمان،
ابوداؤد ١٢٩ جلد ٢ کښې روایت ذکر کوی چه نبی ﷺ صحابی ته اوبل چه غاړه کښې داور لینده واچوله داپه قرآن کریم کښې هم ذکر دی لکه مائده ٤٤، نحل ٩٥، اوجا چه په قرآن اخستل کړی دی نو دهغه انجام او ګوره په سوره بقره ١٧٤، التوبه ٩ دیغیرنا کاره شیٔ دے دعبدالله بن مبارکؒ ملګرے ابن علیهؒ چه کله قاضی مقرر شو نو دوی ورته دا اشعار اولیکل شیخ القرآنؒ نیل السائرین ٤٣ کښې ذکر کړی دی اوبیا ابن علیهؒ باره کښې راځی فلما وقف علی هذه الابیات بکی واستعفی،
دعبدالله بن مبارکؒ دا اشعار هم دی،

قَدْیَجْعَلُ الْمَرْءُ حَانُوْتاً لِمَتْجَرِهٖ وَقَدْجَعَلْتَ حَانُوْتَكَ بَیْنَ الْاَسَاطِیْنِ
صَیَّرْتَ دِیْنَكَ شَاهِیْناً تَصِیْدُبِهٖ وَلَیْسَ یُفْلِحُ اَصْحَابَ الشَّوَاهِیْنِ

مشهور عالم کاسانیؒ چه کله ورته بادشاه عهده ورکړه نو خپلی بنځی پسے ئے نوکران راولیږل چه ماته بادشاه عهده راکړی ده اوته دونی سره راشه نو بنځه ئے عالمه وه هغی ورته خط اولیږلو چه ستاله دبادشاه دربار دومره لوی

مسئله د فقهی هیره کړه چه ښځه به سفرغیرمحرم سره نه کوی ،
نوعلامه کاسانیؒ چه وکتونواستعفی ئی ورکړه اوراغے ،
مجدد الف ثانیؒ دده مریدان وومحبت خان پیښور کښی او د بنګله دیش
ګورنرهم دده مرید وو نوبادشاه ،مجدد الف ثانیؒ جیل کښی واچولو نو
مریدان و لګیدل اوبادشاه ئی ګرفتار کړواوبادشاهی تری نه واخسته او
مجدد الف ثانیؒ ته ئی جواب واستولو چه راشه بادشاهی واخله هغه ورته
اووے چه بادشاه پریږدی زۀ بادشاهت دپاره نه جنګیږم بادشاه سحر په
منده راغلو اومجدد الف ثانیؒ جیو کښی پریوتو چه ما ته معافی وکړه،
عبد الغنیؒ شیخ دمشق دسلطان عادل چه دصلاح الدین وروروو ،دهغه په
دربار ورانوتو ،نوبادشاه اویل، ګویا چه زما په دربارازمرے راغلو ،
(وَلَا تَلْبِسُوا الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ) ایت ۴۲

شیخ القرآنؒ به فرمائیل

ولے ګډوے بدعت سنت دمصطفیٰ سره

مخ به لګوے سیا محشر کښی مجتبیٰ سره

دحق اوباطل ګډوډ کولو ډیری طریقی دی ،
شیخ القرآنؒ اصول السنة کښی ۱۱ طریقی ذکر کړی دی ،
شاه ولیٔ اللهؒ حجة الله البالغه کښی هم ذکر کړی دی،
(وَتَكْتُمُوا الْحَقَّ) ایت ۴۲ عطف دے ماقبل باندی ای ولاتکتموا الحق
یامنصوب بناء بر تقدیر ،ان،
(وَآتُوا الزَّكٰوةَ) ایت ۴۳ یوعبادت بدنی دے اوبل عبادت مالی دے په بدنی

كښې مونځ غوره دے او مالي كښې زكوٰة غوره دے نو آهم ئې ترې
ذكر كړل او مراد ترې نه عبادت بدني او مالي دے،
(وَارْكَعُوْا) ايت ۴۳ ركوع ئے ذكر كړه ځكه چه ركوع كښې رانيټيهل دي
او تكليفي حالت دے اشاره دې ته ده چه دين كښې به تكليف وي هغه به
برداشت كوي،
(بِالْبِرِّ) ايت ۴۴ برنيكۍ ته هم وائي او جنت ته هم وائي تو دا يا د قبيلي دذكر
السبب والمراد منه المسبب دے تو معنى داشوه تاسو حكم كوئ خلقو ته په
جنت ګټلو، لكه العمران ۹۲
(بِالصَّبْرِ) ايت ۴۵ صبر دوه قسمه دے،
(۱)..... اختياري (۲)..... غير اختياري،
دصبر اختياري مثال لكه صبر دابراهيم عليه السلام كه هغه مسئله نه بيانوله
نو اور ته ئې نه اچولو ليكن مسئله ئې بيان كړه او اور ته په غورځيدو ئے صبر
او كړو او دصبر غير اختياري مثال لكه صبر د يوسف عليه السلام چه كله ئے
كوهي ته غورزولو دصبر تقريبا شپارس اقسام دي ضياء النور ۳۱۰ كښې
شيخ القرآن تفصيلا بيان كړي دي دلته دصبر نه مراد استقامت على الدين
دے لكه هود ۱۱۲ (كما امرت) نبي ﷺ ته چه اويل، شيبت يارسول الله قال
ﷺ شيبني هود واخواتها، او صبر ۹۰ ځايه قرآن كښې ذكر دے،
(وَالصَّلوٰةِ) ايت ۴۵ حديث كښې راځي چه كله به نبي ﷺ باندې مصيبت
راغلو نو بادر الى الصلوٰة مانځه طرف ته به ئې جلدي كوله او دا به ئې ويل
ياحي ياقيوم لا اله الا انت برحمتك استغيث،

(وَاَنَّهَا) ایت ٤٥ دا ضمیر د مفرد دے راجع دے ما ذکر ته او د قرآن کریم کښې شته چه کله کله د د جمعی ضمیر واحد ته راجع کوی او کله د واحد جمعی ته کله د مذکر مؤنث ته او کله مؤنث ضمیر مذکر ته راجع کوی لکه التوبة ٣٤ ولاینفقونها هاء ضمیر ما ذکر ته راجع دے یا راجع دے الی الفضة لقربها ٢ او راجع الیهما باعتبار الشهرة،

(لَكَبِيْرَةٌ اِلَّا عَلَى الْخٰشِعِيْنَ) ایت ٤٥ مگر گران نه دی په خاشعینو باند اتباع د پیغمبر ﷺ باره کښې هم وائی لکه البقرة ١٤٣،

(يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ) ایت ٤٦ ،اشکال — دا لفظ ئی ولے مکرر راورو.

جواب — محکښې ئی ذکر کړو ترغیب فی النعم دپاره اوس ئی للتوثیق ذکر کوی د دی ځائی نه خطابات سته (شپږ خطابات) بنی اسرائیلو ته ذکر کوی، دا اول خطاب دے په دی کښې دوه عذابونه او اته نعمتونه ذکر کوی،

یو نعمت — نجاة من فرعون په آیت ٤٩ کښې،

دویم نعمت — نجاة من الغرق په ٥٠ کښې،

دریم نعمت — اعطاء الکتاب په ایت ٥٢ کښې،

څلورم نعمت — عفو عن القتل په ایت ٥٤ کښې،

پنځم نعمت — حیات بعد الممات په ٥٥ ، ٥٦ کښې،

شپږم نعمت — تظلیل الغمام دا په ٥٧ کښې،

اووم نعمت — انزال المن والسلوی (ترنجبین او مرازان راتلل) دا په ٥٧ کښې،

اتم نعمت — انفجار العیون من الحجر دا په ٦٠ کښې

او دوه عذابونه،

اول عذاب نزول العذاب من السمآء دايه ۵۸ '۸۹ کښی،
دویم عذاب الذلة والهوان بسبب الكفران دا ۶۱ کښی،
او تتمه دخطاب بالترتيب په ۶۲ کښی،
(عَلَى الْعٰلَمِيْنَ) ايت ۴۷ دعالمين دامطلب نه دے چه په ټوله دنیابهترو و،
بلکه دخپلی زمانی په خلقوبهترو و،
نو که شيخ عبدالقادر جيلانی یو ځائی داویلی وی چه زما قدم په هر چابر دے
نو دا مرادنه دے چه (معاذالله) په نبی ﷺ نی هم بره وو بلکه دده زمانه کښی
شیعه ووهغوئی ته ئی اشاره کوله چه زمادلیل په دوئی قوی دے لکه
یو بزرگ وائی ،لواءِ ئ اعظم من لواء محمد ،نودامعنی نده چه زما جهنډا د
محمد ﷺ دجهنډی نه لویه ده بلکه دلته من اجلیه دے ،نومعنی ئی داده چه
زما جهنډاوچته ده دوجه دمحمد ﷺ د جهنډی نه،
(لَاتَجْزِیْ نَفْسٌ) ايت ۴۸ دخان خلاصولو دپاره دنیا کښی څلور طریقے دی
(۱) دنیا کښی خلق دمجرم په ځائے غیرمجرم لره ور کوی لکه بغیر لالسنسه
دراٸیور چه یو کس په ګاړی اوهی نو دداسی دراٸیور سزا زیاته وی نو خلق بل
دراٸیور لالسنس واله حکومت ته ،ورمخ ته کړی الله فرمائی چه یو کس به د
بل کس بدله کښی ،هیڅ خیر هم نشی ور کولے (دادقیامت حالات بیانوی)
(۲) په دنیا کښی خلق سفارش کوی نو الله تعالی وائی ،ولايقبل منهاشفاعة،
(۳) چه په دی به او نه شوه نو بیانه ئے پیسه استعمال کړه نو دالارهم بنده وی
ولايوخذمنهاعدل،
(۴) چه په دری واړو طریقوبه اونه شوه نو بیابه ورسره څه خلق ملګری شول اوپه

زوربه نی کارکولو بو الله تعالی دغه لارهم بنده وی چه داهم نه شی کیدے (ولاهم ینصرون)

(منها شفاعة) ایت ۴۸ ،اشکال دلته وائی شفاعت به نه قبلیږی حالانکه شفاعت خو به کیږی،

جواب: شفاعت دوه قسمه دے،

(۱) شفاعت دمؤمن دابه کیږی،

(۲) شفاعت دکافراومشرك دابه نه کیږی اودلته منها شفاعة،نه دمشرك شفاعت مراددے،

(وَاِذْ نَجَّیْنٰکُمْ) ایت ۴۹ ،اول نعمت...... نجاة من فرعون ایت ۵۰

دنحوے قاعده ده چه کله یوحکم متوجه شی مضاف،مضاف الیه دواړوته نومضاف الیه دهغه حکم نه وی خارج لکه جاء نی غلام زید نودلته مجیئت (حکم)متوجه دے غلام (مضاف) ته اوزید(مضاف الیه) ته ندے خومعنی ئے داکیږی چه ماته دزیدغلام راغلے دے نه زیدنواوس دلته هم واغرقنا غرق (حکم)متوجه دے ال (مضاف)اوفرعون(مضاف الیه)ته نومعنی داشوه چه دفرعون ال غرق دے خوفرعون نه دے غرق نومنطقیانومحقیق دوانی اونگیدو کتاب ئے ولیکلونجاة الفرعون چه فرعون بچ شوے دے،

نوملاعلی قاری اوانگیدواودهغه ردکښی ئی کتاب اولیکلوچه دلته ممدوجه (خلط شده)معنی مرادده یعنی غرق کړومونږ فرعونیانولره اوسورة اسراء ۱۰۳ کښی هم ذکرکوی محقیق دوانی پنځلسمه سپاره هم نه وه وائیلی منطق والی لیکن قرآن نه وائی،

بو سالک وائی

کن نظر درحال خودای ناتمام — اندرین فرصت تومشغول کدام

سلم وقاضی مبارک میخری — رنج درتحصیل منطق می بری

چندخوانی حکمت یونانیان — حکمت ایمانیان راهم بخوان

لوح دل ازفضله شیطان بیشو — ای مدرس درس قران هم بگو

(وَيَسْتَحْيُوْنَ نِسَآءَكُمْ)ایت ۴۹ ،اشکال..... فرعون خو به جینکی پریخو دلے نودلته ورنه نساء(ښځی) ولے وائی.

جواب دا په اعتبار دمایکون سره وی مطلب دا جینکئ به وروستو ښځی جوړ شی،

(وَفِي ذٰلِكُمْ بَلَآءٌ)ایت ۴۹ دالوئی امتحان څکه وو چه ستامخکښی ستابچے ذبح کیدی لکه سورة الصٰفٰت ۱۰۶ فرعون دابچی ولے ذبح کول،بعض خلق وائی چه فرعون ته نجومیانواووے چه ستابادشاهی کښی به یو سړے پیدا کیږی هغه به ستانه بادشاهی اخلی نوهغه اولګیدواوبچی ئے ذبح کول ئے شروع کړو،داخبره صحیح نه ده څکه ددی نه دا معلومیږی چه نجومیان په علم غیب بانډ پوهیږی حالانکه حدیث کښی راځی،

(من صدق کاهنافقد کفر بما انزل علی محمد ﷺ)چاچی د کاهن دخبری تصدیق او کړونودے به هغه دین کافرشوکوم چه په محمدﷺ نازل شوے دے ،اصل خبره داده چه کله ابراهیم علیه السلام سره خپله بی بی ساره روانه وه نوهلته یوبادشاه وو ،هغه بادشاه چه کومه ښځه به ئی خوښه شوه نوهغے ته به ئی لاس اچولواوچه کوم سړی به دخپلی خورسره نکاح کړے

زه بوهغه به نې نه یوله.ابراهیم علیه السلام چه کله تیریده نوبی بی ته نې لاس هغه بادشاه اچولو نو هغه شل شو ـ نو بادشاه ابراهیم علیه السلام ته اووے چه ماته دعااو کړه بیابه نه کوم او هاجره دبادشاه لور وه هغه نې هم ورکړه ابراهیم علیه السلام چه دهغه ځائی نه تیرشو نو الله تعالی ورته وحی او کړه چه دی ښځې ته زیرے ورکړه چه ددی په نسل کښې به یو هلك پیدا کیږی او د فرعون نه به بادشاهی اخلی(فرعون به دمصر بادشاه ته ویلے شو)دابراهیم علیه السلام بی بی داخبره حپل اولادته اوکړو لو دامشهوروو . (فرعون ولیدبن مصعب بن ریان)چه کله بادشاه شو نو حکم نې او کړو چه بچے قتل کړئ،

دویمه وجه داوه چه فرعون خوب ولیدو چه دبنی اسرائیلو طرف نه اور پورته شو او وزمامحل لے راګیر کړو صبا نې دخوب تعبیر ویستونکے خلق راجمع کړل نو هغوئی فرعون ته اووے چه داسے هلك به بنی اسرائیلو کښې پیداء کیږی چه ستانه به بادشاهی اخلی داخبره ابن کثیر،علامه ابن قیمؒ،ابن جریرؒ ذکر کړیده،علامه ابن کثیرؒ وائی،

وکان الحامل له علی هذالصنیع القبیح ان بنی اسرائیل کانوایتدارسون فیمابینهم مایاثرونه عن ابراهیم علیه السلام من انه سیخرج من ذریته غلام یکون هلاك مصرمن ارادته ایاهاعلی السوء وعصمة الله لهاوکانت هذه البشارة مشهورة فی بنی اسرائیل فتحدث بهاالقبط فیمابینهم ووصلت الی فرعون فذکرهاله بعض امرائه واشاورته وهم یسمرون عنده فامرعندذالك بقتل ابناء بنی اسرائیل حذراًمن وجودهذا الغلام

ولن يغنى حذراً من قدر،

وذكر السدى عن ابى صالحؒ وا بى مالكؒ عن ابن عباسؓ وعن مرةؒ عن ابن مسعودؓ وعن اناس من الصحابةؓ ان فرعون راى فى منامه وكان ناراً قد اقبلت من نحو بيت المقدس فاخرجت دون مصروجميع القبط ولم تضربنى اسرائيل فلمااستيقظ هاله ذالك فجمع الكهنة والحذقة والسحرة وسالهم عن ذالك فقالو هذا غلام يولد من هولاء يكون سبب هلاك اهل مصرعلى يديه فلهذا امربقتل الغلمان وترك النسوان،

(بلفظه قصص الانبياء ٤ ج٢)لابن كثيرؒ

وقال ايضاً شيخ الاسلام ابن قيم رحمه الله وروى بعضهم انّ قومه اخبروه بان بنى اسرائيل يزعمون انه يولدمنهم مولود يكون هلاكك على يديه واماهذه الرواية ان المنجمين قالوا له ذالك فغايتها انهامن اخبار اهل الكتاب وقدخالفهاغيرهامن الروايات فكيف يسرع التمسك بهافى الامر العظيم،

اوبيادنجوميانوبارة كښې وائى،

واهل هذاالعلم اذلّ النّاس فى الدنياالايمكن احدًا منهم ان ياكل رزقه بهذا العلم الاباعظم ذل،

اوبياوائى (صيدهم كل ناقص العقل والايمان والدين من صبى اوامرأة اوحمار)

(مفتاح دارالسعادة ٦٥٤ جلد ٢)

(وَاِذْفَرَقْنَا) ايت ٥٠ دى خائى نه دريم نعمت ذكر كوى نجاة من الغرق،

(واغرقنا اٰل فرعون) قدمر تفصیله

(وَاَنْتُمْ تَنْظُرُوْنَ) ایت ۵۷ تاسو ورته کتل داډیر خوند کوی چه ستادشمن ستامخکښی تباه کړی اوته ورته ګورے۔

(مُوْسٰی) ایت ۵۱ دموسی علیه السلام ذکر په قرآن کښی ۱۳۰ ځایه دے او داځکه چه تکلیفونه ئے ډیر برداشت کړی وو۔

(اَرْبَعِیْنَ لَیْلَةً) ایت ۵۱

پوسالک وائی

ای صوفی شراب آنگاه کرشود صاف گردرشیشه بماند اربعین

(اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ) ایت ۵۱ (ای اتخذتم العجعل الهاً) اسخے ئی ځکه اله اونیولو ځکه چه دوئی فرعون سره پاتے شوی وو دهغوئی اثرات پکښی وو نن صبادامرض په هندوانو کښی هم موجوددے داسی مزعولیالو کښی توری خبری هم وی دائی هم وئیل چه کله برج ثورته نمرراشی نوهغه فصلونه پخوی، نونن صباوائی چه راځئ چه دبرج ثورتعظیم او کړونو دثور شکل دنیا کښی غواوونو دهغې عبادت ئے شروع کړو دارسم بیاعربو ته هم راغلے لکه رسوم جاهلیة کښی علامه نجم الدین ذکر کوی چه کله به باران نه کیده نو دغوا لکئ پورے به ئی ډ ... وتړل اوهغه ته به ئی اوروا چرواو دارسم بیاهندوانو ته راغلو ځکه ... ویدصفحه ۵ کښی لیکلی دی چه دازمکه دغوائی په ښکرولاړه ده اوچه کله دیو ښکرته ئی بل ښکرته اړوی نوپه زمکه زلزله شی تردی پورې چه د ... خبره بعض مفسرینوهم بے تحقیقه لیکلی ده نو کله چه دارسم هندوستان ... راغلو نوشیعه ملا ته هندوانو پیسے ورکړے چه ذبح

البقره بنده کړه نو هغه اکبربادشاه ته اووے چه ما ته د شپے وحی راغلی وه
(یَآاَیُّهاالبشر لاتذبح البقرفان تذبح البقرفماواکم السقر)نو اکبربادشاه دغوا
ذبح بنده کړه او دمحمدطاهرفتنیؒ غونډے علماء قتل شو اودین اکبری لی
جوړ کړو چه هغه کښې هردین واله ته اختیاروواوس ورته سیکولرنظام وائی
(لَعَلَّکُمْ تَشْکُرُوْنَ)ایت ۵۲ داحسان په بدله کښې شکریه ادا کول پکاردی
ناشکری نه کول اوبیاچه چاقران تعلیم در کړے وی د هغه احسان منل
پکاردے شیخ القرآنؒ به چه دخانی ته راغلو ،دا،اشعاربه یئے ویل،

أعلمه الرماية كُلَّ يومٍ فلمااشتدساعدهُ رَمَانِيْ

کس نیاموخت علم تیر ازمن که مرا عاقبت نشانه نکرد

دا رنګه نیل انسانرین کښې لی لیکلی دی،

واخوانٍ حسبتهم دروعاً فکانوهاولکن للاعادی

وخلتهُمْ سهاماصائباتٍ فکانواهاولکنْ فی فوادی

وقالواقدصفتْ مناقلوبٌ فکانوهاولکن عن ودادی

حدیث کښې راځی(من لم یشکر النّاس لم یشکر اللّٰه)بهترین اوغیرت مند
سړے هغه دے چه دچااحسان نه هیروی،
(وَاِذْاٰتَیْنَا)ایت ۵۳ دریم نعمت اعطاء الکتاب،
(وَالْفُرْقَانَ)ایت ۵۳ داعطف تفسیری دے دالکتاب یعنی داسی کتاب چه د
حق او باطل مینځ کښې فرق راولی
(۲)..... یا تری مرادبیلول ددریاب دی،
قرآن کریم ته هم فرقان وائی او دد ے دپاره دوه وجے دی،

(۱) يو داچه قرآن كريم په جداجدا راتلولكه سورة بنى اسرائيل ۱۰٦،

(۲) ...... دويم وجه داده چه حق پرست اوباطل پرست پرى جداشى كمافى الجاثية ۲۱ (سواء محياهم ومماتهم) دحق پرست اوباطل پرست خپلو كښې نه ژوند برابر دے او نه مرګ،

نشان مرد مؤمن باتو گويم چون مرگ آيد تبسم برلب اواست

دارنګه سورة ص ۲۸ (ام نجعل المتقين كالفجار) بول يرشان نه دى بولوته د الله دوستان مه وايه سورة السجدة ايت ۸

(۳) ...... دريم وجه داده چه دخالق اومخلوق مينځ كښې فرق واضح كوى دالله سره دالوهيت مينه وكړه اومخلوق سره جداميه لكه سورة بقره ۱٦٥، شعراء ۹۷، نحل ۷

(وَاِذْقَالَ مُوْسٰى) ايت ٥٤ خلورم نعمت ...... عفوعن القتل.

(بِاتِّخَاذِكُمُ الْعِجْلَ) ايت ٥٤، اول سړى لے په عبادت سره اونيولواوورته ګډيدل علماء فرمائى اَوَّلُ مَنْ رَقَّصَ اَصْحَابُ السَّامِرِىُّ.

(فَاقْتُلُوْا اَنْفُسَكُمْ) ايت ٥٤ بعض مفسرين لكه سيوطى وغيره ليكى چه دا اويا (۷۰۰۰۰) زره كسان قتل كړے شو داخبره صحيح نه ده ځكه وروستو وائى فتاب عليكم نوچه دومره كسان كښې قتل شونوبيا مهربانى په چه شوه.

۲) ...... دويمه وجه داده چه دوئى خوپشته رومو سى بن عمران بن قايس بن حضربن لاوى بن يعقوب نويه دى دومره پشته دو ى ځكه دومره سوا شوچه دومره ترے قتل شوا وبيا هم ژوندى پاتى و ومقدمه ابن خلدون په دى رد كړے دے

(لَنۡ نُّؤۡمِنَ لَكَ) ایت ۵۵ هر ګز تصدیق نه کوو مونږ ستا، دایمان صله چه کله لام راشي نو په معنی د تصدیق راځي لکه سورة یوسف ۱۷

(اَلصّٰعِقَةُ) ایت ۵۵ کله صاعقه ذکر کوی لکه دلته او کله رجفة ذکر کوی لکه اعراف ۱۵۵ نو دا دواړه عذابونه پری راغلي وو۔

اشکال — دالله رؤیت سوال خو ابراهیم علیه السلام هم کړے وو هغه باندے ولے (معاذالله) عذاب رانغلے او په دوئی عذاب راغے۔

جواب — دابراهیم علیه السلام سوال په ضد بناء نه وو او ددوئی سوال په ضد بناء وو۔

(ثُمَّ بَعَثۡنٰكُمۡ) ایت ۵۶ پنځم نعمت ..... حیات بعدالممات۔

(وَظَلَّلۡنَا) ایت ۵۷ شپږم نعمت — تظلیل الغمام۔

(وَاَنۡزَلۡنَا) ایت ۵۷ اووم نعمت — انزال المن والسلوی۔

(اَلۡمَنَّ وَالسَّلۡوٰی) سلوی (بټیران) دابه باوریته وو او یا به دوئی ته نزدے نزدے ګرځیدل او دوئی به نیول، من او سلوی دواړه یو ځائی ذکر کوی ځکه چه سلوی سپوږدے او من غوړدے نو مینږ راوغوړ نی یو ځائی کړل لکه نبی ﷺ به کهجورے او کوچ یو ځائی کول ځکه کهجورے سپږے دی او کوچ غوړ دی نو اعتدال به پیدا شو۔

(يَظۡلِمُوۡنَ) ایت ۵۷ چه شکر او باره او ځان دظلم نه بچ کړلی چه شکر نه اوباسے نو بیا به نعمتونه نه راځی کمیږی به لکه الله تعالی وائی۔

(لئن شکرتم لازیدنکم)

(هٰذِهِ الۡقَرۡيَةَ) ایت ۵۸ دا قریه ، چرته وه او کومه ده ددی تفصیل سورة مائده

۲۱ کښی دی.

(سُجَّدًا) ایت ۵۸ تابعدار لکه علامه قرطبی ؒ وائی ای خضوعًا لاعلی هیئة معینة

(حِطَّةٌ) ایت ۵۸، ای قولوا کلمة تحط بها الذنوب (ابن عباس) قیل کلمة لا اله الا الله وقیل استغفر الله کما قال نوح علیه السلام واستغفروا ربکم.

(فَبَدَّلَ الَّذِینَ ظَلَمُوا) ایت ۵۹ پیغمبرورته یوشان وینا وائی اودوئی بل شان وائی دوئی اوویل حنطة فی شعیرة.

سوال: چه دوئی الله جل جلاله ته غنم اوغوښتل نوغنم غوښتلو کښی څه ګناه خو نشته جواب، داخائے دغنم غوښتلو نه وو.

دی ایت کښی نحوی اشکال دے هغه دادے چه بدل دوه مفعوله غواړی یو ته متعدی بنفسه وی اودویم ته متعدی بحرف الجروی دلته یو مفعول، قولا، ذکردے اوبل نشته،

(۱) ..... جواب، ددے بل مفعول دے چه هغه بقول دے نواصل عبارت داسے دے، (فبدل الّذین ظلموا قولا بقول غیرالذی قیل لهم)

(۲) ..... بدل بمعنی قال نوبیا به عبارت داسی شی (فقال الذین ظلموا قولا غیر الذی قیل لهم) نوبیا دویم مفعول ته حاجت نشته،

(۳) ..... بدل بمعنی، اخذ، دے نوبیا هم مفعول ثانی ته حاجت نشته نوعبارت به داسی شی (فاخذالّذین ظلموا)

(٤) ..... څلورمه توجیه داده چه عبارت کښی حذف دے اصل عبارت داسی دے (فبدل الذین ظلموا قولا رقالوا قولا غیر الذی قیل لهم)

مسائل الرازی نورتوجیهات هم بیان کړی د ، ددے ایت نه داخبره ثابته شوه

چه دخان نه به وینا نه جوړوی داصحیح کار نه دې چه د شریعت نه مخالف وی لکه درود ابراهیمی ډیر بهترین درود دې نو او سنو خلقو یکښې درود تاج راو ستلو۔

دا رنګه په ذکر کښې به هم د خان نه څه نه سوا کوی احکام القرآن کښې جصاص ذکر کوی (یحتج بهاماوردمن التوقیف فی الاذکار والاوراد) بخاری هغه روایت ذکر کوی چه نبی ﷺ یو صحابی ته دادعا اوسوده (قل امنت بکتابك الّذی انزلت وبنبیك الّذی ارسلت) نو هغه صحابی د نبیك په ځائې لفظ رسولك اوبلو نو نبی ﷺ دهغه نه منع کړو (چه دغه شان مه وایه څنګه شان وایه) یو ځل یو صحابی برنجے او کړو نو هغه اووے الحمدلله وسلام علی رسول الله، نو یاړ صحابی ورته اووے داسے مه وایه کنز العمال ۵۵ کښې ذکر کوی چه نبی ﷺ به التحیات وبلو نو یو سړی دا الفاظ داسے اوبلو (واشهدان محمّد رسوله وعبده فقال النبیّ قدکنت عبداً قبل ان اکون رسول) او زه اوّل بنده وم دهغه نه پس رسول شوم۔

(فانزلنا) ایت ۵۹ ددی ځائې نه اول عذاب ذکر کوی نزول العذاب من السماء۔

(وَاِذِاسْتَسْقٰی) ایت ۶۰، اتم نعمت انفجار العیون من الحجر۔

(فَانْفَجَرَتْ) ایت ۶۰ دلته انفجار ذکر کوی او سورة اعراف ۱۶۰ کښې فانبجست ذکر کوی انبجاس لږ او به کښې استعمالیږی او انفجار ډیرو اوبو کښې استعمالیږی نو دکښې نه اول لږ لږې اوبه روانې وی بیا تری ډیری روانی شوی نو اعراف کښې ئې اولنے حالت ذکر کړے دے او دلته روستے حالت ذکر کوی داځکه دلته ذکر دنعمت نو دے نو لفظ دفانفجرت مناسب وو

(اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا) ايت ۶۰ دولس چينے ځکه وې چه دولس قبيلے وې د هرې قبيله ځان ته مستقل چينه وه،

(لَنْ نَّصْبِرَ) ايت ۶۱، اشكال — درتې ته دبقل، فوم او بصل وغيره څه پته وه جواب — دا ځېزونه صرف ددولي خالي كيبي نه وو توره دنيا كيبي خو وو

(فَادْعُ لَنَا) ايت ۶۱، الدعاء من الحي الحاضر جائز، واما الغائب فغير جائز منه واما الميتُ فمنه غير جائزٌ ايضاً لحديث اذا مات ابن آدم انقطع عمله، مري عبادت نشي كولے ځکه دعا خو دعبادت مغز دے،

والدُّعاءُ مُخُّ العبادة الحديث وايضاً الدعاء من الحي سواء كان الحي عنك فاضلاً او مفضولاً كماقال النبي ﷺ لعمرؓ لا تنسانا يااخي في دعائك فهذا جائز

(وَالْمَسْكَنَةُ) ايت ۶۱ دادويم عذاب دے (الذلة والهوان بسبب الكفران، لفظ د المسكنة ياد، سكون، نه دے لوبياپه معنى داودريدل سكون اختيار كرنا او كه مصدري، مسكنة، شي نوبياپه معنى دخوارى او ذلت دے

كماقال العلامة ابن جوزیؒ في التسهيل، داسې نه چه الله تعالى دربانديې احسان كړے وې او بيا هم زړې جامې اغوندې بلكه دالله تعالى احسان ښكاره كول پكاردي لكه نبي ﷺ ته يو صحابيؓ راغے، او كمزورې كپړې ئې اچولې وې نو نبي ﷺ ورته او فرمائيل، هل لك من مال قال اتنى الله من الابل والبقر والغنم قال فلير اعليك (دادې په تا وليدے شي)

(اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا) ايت ۶۲ خطاب خصموي باالترغيب،

(صٰبِئِيْنَ) ايت ۶۲ دادابراهيم عليه السلام قوم وو او دستور وعبادت به ئې كولو،

(مَنْ آمَنَ) ایت ۶۲ دی ایت کښې دااشکال دے چه کله دونی ایمان راؤړو

نو بیادمن امن ویلو څه مقصد شو،

(۱)...... جواب(ان الّذین امنوا) نه دمخکښې اديانو ایمان راؤړونکی مراددی او د

(من امن) نه مرادایمان په دی دین دے،

(۲)...... داول ایمان نه مراددہ ایمان باللسان دے اودویم ایمان نه مرادایمان

بالقلب دے ،دی خائی پورے اوّل خطاب دے،

(وَاِذْاَخَذْنَا)ایت ۶۳ددے خائے نه دویم خطاب دخطابات ستونه بیانوی

پدی کښې درے پلیتے د پخوانو یهودو ذکر کوی او څلور پلیتې داوسنو

(موجوده)یهودو ذکر کوی،دپخوانو یهودو پلیتی،

(۱)......نقض العهد په ایت ۶۲ کښې،

(۲)......الحیل فی ذبح البقر په ایت ۶۷ کښې،

(۳)......قتل النفس ،لطلب الدنیاء په ایت ۷۲ کښې،

او څلور داوسنو یهودو،

(۱)...... تحریف(۲)......منافقت(۳)......تقلیدداراء الیهود

(٤)......مخصصن لانفسهم بالجنة داپه ۸۰ کښې،

اوتمه دخطاب بالترغیب کوی،

(الطُّورَ)ایت ۶۳،اشکال ......اکراه فی الدین خونشته لکه بقره ،۲۵۶،

جواب...... اکراه په دوه قسمه ده،

(۱)......فی الدین (۲)......فی الاحکام ،

فی الدین اکراه نشته او اکراه فی الاحکام شته دلته اکراه فی الاحکام ده

خکه چه دوئی خاوندان د موسی علیه السلام تابعدار گرزل ددی تفصیل اعراف ۱۷۱ کښی او گوره.

(خُذُوْا)ایت ٦۳،اشکال — نیول خو په هغه څیز کښی راځی چه هغه لره جسم وی او ددی خو جسم نشته،جواب — دلته(خذوا) بمعنی (اعملوا)دے خو دی کښی اشاره ده دیته چه لکه څنګه جسم واله څیز نیوے شی داسی دا احکامات هم اونیسی لکه دااشاره دی حدیث کښی هم ده،علیکم بسنتی وسنة الخلفاء الراشدین تمسکوا بها وعضو علیها بالنواجذ.

(فِی السَّبْتِ)ایت ٦٤ سبت ورته څکه وائی چه دا په معنی دقطع سره دے او دوی هم په دی ورځ د ښکار نه منع شویوو،ابوبکر الطرطوشی المتوفی ٥٠٥ په خپل کتاب الحوادث کښی لیکی (په رد د بدعاتو کښی بهترین کتاب دے دبدعاتو په رد کښی مدخل دابن الحاج ،اعتصام د شاطبی الامر بالاتباع والنهی عن الابتداع دعلامه سیوطی دا په کتابونه دی) چه دا ښکار څرنګه شروع شوے وو نو بنی اسرائیلو کښی داکار شروع شو د کار شروع کیدو نه پس په کښی درے ډلی جوړے شوے،

(۱) — فاعلین(۲) — ساکتین (۳) — امرین بالمعروف والناهین عن المنکر کما فی الاعراف ۱٦۳ ،چا چه دا کار کوو هغوئی تباه شو چه چا منع کوله هغوئی ته نجاة حاصل شو او څوک چه ساکتین وو دهغوی نه قرآن هم ساکت پاتی شوے دے معلومیږی داچه هغوئی هم تباه شوی دی څکه الساکت والفاعل سویان،

(كُوْنُوْا قِرَدَةً)ایت ٦٥ دا شادو گان تری څکه جوړ شو چه دوئی ظاهرا شکل د

تابعداری جور کړے وُو او باطنًا ئی نافرمانی کوله نو الله هم دوئی له ظاهری
شکل دانسانانو ور کړو او باطن کښی انسانان نه وو سحر چه ذهاسیدل نو ل
بیزو گان (شادو گان) وو او پوره خاموشی وه ناجین فرقے اویل چه زمونږ په
محله کښی لن شور نشته دوئی چه ورتنکاره شونو تول بیزو گان شوی وو
اوژړل ئی اوبیا درے ورځو پوری ژوندی وو بیامړ دار شول،
(نَکَالًا) ایت ٦٦ عبرة نکال اصل کښی عذاب ته ویلے شی،
(وَاِذْقَالَ) ایت ٦٧ ذکر ددویم خباثت، الحیل فی ذبح البقر،
(بَقَرَةً) ایت ٦٧ دالکره ذکر کوی یعنی یوه غوا، او ددی غوا ذبح کولو
حکمت مدارك او ماوردی ذکر کوی چه، لیهون علیهم معبودهم،
(مَاهِیَ) ایت ٦٨ مناطقه وائی چه په ماهی سره دذات تپوس کیږی حالانکه
دلته دصفت تپوس شوے دے،
(وَلَا بِکْرٌ) ایت ٦٨ نه خوانه ده نه زړه عمر ئے ورله ندے بنودلے امام رازی
وائی چه ددی نه اجتهاد ثابیږی،
(لَاذَلُوْلٌ) ایت ٧١ نه ده زلیله شوے څکه چه ارټ کرځوی نو غاړه ئے پخه شی
(وَمَاکَادُوْیَفْعَلُوْنَ) ایت ٧١ نه وو چه داکار ئی کړے وے د زړه نه،
(وَاِذْقَتَلْتُمْ) ایت ٧٢ ذکر ددریمی پلیتنی، قتل النفس،
(فَادّٰرَأْتُمْ) ایت ٧٢، اشکال...... قرآن خو په مشهور لغت راغلے دے نو بیا دا
وه چه فاختلفتم ئی ویلے وے جواب...... دا لفظ ئی څکه راوړو چه کرمه معنی
دفادارئتم وه داد فاختلفتم نه نه اداکیږی څکه دَرْءٌ دیته وائی چه یو کس تهتله
(دیکه) ور کړے اولری ئی او غور څئے دامعنی په فاختلفتم کښی نشته،

(بِبَعْضِهَا) ایت ۷۳ په بعض حصه ددی نفس سره بعض خلق وائی چه غوائی حلاله کره او په هغې ئی مړے اوهلو خو دا خبره صحیح نه ده.

۱)..... یوه وجه داده چه حقیقت کښې دادواړه بیل بیل واقعات دی که دواړه واقعات یوه واقعه وے نو بیا پکار داوه چه د.قتل النفس.واقعه مقدمه وے او د ذبح البقر.واقعه وروستو وے.

۲)..... دویمه وجه داده چه تاسیس په کلام کښې اولی وی دتاکیدنه.

۳)..... دریمه وجه داده چه ابن کثیرؒ وائی.طلبوها اربعین سنة.نو ایا د امړے څلویښت کاله پورې پروت وو او خرابیدو نه.

۴)..... څلورمه وجه داده چه مدراكؒ اوماورديؒ وائی چه ذبح البقر کښې حکمت دا وو چه.لیهون علیهم معبودهم.نو که د غوا ذبح دمقتول د ژوندی کولو دپاره وی نو دغه مذکور حکمت به فوت شی.

۵)..... پنځمه وجه داده چه د ذبح البقر واقعه دبقرې دتبرك دختمیدو په بنیادده او د مقتول د ژوندی کولو سره خو دغوا نورهم تبرك سوا کیږی.

۶)..... شپږمه وجه داده چه محکښې ددوئی ټول فسادات او نعمتونه ئی په اذ ذسره ذکر کړیدی نو معلومیږی چه بیل بیل واقعات دی ځکه داهم په اذسره ذکر کوی.اصل کښې دا شبهه دد ی نه پیدا شوی ده چه ضمیر دفاضربوه مړی ته راجع دے او ضمیر دبعضها ضمیر دمونث دے نو دا چاته راجع دے.

جواب داد ے چه هاء ضمیر نفس دمیت ته راجع دے یعنی مړی ته راجع دے په باعتبار دنفس سره یعنی مړے اووهے لاس ئی په لاس خپه ئی په خپه وغیره او نفس مؤنث سماعی دے لکه ابن حاجبؒ وائی

والنفس ثم الدا رثم الدلو من اعدادها والسن والكفان،

نو کله چه ضمیر نفس ته راجع شی نواشکال به ختم شی او داخبره

عبدالوهاب نجار په کتاب قصص الانبیاء ۳۵۵ کښې هم کړی ده چه دا

دواړه واقعات جداجدادی،

(كَذٰلِكَ يُحْيِ) ایت ۷۳، ای کمااحیاها کذالك یحی الله الموتی،

(اَوْاَشَدُّقَسْوَةً) ایت ۷۴ ددی مطلب دادے چه تاسو زړونه دکاڼړونه هم

زیات سخت شو ځکه دبعضو کاڼړونه اوبه رواني شي او دبعضونه نهرونه

روان شی بعض صرف اُوچوی ځنی دځپل ځائی نه اوغورځيږی اودی کښې

علماء ته اشاره ده،

(۱) ..... یو داچه ځان نه دتوحید چینه جوړه کړئی،

(۲) ..... دویم داچه دتوحیدچغه خواوړهه او که دانوی،

(۳) ..... دریم داچه د توحیددپاره خوهجرت او کړه،

اول ته اشاره ده په (لمایتفجر منه الانهر) سره،

دریم ته اشاره په (لمایشقق فیخرج) سره،

او دریم ته اشاره په (لمایهبط من خشیة الله) سره،

(اَفَتَطْمَعُوْنَ) ایت ۷۵ خطاب دے مؤمنانو ته للتیقظ او بیا (ثم یحرفونه) سره د

جدیدیهودو او له پلیتنی (تحریف) ذکر کوی،

(يَعْلَمُوْنَ) ایت ۷۵ ،ای باالتحریف او باالعذاب،

(وَاِذَالَقُوْا) ایت ۷۶ دویمه پلیتنی منافقت،

(لِيُحَاجُّوْكُمْ) ایت ۷۶ داسی مضمون العمران ۷۳ کښې هم دے،

(اَوَلَا یَعْلَمُوْنَ) ایت ۷۷ دی سره ددوی دوهم رد دے چه دوئے وئیل چه مسلمانانو ته ددوئی دنبی ﷺ صفاتو نه مه بیانوی بیا به قیامت کښې په تاسو گواهی کوی نو الله فرمائی ایا زه ستاسو په باطن باندنه پوهیږم چه تاسو ته دا معلوم دی،

(وَمِنْهُمْ اُمِّیُّوْنَ) ایت ۷۸ دریمه پلیتی تقلید د آراء الیهود،

(اِلَّآ اَمَانِیَّ) ایت ۷۸ (نه پوهیږی په کتاب مگر په صرف تلاوت تمنی په معنی دلوستلو راځی لکه عثمانؓ باره کښې راځی.

تمنی کتاب الله اول لیلة و اخرها لاقی حمام المقادر

او دامعنی حج ۵۲ کښې هم ده او دا معنی ابن عباسؓ او مجاهدؒ هم کړی ده دویم امانی بمعنی الاقاول الکاذبة (نه پوهیږی په کتاب مگر صرف په دروغو او دامعنی فراءؒ، کسائیؒ، ابن کثیرؒ، او ماوردیؒ کړی ده،

دریم امانی په معنی دیتمنون علی الله مالیس لهم او دامعنی قتادهؒ کوی،

(فَوَیْلٌ) ایت ۷۹ دلته دریے ځله لفظ ویل ذکر کوی اشاره ده دریے زمانو ته

(یَکْتُبُوْنَ الْکِتٰبَ) ایت ۷۹ دخپل خان نه به ئی کتابونه لیکل او بیا به دهغی نسبت الله تعالیٰ ته کولو لکه نن صبا کتاب دبل وی او دیے په کښې دخپل خان نه څه الفاظ دننه کړی لکه دشامی کتاب اول چهاپ کښې داعبارت نه وو، چه په تاسو کښې دچا نه څه وړك شی نو (فلیذهب سبعة اقدام ولیقل یا عمر بن همدان نو وروستو په کښې داعبارت دخان نه دننه کړو په دی باند برهوتیؒ په کتاب الشجرة کښې رداوتفصیل کړے دے،

(وَقَالُوْا) ایت ۸۰ څلورم خباثت مخصصین لانفسهم بالجنة په دوی باندی

درے الفاظو سره رد دیے،

(۱)......قل اتخذتم (۲)......ام تقولون (۳)......بلٰی من کسب سیئة سره

(لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ) ایت ۸۰ دا لی خکه اُوی چه ددوی مشرانویو خوورځی

دسخی عبادت کرے وو،

(وَاِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَ) ایت ۸۳ ددی ځائی نه دریم خطاب بنی اسرائیلوته په

دی کښی انکارهم من الاوامرواتیانهم بالنواهی ذکر کوی اوتتمه د

خطاب بالزجر کوی،

اوامـــــــــــــــــر دا وو

(۱)...... بالوالدین احسانا (۲)...... و بذی القربٰی (۳)......و الیتمٰی،

(٤)......والمسکین، (۵)......و قولوا للناس حسنًا،

(۵)......و اقیموا الصلوٰة و اتوا الزکوٰة،

ار نـــــــــــــــــــــواهــــــــــــــــــــی داوو،

(۱)......لا تعبدون الا الله (۲)...... لا تسفکون دمآئکم،

(۳)...... لا تخرجون انفسکم،

اوس ددوئے سزا، او گوره ۸۵ کښی خزی فی الحیوٰة الدنیاویوم القیمة،

او تتمه د خطاب بالزجر په ۸٦ کښی،

(لَا تَعْبُدُوْنَ اِلَّا اللّٰهَ) ایت ۸۳ ددوی به دالله تعالٰی نه بغیر دبل چاعبادت کولو

اوس هم دغه کاردے شاه ولی اللهؒ والی (ماس بلدة الاولها الهة تعبد)

تاریخ نجد کښی محمدبن عبدالوهابؒ خط چه اسمعیل ته ئی لیکلے ووهغه

لی نشو کړے دے نو هغه خط کښی ئے اشعار ذکر کوی،

اعادوا بهامعناسواعاومثله	یغوث ویعوق بئس ذالك من ود
وقدهتفوا عندالشدائد باسمها	کما یهتف المضطر بالواحدالصمد
وکم نحروافی سوقهابحیرة	احلت لغیرالله جهلاً علی عمد
وکم طائف عندالقبورمقبلا	ویلتمس الارکان منهن باالایدی

داوعده الله تعالی په ژبے دانبیاواخستی وه لکه العمران ٤ ٦ درمنثور کښی علامه سیوطیؒ معنی کوی (ای لاتجعلون الألوهیّة اَلاّللّه)وبالوالدین احساناً ایت ٨٣ قرآن کریم کښی اکثرچه دالله تعالی عبادت ذکر کړے شی نوورپسی دوالدینوسره احسان ذکر کیږی او داخکه چه دوئی ستا تربیت کړے دے اودمورا وپلاردیره لویه درجه ده حدیث کښی راځی یوصحابی نبی ﷺ ته راغلوتپوس ئی او کړو.(من ابریارسول الله قال امك قال ثم من قال امك قال ثم من قال امك قال ثم من قال ثم اباك ثم الاقرب فالاقرب)

ابوهریرةؓ ته یو کس راغلواووے ویل،

(ان لی امراة وان امّی تامرنی بطلاقهافقال ابوهریرة سمعت رسول الله ﷺ یقول الوالداوسط ابواب الجنة)نوچاچه خوښه وی دجنت مینځ دروازه دحاصله کړی،

درے کسان غار کښی بندشوی وونویو دمورا وپلارسره ښیګړه وسیله کړه دمشرقدراو کړه نوستابه هم قدراوشی حدیث کښی راځی،

(مااکرم شابٌ شیخاً اَلاقیّدالله له عند سنّه)

یو سالک وائی

علیك ببرّالوالدین کلیهما وبرذوالقربا وبرالاباعد

لیکن بیا هم چه کله دحقوق الوالدین مقابله حقوق الله سره راشی نود

حقوق الله لحاظ به ساتی او روحانی تربیت لره به ترجیح ورکوے لکه

حضرت سعدؓ نبی علیه السلام ته راغے چه مورمی بهوك مرتال کړے دے

او وائی (والله لااطعم طعاماًولااشرب شراباًحتی تکفربمحمد)

نبی علیه السلام ورته جواب کښی وائی(وان جاهدك)

(وَقُوْلُوْالِلنَّاسِ حُسْنًا)ایت۸۳درمنثور کښی سیوطیؒ معنی کوی،

(ای الامربالمعروف والنّهی عن المنکر)ابن کثیرؒ اوابن جریرؒمعنی کوی

(ای قولوکلمة التوحید)

(وَاَنْتُمْ مُعْرِضُوْنَ)ایت۸۳دلته استمرار دے چه همیشه اعراض کونکی وئ

دلته لفظ دمعرضون ذکر کوی اومحکښی ئے لفظ دتولی ذکر کړوتولی

اندامونو سره اوړیدوته وائی او اعراض زړه سره اوړیدوته وائی،

(بِالْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ)ایت۸۵،اثم ماکان محرم الجنس ته وائی لکه شرك

شو اوعدوان ماکان محرم الوصف ته وائی لکه بدعت،چه دځپل اصلنه

اوړیدلے دے هکذاذکره العلامة ابن قیمؒ فی تفسیره،

بدعت په دوه قسمه دے،

(۱)......لغوی (۲)......شرعی،

بدعت شرعی دوه قسمه دے،

(۱)......حقیقی (۲)......وصفی،

حقیقی دی نه وائی چه اصل نی په شریعت کښی نه وی لکه درود تاج ،
او وصفی هغی ته وائی چه اصل نی شریعت کښی وی خو یو وصف په کښی بدل شی لکه (دعاء بعدالسنة بهیئة الاجتماعیة)

(تَقْتُلُوْهُمْ) ایت ۸۵ واقعه دا شان وه چه پخوا زمانه کښی یمن کښی دوه کسان وو تره او وراره تره د شپی خوب اولیدو چه یم شلیدلی دے سحر تره روان شو نو وراره هم ورسره روان شو او یثرب سره اباد شو بیا د نبی ﷺ د بعثت نه تقریبا درے سوه کاله مخکښی دری قبیلی دیهود وراغلے او دلته ابادی شوی او هغه تره او وراره چه داوس او خزرج په نامه وو هغی قبیلی گرز بدلی وی نو یهود و دلته بیت المدراس جوړ کړے وو او هغے کښی به ئی درس کولو نو دوئے علماء وو او اوس او خزرج عوام وو نو اوس د بنو قریظه او خزرج د بنو نظیر و مریدان وو نو اوس او خزرج مینځ کښی به جهگړی راتلی نو پیر انو به ورته ویل چه تورات کښی د قیدیانو باره کښی د فدیه حکم کوی ،فدیه چه ئی راجمع کړه نو دوئی به نیمه فدیه ورکړه او نیمه به ئی جیب کښی واچوله داچل ئے جوړ کړے وو اوس هم تاکاره مولیان داکوی ،

سفیان ثوری وائی (من فسد من علمائنا ففیه شبه من الیهود ومن فسد من عبادنا ففیه شبه من النصاری)

(وَهُوَ مُحَرَّمٌ) ایت ۸۵ هو ضمیر شان محرم خبر مقدم اخراجهم مبتداء مؤخره،

(فَمَا جَزَآءُ) ما یا استفهامیه دے یا نافیه ابن الانباریؒ البیان کښی ذکر کوی د استفهامیه معنی (څه ده بدله دهغه چا) او د نافیه معنی (نده بدله دهغه چا)

(وَلَقَدْ اٰتَيْنَا) ایت ۸۷ خلورم خطاب پدی کښی الکارهم من الانبیاء السابقین

هر کله چه محکښی انکارهم من الاوامر بیان شو داخو پریږده چه د انبیاء نه

هم منکر وو،

(وَقَفَّيْنَا) ایت ۸۷ قفی اصل کښی سټ ته وائی مطلب دادے چه یو بل پسی

مونږ انبیاء کرام علیهم السلام راولیږل لکه مائده ٦ ٤ مومنون ٤ ٤،

(فَفَرِيقاً) ایت ۸۷ فاء تفریع ده په محذوف باندی او فریقا مفعول دفعل

محذوفه دے او کذبتم فعل فاعل ذکر دی مفعول محذوف دے اصل عبارت

دا شان دے (کذبتم فریقاً کذبتم فریقاً وتقتلون فریقا تقتلون فریقا)

بنی اسرائیلو په انبیاء علیهم السلام وژل یو خل خطاب نبی ﷺ ته د تکلیف

شکایت وکړو دنبی علیه السلام رخسار سور شو او راپاسیدو چه اے خبابه تا

ته څه تکلیف رسیدلے دے پخوانی حق پرست به تربلوے څخ شواره به ئے

په سر کیخودے شوه (فمایصدهم عن سبیل الله)

(وَقَالُوْا قُلُوْبُنَا غُلْفٌ) ایت ۸۸ دغلف دوه ۲ معنی دی،

۱ ـ معنی زړونه زمونږ په پرده کښی دی (اوس هم وائی ستاپه خبره نه پو

هیږم مونږ ته زوړ دین بس دے) ثانیه حمٓ السجده ایت ۵،

۲ ـ معنی زړونه زمونږ ډک دی دعلم نه لکه نجم ایت ۲۹،

(ذٰلِكَ مَبْلَغُهُمْ مِنَ الْعِلْمِ) دوئی علم خو الله رضاء دپاره نه کول یو بادشاه مدرسه

جوړ کړه دهغهٔ نوم المستنصریه وه، نو بادشاه یره ورځ لباس بدل کړو او مدرسه

کینی، کرځیدی یو طالب نه تپوس وکړو چه علم څله کوی هغه ورته اووے چه

څمونږ خانی کښی دعلماؤ ډیر قدر دے چه زما هم قدر کیږی بل نه ئی تپوس

و کړو، نوهغه ورته اووے چه پلاز م ملا وو او کتب خانه ئی پاتے ده داسے نه
چه کتب خانه ئی ضائع شی بل نه ئی تپوس و کړو نوهغه ورته اووے چه
پلاروم جامع مسجد کښی امام دے داسے نه چه جمات بل ته پاتے شی
بادشاه اراده و کړه چه بنئ مدرسه روانه ووم نو آخر کښی ئی یو طالب ولیدو
نوهغه نه تپوس و کړه هغه ورته اووے چه زه دالله رضاء دپاره علم کوم
نوبادشاه بیا خپلے خبرے نه واپس شو، دارنګه مؤمن ایت ۸۳،
(بَلْ لَّعَنَهُمُ اللّٰهُ) ایت لعنت فتوئ په هغه چانی ولګوله چه حق ئی پریښودو
دوئی وائی تاسو تشدّد کوئی وایه چه دلته ته نرمی و کړه،
دویم لعنتی جانی په سورة البقرة ایت ۱۵۹ چه کتمان حق ئی و کړو،
دارنګه دریم لعنتی چه دتوحید خلاف کتی لکه احزاب ایت ٦٤
څلورم لعنتی سورة النور ایت ۲۳،
(وَلَمَّا جَآءَهُمْ) ایت ۸۹ پنځم خطاب دی کښی انکارهم من هذالنبیؐ
بعض خلق وائی چه یهودو نبیؐ وسیله کول داشان نه ده بلکه ببعثة النبیؐ ئے
امدادغوښتلو،
(بَغْيًا) ایت ۹۰ مفعول له(له وجے دحسدنه) حسدډیربدشے دے بیاحق
خبرے ته هم خطاوائی لکه یونس ۹۰،
ان یحسدونی فانی غیرلائمهم قبلی من النّاس اهل الفضل قدحسدوا
دایهودو صفت دے لکه العمران ۱۹ شوری ۱٤
(قُلْ فَلِمَ تَقْتُلُوْنَ) ایت ۹۱ ددی څائی نه الزامی رد کوی چه کوم سړے جاهل
وی هغه سره نرمه خبره کوه او کوم چه ضدی ری هغه ته سخته خبره کوه

که نرمی دِ ذکره نوروان دِ کړودی خالی بالذی تتمه دخطاب ،
(وَلَقَدْجَآءَكُمْ) ایت ۹۲ دی خانی نه شپږم خطاب دی کښی خلاصه دماسبقه خطاباتو ،
(خَالِصَةً) ایت ۹۴ خبر دکان دے (نومعنی ده کچرے وی دار دقیامت خالص) یاحال دے (معنی داچه کچرے وی دار دآخرت پذی حال کښی چه خالص وی تاسوله)
(فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ) ایت ۹۴ که مونږته اووائی چه تاسووانی چه مونږبه جنت ته خونومونږبه څه وایو حافظ ابن کثیرؒ معنی کوی چه اصل کښی دلائل بیان شونوبیابه مباهله کولی،
(اَيْدِيهِمْ) ایت ۹۵ یدته نسبت کوی په اعتبار دکثرت صدور الاعمال ددوئی نه
(وَمِنَ الَّذِينَ اَشْرَكُوا) ایت ۹۵ داياعطف دے یاتخصیص ده بعدالتعمیم ده
(يَوَدُّ اَحَدُهُمْ) ایت ۹۵ دلته نحوی اشکال دے هغه داچه یودُځه شیئی واقع دی هو ضمیر چاته راجع دے من العذاب چاپورے متعلق دے په دی کښی دوه توجیهات دی،
۱) ......اوله توجیه یو داحال دماسبقه نه (لویعمر) لوبمعنی ان ناصبه یعنی ان یعمر (ماهو) ضمیر راجع دے احدته یعنی یوتن ته (بمزحزحه) خبر دماهو دپاره (من العذاب) جارمجرور متعلق بمزحزحه پورے (ان یعمر) ثانی درفع کښی واقع دے فاعل دے مزحزحه دپاره په معنی دمصدر سره،
(معنی وماالرجل بمزحزحه من العذاب تعمیره ای عمره) یعنی که عمر زیرشی بیاهم عذاب نه نه شی بچ کیدے ،

(۲) دویم توجیه،نور محکښي پښان دے صرف ان یعمر بدل واقع دے لو یعمر نه اوماهو ضمیر راجع دے تعمیر(عمره)ته او ان یعمر په معنی دمصدر دے مطلب دتوجیه دادے چه عمر دوئی نشی بچ کولے دا ئی ولے وائیل ځکه چه دوئی په عمر مئن وو ،مجوسیانو په سلام په ځائی یوبل ته وائیل(عش الفانوروز) اوس هم انګریزان غرمی نه محکښي نه وائی ګڈمارننګ غرمی نه بعد وائی ګڈایوننګ پښتنه هم وائی چه چارے دارنګه وائی ستړے مشی،

(قُلْ مَنْ كَانَ) ایت ۹۷ ددلی ځائی نه دوئیم حصه دسورة شروع کیږی په بیان داثباة الرسالة کښي اودی کښي نه شبهات ذکر کوی سره دجوابو لو نه اول یو څو داسے شبهات راوړی چه محکښي سره هم تعلق شته اوو روسته سره هم ځکه چه جبرائیل امین باندی اعتراض په توحید باندی هم اعتراض وو ،دارنګه جبرائیل امین نبیؐ ته رسالت راوړے وو تو اثباة الرسالة باندهم اعتراض وو ،ګویا که یهود وپه یوغشی دوه ښکی ویشتلے اودا اعتراضونه لکه څرنګه په نبیؐ باندا اعتراضونه کیدل دارنګه په تابه هم کیږی ،

علامه زرکشیؒ البرهان کښي هم ذکر کوی چه کوم اعتراض پخواشوے وو هغه به اوس هم کوی پیغمبرانو ته وو معاف کړے تابه څرنګه معاف کړی،

مانجاالله والرّسول معاً   من لسان الوری فکیف انا

لکه څرنګه داجوابونه دی ستاهم دغه جوابونه دی یادساته په کاربه دِشی

(۱)...... اشکال په سندباندا و،واسطه باندهغه واسطه چه الله او نبیؐ مینځ کښي وه چه جبرائیل همیشه شرباندراوړل کوی محکښي هم هغه شرارتونه کول دارنګه په تاباندے به هم کوی اعتراض چه ته ډیر بنه سرے یئے

خو ستا استاذ ډیر شرارتی دے لن هم صحابه ؤ باندا عتراض کوی شیعه
او مودودی و ګوره صحابه چه ګله وران شول نو دین هم وران شول خکه
مکتوبات کښی مجدد وائی کچرے صحابه بدنام شول دین به بدنام شی

(۱)...... جواب چه ستا په زړه ئے قرآن راؤرے دے (فانه نزله)
دارنګه ستا جواب خماچه استادزما زړه ته قرآن کوز کړے دے،

(۲)...... جواب قرآن دمخکښی کتابونو تصدیق کوی (مصدقالمابین یدیه)
ستاهم دا جواب چه زما استاذ پخوانو علماؤ خبرے بیانوی،

(۳)...... جواب قرآن دهدایت کتاب دے (وهدیٰ)
دارنګه ستا جواب زما استاذ په صحیح لارے دے،

(٤)...... جواب، قرآن مؤمنانو ته زیرے ورکوے (وبشریٰ للمؤمنین)
دارنګه ستاجواب چه زما استاذ ماته په بیان ددی مسئلے ډیرے زاکړے دے

(٥)...... جواب څوك چه دقرآن دشمن وی الله دهغه دښمن دے (من کان عدوالله)
دارنګه ته به ورته وائیے څوك چه زما داستاذدشمن وی زه دهغه دشمن یم
پالنج پیر؛

(جِبْرَائِيْلَ وَمِيْكَائِيْلَ) ایت ٩٥ ذکر دجبرائیل او میکائیل جدا دفرشتو نه دوو
وجهونه ذکر کوی،

(۱)......داچه دوئی ذکر خان ته شرافتا کوی،

(۲)...... داچه دوئی ذکر ئی خان ته خکه کړوچه په دی باند کافر سوزیدل او دشمن
چه په څه سوزی هغه کول سنت دی،

(فَاِنَّهٗ نَزَّلَهٗ) ایت ٩٧ دا، اصل کښی علت دے او قائم مقام دجزاء کښی ده

اصل عبارت دادے (من کان عدوالجبریل فلاوجه لعداوته فانه)
(نَبَذَهٗ) ایت ۱۰۰ نبذوالی القاء الشیئی بسرعة لأجل الکراهة دارنگه نبیؐ
چرغه آچولی وهغه کښې تصویرورنوحدیث کښې راغلي فنبذه
(نَبَذَفَرِيْقٌ) ایت ۱۰۱ دالله کتاب ئی شاته وغورځول.

علامه ابن قیم وائی

بنذواکتابك من وراء ظهورهم	وتمسکوابزخارف الهذیان،
فالعلم ماقال الله وقال رسوله	قال الصحابة هم أُولُوالعرفان،

(وَاتَّبَعُوْا) ایت ۱۰۲ ددے خائی نه دویم اعتراض دے چه ته دسلیمانؑ
صفائی کوے پدی خائی،

حافظ ابن کثیرؒ ذکرکوی لمّامات نَبِیُّ الله سلیمان قام ابلیس لعنه الله
خطیباً فقال یَاَیُّهاالنَّاس انّ سلیمان لم یکن نبیاًاِنّماکان ساحراً،
اوبیو کتاب شیطانانو لیکے وواوهغه ځائی چه کوم ځائی سلیمان کیناسته هلته
ئی ښخ کړواودپاسه به ئی ولیکل هذاماکتب آصف بن برخیا وزیرسلیمان
علیه السلام نو الله دصفائی کوی دارنگه ته به هم کوے عائشهؓ نه روایت دے
چه یوه ورځ نبیؐ کورته راغلواومخ ئی پرقیدونوماتپوس وکړونونبیؐ اووے
الم تراَنّ مجدّذاَمرّعلی اسامة بن زید فقال الاقدام بعضهامن بعض،
نوملګری په صفائی به خوشحالی کوے خوسره ددے چه کله دملګری غلط
کار کوی نوهغه ته به ئی منع کوے اودتهمتونوځایونونه به بئے هم ساتی
حدیث کښې راځی (اتّقوامواضع التهم) یوځل محمودالحسنؒ
دشیخ المشائخ رشیداحمد گنگوهیؒ خواته ورغلواو گنگوه ته پیدل

لاړو ماښام نه وروسته هلته اورسیده چه استاذ کورته ورغلو دروازه ئے
او واهله نو استاذ رشید احمدؒ ورته اووے چه څوك ئے .دی ورته اووے
محمود یم ستا ملاقات ته راغلے یم نو هغه روته اووے واپس شه او ملاقات ئے
هم ورسره اونه کړو نو دا بیا شپے شپے کورته واپس لاړ څو ورځو بعد چه کله
دواړه ملاؤ شو نو رشید احمدؒ ورته اووے چه ماخکه واپس کړے وے چه په
هغه شپه ګنګوه کښې عرس وو نو ما اویل چه داسے نه وی چه تاسحر وخت
کښې څوك وګوری او وائی به چه دا عرس ته راغلے وو بیوه ورځ عائشهؓ نبیؐ
سره څېرے اترے کولے نو دولی باندد وه کسان تیر شول کله چه عائشهؓ لاړه
نو نبیؐ هغه دوو کسانو ته آواز کړو چه واپس شئ کله چه راواپس شول
نو نبیؐ ورته اووے دا زما بی بی وه نو هغوئی ورته اووے یارسول الله په تاسو به
هم څوك دا ګمان وکړی دارنګه شیخ الاسلام انصاریؒ چه کوم ځائی عبادت
کول نو هغه ځائی کښې دَدشمنان راغلل او هغه کښې دپیتلو سخی خخ
کړو بادشاه ته ئی رپورټ ورکړو چه شیخ انصاریؒ سخی عبادت کوی
نو شیخ الاسلامؒ ئی ګرفتار کړو او هلته نه ئی سخی راوویستو شیخ انصاریؒ
پوه شو نو هغه بادشاه دربار کښې دشمنانو ته اووے چه تاسو خدائی ګواه
کړئی داتاسو نه دی کړی نو هغوئی باندهیبت راغلو او اقرارئی وکړو دارنګه
امام احمد بن حنبل چه کله بیمار وو نو زنادقه راغلل او یوه پرچه ئی ولیکله چه
ما محکښې وائیل القرآن کلام الله او س ما رجوع کړی ده او زه وایم القرآن
مخلوق او دائی ولیکل او سرلاندی ورته کیخودل دی نه بعد چه وفات
شو نو شاګردانو چه کله ولیده نو هغوئی پوه شو او هغه ئی وشلوله دائی

امام احمدبن حنبلؒ بدنامولو دپاره کړی وو دارنګه مجدالدین فیروز آبادیؒ مصنف قاموس ته یوه رساله منسوب ده چه امام ابوحنیفهؒ کافر دے مجدالدینؒ بیادهغه رد کښې رساله ولیکله داهره زمانه کښې کوی،

(وَمَاكَفَرَ)ایت ۱۰۲ دلته سحرته کفروالی خکه چه سحر کښې دعاء لغیرالله ده اوساحر کافر دے امام شافعیؒ وائی (الساحر یُقتلُ ولایستتابُ)توبه نشی قبلولے، دارنګه امام ابوحنیفهؒ وائی ساحر توبه اُوویسته نوصحیح ده او که توبه نے اُونه ویسته نو(اذااُخِذَ یقتل ولایستتابُ)دارنګه تاویلات اهل السنة کښې ابومنصور ماتریدیؒ هم په رَدّ کوی چه قتلوی ے به ئی خکه خلق ګمراه کوی،

(يُعَلِّمُوْنَ النَّاسَ)ایت ۱۰۲ داحال دے دضمیر دَکَفَرُوْانه ای یعلّمون الشیاطین للنّاسِ السّحر یاضمیر حال دے دسلیمان والونه ای یعلمون النّاس بطلان السحر،

(وَمَااُنْزِلَ)ایت ۱۰۲ دی ځائی ته دریم اعتراض چه ته مولږ ه جادو نه منع کوے، حالانکه په دی فرشتے راغلے وے نودهغے دوه ۲ جوابونه،

(۱)......اللهٔ دسره فرشتے نهٔ دی راستولی (رالیږی)

(۲)......چه الله رالیږلی وے خوهغه امتحان دپاره وے،

اودادوجوابونه دَدووتوجیهاتومطابق،

(۱)یوتوجیهه په (ماانزل) کښې مانافیه (ومایعلّمٰن)دلته هم مانافیه ده(حتّٰی یقولا)ای یُبالِغَان فی النّهي (فتنةٌ) دپاره دعذاب یُونوچاته سحرنهٔ ښودل(فلا تکفر)مهٔ کافرکیږی په زده کولو دَجادُو بالدِ(فیتعلّمون منها) ای من ضدّ هما

(۲)...... دوئیمه توجیهه (ما)موصوله په ماانزله کښې ای الذی انزل علی الملکین اومایعلّمٰنِ کښې مانافیه (حتّٰی یقولا)په حپله معنی (فتنةٌ)بمعنیٰ امتحان او(منهما) په حپله معنی بانده بعض خلق دوه ۲ توجیهات نورکوی خوصرف مَلکَینِ بفتح الام په ځائی دکسره دَلام سره دے اونورزاره توجهات دی په دی ځائی خلق خرافات بیانوی،امام رازیؒ تفسیر کبیر ج۲ کښې په هغه رد کوی اوعلامه قرطبیؒ وائی هذا کلّهٗ ضعیفٌ اودارنګه حافظ ابن کثیرؒ په رد کوی او ابن جوزیؒ په رد کوی او ابن حجرؒ لے اثبات کوی اوردکوی قرآن والی (لایعصون الله ماامر) اودا،اعتراض په اوس هم کوی چه ته دا،والے اوفلانی ملګری د داوائی ۔

(لَمَنِ اشْتَرَاهُ)ایت ۱۰۲ لام ابتدائیه وماموصوله یاشرطیه (ماله فی الآخرة) ۱ داخبر یا ۲ جزاء ،

(یٰاَیُّهَاالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَاتَقُوْلُوْا)ایت ۱۰٤ څلورم اعتراض چه مونږ صحیح الفاظ نه منع کوے ،

(رَاعِنَا)ایت ۱۰٤ (۱)دالفظ که راعن واخلینومعنی داده(رَعَنَ الرجل اذااتاً قلته(چه لحاظ ئے و کړے)

(۲)او که رعونة نه شی نو په معنی دَبے وقوف راځی لکه اعراب القرآن ذکر کړدی،

(۳) اویاپه نے رَاعِیْنَا وائیل یعنی شپونکیه زمونږه،

(٤)اویومعنیٰ دَراعیناً رعمسیس نه راوُوتے ده رَعْمَسِیْس دوئی بادشاه ته رائیل(په معنیٰ دَاوچت راځی)نوراعناپه معنیٰ دَ اوچت اوبلند هم راځی،

دوئی والی دحضرت، لفظ مه والیی ،حضرت معنی لسان العرب ذکر کړی ده،ذوالبیان الفصیح، حضرت والی چه حاضر ناظر وی وایه که داسے شی لو تا جهل کتاب عبد البرته منشی جی والے نو منشی معنی پیدا کو نکے هم راځی نو بیا خو تاهم کفرو کړو دار نګه والی چه مولنا ،لفظ مه والی تو نبیؐ چه زیدؓ ته والی(انت مولنا واخونا)دارنګه تهذیب التهذیب کښی ذکر کوی چه حضرت حسانؓ ته نبی مولنا وانیلی رُوٍ،

(مَایَوَدُّالَّذِیْنَ)ایت ۱۰۵ دی نه مراد علماء سوء دی،

(وَاللّٰهُ یَخْتَصُّ)ایت ۱۰۵ داجمله نی ځان ته راوړه م کښی درلو شبهاتو سره لګی(۱)ید دجبرائیل مه وایه (واللّٰه یختص برحمته)(۲)سلیمانؑ ته بدمه وایه (واللّٰه یختص برحمته)(۳)سحرباندے سرے نه رټیږی(واللّٰه یختص برحمته)

(وَاللّٰهُ ذُوالْفَضْلِ)اللّٰه فضل دادے چه قرآن ته نی کینولو ،حدیث کښی راځی(مَنْ یُّرِیْدُاللّٰه بِهٖ خَیْراً یُّفَقِّهْهُ فِی الدِّیْنِ)

(مَانَنْسَخْ)ایت ۱۰۶ دا ینځم اعتراض چه ستا چیل دین کښی شلك دے کله یوه خبره کوے کله بله دلته بیان دنسخ دے نسخ په لغت کښی ازاله کردن ته والی لکه عرب والی (نَسَخَتِ الشَّمْسُ الظِّلَّ،نسخة الریحُ الاٰثارَ ای آثارالقدم)اوقرآن په دی معنی نسخ ذکر کړی ده لکه سورة حج ۵۲ دارنګه په معنی دَ کتابت باندِ قرآن داذکر کړی لکه سورة جاثیه ۲۹ سورة اعراف ۱۵٤ په شریعت کښی نسخ والی(رَفْعُ الْحُکْمِ بِدَلِیْلٍ شَرْعِیٍّ مُتَأَخِّرٍ) دارنګه علماء وائی هوالخطاب الدالُّ علی ارتفاع حکمٍ سابقٍ،قال المدارکؒ انتهاء الحکم الشرعی المطلق الّذی تقرّر فی اوهامنا استقراره بطریق،

التراخی فکان تبدیلاً فی حقیناه وبیاناً محضاً فی حق صاحب الشرع۔

اشکال اللہ یو حکم ذکر و بیا بل حکم ذکر و آیا اللہ ته علم نهٔ وو څه،

چه اللہ حکمونه رالیږل نو وخت لی ورته مقرر کړے وو چه دا حکم به فلانی

وخته پورے وی خو مونږ ته نهٔ وو معلوم او کله چه دویم حکم نی رالیږل

نو مونږ ته وخت د حکم معلوم شو (والتفصیل فی العرفان)په دی خالی۔

علامه قرطبیؒ یو روایت ذکر کړی دے (دَخَلَ عَلِیٌّ نِ الْمَسْجِدَ فَاِذَا رَجُلٌ

یُخَوِّفُ النَّاسَ فَقَالَ لَهٗ عَلِیٌّ اَتَعْرِفُ النَّاسِخَ مِنَ الْمَنْسُوْخِ)نو هغه نی

مسجد نه اُو یستو بخاری باب ایښے دے باب العلم قبل العمل والبیان

اوّل خان پوهه کړه بیا بیان کوه۔

(اوننسها)نسۃ الشهور ای تا خیر هابمعنی د تا خیر یا په معنی د هیرولو او یا

دا کلمه شمول د پاره ده لکه وائی دو ډنی مو ډنی لو دامو ډلی په کښی ښه دی

او دا رنګه کوټك موټك نو موټك پکښی ښه دی۔

(بِخَیْرٍ مِّنْهَا)ای سهلاً منها ۔

(اَوْمِثْلِهَا) او یمعنی واو ده اومثلها فی الاجر مراد دے زادالمسیر کښی علامه

ابن جوزیؒ ذکر کړی (ای أیسرمنهاء علی الناس (اومثلها)ای فی الصواب،

(اَلَمْ تَعْلَمْ)دا هم مخ کښی ،پولو سره لګی ،قرآن عجیب مضمون ذکر کوی،

(اَمْ تُرِیْدُوْنَ)ایت ۱۰۸ ربط مخ کښی اعتراضات شروع وو،او دهغهٔ جوابونه

نو دادی د پاره کوی چه پیغبرؐ داسے تنګوی لکه موسیٰؑ ئے تنګ کړے وو،

او آداب مزمنانوته ور کوی،

(وَمَنْ یَتَبَدَّلِ الْکُفْرَ) ایت ۱۰۸ ای عمل الکفر دامخ کښی ،پولو سره لګی،

(۱) جبرائیلؑ سره دشمنی کول آخیستل دُکفر دی (۲) سلیمانؑ ته نسبت
کول آخیستل دُکفر دی،
(وَدَّ كَثِيْرٌ) ایت ۱۰۹ تیقُط دپاره دمزمانو ، دغمرسره سَمْ ... مصرعه
زمادغمر سره سمه   دجانان غمه دزړهٔ په سرد تیره ومه
(حَسَداً) ایت ۱۰۹ مفعول لاجلهٖ دے دسری حسد چه معلوموے نوغصه لی
کړه بیابهٔ زړهٔ نه درته حال والی،
(وَاَقِيْمُوا الصَّلوٰةَ) ایت ۱۱۰ امور مصلحه دافعة للعذاب چه اعتراضات
واردیږی نو خنداورته کوه زړهٔ مهٔ تنګوه نبیؐ بالذ چه کله غمْ زیات شو نو
(بادرالی الصَّلوٰةِ) مونځ ته به ئی جلدی کوله ، دارنګه چه غمْ بهٔ زیات
شونو وائیل بهٔ ئے (يَا حَيُّ يَاقَيُّوْمُ بِرَحْمَتِكَ أَسْتَغِيْثُ) چه مسئله دُ توحید
کوے اعتراضات بهٔ کیږی تهٔ الله ته متوجهه شه نمونځ ، کښی اضافه وکړه
(بَلٰى مَنْ اَسْلَمَ) ایت ۱۱۱ لفظ بلی نه چه کله مخ کښی نفی وی نوبیا اثبات
پیدا کوی او مخ کښی چه اثبات وی نو نفی پیدا کوی ، سَمْ پښتو دے چه
ورته وائے ګرمئی ته شه نو سوړے ته کیږی او چه ورته وائے سوړے ته شه نو
ګرمئی ته کیږی ،

واقعه دمناظره مناطیقه اونحاتو په علم نحو او علم منطیق باندی دنحاتو دطرفه
ابو الحسن الصیرافیؒ اودمناطیقه و دطرفه یونس بن متیٰ وو ، مناظره ره په
دی خبره وه چه ابتدائی طالب ته دُ نحوے ضرورت دے او که دُ منطق،
نحویان او وائیل چه نحوت (لانّه صیانة الذّهن عن الخطاء فی الکلام العرب،
او مناطیقه وائی منطیق ضروری دے (لانّهٔ صیانة الذّهن عن الخطاء فی الفکر)

(ابو الحسن الصیرافی) دفارابی استاذو، اوفارابی به داسے رباب وهل چه تاربه ئی بدل کړونو خلق به بے هوشه شول اوچه تاربه ئی بدل کړونوخندول به لے (کله چه دواړه مناظرے ته کیناستو نو ابو الحسن الصّرافی اووے الیس النحوُ ضروریٌّ یونس بن منیٰ ورته اووے بلی نو په دی مناظره کښی هارشو، اوبیا درے ۳ ورځی کورنه نه راوتل اوبیا مرهم شو نو منطقیانومشر بلی وهله درے

(وَهُوَمُحْسِنٌ) ایت ابن کثیرؒ معنی کوی ای اتبع السنة او ابن کثیرؒ په دی ځائی لیکی۔

فانّ للعمل المتقبل الشرطین احدهما أن یکون خالصاً للّٰه وحده وثانیها أن یکون موافقاً للسنّة چه خالص للّٰه نه وی نو نه قبلیږی شاه ولی اللّٰہؒ وائی تدریس وافتاء وقت نافع شوند که خالصا لوجه اللّٰه باشد، او دویم چه موافق د شریعت وی دانه چه ځان جوړ کړے نو بیا ورته منه والے ۔

امام مالکؒ وائی من ابتدع فی الاسلام بدعة یراها حسنة فقد زعم أنّ محمداً خان الرسالة)

(کذالك) ایت ۱۱۳ کمایقولون کذالك الخ

(وَمَنْ أَظْلَمُ) ایت ۱۱٤ ربط ماسبقه دادے چه دا اعتراضات به هغه څوك کوی چه ته ئی د مسجد نه منع کولے د قرآن درس به ئی منع کولے ،

اشکال ، دلته صیغه د اظلم د اسم تفضیل ذکر کوی مطلب داچه زیات ظالم دادے او سورة الانعام ایت ۲۱ ومن اظلم صیغه د اظلم هغه جابارة ته کښی ذکر کوی چه افتراء علی اللّٰه کوی دا رنګ سورة کهف ایت ۵۷ چه اعراض کونکے د کتاب اللّٰه زیات ظالم دے نو اظلم به یو وی ټول څرنګی کیدے

جواب اصل کښې طبقې طبقې ارقسمونه دی یوه طبقه دماتعینوهغهٔخولهٔ دی چه مانعین دلاروروی خوک مانعین داوبو وغیره دی نومانعینوکښې من مساجد اللّٰه زیات ظالم دی دویمه طبقه دمفترینو هغهٔخوک افتراء علی العباد کوی وغیره خومفترینوکښې مفتری علی اللّٰه زیات ظالم دے دریمه طبقه دمعرضینو دی هغه خوک معرضین دعلماؤدی وغیره خوزیات ظالم معرض عن کتاب اللّٰه تعالی دے،

علامه زرکشیؒ هم البرهان کښې، گنړجوابونه کوی،

(وَسَعٰى فِي خَرَابِهَا) ایت ۱۱٤ دی ځای علامه ابن کثیرؒ لیکی لیس العمارة بالبناء انما العمارة بذکر اللّٰه مبتدع مسجد خرابوی اوړزاله وی حضرت عمرؓ قول امام بخاریؒ تاریخ کبیر ٥٣/٤ کښې ذکر کوی لان اسمع بنار تحترق في ناحية المسجد احب الي من ان اسمع البدعة ليس لها مغيرٌ، (اصول السنة للشیخ القرآنؒ) دارنګه ابن عمرؓ مسجدته لاړ یوسړے اووے چه جمعه او دریده ابن عمرؓ اووے اخرج بنا من عند هذا المبتدع امام مالکؒ ٢٥ کاله ګنړه ته نه ته مخافة ان يرى البدعة اوعائشهؓ روایت دے من وقر صاحب بدعة فقداعان على هدم الاسلام دارنګه بل روایت دے اذارایت مبتدعا بطريق فخذطريقاً آخر سنن الدارمی کښې روایت دے ابوموسیٰ اشعریؓ کوفه کښې دابن مسعودؓ مسجدته لاړ اوذکربالجهری ولیدونو عبداللّٰه بن مسعودؓ ته راغلو چه ستا مسجد کښې خو داواقعه ده عبداللّٰه بن مسعودؓ چه ماښام وخت کښې لاړ ونو هغه شان کار وونو دی ورته اووے هذه الثياب لم تبل وهذه الاواني لم تكسر وقد جئتم ببدعة ظلما

ما را کم الامبتدعین او کاری راواخستل او بوبونه یی ویشلو ماوردی لیکی انهاعام فی کل مشرك منع من کل مسجد،اوهر مسجدچه وی تفسیر کبیر لیکی واماطلب الضالّة فی المسجد ورفع الصوت بغیر الذکر فمکروه(ولله المشرق)ایت ۱۱۵ ربط ماقبل سره چه جماعت او مسجد ته دنه پریږدی نوملك خدا تنگ نه دے،

ملک خدا تنگ نیست پائی گدا لنگ نیست

حجاج بن یوسف(داسخت ظالم بادشاه ووچه په وخت به ئ پنځه پاوه ستر ګی تللے) چه کله سعید بن جبیرؒ ګرفتار کړونو حجاج ورته اووے ستاخه نوم دے سعید اووے سعیدبن جبیر،حجاج اووے ته سعید نه ئے شقی ئے سعیداووے زماپلارستا نه زما په نوم ښه پوهیدو حجاج اووے ماته د جواب راکړونو حکم ئی وکړوچه قتل ئی کړی کله چه قتلول ئے نومخ ئے ورته مسجد حرام ته کړو سعیدؒ دا آیت اووے (فول وجهك شطرالمسجد الحرام حجاج حکم وکړوچه مخ ورته مشرق ته کړی چه کله ئ هغه طرف ته کړونو سعیدؒ داآیت اووے(ولله المشرق المغرب فاینماتولوا)حجاج بیا حکم وکړوچه زمکے ته کړے نو کله چه ئے کړونو سعیددآیت اووے (منها خلقنکم وفیها نعید کم ومنها نخرجکم تارة اخریٰ)حجاج اووے زر ئی قتلوئی کله چه قتل ئی کړونو ډیره زیاته وینه ترے لاړه حکیمانو نه ئی تپوس وکړو چه دومره ولے لاړه هغوی ورته اووے چه دی وینه جوش کښی وه هغه ټوله وینه ترے اووته،

(وقالوا اتخذالله) ایت ۱۱۶ ددی ځای نه شپږم اعتراض چه دادالله ذاتبان

دی او الله ورله اختیاوور کړے دے دااعتراض څنګه په پیغمبر علیه السلام

کیده نو په تابه هم کیږی ،ددی نه پنځه جوابونه ،

(۱)..... (سبحنه) پاك دے دنابالونه،

(۲)......(له مافی السموٰت والارض) اختیاردالله جلیږی نونائب ته څه حاجت دے

(۳)......(کلٌ له قانتون)هرشی دالله تابعداردی نونائب ته څه ضرورت دے،

(٤)......(بدیع السّموٰت والارض)چه الله زمکے آسمانونه پیدا کول چاته نی حاجت

ته وونو اوس نائب ته څه حاجت دے،

(٥)......(واذاقضی امراً)هر کاردالله په اراده سره کیږی نونائب ته څه حاجت،

او ګوره یوتولید الولددے یو اتخاذالولدتولیدالولددیته وائی چه بچے دغه

پیداشوے وی اودوئم دیته وائی چه دغه پیداخونه وی خونائب نے ونیسی

لکه سورةیوسف ایت ۲۱ ولد په معنی قائمقام دارنګه قصص ایت ۹

چه فرعون ته بی بی وائی (او نتخذه ولداً) اودامضمون یونس ایت ٦٨ کښی

هم دے.

(سبحنه)ایت ۱۱٦ نورو ځایونو کښی تفصیل کوی سبحان الله عما یشرکون

سبحان الله عما یصفون

(قانتون)ایت ۱۱٦ چه هر شی زرته عاجزوی نوعاجزانونه څه مدد غواړے

جوخود محتاج ہوئے دوسرے کا بھلا اُس سے مدد مانگنا ہے کیا

(وقال الّذین لا یعلمون)ایت ۱۱۸ دلته اووم اعتراض چه الله دمونږ ه ته خپله

اووائی چه دازماپیغمبردے جواب ستاسونه مخ کښی خلقوهم دغه شان

اعتراض کړے وو څه مطلب چه بادشاه کله یوحکم جاری کړی نوبیا یو تن ته

بادشاه نه والی بلکه عام اعلان کوی تو څوك مجرم چه گرفتارشی هغه داعذر نشی پیش کولے،چه بادشاه ولے ماته نه دی وائیلی نودارنگ مالك الملك هغه ته څه حاجت دے چه هرچاته والی لکه څرنګه دااعتراض دے دا شان سورة الاسراء ایت ۹۰ کښی کوی (کذالك قال الذین)ایت۱۱۸ دا پخوانو اعتراض سورة البقره ایت ۵۵ سورة الاعراف ایت ۱۵۵ کښی ذکر کوی

(تشابهت قلوبهم)ایت۱۱۸ درونه ئے یوشان دی په اعتراضونو کښی

(أتواصوابه بل هم قوم طاغون)

(انا ارسلنك)ایت ۱۱۹ ،اثبات الرسالة ربط ماسبقه سره پیغمبره خفه کیږه مه

ته زما قاصد ئې خپل کارجاری ساته،

(ولاتسئل) ایت۱۱۹ یاصیغه مجهول ده(تپوس به نه شی کولے)یاصیغه

دامردے (تپوس مه کوه)

(ولن ترضی)ایت۱۲۰ تهدیدور کوی چه گوره داسے نه وی چه یهودی

نصرانی،کافر،مشرك،مبتدع سره اتحاد کړوے،

(مالك من الله من ولی) ایت ۱۲ څوك به دامدادی نه وی پیغمبرته والی نوته څه ئې

نه اودھرکے رہے نہ اُودھر کے رہے، نہ خدا ہی ملا نہ وصال صنم

(یتلونه حق تلاوته) ایت۱۲۱ مناسب لوستل دقرآن څه دی علامه ماوردیؒ

او قرطبیؒ وائی ای یتبعونه حق اتباعه او اتباع دقرآن څه ده تدبر پکښی وکړه

لکه ص ایت ۲۹ ،اوقرآن بیان کړه اصول السنة کښی یوروایت دابو هریرهؓ

نه نقل کوی نبی علیه السلام ورته وائی یاآباهریرة علّم الناس القرآن وتعلّمه

فانّك ان متّ وانت کذالك زارت الملائکة قبرك کما یزار البیت العتیق

(یبنی اسرائیل) ایت ۱۲۲ بنی اسرائیلوته بیا خطاب کوی ځکه چه معزز قوم وو،

(واذابتلی ابراهیم ربه) ۱۲۴ داووم او اتم اعتراض په مینځ کښی دریے حصے بیانوی

(۱) بیت الله بنیت للتوحید فلما تشرکون فیه،

(۲) دا پیغمبرؑ دعا ابراهیمؑ ده تو ولے نه منی،

(۳) التوحید مسئلة الانبیاء کلهم فلما تنکرون منه،

اوله خبره په ایت ۱۲۵ کښی دوئیمه په ایت ۱۲۹ دریمه ایت ۱۳۲ کښی

(بکلمت) ایت ۱۲۴ کلمے او امتحانونه څه وومفسرینؒ ذکر کوی

(۱) چه بریت آخستل (۲) نوکونو کټکول وغیره وو،

خو امتحان خو امر شاقه کښی راځی او دی کښی هیڅ تکلیف نه وو،

اصل ا متانات چه قرآن کریم ذکر کوی هغه دی،

(۱) یو امتحان لکه پلار سره مقابله کول لکه ... م ایت ۷۴، او داسے پلار وو چه لوئے پیر وو تو خو به ئی دبادشاه په سر تاج نه وو ایخی تر هغه به ئے فیصله نه کوله او کوم بت به په سر ئے لاس تیر کړو هغه به معزز شو او دبادشاه بیخی لسمه حصه به دیته ورکوله او ابراهیمؑ چه کوم رخت مسئله بیانوله نو ددپه کور کښی ۴۰۰ سوه پیغلے جینکئی وے دا رنګه شعراء ایت ۷۰،

(۲) ..... دوئمه امتحان بادشاه سره مقابله لکه سورة البقره ایت ۲۵۸،

(۳) ..... دریم امتحان چه خپل ځان اُورته دتوحید مسئلے دپاره غورځول لکه سورة الصفت ایت ۹۷ مؤرخین ذکر کوی چه شپږمیاشتے به چادنمرود

سلطنت کښی صدقه کوله هغه به ابراهیمؑ سوځولو دپاره په لرګی احستل اود
هولونه زیات لرګی ابراهیمؑ پلار وور کړی وو او مناره ئې جوړه کړه مینځ، کښی
بو طرف ته نمرود دوبل طرف ته ابراهیمؑ پلار آزر وو کله چه اور ته ئې وغور
ځول نو فرښته ورته راغله چه زه به دا ور ته اوچت کړم ابراهیمؑ ورته وې
(حسبی سوالی وعلمه بحالی) او کوم بوری به دشمنی کوله پو کښی به ئې
ور کول او وره غونډې مرغتی به ئې اوبه راوړلې اوپاسه نه به ئې اور ته
آچولې داول انجام داشو چه نبیؐ. الی (اقتلوه فی الحل والحرم) اودرنم انجام
داشو چه دا مرغتی په یو غټ پیس ناسته وی او هغه تر ې نه پریږی دارنګه
سورة العنکبوت ایت ۲٤ دا، اور چه کله الله ورته اووې،
(یانار کونی برداً وسلماً علی ابراهیم) مسعودی المروج الذهب کښی ذکر
کړې. چه یولې دنیا کښی اُور ونه مړه شول،
(٤) څلورم حیل ملك دالله رضادپاره پریخودل لکه سورة الصٰفٰت ایت ۹۹
(انی ذاهب) ابراهیمؑ په اُور نامی کلې چه ایران کښی وو هغه کښی پیدا
شوې وو اوبیا هلته نه مکې ته لاړو،
(٥) پنځم چه حیل ځوئې قربان کړه لکه سورة الصٰفٰت ایت ۱۰۲،
دارنګه عنکبوت ایت ۲٦،
(٦) شپږم امتحان حیل اولاد بیخه په تشه داګه پریخودل لکه سورة ابراهیم
ایت ۳۷ په داګه پراته دی مؤرخین ذکر کوی چه هاجره دپادشاه لور وه اود
هغه خادمه نه وه بعض خلق وائی چه دائی خادمه وه داشتباه (فاخدمها هاجره)
دوجې نه راغلی ده (ددی مطلب دادې چه خدمت به ابراهیم کوی داهاجره)

تفسیر طبری ذکر کوی چه ښځی ابراهیم ته آواز وکړو اوهغه په مخه روان وو ورته وی (الی من تکلنا یا ابراهیم لیس فیها ماء ولا زرع ولا ضرع ولا انیس) ابراهیم آواز ور نکړو بیا ورته دے آواز اوکړو ابراهیم بیا جواب ورنه کړو، درئم ځل بی بی ورته اووے (آلله امرك بهذا) ابراهیم اووے نعم بی بی ورته اووے (قالت اذالا یضیعنا الله) او ګوره دابراهیم پلار سره مقابله ده قرآن دیرعجیبه کتاب دے په سری سیل کتی مجلس دالبیاؤته سرے بوځی کله جنت ته کله جهنم ته کله اقوام مکذبه ته ابراهیم امتحانانو کښی پلار سره مقابله بیا بادشاه سره مقابله بیا ښځه پریخودل بیا خوئی قربانول چه هر څه قربان شولو بیا ورته والی ځان قربان کړه شابه ابراهیم وو. ابراهیم اُورته نی وغورځول خلق والی داُوربجے داُوربجے ابراهیم وو چه اُورته یې غورځول خو خبره نه پرېږدی امتحانات په وشول لرفع الدرجات،

امتحانات په دری قسمه دی،

(۱) للعذاب (۲) لرفع الدرجات (٤) لعفو الذنوب،

اول امتحان ن په کافرو دولیم په انبیاؤ راځی او دریم په نیکانو بندګانو، چه امتحان په راشی نو ګناهونه ورته معاف کړی لکه حدیث راځی نو ګناهونه ورته معاف کړی بلکه حدیث کښی راځی چه کله قیامت کښی یو سړی ته درجه اُوچتوی په دی وجه چه دنیا کښی مصیبتونه ورکړی دی نو بل سړے به ارمان کوی چه کاش په دنیا کښی زما غوښی داُو سیلے په کښر باندی خیرے شوی وے،

(فَأَتَمَّهُنَّ) ایت ۱۲٤ پوره ئی کړه دی ته اشاره په سورة النجم ایت ۳۷ کښی

امتحان ډیر سخت شیئ دے لکه یو سالک وائی،

جزی الله الشدائد کل خیر عرفت بها الصدیق من عدوی

خو هغه امتحانات نه پناه غواړه چه برداشت نه شے کولے نبی علیه السلام

ځکه وائی (اذا اردت بقوم سوءً فاقبضنی الیك غیر مفتون) او نبیﷺ به دعا کوله

(اللهم یامقلب القلوب ثبت قلوبنا علی طاعتك) او دا ځکه چه حدیث کښې

راغلی (انّ القلب بین اصبعی الرحمٰن یقلبه کیف یشآء)

(اماماً) ایت ١٢٤ خو مره چه امتحان راځی سړے عزتمند کیږی حقه کیږه مه

چه ذلیل به شے عزتمند به وې دارنګه سورة السجده ایت ٢٤ چه کوم خلق

مضبوط وی نو هغه ته الله امامت ورکړی ځکه ابن کثیرؒ دی خائی

دشیخ الاسلام علامه ابن تیمیهؒ قول ذکر کوی (بالصبر والیقین تنال الامامة

فی الدین) او دعلیؓ قول دے (الصبر من الایمان بمنزلة الراس من الجسد)

ودسفیان قول دے (لما اخذوا براس الا مر صارورؤساء) چاچه تکلیفونه

وچت کړی دی نو بیا الله امام کړځولے دے لکه مالك بن انسؒ دا وائیل چه

بادشاه وقت ظالم دے نو بادشاه ګرفتار کړ په خره ئی سور کړ و نو وئیل به

څوك دبادشاه خلاف کوی هغه داحال وی او مالك بن انسؒ به وئیل

(من عرفنی فقد عرفنی ومن لم یعرفنی فانامالك بن انس)

دارنګه سفیان چه هارون الرشید کلاس ملګری وو نو هارون بادشاه شو کله

چه ظلم ئی کول نو سفیان بازار کښې ګرځیدو او وئیل به ئی ،

(یاهارون انت ظالم وانا ظالم ان لم اقل لك انت ظالم)

دارنګه تیراس په حاشیه کښې یو راوی قول ذکر کوی،

(سمعت صوت سوط) او بیا وتیلی شو (لن یصیبنا الا ما کتب اللّٰه لنا)
ماچه ولیدل (فاذا هو احمد بن حنبلؒ)
دارنګه امام ابو حنیفهؒ چه بادشاه ته تسلیم نه شو نو سرئی ورله مات کړو او دا
خلق بیا ائمه دین شو.
(عهدی الظّٰلمین) ایت ۱۲٤ ظالمانو ته نه رسیږی او مودودی وائی
موسیٰؑ نے ایک بہت بڑا گناہ کیا تھا.
(وامنا) ایت ۱۲۵ خو مره دامن چه سړے ضروری شیئی ته هم ځه نه شی وتیلے
تا هم دااللّٰه په دین تنګ او غیرت کړے وو نو ته به هم دآمن واله ؤ ګرځی.
(مقام ابراهیم) ایت ۱۲۵ مقام ابراهیمؑ ټول حرم ته وائی یا خاص مقام ته
ابراهیمؑ چه کوم ځائی منډه وهلی وه او دهغه بی بی نو هغه ځائی بادشاهان
منلے وهی دارنګه کوم ځائی ابراهیم مونځ کړے وو هلته دمانځه
حکم راغلو کوم ځائی بچی لټے وهلی دی نو هغه او به دتبرك او شفاء واله
وګر ځولے صحابا ؤ به ورلے کوم ځائی بچے قربانی ته څملولے شوے وو نو
هلته به قربانی کوله دادومره عزتونه اللّٰه ځکه ورکړو چه کوم خواږه اشیاء
وو هغه ئی قربان کړل اولاد خوږ وو ښځه خوږه وه پلار ډیر خوږ وو، وطن ډیر
خوږ وو عزت قربانول مشکل وو او دا ټول ابراهیمؑ باندی تیر شوی دی.
(اَنْ طَهِّرَا) ایت ۱۲۵ دلته نه اوله خبره بیت اللّٰه بنیت للتوحید شیخ القرآنؒ
به دامعنی کوله خو مونږ ذهن ته نه راتله ابن کثیرؒ هم وائی.
(ان طهرا بیتی بلا اله الا اللّٰه)
(بَلَدًا) ایت ۱۲٦ دلته دا نکره ذکر کوی او بل ځائی معرفه ذکر کوی داځکه

چه اول دلته څوک نه وو نو بیا وروسته یو قبیله راغله هغوی مارغان ولیدل
چه هوا کښې الوځی نو هغوی پوهه شول چه دلته اوبه پیدا شوی دی
نو هغوی راغلو او دلته آباد شو بیا یو ورځ ابراهیمؑ راغلو او دائی ولیدل اسمٰعیل
خلمی وو او دابراهیمؑ بی بی وفات شوی وه او اسمٰعیلؑ واده کړے وو لو
ابراهیمؑ ته دا سمٰعیلؑ ښځه او وته نو تپوس لی وکړو چه خاوند دچرته دے
هغے اووے ښکار ته تلے دے بیا ورته اووے چه کورخه حال دے هغے ورته
اووے چه هیڅ نیشته ابراهیمؑ ورته اووے چه کله دخاوند راشی نو ورته او وایه
چه دُرشل دِ بدل کړه اسمٰعیلؑ چه راغلو نو قصه ورته بیان کړه نو اسمٰعیل
طلاق ورکړو بیا اسمٰعیل بل واده اُکړو نو بیا ابراهیمؑ راغلو الخ،
(رَبَّنَا تَقَبَّلْ) ایت ۱۲۷ پلار او ځوئی دواړه پیغمبران دی او دعاء کوی مفسرین
وائی چه لاسونه ئی وچت کړی دی،
(السمیع) ایت ۱۲۷ سمیع معنیٰ قبلونکی او آوریدونکی دواړه په معنیٰ راځی
اوّل ئی کار وکړو بیا الله ته دعاګانے کوی،
(ربنا وابعث) ایت ۱۲۹ ربط کله چه مدرسه جوړه شی نو هغے ته دیوښه
معلم ضرورت وی نو اوس بیان دمعلم کوی او سوال دمدرس کوی دلته
دوئیمه خبره چه دادعاء دابراهیمؑ ده قرطبیؒ یو روایت ذکر کوی،
(انا دعوة ابی ابراهیم وبشری عیسیٰ)
(یتلوا علیهم ایته) ایت ۱۲۹ بیانوی په دوی آیتونه دالله دارنګه یوسف ایت
۱۰۸ سورة البقرة ایت ۱۵۱ سورة النمل ایت ۹۲ سورة الجمعه ایت ۲ .
استدلال کښی پیش کړی دی،

(والحکمة) ایت ۱۲۹ حکمت کله مقابل دکتاب راشی نوپه معنیٰ دسنت راشی لکه علامه قرطبیؒ اوابن کثیرؒ ذکر کړی دی اومشکلات القرآن کښی علامه شاه انورشاه کشمیریؒ هم ذکر کوی اوداد المسیروائی ،

(الحکمة الحلال والحرام ومواعظ القرآن)

(ملة ابراهیم) ایت ۱۳ دین اوطریقه دابراهیم سورةالانعام ایت ۷٤ کښی

(ووصّیٰ بها) ایت ۱۳۲ دلته نه دریمه خبره چه توحیددنولو انبیاؤ مشترکه مسئله ده خصوصاً ستاسو نیکانو (یعقوب وابراهیمؑ) په وصیت کړے دے نو ولې نه منئ ،

(ویعقوب) ایت ۱۳۲ دلته لفظ اسرائیل لے ذکرنه کړه بلکه یعقوب نوم ئے ذکر کړودادی دپاره چه دوئی جل ونه کړی ځکه‌چه اسرائیل عبدالله ته وائی اودوی به وائی چی دی نه مرادبل څوک دے ،

(الّاوانتم مسلمون) ایت ۱۳۲ مه مړی تاسو مګرمسلمانان دا مرګ خو دوئ اختیار کښی نه وو چه ورته داوائی ددی مطلب دادے چه همیشه مسلمانان وسئی چه مرګ راشی نواسلام کښی به راشی لکه یودکاندار یازمیندار چه کله مړشي نوخلق وائی فلانی دکاندار یازمیندار مړ دے ،

(یعقوب الموت) ایت ۱۳۳ ، ای علامة الموت ځکه‌چه مرګ راشی نوبیا خبرے نه شی کولے

یوسالك وائی

اذا انشبت المنیة اظفارها   الفیت کل تمیمة لا تنفع

(اله آبائك) ایت ۱۳۳ دا ئ ولې اووے ځکه‌چه څه عمل وونودی کښی اتباع

د آباؤ ده او الله تعولی له دپلار درجه ورکړی د تقلیدنه دپلار ۱۵ درجے دی او تعولی ۵ درجے دی ۱۰ ورله الله نورے زیاتے کړی یو تقلید مذمومه دے قرآن په هغه رد کوی نو وانی (اولو کان آباؤهم لا یعقلون شیئاً ولا یهتدون) یو کس دعبدالله بن مبارکؒ اشعارو مقابله کښی اشعار جوړ کړی وو او موږ یو ملګری دهغه مقابله کښی اشعار جوړ کړه دعبدالله بن مبارکؒ اشعار داوو،

لقد زان البلاد ومن علیها — امام المسلمین ابو حنیفةؒ
باحکام واثار وفقه — کآیات الزبور علی الصحیفة
فما فی المشرقین له نظیر — ولا فی المغربین ولا بکوفة
یبت مشمراً سهر اللیالی — وصام نهاره لله خیفة
فمن کابی حنیفة فی علاه — امام الخلیقة والخلیفة
رأیت العائبین له سفاهاً — خلاف الحق مع حجج ضعیفة
وکیف یحل أن یؤذی فقیهٌ — له فی الارض الاثار شریفة
لقد قال ابن ادریس مقالاً — صحیح النقل فی حکمٍ لطیفة
بان الناس فی فقهٍ عیال — علی فقه الامام ابی حنیفة
فلعنةُ ربنا اعداد رمل — علی من رد قول ابی حنیفة

او ددی خلاف یو کس اشعار جوړ کړی دی،

فلعنةُ ربنا اعداد رملٍ — علی من رد اقوال الرسولِ
فلعنةُ ربنا اعداد رملٍ — علی من سبّ اصحاب الرسولِ
فلعنةُ ربنا اعداد رملٍ — علی اتباع شیطان خذولِ
فلعنةُ ربنا اعداد رملٍ — علی من جاء بالقول الفضولِ

فاعنی من یقدم قول غیرٍ — علی فعلٍ وقولٍ للرّسول
برأیٍ اوعقلٍ اوهواه — خلافاً للنصوص والنقول
فمنهم من یسوی بالنبی — اماماً فی الاطاعة والقبول
و منهم من یلمز اهل علمٍ — من اهل المجتهدیناً باالجهول
کذا تقلیدهم من غیرعلم — کمثل ثورٍ والبقر الاذلول
فواسفاً علی الحسّاد نفساً — وعدوّامثل اصحاب النزول
نعوذبربنا من هؤلاء — شراراً کاالاذبة والنحول

دارنکہ یوسالک وانی

خذوا التقلید یا اهل العقول — شفاءٌ مستدیمٌ للسئول
تقلید مذهب النعمان دواماً — فهذا شرح اقوال الرّسول
عناًابی حنیفة داء جهلٍ — تجنّب من عنیدٍ اوجهول
تغرّف من بحارٍ خبیرٍ دهرٍ — امام بارعٍ ثقة عدولٍ
فرحمة ربّنا ربّ کریم — علی من شدّاربعة الاصول
کتابٌ والحدیث ضیاء دهرٍ — لنشر النّورمن غیر الافول
کذا الاجماع رابعها قیاس — فهذا الکلّ یکفی للوصول۔
فطوبیٰ للمقلد فی وصول — الی المقصود کاالجمل الذلول
دلائل عندنامستشرقاتٌ — تقلّدفی الفروع مع الدلیل
فواسفاًعلی مَنْ عابَ شیئاً — ولم ینظر الیٰ غررالنقول
فلعنة ربّنالعناً بلیغاً — علی ارباب شرٍّ مستطیل
الهی نوّرِ الأحناف طرًّا — ملیکی ملجئی مولی القبول

(الٰهًا وَّاحِدًا) ایت ۱۳۳ منصوب بناء بر بدلیت یا حال ،

(حنیفًا) ایت ۱۳۵ ،ای مائلا من الادیان الباطلة الی دین الحق،

(من المشرکین) ایت ۱۳۵ ،ابراهیمؑ مشرك نه وو ،مودودی تفهیمات کښی

ولیکل چه ابراهیمؑ ستوروته سجده کړی وه،

(بمثل ما) ایت ۱۳۷ دلته "باء" زائده ده کوم خلق چه مبغضین دصحابؤ دی

نوهغوی "مثل" زائدوائی اوباء زائده نه وائی خومونږ وایوچه "مثل" اسم دا

زائدبوائی او "باء" چه حرف دے هغه زائدنه بوائی،

نو ،دال میں کچھ کالا کالا ہے ابن الانباری هم "باء" زائده بوائی (اوخوك چه مثل

زائد بوائی په دی سره صحابه معیارحق جوړېږی اوچه "باء" زائده کړے

نوبیا صحابه معیارحق نه ګرځی) داخلق صحابؤ تنقیص کوی لکه مجددالف

ثانیؒ وائی اګرعثمان مطعون شود،شطره دین ګرځی دا رنګه مجموعة الفتاویٰ ۵۳/۳

کښی لیکی (من طعن فی احد من الخلفاء فهواضلّ من حمار اهله) کورلی

خرنه هم بدتر دے دارنګه المسامره، ۲۱۳ کښی وائی واعتقاداهل السنة

والجماعة تزکیة الصحابة وجوباً باثبات العدالة لکلّ منهم والکف عن الطعن

فیهم والثناء علیهم کما ثناه علیهم ﷺ دارنګه ابو المنتهی ۲۷ کښی وائی،

(لانذکراحدًا من الاصحاب الابخیر)

(فسیکفیکهم الله) ایت ۱۳۷ ،ای فسیکفی لهم منك الله،

(صبغة الله) ایت ۱۳۸ ،البیان کښی ابن الانباریؒ معنیٰ کوی صبغة الله ،

ای الزموادین الله،ذادالمسیرهم دامعنیٰ کوی،

(من الله صبغةً) ایت ۱۳۸ دارنګه سورة النسآء ایت ۱۲۵ ،

(أتحاجوننا) ایت ۱۳۹ دالله په دین کښې، جهګړه کوی ایضاًسورة المائدة ایت ۵۱ سورة المومن ایت ۲۸ سورة الحج ایت ۴۰ سورة البروج ایت ۸،

اناسٌ اعرضوا عنّا بلا جرمٍ ولا معنًا

فان کانوا قد استغنا فنحنُ عنهم مغنیٌّ

مونږ خه ګناه کړې ده ...... اکبروائی

رقیبوں نے رپٹ لکھوائی جا جا کے تھانے میں

کہ اکبر یاد کرتا ہے خدا کو اس زمانے میں

مونږ بل چاته سرنه ټیټوو

مجھ سے بجز خدا کسی کے حضور میں اٹھا ہو سر نیاز جھکایا نہ جائے گا

دا رنګه شاعروائی،

در درو و غم نگر و دم حول القبر والحجر ز یرا کی درد و بار اجائی دعا جا یکی است

دا رنګه سورة المائدة ایت ۵۹ سورة اعراف ایت ۱۲۴، ۱۲۵، ۱۲۶،

دا رنګه سورة الحج ایت ۴۰ سورة المؤمن ایت ۲۸ سورة البروج ایت ۸،

(ونحن له مخلصون) ایت ۱۳۹ درې جملې ئې اوورې،

(۱) ونحن له مسلمون (۲) ونحن له مخلصون (۳) ونحن له عابدون

دا درې واړه یو ځای کړے، تو اول چه الله ته ډغاړه نه وی یخے نو بیا صحیح نه ده بیا که غاړه کېږدې خو د غیرالله عبادت کوی بیا صحیح نه ده او که عبادت دالله کوی خو اخلاص در کښې نه وی بیا صحیح نه دے،

(سیقول السفهاء) ایت ۱۴۲، اتم اعتراض نبیؐ چه کله ۱۶ میاشتے بیت المقدس ته مونځ وکړو بیا الله حکم سره بیت الله ته مخ کړونو، هغوی به

اعتراض کول چه ستاخپل دین کښې شك دے دهغه دوه جوابونه،

(۱) ــــ يو (قل لله المشرق المغرب) دالله اختيار دے ،

(۲) ــــ دوئيم (يهدى من يشآء الىٰ صراط مستقيم) هرڅه الله اختيار کښې دی

په تحويل القبله کښې حكمت اولمْ څه وو،

(۱) ــــ يو داوو چه عبادت په اصل کښې دعزت اوتعظيم ځايونو ته دے ورله

بيا به بيت الله ته دبيت المقدس نه دتحويل حكم نه راتلو ،خواصل عبادت

دالله دے او الله چه کوم طرف ته حكم وى هغه طرف ته مخ واروه ،

(۲) ــــ دوئيم داچه خپل اختيار دپيغمبر نيشته،

(۳) ــــ دريم داچه سړے يوشى عادت وګرځوى نوهغه کارنه راګرځول

بياخلاف عادت شي اوخلاف عادت کارکول امتحان دپاره دى ،

نودى کښې هم امتحان چه څوك متبع دپيغمبر دے څوك نه دے اوګوره دلته

سفهاء ورته والى نوم نه ذكر كوى داځكه چه پيغمبر باند اعتراضونه كوى

هغه بے وقوفه دى،

(وَسطًا) ايت ۱٤۳ ،اى عدلاً وخياراً (تسهيل)

يو شاعر والى

هم وسطٌ يرضى الانامُ بحكمهم   اذانزلت احدى الليالى بمعظم،

صحابه دى وخت کښې دى آيت مخاطبين وو دارنګه الكفايه کښې خطيب

ذكر كوى واستدل به المحدثون علىٰ عدالة الصحابة خومودودى والى

دوئى عادلان وو خو په اصولو دروايت کښې وايه جرح خو په دين کښې کیږی

بل څه، کښې خوله کیږی اوجرح مخامخ کیږی وروسته نه غيبت دے

(ویکون الرّسول علیهم شهیدا) ایت ۱۴۳ دارنګه سورة النسآء ایت ۱ ٤ سورة الحج ایت ۷۸ کښي هم نبي په څنګه ګواهي کوي نوهغه سورة المائدة ایت ۱۱۱ دعیسیٰؑ په شان به ګواهي کوي لکه روایت دعبدالله بن مسعودؓ کښي راځي چه نبيﷺ ورته دتلاوت حکم وکړو نو هغه سورة نسآء شروع کړو او آیت ۱ ٤ ته ورسیدو نبيﷺ ورته اووې زه به عیسیٰؑ پشان ګواهي کوم

(من یتبع الرّسول) ایت ۱۴۳ دا (تحویل القبله) کارخو داسې څکه کول چه ملګري معلوم شي کوم تابعدار دی نبيﷺ وائي (من اطاع الامیر فقد اطاعنی ومن عصی الامیر فقد عصانی) بل حدیث کښي راځي (اسمعوا واطیعوا ولو کان عبداً حبشیاً) سمع او طاعت وکړي بل ځائي وائي (من رای من امیره شیئا یکرهه فلیصبر) دا رنګه بل حدیث کښي راځي (من خرج من الطّاعة وفارق الجماعة فمات مات میتة جاهلیة) امیر چه وائي او به مه څکه نو هغه به نه څکي لکه طالوت ورته وائي،

(لیضیع ایمانکم) ایت ۱۴۳ دفعه د شبهې چه مونږ ۱۶ میاشتې مونځ وکړه نو هغه ضائع شو نه دي ضائع،

(قد نری) ایت ۱۴۴ دا ځائي باعتبار دمفهوم مشکل دې مفسرینؒ وائي حدیث کښي راځي چه نبيﷺ په مانځه کښي بره بره کتل چه کله به م الله پخواني قبلې ته واړوي نو آیتونه راغلو (قد نری تقلب) مونږ وایو تیهن ده حدیث څپل ځائي پاندي خو دلته وائي "ترضٰها" آئینده کښي به ته داخوښه کړې زمانه مستقبل ته اشاره ده او حدیث کښي راځي چه دوخت نه خوشحاله وو نو دی څه مطلب شو جواب اصل خبره داده چه حالتونه دوه دي اول حالت کښي نبيﷺ

بره کتل چه الله به کله حکم کوی او دی ذکر حدیث کښې راغلے دے ،

دویم حالت دا وو چه کله نبی ۱۶ میاشتے بیت المقدس ته مونځ وکړو نو عادت شو او په دی زمانه کښې یهود هم مسلمانان شول نو دی آخری حالت کښې نبیؐ بیت المقدس ته په مونځ خوشحاله وو دی وجې نه یهود مسلمان شوی دی نو بیا به زمادشمنان شی نو اوس خبره صحیح شوی او دا آیت (ترضها) معنیٰ مضارع باندی شو ،او هر چه لفظ " تقلب"په معنی د آوړیدو ر آوړیدو نه دے بلکه پریشانی دے لکه سورة النور ایت ۳۷ کښې دے او دا پریشانی دیهود د اعتراضاتو د وجې نه وه

(شطر المسجد الحرام) ایت ۱٤٤ (طرف د مسجد حرام ته)شطر وائی طرف ته او طرفونه څلور دی(۱)مشرق(۲)مغرب(۳)جنوب(٤)شمال،

اوس دلته وائی چه مسجد حرام "طرف"ته مخ کړی خصوصاً مسجد حرام ته مخ کول ضروری نه دے نو که مسجد حرام مغرب طرف ته وی نو مغرب ته مخ کول ضروری دی ځکه چه "شطر المسجد "وائی (وجوهکم المسجد) نه وائی بعض خلق وائی (غیر مقلیدین) راغلل نو خپلو مونځونه ،آذانونه، اقامتونه ،جماعتونه ،محرابونه ،هر څه ئے ګډوډ کړل ،مونږ وایو چه خانه کعبه خپل مغرب طرف ته ده نو مغرب ته مخ کول ضروری دی مغرب ته مخ کول قبلے ته مخ کول دی او غیر مقلّدین وائی چه نه مغرب ته نه بلکه مغرب ته چه طرف و در ېږه،

مونږ (احنافو) سره قرآن ، حدیث ،اجماع اُمت ،عقل سلیم څلور واړو نه دلائل شته،

(۱) د قرآن نه (فولوا وجوهکم شطر المسجد الحرام) دلته شطر ذکر کوی صرف المسجد نه دے ویلے

(۲) د حدیث نه د ابو هریرةؓ روایت ترمذی او ابن ماجه نقل کړے دہ، (مابین المشرق والمغرب قبلة) او ترمذی وائی هذا حدیث حسنٌ صحیح نو اس نبیؐ وائی چه مشرق او مغرب مینځ، کښی قبله ده تو چه مخ کړے نو شاه به د مشرق نه راشی او که په طرف او ترس اُودریدے نو بیا د شانه راځی

(۳) د اجماع اُمت نه صحابهؓ و مسجد قُباء کښی مونځ کول چه حکم د تحویل الی القبلة راغلو یرل تاؤ شو او المسامره صفحه وائی فاستداروا فی الصلوٰة من غیر طلب دلالة،

(٤) عقل سلیم نه عقل هم وائی چه طرف ضروری دے ځکه چه د بیتُ الله د یوال ته شپارس ۱٦ کسان مخامخ راځی نو تا پسے دوه۲ سوه کسان ولاړ دی نو شپارس ۱٦ مونځ خو صحیح شو خو د نورو دوه پاره ځه کوے بیا د نورو مونځ نه نه کیږی،

(یَعْرِفُوْنَهٗ) ایت ۱٤٦ ای یعرفون حقانیة القرآن او حقانیة محمدؐ او تحویل القبلة،

(فَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِيْنَ) ایت ۱٤۷ ،اشکال پیغمبر ولے شك کول جواب د خطاب د قسم د کنایے نه ده لکه پښتو متل دے لورے تاته وایم نګورے ته نے اوره،

(وَلِكُلٍّ) ایت ۱٤۸ تنوین عوض د مضاف الیه نه دے ای لکل قوم

(لِئَلَّا يَكُوْنَ) ایت ۱۵۰ د امتعلق محذوف پورے دے او محذوف فعلنا ذالك

لئلایکون الخ

(حُجَّةٌ) ایت ۱۵۰ (بهانه) داځکه وائی چه دوئی (یهودو) ته تورات کښې راغلي وو چه یو پیغمبر به راځي اول به بیت المقدس ته مونځ کوی بیا به وروسته بیت الله ته کوی،

(اِلَّا الَّذِیْنَ) ایت ۱۵۰ استثناء منقطع په معنیٰ دلکنّ ده او استثناء منقطع ځان له مبتداء خبر وی نو عبارت داشان دے لکنّ الّذین ظلموا منهم یحتجّون بالباطل من الحُجج،

(کَمَا) ایت ۱۵۱ داپه ځائی دنصب کښې صفت دپاره دمصدر محذوفه څوك وائی اتمّ اِتمَامًا کأتمام رسالتنافیکم څوك وائی تهتدون هدایة کما أرسلنا او څوك وائی اُذکرونی ذکراً کماأ رسلنا،

(فَاذْکُرُوْنِیْ) ایت ۱۵۲ داآیت مطلب دادے چه موږ که الله یادنه کړو نو مونږ به ترې هیرو ونه بلکه یوه معنیٰ داده فاذکرونی بالطّاعة أذکرکم بالمغفرة یافاذکرونی بالشکر أذکرکم بالنّعم لکه سورة الابراهیم ایت ۷، او دالله شکر دالله طاعة دے لکه سورة المائدة ایت ٦٦ دارنګه توکلّ په الله لکه حدیث راځي، کښې (لوأنکم تتوکّلون علی الله حقّ توکّلٍ لرزقکم کما ترزق الطّیرُ تغدُوا خماصاً وتروحُ بطانةً) صباؤ کی، ځیته وی،

(یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا) ایت ۱۵۳ ربط هر کله اعتراضونه کیدلنو نو دادیر ګران کارو و نو دی ځائی نه امورمصلحه للتثبّت ذکر کړی چه زړه مه تنګوه که مرګ دربالدی راغلو هیڅ خبره نه ده بے ځایه مرنه نے،

(وَلَاتَقُوْلُوْا) ایت ۱۵٤ دی ایت کښې وائی چه تاسو ورته مړه مه وائی بلکه

ژوندي دي او سورة النحل ایت ۲۰ کښې والي (أموات غیرُ احیاء) مړه دي ژوندي نه دي، دفع دتعارض داده چه سورة البقرة کښې اموات معنی ده چه عبث مړه وګڼه مه والي اوپه ژوند برزخي ژوندي دي او سورة النحل کښې والي ژوندي نه دي یعني په حیاة دنیوي سره او که نه والي حیاة دنیوي دلته مرادده نو سورة آلعمران ایت ۱٦۹ کښې والي (عند ربهم یُرزقون) رزق ور کولے شي که ژوند دنیاوي منے نو رزق هم دنیاوي اُومنه او چه رزق دنیاوي شي نو دي سره قضاءِ حاجت لازم دے نو بیا قضاء حاجت چرته کوي خو رزق اُخروي منے او حیاة دنیوي منے او ګوره سورة البقرة کښې والي، (ولکن لاتشعرون) او سورة النحل کښې (لایشعرون) والي چه تاسو هم نه پوهیږئ دوئي په ژوند او دوئي خپله هم نه پوهیږي، المسامره ۲۰۰ کښې والي البرزخ لایقاس علیها من امور الدنیاء دارنګه البدائع والصنائع آخري صفحه کښې والي (فأمّافي أحکام الدّنیا فالشّهید میّتٌ یقسم ماله وتنکح امرأته بعد انقضاء العدّة دوئي والي حیات الانبیاء تاریخ صغیر کښې امام بخاري گڼر روایات ذکر کوي یو روایت کښې راځي مات رسول الله ﷺ وهو ابن ثلاث وستین بل کښې راځي توفيّ رسول الله ﷺ وهو ابن ثلاث وستین بل کښې راځي قبض رسول الله ﷺ وهو ابن ثلاث وستین،

مختلف روایات راوړي په حیاة الانبیاء پوهیږي نه دوئي والي تاسو حیاة الانبیاء نه منئ ورته وایه حیاة نه مُراد حیاة دُنیا دے که دبرزخ که دُنیاوي نو نه منم او که برزخ وي نو پیغمبر خو پریږده دَبرزخ ژوند مونږ دکافرو هم منُو خو دوئي هر څه ګډوډ کړي دي تا چه دحیات قائل یے نو دي

آیتونو سره ئې کوي (اِنَّكَ مَيِّتٌ وَاِنَّهُمْ مَيِّتُوْنَ ثُمَّ اِنَّكُمْ بَعْدَ ذٰلِكَ لَمَيِّتُوْنَ)

دارنګه برا هیم علیه السلام وائی (ثُمَّ يُمِيْتُنِيْ ثُمَّ يُحْيِيْنِ)دارنګه الله وائی

(رَبَّنَا اَمَتَّنَا اثنتين و احييتنا اثنتين)دارنګه(كيف تكفرون بالله و كنتم امواتاً)

دارنګه پیغمبر ته (واعبد ربك حتیٰ يأتيك اليقين)او دوني وائی چه قبر کښې

ئې تلاوت کول مونځ کول نو دا اعمال مشګل کیږی لکه څرنګه وینه یو کښې

مشګل کیږی ورنه صحیح حدیث دے (اذامات ابن آدم انقطع عمله)

(وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ) ایت ۱۵۵ دلته څو اشیاء ذکر کوی ،

(۱)......الخوف یره وی به دچه مرنے کړی

(۲)...... والجوع ،لوږه به راځی

(۳)...... ونقص مّن الاموال ،مالونه به د نیلام کړم ،

(٤)...... والأنفس ،ځانن او ملګری به دړله مړوی،

(۵)...... والثمرات ،باغونه به درته ویجاړ اوی،

نو هفته کښې اووه ،۷ ورځې دی پنځهٔ ورځې امتحان دوره ،۲ ورځې خوشحالی

ده کلك شه صبر او کړل الله دری ۳ خبرے ذکر کوی چاچه امتحان ت بهٔ ځان

برداشت کړهٔ ،

(۱)......(اولٰئك عليهم صلوٰتٌ مّن ربّهم)شاباشی دطرف دالله نه،

(۲)......(واولٰئك هم المهتدون)په سمه لاردي ،

(۳)......(ورحمةٌ)مهربانی ذالله ،

(اِنَّ الصَّفَا) ایت ۱۵۸ نهم ۹ ،اعتراض تهٔ مونږ ذدر ګاهُونونه منع کوے او پهٔ

خپله صفاء مروه مینځ کښې طواف کوے دائی څکه وائیل چه هلته دوه ،۲

بُتان وو،(۱)آساف(۲)نائله ،آساف په صفاباندی وو،نائله په مروه،اګرچه
دی وخت موجودنۀ وو دااعتراض اس هم کیږی دپیغمبرجواب داوو،
(انّ الصّفاء والمروة)یعنی ماته الله پۀ دی حکم کړے دے اوتاته چاوئیلی دی
(فَلَا جُنَاحَ) ایت۱۵۸ دګناه نفی څکه کوی چه عربوداګمان ووچه داسعی
ګناه ده نودی سره ردّ دمازعمۂ العرب کوی،
(اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْتُمُوْنَ) ایت۱۵۹ ربط مخ کښی اعتراضونه ذکر شُونوتابائد
چه اعتراضونه کوی نوداسے نۀ وی چه حق پټ کړے چه بس فلانی مسئله
نشم بیانولے خلق اعتراض کوی داعتراضاتو لاسه مسئله پټ نۀ کړے ورله
دقعے واوره،
(اللّٰعنون) ایت۱۵۹ متفقه لعنتی داچه روان وی پۀ سډه چه تکبیر اولی م
فوت کیږی ،اوهلته پۀ عتِ لعنتی پسے نیت وکړی نووائی نیّت م کړے دے د
ملعون الله پسے الله اکبر دامبتدع لعنتی دے ابن عمرؓ آخردور کښی ړوند
شونوبوه ورځ مسجد ته لاړوهلته تثویب کیدوملګرته وائی (اُخْرُجْ بنا من
عند هذا المبتدع)دارنګه نبیؐ وائی(اذا رأیت مبتدعاً فی طریق فخذطریقاً
آخر)بل راویت کښی راځی مَنْ وقّر صاحب بدعةٍ فقد أعان علی هدم الاسلام
(اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا)ایت ۱۶۰ دلته د مُلا دتوبے درے۳شرطونه بیانوی،
(۱)توبه رجوع الی الله(۲)عمل،بۀ آینده پۀ سنت طریقه باندی کوی،
اعلان بۀ کوی چه داکارما کړے دے دی دپاره چه ګمراهان راوګرځی
اوداپۀ ۔۱،اِلَّا الَّذِين تابوا۔۲،واصلحوا۔۳،وبینوا سره بیانوی،
دامی،دتوبے شرطونه هم قرآن کریم بیانوی په سورة آلعمران ایت۸۹

کښی ذوه ۲ (۱)توبه(۲)اصلاح عمل ،دمنافق،دتوبی دپاره هم څلور ٤ شرطونه بیانوی په سورة النساء ایت ۱٤٦ کښی(۱)توبه (۲)اصلاح عمل (۳)اعتصام بکتاب الله(٤)اخلاص قلب، -

(وَاِلٰهُكُمْ) ایت ۱٦۳ دلته نه دویمے اودریمے حصّے میښ،کښی پامسئله دتوحیدراوړه په ترقی سره ماسبقه نه مخ کښی وئیل(یٰاَیُّهَاالنَّاس)ایت ۲۱ کښی دلته وائی (الٰهکم الله واحدٌ)مخ کښی سورة البقرة ایت ۲۲،۲۱ کښی پنځه دلائل وویئ دعوے دتوحید دلته اته۸دلائل،

(۱)......اِنَّ فی خلق السّمٰوٰت والارض،

(۲)......واختلاف الّیل والنّهار،

(۳)......والفلك التی تجری فی البحر،

(٤)......وماانزل الله من السّمآء من ماءٍ،

(٥)......فاحیاء به الارض بعد موتها،

(٦)......وبث فیها من کلّ دابّة،

(۷)......وتصریف الرّیٰح،

(۸)......والسحاب المسخّربین السّمآء والارض،

مخ کښی سورة البقرة ایت ۲۳،۲۲ کښی ثمره ددلائلو بیان وه دلته هم ثمره ددلائلو (ومن النّاس من یتخذ من دون الله)ایت ۱٦٥ بیا جدال العابدین مع المعبودین په ایت ۱٦۷ کښی اوزجر باستدلال الباطل په (واذاقیل لهم اتبعوا الخ)ایت ۱۷۰ کښی مسئله هغه ده څورنګ ورته بدلوی،

به هر رنګی که خواهی جامه می پوشی من انداز قدت را میشناسم

اوهلته تخويف ورکان لم تفعلوا سره دلته هم تخويف دے (ادبرون العذاب الخ سرو)

(انّ في خلق السّمٰوٰت وَالاَرض) ايت ١٦٤ علامه اقبال ددى دلائلو نقشه باب جبرائيل کښى پيش کوى۔

يالتاہے بیج کومٹی کے تاریکیوں میں کون کون دریاؤں کے موجوں سے اُٹھاتا ہے سحاب
کون لایا کھینچ کر پچھم سے بادِ سازگار خاک یہ کس کا ہے نورِ آفتاب
کس نے بھر دی موتیوں سے خوشۂ گندم کی جیب موسموں کو کس نے سکھلائی ہے خوئے انقلاب
وہ خدایا یہ زمین تیری نہیں تیری نہیں تیری آباء کے نہیں تیری نہیں میری نہیں

(اَنْدَادًا) ايت ١٦٥ ،انداد جمع دندّ مثل ته وائى حضرت حسانؓ وائى
اتهجوه محمداً ولست له بندّ (مثل) فشرّ كما لخير كما فداءُ

(يُحِبُّوْنَهُمْ) ايت ١٦٥ ،اشكال راځى چه كافرهم بت سره خدائى پشان مينه نه ده كړى، دااصل كښى لكه څرنګه دوئى الله په نوم نذرور كول دارنګه ئى بتانو په نوم هم ور كول همديته تسويه في الحبّ وائى اوقيامت كښى به اقرار بيا كوى لكه سورة الشعرآء ايت ٩٧ سورة الانعام ايت ١٣٦ ،

(اَشَدُّ حُبًّا لِّلّٰهِ) ايت ١٦٥ ـ ١ من المشركين مع الله ـ ٢ ،اواشدّ حُبّاً للّٰه مِن محبّة المشركين مع المعبودين؛

(وَلَوْيَرَى الَّذِيْنَ) ايت ١٦٥ دى ځائى كښى اَته توجيهات جوړيږى په اعتبار د تركيب نحوى سره او داداسے جوړيږى چه دلته لَوْ ياشرطيه داخله ياتمنائيه اوبيا يرى كښى كوم رُؤيت دے ياترے ـ ١ مرادرُؤيت قلبى دے ـ ٢ يارُؤيت بَصرى ده اوّل يرى به معنىٰ پوهے سره راځى،دويم به معنىٰ دكتو راځى

او یا رُؤیت بصری سره هم لوشرطیه او تمنائیه او رُؤیت قلبی سره هم لوشرطیه او تمنائیه تو یو ټل څلور ٤ صورتونه شول ، خو یو خبره دا هم ده چه لوشرطیه دپاره به جزاء راوړے او هغه ذلته محذوفه ده (لما فعلوا الشرك) اولو تمنائیه دپاره جزاء نه وی دویمه خبره داچه رُؤیت بصری یو مفعول غواړی او هغه ورته (انّ القوة لله جمیعاً) ته له جمله معطوف علیه او ان الله شدید العذاب ، معطوف ، معطوف سره دمعطوف علیه دا ټول یا مفعول جوړیږی او رُؤیت قلبی دوه ، ۲ مفعوله غواړی نو هغه ته یو مفعول به قائمقام د دوو ۲ ګرځوے دریمه خبره داچه وروسته اذ یرون العذاب ظرف راځی دا ظرف به یامبدل منه او بدل ترے نه وروسته (اذتبرّاء الّذین اتّبعوا) اخلے یا به ئے فقط ظرف اخلے که اول صورت وی نو دیته یا مجموعة تخویف اُخروی وائی او که دویم صورت وی نو بیا (وَلَوْ یَرَی الَّذِیْنَ) دا تخویف دُنیوی او (اِذْ تبرّاً) دا ځان ته کلام تخویف اُخروی جوړیږی دادوه ، ۲ صورتونه مخ کښی ، څلور ٤ صورتونه کښی ضرب سره لګی نو اته ۸ صورتونه او توجیهات شُو خلاصهٔ د کلام داده چه

(۱) لوشرطیه رؤیت نه مراد رؤیت قلبی (اِذْیَرَوْنَ) ظرف مبدل منه اذتبرّا ترے نه بدل (ان القوة الخ مفعول قائم مقام مفعولین او اَنَّ الله شدّیدالعذاب نه وروسته (لَمافعلُوا الشّرْكَ) جز المحذوفه او دا مجموعهٔ تخویف اُخروی ،

(۲) لوشرطیه رؤیت نه رُؤیتِ قلبی او (اِذْیَرَوْنَ) فقط ظرف او وروسته (اِذْتبرّاً) ځان ته کلام پوره توجیه اوّل پشان نو اول تخویف دُنیوی دویم تخویف اُخروی ،

(۳) لوشرطیه رؤیت نه مراد رؤیت بصری او (اذیرون) ظرف مبدل منه (اذتبرا) دا ئې بدل مجموعهٔ تخویف اخروی او ان القوة لله الخ دا مفعول او جزاء محذوفه.

(٤) لوشرطیه رؤیت نه مراد رؤیت بصری او (اذیرون) فقط ظرف او وروسته (اذتبرا) خان ته کلام نوره توجیه اوّل پشان نو اوّل (ولویر الذین) تخویف دنیوی دویم (اذتبرا) نه مراد تخویف اخروی، دغه شان ځلورو ٤ توجیهاتو سره لوشرطیه په ځائی دلو تمنائیه واخله خو آخر کښی جزاء محذوف مه راو باسه (تدبر ثم تفکر)

۷ــــ مخکښی مباهله ود دیهودو سره په ایت ۹٤ کښی نو دی سورة کښی مباهله دنصاراؤ سره په ایت ٦١ کښی،

۸ــــ مخکښی ایت ۷٦ کښی اووے (واذالقوا الّذین امنوا قالوا امنا) نو دی سورة ایت ۷۳ کښی راتی (ولاتؤمنوا الّالمن تبع دینکم) تفصیل دهغه کوی،

۹ ـــ محکمبی (وقالو اتخذالله) ایت ۱۱٦ له پنځه جوابونه کړی وونودی ـــ کښی پنځه اقوال دبزرگانو ذکر کوی،

۱۰ ـــ محکمبی اهانة الدنیاذکر کړه نودی سورة کښی وجوه داهانة الدنیاذکر کوی په ایت ۱٤ کښی (زین للناس) سره،

۱۱ ـــ محکمبی قوانین دملك او کور داصلاح دپاره ذکر کړه نودی سورة کښی دجماعت داصلاح دپاره ذکر کوی،

۱۲ ـــ محکمبی ایت ۱٥۱ کښی دنبی مقصدبعثت تعلیم الکتاب وسودل نودی سورة ایت ۱٦٤ کښی هم داذکر کوی،

۱۳ ـــ محکمبی سورة شروع په الٓمٓ وو داسورة هم شروع په الٓمٓ دے،

۱٤ ـــ محکمبی سورة آخر کښی اووے (فانصرناعلی) نو امدادبه هله کوی چه دا مسئله زړه سره اومنے الله لااله الاّهو،

۱٥ ـــ محکمبی آخر کښی اووے (فانصرناعلی القوم الکٰفرین) نو ځه دپاره کافر خلاف زمونږ مددو کړے داعلاء دکلمة الله (الله لااله الاهو) دپاره،

۱٦ ـــ محکمبی سورة هم اختتام په دعادے ددے سورة هم اختتام په دعا کوی

امتیازات السورة آلعمران

(۱) ـــ داسورة ممتازدے په ردّ داصولو دنصرانیت باندی،

(۲) ـــ دارنگه داسورة ممتازدے په پنځو اقوالو دبزرگانو باندی،

(۳) ـــ دارنگه داسورة ممتازدے په ۱۸ ایت باندی،

(٤) ـــ دارنگه داسورة ممتازدے په ذکر دشأن صحابهؓ باندی،

(۵) دا رنګه دا سورة ممتاز دی په رد د شبهې د انصارا ؤ چه هغه داوه چه عیسی ابن الله دے،

(٦) دا رنګه دا سورة ممتاز دے په مباهله د نصاراؤ سره،

(٧) دا رنګه دا سورة ممتاز دے په اهانة الدنیا بالوجوه السبعة په ایت ۱٤ کښې،

(٨) دا رنګه دا سورة ممتاز دے په بیان د هغه وعدے چه علماء نه یئے آخیستی وه په ایت ۱۸۷،

(٩) دا رنګه دا سورة ممتاز دے په بیان د عیسیٰ کښې چه دولی ورله مکر جوړ کړے وو

(۱۰) دا رنګه دا سورة ممتاز دے په بیان د هغه وعدے چه انبیاؤ نه آخستی وه په ایت ۸۱،

(۱۱) دا رنګه دا سورة ممتاز دے په بیان د شرائطو د توبے دامی باندی،

(۱۲) دا رنګه دا سورة ممتاز دے په بیان د آلعمران باندی،

(۱۳) دا رنګه دا سورة ممتاز دے په اصولو د تنظیم باندی،

(۱٤) دا رنګه دا سورة ممتاز دے په واقعے د جنګ بدر باندی،

(۱۵) دا رنګه دا سورة ممتاز دے په درے دبریش نکتو د عبدیت د عیسیٰ باندی او مریم باندی،

(۱٦) دا رنګه دا سورة ممتاز دے په بیان د لسو صفاتو د منافقینو په ایت ۱۱۸، ۱۱۹ کښې

(۱۷) دا رنګه دا سورة ممتاز دے په بیان د کارونو د امیر باندی په ایت ۱۵۹ کښې

(۱۸) دا رنګه دا سورة ممتاز دے په ایت ٦٤ آیت باندی چه اهل کتابو ته دعوت ورکوی،

دعوی السورة آلعمران

بیان د مضامین اربعه و بالتفصیل (اثباة التوحید اثباة الرسالة ،جهاد، انفاق)

تقسیم السورة آلعمران

سورة درے حصے دے اوله حصه تر ٦٣ ایت پورے په دی کښی اثباة التوحید دویمه حصه تر ١٠١ پورے په دی کښی اثباة الرسالة او دریمه تر آخره پدی کښی بیان د جهاد او انفاق فی سبیل الله،

اوله حصه په اعتبار د مضمون درے بابه ده اول باب تر ١٧ ایت پورے پدیکښی شپږ خبرے (١) مسئله التوحید او په هغه ادله ایت ٢

(٢)..... التخویف په ایت ٤

(٣)..... دفع دشبهے په ایت ٧،

(٤)..... تعلیم الدعاء للمؤمنین عند ورود الشبهات المشرکین په ایت ٨،

(٥)..... مال او دولت د دنیاء مدافعت نه شی کولے د عذاب په ایت ١٠

(٦)..... التذهید من الدنیا و الترغیب الی الآخرة په ایت ١٤ کښی،

دویم باب ترایت ٢٥ پورے او دریم باب ترایت ٦٣ پورے هریو باب کښی شپږ خبرے په هغه کښی اول مسئله د توحید بیانوی،

رد اصول د نصرانیت،

یو کالے د زه انگریزان مسلمانان شوی و و نو د لته (پنج پیر) ته راغلی وو، دورۀ تفسیر ته او هغوئی نه یو ماسره بیاسر کی کښی طالب وو او بیا د لته نه دارالعلوم دیوبند ته لار و او فارغ شوے وو بیا دوباره دلته راغلے وو او وروسته بیامدینے یونیورستی کښی استاذهم وو ماته ئی خطونه رالیږل اوس پته نه لګی

چه ژوندیے به وی یا مړ او دویم هغه بیافارغ شوے دے اوس هم پاکستان کښې دے بی بی سی نمانده دے دیوے نوم جان محمدایښی و و دبل نوم عبدالهادی دو اړه پښتږ زده کړی وه هغوئی کله چه سورة البقرة ختمه شوه نوشیخ القرآنؒ سره ماسخوتن ناست وو چه جی تاخوشرک ډیرخانسته ردو کړو خولیکن مونږ چه کوم مقصودرد دنصرانیت دے هغه داونه کړه شیخ القرآنؒ ورته اووے چه دلته دهغه ضرورت نشته آخر داچه شیخ القرآنؒ ورته اووے چه صبا به رد دنصرانیت و کړم نوصباباندی رد داصولو دنصرانیت بئے ذکر او بیالی نه دے کړے دااصول نږ دی چه په دی دنصاراؤدین روان دے

(۱)……چه زمونږ دین کامل دے نو بل دین ته زمونږ ضرورت نشته نوهغه جواب ورکوی په ایت ۱۹ کښې،

(۲)……چه تثلیث عقلاًنقلاً ثابت دے هغوئی وئیل چه اللّه عیسیٰؑ ته ابن وئیل دی، او مریم دهغه بی بی ده دهغه جواب په ایت ۵۱ چه عیسیٰ خپله عبدیت اقرار کوی دارنګه عیسیٰ اللّه ته پلارنه وائی رب وائی،

(۳)……چه کتب الٰهیه زمونږ توثیق کوی مونږ وایو تهیك ده خوکتب الٰهیه کښې کومه مسئله ذکر کوی هغه تاسو نه منئ داجواب په ایت ٦٤ ایت کښې،

(٤)……چه مونږ محمدﷺ ته پیغمبروایو خوداپیغمبرللعرب دے لوددی جواب په ایت ۸۱ کښې،

(٥)……چه مونږ مؤحدین یو دهغه جواب چه ستاسو مؤحدین نه یئی خکه چه تاسو تثلیث قائل ئی،

(٦)……دوئی وائی عیسیٰ ټولے دنیاته پیغمبرراغلے دے نو ددی جواب په ایت ٤٩

کبنی چه هغه پیغمبر دپاره دنبی اسرائیلو دے نه مونږ دپاره،

دنصرانیت په رد کبنی ډیر کتابونه لیکلی شوی دی دروح المعانی نواسی

یو کتاب په رد کبنی لیکلے دے،

دارنگه علامه ابن تیمیهؒ الجواب الصحیح لمن بدلّ دین المسیح بهتر کتاب

لیکلے دے

دارنگه مولانا رحمت الله کیرانویؒ اظهار الحق للخلق لیکلے دے، کله چه

فرنگی دے ملك کبنی تجارت بهانه باندی راغلو نو ملك باندے قبضه و کړه

نو اوّل شاه عبدالعزیزؒ فتوی ورکړه چه دار الحرب دے،

اوس هم انگریز کوشش کوی چه پدے ملك قابض شی الله تعالی دے ترینه

مونږ په امان کړی آمین،

(په دے څائی تاریخ دمولانا رحمت الله کیرانویؒ او پادری فنډر وګوره)

حل مشکلات السورة آلعمران

(لَآاِلٰهَ اِلَّاهُوَ) ایت ۲ دعوی توحید،

۔ ۱ (الحَیّ القیّوم) دلیل عقلی ۔ ۲ (نزّل علیك) دلیل وحی،

۔ ۳ (مصدقاً) دلیل نقلی

(لَآاِلٰهَ اِلّاهو العزیز) ثمر ددلائلو ذکر کوی ،

(اِنّ اللهَ) ایت ۵ ربط مخکښی اووے والله عزیز ذو انتقام نو انتقام به څنګه

آخلی نو هغه تاته پته شته جواب (اِنّ الله لایخفی)

(هُوَ الَّذِیْ) ایت ۶ ربط ماسبقه سره هر کله چې مخکښی اووے چه عالم لکل

شئ هو الله نو دابن دوه معنے وے او يوه معنى دپلے سره مشابهه وی
او مخاطب اشتباه کښې آچوی نو مطلب داچه الله ابن ونیلی دی نو ابن زولی
ته هم وائی او بن محبوب ته هم وای لکه سورة مائده ايت ۱۸ ،
دارنگه جینکو به ویل،
نحن بنات الطارق نمشی على النمارق،دلته معنى دبنات محبوب ده،
او بخاری باب ایکدی دوی بَابٌ فِي يَا بُنَيّ نو هغه کښې روایت دحضرت انسؓ
ذکر کوی چه نبی ورته(بُنَيّ)بچے ئے ورته وئیل ،
(وَاَنْزَلَ التَّوْرٰاةَ)ایت ۳ تورات وائی ضياء ته لکه وائی (انتم منه تورون)
او انجیل خلاصے ته نو داهم خلاصه او جامع شوے کلام دے،
(وَاَنْزَلَ الْفُرْقَانَ)ایت ٤ فرقان قرآن ته ځکه وائی چه دا حق او باطل کښې
فرق راولی یا۔ ۲ فرق مابین دخالق او مخلوق راولی یا۔ ۳ جدا جدا نازل
شوے دے،
(مُحْكَمٰتٌ)ايت ۷ محکمت په دی اعتبار چه بله معنى احتمال نشی کیدلے
(اُمُّ الْكِتٰبِ)ایت ۷ ،اصل دکتاب ورته ځکه وائی (لانه يرجع اليه عنداشتباهه)
(ابن کثیرؒ)
دی وجے نه دعلماؤ کتابونو کښې هم داقاعده ده چه یو کتاب کښې یوه
خبره غلطه وی نو بل کتاب وګوره،
(زَيْغٌ)ايت ۷ کجرے دزاغ يزيغ نه شی نو په معنى دکګوالی ده لکه ابوبکرؓ
وائیل(ان زغت فقوامونی)او کجرے زاغ يزوغ نه شی نو په معنى جويدلو سره دے
(وَالرّٰسِخُوْنَ)ایت ۷ داياځان ته کلام دے یا عطف ماقبل باندے دے،

(لَاتُزِغْ)ایت ۸ دلته نه خلوومه خبره (تعلیم الدعاء للؤمنین عندورود الشبهات المشرکین)چه شبهات راشله نو کنځل مکره بلکه وایه (ربنالاتزغ قلوبنا) اودادعاړباته وایه (ان القلوب بین اصبعی الرحمٰن یقلبها کیف یشآء)دارنګه نبیؐ وائی (یامقلب القلوب ثبت قلبی علی دینك یامصرف القلوب صرف قلبی علی طاعتك)دارنګه نبیؐ وائیل (اللّهم اعنّی علی ذکرك وشکرك وحسن عبادتك (اِنَّكَ اَنْتَ الْوَهَّابُ)ایت ۸ (مباحثه شیخ لقرآنؒ مبتدعون سره په لفظ دوهابی باندی)

(اِنَّ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا)ایت ۱۰ پنځمه خبره مال او دولت مدافعت نشی کولے۔

(یَرَوْنَهُمْ مِثْلَیْهِمْ)ایت ۱۳ ت ۱ ـــ یرون کښې ضمیرراجع مؤمنانوته اوهُمْ ضمیر کافروته راجع ت ۲ ـــ یا یرون کښې ضمیرراجع کافروته اوهم ضمیر راجع مؤمنانوته، نودی نه دامعلومیږی چه یوبل یئے دوچندلیدل اوسورة انفال ۴۴ کښې وائی چه لږلږ ښکاره شول۔

جواب اصل کښې حالات جداجدادی کله مراد ابتداء دفعل وی کله انتهاء دفعل مرادوئے لکه حدیث کښې راځی (امنی جبرائیل حین زالت الشمس) اوبل کښې راځی (امنی جبرائیل حین صارت ظلُّ کل شئی مثلیه)نواول کښې ابتداء دفعل اودویم کښې آخر دفعل مرادوی،

دارنګه دلته هم وجه نه لږلږښکاره کیدل چه یوبل طرف نه زورورے حملے وکړی چه دشمن م لږدے چه زرختم شی،اوددے ذکرسورة انفال ۴۴ کښې دے او کله چه آخر دجنګ شونو یوبل ته دوچندلیدلے شودی دپاره چه دواړو طرف نه زور وکړی اوزورورشی دانګلش یوه مقوله دد،

the first impression is the last impression

چه اوّل رُعب ... آخر رُعب وو ... دی فسٹ ایمپریشن . is

دی لاسٹ ایمپریشن

(زُيِّنَ لِلنَّاسِ) ایت ٤ ، دی ځائی نه شیرمه خبره تلشعید من الدنیا والترغیب الی الآخرة چه کله کلو ته لار شے نو شیطان به درته وسوسه آچوی چه مسئله دتوحید بیان نه کړے ځکه چه بیا خلق لوړونه کوی نو وادهٔ و کړه نو وائی

زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوَاتِ،

(۱)...... مِنَ النِّسَاءِ

(۲)...... دریم والبنین، کله چه واده و کړه نو وائی

(زین للناس حب) نو ځوئ به م مړکړی نو ځوئ به م خځولو نه وی

یا ځوئ به م مړکړی میرات به شم نو وائی چه یوبچی خوپیداشی او چه زوئی

پئے پیداشی بیا وائی اوس دخوراك ضرورت دے نو الله وائی

(۳)...... والقناطیر المقنطرة کم عقله سخه چه کله خامن ئے پیداشی او واره وی نو بیا خاوندپه پلار کوریروی او کله چه خامن ئے غټ شی بیا خاوندپه بچویروی او کله چه بچی ورنه جداشی نو بیاوائی خدائیے دزمادابوډاژوندے ساتی،

(٤)...... من الذهب، دارنګه چه سځه ئے وی نو هغه ورنه دسوئے هارغواړی نو اوس ورته هغه پیدا کوی،

(٥)...... والفضه، بیا وروسته سځه وائی چه اوس فیشن بدل شوے دے دسپینو هاراوس لګی دنیاپه بل طرف واوړیده نو بیاهغه غم کښی شی،

(٦)...... والخیل المسومة، بیا چه داو کړی نو دابه وائی بس مسئله دتوحیدبیانوم

خو کړی ره یو کاڼی چرته راپیدا کوچه ورسره جلسوته خم داچه وشی

بیاوائی،

(۷)......والانعام ،دے وائی جلسے ته راغلم مسئله دتوحیدم بیان کړه خو کوم کښی

سحرچانے سرے وے تو یوغوامیخه پکارده،

(۸)......والحرث، چه غوا واخلی نو واښه لګی، تو بیاپهوته حاجت وی نو اووه اشیاء

اووه ورځے لاړے نو (ذالك متاع الحیوٰة الدنیا)

(وَالْمُسْتَغْفِرِيْنَ بِالْاَسْحَارِ)ایت۱۷ دی خائی باندا اول باب ختم شو،

(شَهِدَاللّٰهُ)ایت۱۸ ددی خائی نه دویم باب دے ترایت ۲۵ پورے په دیکښی

شپږ خبرے،

(۱)......اول دعوی دتوحیدپه هغے ادله بیاثمره دادله ؤ (لااله الاهو)

(۲)......بیاشبهه دنصاراؤ دفعه کوی چه هغونی وے زموږدین کامل دے جواب شو

(انّ الدین عندالله الأسلام)ایت ۱۹،

(۳)......بیاصداقه الرسولؐ (فأن حآجوك فقل اسلمت)ایت ۲۰،

(٤)......بیاخبائث دیهودو (ویقتلون النبین)ایت ۲۱،

(۵)......بیادویم پلتنی دیهودواعراض عن الکتاب ایت ۲۳،

(٦)......بیااثبات القیامة ایت ۲۵ کښی،

(شَهِدَاللّٰهُ)ایت۱۸ شهد په معنی دحکمٔ اعلانٔ وصیتٔ راځی دلته په معنی

دبیان حکم اعلان باندی دے او (شهدالله) دلیل وحی او (والملٰئکة) دلیل نقلی

(قآئمآبالقسط) دادلیل عقلی چه عقل هم په دی ولاړدے،شاه ولی الله حجة

الله البالغه کښی په دی خبره زورلګوی چه داسلام احکام دعقل برابر دی،

دارنګ علامه ابن تیمیه کتاب العقل والنقل اته ۸ جلده لیکلے دے

علامه ابن قیم ددی باره کښی وائی

فاقرأ کتاب العقل والنقل الذی مافی الوجود له نظیر ثانی

(لااله الاهو العزیز) ایت ۱۸ نمبره دادلیل دے

(ان الدین عندالله) ایت ۱۹ کامل دین اسلام دے که ته والے نه دابه کار دے

نو بیا ولرهم په جمع کوه جنازے ته آذان کوه ملاعلی قاری شرح فقه اکبر

۱۱ کښی لیکی (فلانحتاج فی امرالدین الی امر خارج عن الکتاب والسنة)

امام مالک کتاب الاعتصام کښی ذکر کوی (من ابتدع فی الاسلام بدعة یراه

حسنة فقدزعم ان محمدا خان الرسالة فمالم یکن یومئذدینافلایکون الیوم دینا)

حافظ ابن کثیر تفسیر سورة احقاف کښی اهل السنة والجماعة تعریف کوی

(واما اهل السنة والجماعة فیقولون کل قول وفعل لم یثبت عن الصحابة

فهو بدعة لانه لو کان خیرا لسبقونا الیه) دخان نه طریقے جوړے کړی دی.

(بغیابینهم) ایت ۱۹ حرکته دلته ذکر کوی دارنګه سورة البقرة ایت ۹۰

ضداو عناددرجے ته داکوی دارنګه سورة البقرة ایت ۲۱۳ دارنګه سورة

العمران ایت ۱۰۵ سورة الیونس ایت ۹۳ جه دوی به خلاف کوی دارنګه

سورة النحل ایت ۶۴، ۱۲۴، او اختلاف به ضروری مسئله جه بیانوے

او هر حق پرست خلاف تدبیرونه شوی دی لکه سورة انفال ایت ۳۰ سورة

آلعمران ایت ۵۴ سورة الابراهیم ۴۶ سورة النمل ایت ۵۰ سورة الانعام

۱۲۳، او بیا تباه هم هغوئی شوی دی او مکر په کښ قسمه دے دهغوئی خلاف

پروپګینډه استهزاء لکه سورة ص ایت ۵ سورة الهود ایت ۵۴ سورة اعراف

ایت ۷۰.

(ومن اتبعن) ایت ۲۰ (دلیل که چه زما تابعداری دی) دارنگ سورة الیوسف ایت ۱۰۸

(فانما علیك البلغ) ایت ۲۰ (صرف بیان دے) دارنگه سورة مائده ایت ۶۷ چه مسئله دبیان نه کړه نو دسره ملانه لیے.

(یامرون بالقسط) ایت ۲۱ (انبیاء صرف دا گناه وه چه حق مسئله یې بیانوله خلکه اکبر وائی.

رقیبوں نے رپٹ لکھوائی ہے جا جا کے تھانے میں

کہ اکبر نام لیتا ہے خدا کا اس زمانے میں

دارنگه سورة البقرة ایت ۶۱، ۸۷، اعراف ایت ۱۲۵ مؤمن ایت ۲۸ حج ایت ۴۰ بروج ایت ۸ مائده ایت ۵۹.

(وهم معرضون) ایت ۲۳ دا جمله حالیه ده یعنی همیشه دوئی اعراض کوی

(قل اللّٰهم) ایت ۲۶ دلته نه دریم باب اولے حصے او په دی کښی هم څیرے

(۱)...... اوّل دعوی دتوحید په ایت ۲۶.

(۲)...... دویم تهدید للمؤمنین بموالات الکفرین ایت ۲۸.

(۳)...... تخویف ایت ۳۰.

(۴)...... التحضیض باتباع النبیؐ ایت ۳۱.

(۵)...... دفع دشبهے دنصاراؤ.

(۶)...... ذکر د پنځه بزرگانو او دهغوئی اقوالو ۱ عیسیٰؑ، ۲ مریم، ۳ زکریاؑ ۴ مور دمریم، ۵ فرشتے.

(اللّٰهم) ایت ۲۶ په دی لفظ کښی نحاتو اختلاف ده سیبویه وائی دا اصل کښی

یااللّٰه وویاء حرف نداء حذف شوه او آخر کښې میم عوض دهغې راؤړو فراء
والي چه داسې نه ده شوی چه اول کښې حرف نداء حذف شوی وی او آخر
کښې میم ترې عوض دې ورنه (یوسف اعرض) دلته ولې نه دې عوض
راغلې بهتر قول دفرّاء دې اصل کښې کله کله لفظ سره تعبیر دحالت نه
کوی په میم باندې ضمّ الشفتین راځی نو معنٰی دا چه جُمَعت شه الله سره امام
رازیؒ په دې به تفصیل کړی دی،
(تُؤتِی الْمُلْکَ) ایت ۲۶ دنحو قاعده ده چه معرفه کله رامعادشی (ثانی عین
اول گرځی) یعنی هغه معنی دماقبل ورکوی نو دلته بیادامطلب شو چه ورکوی
الله خپله بادشاهي څکه معرفه رامعادشوی ده الملك نو دابه عین اولی وی
جواب دادې چه داقاعده کلیه نه دې اکثریه ده او مرادبادشاهي ددنیادې
(بِیَدِكَ الْخَیْرُ) ایت ۲۶ خیر ذکر ده شرپه قیاس ده (ستاپه لاس کښې نفع
او نقصان
کسی کو تخت سلطانی کسی کو در در گدائی

میری مولی تیرے مرضی جدھر چاہے ادھر کردے
(تُولِجُ اللَّیْلَ) ایت ۲۷ دادلیل عقلي یو مطلب داده چه شپه په ورځ کښې
ننباسې یعنی ورځ اوږده کړی او شپه لنډه کړی او دریم مطلب دا چه شپه
بوزې او ورځ راولې،
(وَتُخْرِجُ الْحَیَّ مِنَ الْمَیِّتِ) ایت ۲۷، ای المؤحدمن المشرك لکه ابراهیمؑ ته
وګوره چه پلار ئې مشرك وو او دا کلك مؤحدو خلق والي چه چرګه دا ګئي
نه راو باسي مونږ وایو ته‌یهګ ده خود دلته مراد داشی نو یه بهٔ وی او حیاة نه

مراد اصل حیاۃ د زړه دے لکه سورة الانعام ایت ۱۲۲ شرح العقیده الطحاویه صفحه ۳۰۶ کښې لیکی (القلبُ لهٗ موتٌ وحیاةٌ ومرضٌ وشفاءٌ وذالك اعظم مماللبدن قال الله تعالٰی اومن كان میتاًفأحیینٰه وجعلناله نوراً یمشی به فی الناس)

(ان كان میّتاًبالكفر فأحییناه بالایمان فالقلب الصحیح لایؤثرعلیه الباطل والقبائح تفرّعنهٗ دا رنگه مشرك ته تعبیر په مړی کوی لکه سورة فاطر ایت ۲۲ ،امام رازیؒ په دے خائے وائی (الأموات الذین تُتلىٰ علیهم الآیات فلاینتفعوابها) اوزادالمسیر کښې هم مؤحدمشرك معنٰی کوی،

(لَایَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُوْنَ) ایت ۲۸ ربط هر کله مسئله مبرهنه شوه نو اوس تهدیدور کوی مؤمنانوته په دوستئ د کافرانو،

(فلیس من الله) ایت ۲۸ ،امام رازیؒ کلے رای نامی ته یوځل اعرابی راغلونو بازار کښې وګرځیدو ،نویوځائ کښې غباره واغیسته او کلی ته روان شوو نیر حیران وو ځکه چه دومره غنه دی اوسپکه اوبسته ده نوترخ کښې نیولی وه لږغونډه زوریئے ورکړو ،نوهغیئے نه هواووته اوس حیران ده چه دومره غټه بلاغائبه شوه نوآخرادیخواګوری لاندے هغه پرده اوموندہ اوهغه ئی راواغیسته اودائے اووے،

(أیُّهاالمسلمون ببلدة رأی هل وجدتم بمثل هذاالشئ)

(محضرآ) ایت ۳۰ (سکاره) هرچاعمل به سکاره وی لکه سورة اسراء ایت ۱۳ هرچاته عمل به سکاره وی حدیث کښې راځی چه قیامت کښې به بوسړے اووینی چه لاندی شوئ ده به یئے نامه سره لګی اووائی به چه ماترے لاپټ

خبری د خدے بلاده نو دی ته به او ونیلے شی چه دا ستا عمل دے لکه،

فتح الرحمن دار ئکهسورة الکهف ایت ۴۹ سورة القیامة ایت ۱۳.

(ویحذرکم الله نفسه) ایت ۳۰ دا جمله دوه ۲ ځلے نی اووانیله اول ځل په

ایت ۲۸ دا پاره د دفع د مو الات د کافرونه او دویم ځل په ایت ۳۱ د پاره د

تیزوالے په کار خیر او منع د بد کار نه (فتح الرحمن)

(فاتبعونی) ایت ۳۱ دپیغمبر اتباع الله جل جلاله د خپل محبت د پاره لازم کړ

خوله خکه شیخ القرآن بیل السائرین کښی والی.

۱) وینگفت این متعالی که ... باشد دان باطف مقال.

(نبی ته او وایه الله چه امت ته زما د اچیره او وسوره)

۲) ان تحبوا الاله فاتبعوانی ... نیست کار از متابعت پیغمبر ماهر

۳) ... مرزد آخر زمیب نبیم.

(ان الله اصطفی) ایت ۳۳ دا بیخبره دفع د شبهے او دا دریم جواب دے

تفصیلا دفعه شبهے نه چه عیسی ابن الله دے اول جواب وشوچه دا ستا

بهتان نه دے دویم جواب وشو چه دا دی من الفاذ دے او دا دریم جواب دے

چه نسبت یئے وګوره خپله دے تو بزرگانو اقوال ذکر کوی.

قول د مور د مریم (۲) قول مریم (۳) قول ذکریا (۴) قول عیسیٰ

(محررا) ایت ۳۵ (اصیل) اصیل خکه وائی چه غلاد به خه و کړی،

یو ساعت د خکدن د آزادئی ... دنیا عمر د غلامئی نه دے بهتر

نه کیږیه د غلام په غلامئی کښی ... نه ساعت آزادئی په خکند کښی

(ولیس الذکر کالانثی) ایت ۳۶ دلته کلام کښی قلب دے که قول د الله شی

نو بیا معنی داچه بیرته پښتانه دغه معنی نه دی.

(محررًا) ایت ۳۶ دا عبرانی ژبانه کښې عابده ته وائیلے شی او که عربی ژبانه شی نو بیا د آزاد پروړه په معنی د مقصد آخر حکمه چه ددی مورهم ده بیت المقدس ته وقف کولو قصد کړے وو.

(اعیذها بك) ایت ۳۶ حدیث کښې راغلی دی مولود دے نه لاکن مگر ابن مس الاعیسی ومریم نو خلق د حدیث مطلب باندې کړی ده او وائی چه شیطان په هرچا چونډی لګولی مگر په عیسی او مریم باندې یې نه دی لګولی نه وجه د پیدائش کښې بلکه حدیث مطلب دا دے چه یو مولود هم چه عمه ورته دے شیطان وسوسه نه وی اچولې مگر صرف عیسی او مریم ورته کښې نه دی اچولی

(انی لك) ایت ۳۷ یعنی دا دلته میوه ده او میوے ته رزق وائی نکته سورة البقرة ایت ۲۶.

(یرزق) ایت ۳۷ ابن کثیر وائی چه میوے راتلے بے موسمه او دا قول د مریم دے محکښې ایت ۳۵ کښې (انك انت السمیع العلیم) د مورد ی مور د مریم قول ذکر وو (انك سمیع) ایت ۳۸ د قول دزکریا دے.

(یصلی) ایت ۳۹ ای یدعوا ثلثة ایام ایت ۴۱ د دنه ورځے ذکر کوی او سورة مریم ایت ۲۰ کښې درے شپے ذکر کوی جواب مطلب دا چه درے ورځے او درے شپے به نه کوے.

(و اذ قالت الملٰئکة) ایت ۴۲ ددی ځائی نه تفصیلی جواب په عبدیت د عیسی او دهغه مور مریم علیها السلام درے دیرش ټکے د عبدیت ذکر کوی او درے دیرش کالو کښې تقریبًا عیسی هم پورته شوے او دهغه درے دیرش ټکے دی

(۱)......اصطفك، (۲)......وطهرك،

(۳)......واصطفك(که الله وے تو یل جابه چاتہ کول اویا کول،

(٤)......اقنتی لربك، (۵)......واسجدی (٦)......وارکعی،

(۷)......یکفل مریم، (۸)......یبشرك، (۹)......بکلمة منه،

(۱۰)......اسمه المسیح، (۱۱)......ابن مریم، (۱۲)......وجیهاً،

(۳)......ومن المقربین، (۱۵)......فی المهد، (۱٦)......وکهلاً،

(۱٦)......ولم یمسسی بشر، (۱۷)......ویعلّمه الکتب(۱۸)......والحکمة،

(۱۹)......ورسولا، (۲۰)......من ربکم، (۲۱)......باذن الله،

(۲۲)......واحی الموتی باذن الله (۲۳)......ومصدقاً، (۲٤)......ولأحل لکم،

(۲۵)......وجئتکم بایة من ربکم (۲٦)......فاتقوا الله (۲۷)......ان الله ربّی،

(۲۸)......فاعبدوا، (۲۹)......من انصاری (۳۰)......متوفیك،

(۳۱)......رافعك الیّ، (۳۲)......ومطهرك، (۳۳)......خلقه من تراب،

(ذٰلِكَ مِنْ اَنْبَاءِ) ایت ٤٤ ربط داسے نه چه څوك وائی چه پیغمبر عالم الغیب دے ځکه چه عیسی علی السلام هر چاحالت نه خبر دے نو الله وائی نه دا انباء الغیب دے او دا نکته په صداقة الرسولؐ ده یو کورے علم الغیب دے او یو انباء الغیب دے انباء الغیب چه الله ورته خبر ورکړی خپله پته نهٔ وی او علم غیب بر عکس.

(وَيُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ) ایت ٤٦ خبرے به بچیں کښی صرف عیسی کړے وے په دی مولناخان بادشاه مدظله کتاب تحفة الکرام بمن تکرم فی المهد بالکلام لیکلے دے او دا خبرے سورة المریم ایت ۲۸ کښی ذکر دی

(اَخۡلُقُ) ایت ۹ ٤ دا بمعنی جوړول راځی لکه سورة المؤمنون ایت ۱٤

(فَاَنۡفُخُ فِیۡهِ) ایت ۹ ٤ دلته ضمیر دمذکرراجع کوی او سوره مائده

ایت ۱۱۰ (فتنفخ فیها) مؤنث ضمیرراجع کوی جواب داځکه چه کله اشاره

طین ته وی نوبیامؤنث راوړی او کله هیئت ذکر کړی نوبیامذکرراوړی،

(اَلۡحَوَارِیُّوۡنَ) ایت ۵۲ حواریون دحورنه دیے اردا سپین مخی ته وائی

دادهغوئی امت ملګروته وائیلے شواونبیؑ ملګروته صحابه وائی اوحواری

پایه اعتباردتقوئی وائی اوخوك وائی دادهوبیان وو داخبرغلطه ده،

(ان الله ربی) ایت ۱ ٥ داپنځم قول دعیسی علیه السلام،

(۱)— یونیادعیسی وائی (انك انت السمیع العلم) ایت ۳٥،

(۲)— دویم موردعیسی علی السلام وائی (یرزق من یشآء بغیر حساب) ایت ۳۷

(۳)..... دریم قول دفرشتو (كذلك الله یفعل مایشآء كذلك الله یخلق مایشآء) ایت

٤٠، ایت ٤٧،

(٤)— څلورم زکریاعلیه السلام وائی (انك سمیع الدعا) ایت ۳۸،

(٥)— پنځم عیسی علیه السلام وائی (انّ الله ربّی) موږته پنځ پیریان ولے وائی

ځکه پنځ پنځوته وائی اوپیرمشرته وائی دامشران دی زموږه،

اولئك آبائی فجئنی بمثلهم اذاجمعتنایاجریرالمجامع

(وَمَکَرُوۡا) ایت ٥٤ (ومکروا قتل عیسی ومکر الله لنجاة عیسیؑ هرپیغمبرته

پیے چالوته جوړه ول لکه سورة الانفال ایت ۳۰ سورةالانعام ایت ۱۲۳،

دارنګه سورة النمل ابت ۹ ٤، ایت ٥٠ دارنګه سورةابراهیم ایت ٤٦،

(اِنِّیۡ مُتَوَفِّیۡكَ) ایت ٥٥ متوفی پوره آخیستلوته وائی (اخذالشیئی وافیا)

عرب والی(استوفیت الدین)دا رکه روح المعانی والی توفی متوجه عیسی ته (یعنی کاف ضمیرته)دے نومعنی داچه پوراد آخلم،

لکه ته چاته وایے چه ته راغلے نو دامطلب نه ده چه صرف روح دراغلو نه بدن دارنګه دلته هم ده چه عیسیٰ بدن او روح دواړه الله وجت کړو،

مباحثه شیخ القرآن پرویزبالوسره،په لفظ دتوتوفی کښی،

(قُلْ یٰاَهْلَ الْکِتٰبِ)ایت ٦٤ دډی خائی نه دویمه حصه دسورة(اثباة الرسالة کښی)دی کښی پنځلس خیانت داهل کتابو ذکر کوی،

(١) اتباع الاحبار والرهبان فی التحلیل والتحریم ایت ٦٤،

(٢) احتجاج هم بالباطل ایت ٦٥،

(٣) اضلال المؤمنین ایت ٦٩،

(٤) کفرهم بایت الله ایت ٧٠،

(٥) تلبیس الحق بالباطل ایت ٧١،

(٦) تلبیس الدین علی الضعفآء ایت ٧٢،

(٧) الوصیة بالیهودیة الممسوحة والنصرانیة الممسوحة ایت ٧٣،

(٨) خیانة ایت ٧٥،

(٩) تحریف ایت ٧٨،

(١٠) افتراء علی العباد الصالحین ایت ٧٩،

(١١) تولّی عن کتاب الله ایت ٨١،

(١٢) ارتداد عن الدّین ایت ٨٦،

(١٣) افتراء علی الانبیاء ایت ٩٣،

(١٤) قولهم ان قبلتنا قبل قبلتكم ايت ٩٦۔

(١٥) الصدعن كتاب الله ايت ٩٩، دلته نه اوله بلیتی اتباع الاحبار و الرهبان فی التحلیل والتحریم، عدی بن حاتمؓ نبیؐ ته اووے چه موږ خدایان نه وو نیولی نبیؐ ورته اووے چه هغوئی تاسو ته اووے چه داشتی حلال حرام دے نو تاسو هغه حلال حرام نه گرځول هغوئی اووے چه گرځول مونو نبیؐ اووے خو دا م خدایان گرځول (وهذه الروایة ایضاً فی اصول السنه للشیخ القرآنؒ)

(كَلِمَةٍ) ايت ٦٤، ابن كثيرؒ او مداركؒ وائی (ای الی كلمة لایختلف فیه القرآن والتورات والانجیل)

(أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللَّهِ) ايت ٦٤ بعض بدبخته راغلو نو دا آیتونه په مقلدینو چسپا کړه چه هغوئی خو ته حلال وائی هغه ته دوئی هم حلال وائی داخبره دوئی غلطه ده دوئی وائی تاسو تقلید کوے اتباع ولے نه کوئی موږ وایو تقلید او اتباع کښی فرق نشته تقلید دا نه چه هغوئی سره دلیل نشته موږ وایو

گرچه ما داریم تقلید امام ‏ قول او باشد مدلل بردوام

نیست قولش بی دلیل ای علیل ‏ نیست هر کس را ولی علم دلیل

ایی باشد و لیلش یا خبر ‏ یا بر این هر دو قیاس است ای پسر

تقلید خبره ته وائی فتاوی اللجنة ٣٢ کښی وائی لیس من علماء الحرمین مكة ومدينة ولامن سائر العلماء المكة ولامن سائر مدينه من يذم علماء الفقهه من مالكؒ واحمد بن حنبلؒ ومالك بن انسؒ وابا حنيفةؒ

اوديا ٣٠ جلد ٥ کښی خلور قسمه تقلید ذکر کوی او چه کوم تقلید د قرآن او حدیث مخالف وی هغه موږ نه منو مجموعة الفتاوی صفحه ٢٩٨ جلد ٢٧

فان الحاكم اذاحكم بغير اجتهادو لاتقليد كان حكمه محرمابالاجماع
نو داعبارت دمجموعة الفتاوى دے خو دوهم ۲ .اشباه اجتهاد او تقليد
ذكر كوى چه يا به مجتهد وي يا مقلد نو كه مجتهد وي نو بيا اصول د
اجتهاد راته وښايه بغير د اصولو دائمه اربعه و نه او الباه التقليدخو قرآن هم
كوى لكه سورة نسآء ايت ۱۱۵ دا رنگه دوني والى چه تقليد دينه والى چه
هغه باندد ليل نه وي او اتباع چه هغه باند دليل وي نو بيا سورة الكهف ايت ۷۰
وگوره (فان اتبعتني فلاتسئلني عن شيئ) دا رنگه سورة النسآء ايت ۵۹
سورة الطور ايت ۲۰ دلته ولے پلار اتباع ولے ذكر كوى او درجه په هم
ور كوى كه دا ناجائزوه نو درجه ولے وركوى دا رنگه سورة النحل ايت ۴۳
دا رنگه سورة النسآء ايت ۸۳ او دينه علاوه لوئى لوئى علماؤ تقليد كړے
دے لكه يحيى بن القطانؒ لكه سير اعلام النبلاء صفحه ج۸ كښى ذكر
كوى وكان فى الفروع على مذهب الامام ابى حنيفةؒ دوئى والى مونږ تقليد
كلى منو خو تقليد شخصى نه منو ايه كلى خو په ضمن د جزئياتو كښى موجو
دونى او كه ته والى تقليد شخصى نيشته نو مجموعة الفتاوى صفحه ۴۱۰
فالمقلدون من الصحابة دا رنگه مجموعة الفتاوى ۴۳ حجة الله البالغه ۱۵۴
دا رنگه محمد بن عبدالوهابؒ قول وگوره لكه صيانة الانسان ۴۷۴ كښى
ذكر كوى (تفصيل دپاره ماهنا التوحيد و السنة اگست ۲۰۰۰ء وگوره)
(يَٰأَهْلَ الْكِتَٰبِ لِمَ تُحَآجُّونَ) ايت ۶۵ دويم خباثت جدالهم بالباطل دا خو ولے
هندوستان ته هم راغلو اكبر بادشاه ته اووے چه ستاسو ملا د مونږ سره مناظره
وكړى نو هغه دوپيازه ملاته اووے دوپيازه ملا بادشاه ته لس فوجيان وغوښتل

اویکړی بنے او واهله او دهغه شمله راغیستی ده او دخان سره دیران نه سحا
پاڼے هم راواغیستے نو بادشاه دربارته لی دنه کړے او صفاقالین باندېنے
بادشاه مخے نه کنخیودے نو شیعه ملاا ووے چه بادشاه او گوره ستایے عزتی
یئے وکړه چه دربارته یئے چړے راوړیئے نو بادشاه دنه تپوس وکړه چه
داولے نوسنی ملاورته اووے چه بادشاه سلامت درتی مانه څپلیئی یئی
کړی وے شیعه ملاتامو نړته غله اووے دایه ثابتوے سنی ملا،تاسو نبی نه
څپلیئی یئی کړی وے شیعه ملامونړنبی زمانه کښی چرته ووسنی ملاء اُف
غلط شوم تاسو ابوبکرنه یئی کړی وے شیعه ملامونړابوبکرؓ زمانه کښی چرته
ووسنی ملامرهلړدیرینخودلے وودعمرؓ نهم یئی، کړے وے شیعه ملامونړ
عمرؓ زمانه کښی چرته ووسنی ملازه دیرجلدی کښی وم غلط شوم دعثمانؓ نه
یئی، کړی وے شیعه ملامونړعثمان زمانه کښی چرته ووسنی ملایارزه
بوداشوے یم حافظه م کمزوری ده تاسو علیؓ نه یئی کړی وے شیعه ملا
مونړعلیؓ زمانه کښی چرته وونو دوبیازه ملانه یوه کړه نه بله پاتره یئے
راواخیسته او په خلهٔ یئے اوواهلوچه نه نبی زمانه کښی ولی نه ابوبکرؓ نه
عثمانؓ نه علیؓ نو تاسو دادین دکوم ځائی نه راوړو؛
(مَاكَانَ اِبْرٰهِيْمُ يَهُوْدِيًّا) ایت ٦٧ دابه نی غلطے دعوے کولے اوس هم وائی
کنه چه زمونړ تنظیم ددیوبندتنظیم دے جمعیة علماء اسلام باره کښی وائی
چه داجمعیت علماء هندتسلسل دے حالانکه دادیوبندتنظیم جمعیت علماء
هندمقابل کښی جوړ شوے دے لکه کفایت المفتی ٤٣٩ (قدیم) وجدید ٩ کښی
وائی چه داجمعیت انگریز انوتقویت دپاره جوړ شوے دے؛

(يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ تَلْبِسُوْنَ) ايت ۷۱ ددى خالى له پنځم خيانت تلبيس الحق بالباطل خيانت اوس هم داعادت شه زاړه يهوددى واتى به چه دوئى دعانه منى.

شيخ القرآنؒ به وئے

ولے کټوے بدعت سنت دمصطفى سره

مخ به نکړے صامحشر کښې مجتبى سره

(وَقَالَتْ طَّآئِفَةٌ) ايت ۷۲ خيبر درلس ـ ۱۲ کسانو مشوره وکړه چه سحر به ايمان راوړو او بيګا له به ترې جداشو ددى دپاره چه مسلمانان بالددين ګناوړه کړى تو الله دا آيتونه راوليږل چه دوئى کښې دامرض دے نن هم دغه شان کوى ديهودو خوئے ور کښې دے ددى وجے نه سفيانؒ والى.

من فسد من علماء نافقيه شبه من اليهود ومن فسد من عادنافقيه شبة من النصارى.

(وَلَا تُؤْمِنُوْآ) ايت ۷۳ ددى خالى نه اووم خيانت الوصيه باليهوديه الممسوخة او ددى دپاره دوه وجے ذکر کوى يوه وجه (ان يؤتى احدمثل مااوتيتم) دويم وجه (اويحآجوكم عندربکم) دى ايت کښې درے اشکالات دى.

(۱) ـ يو داچه دلته (لاتؤمنوا الالمن) صله دايمان لام راغلى ده او حالانکه دے صله باء راځى.

(۲) ـ دويم داچه دلته (ولاتؤمنوا) دامعلول دے او (ان يؤتى احدمثل مااوتيتم) داعلت ده په مابين دعلت اومعلول کښې اتصال په کاردے اودلته ولے مينځ کښې (قل انّ الهدٰى هدى الله) جمله راوړه.

(۳) ـ دريم داچه وروسته (قل انّ الفضل بيدالله) جمله ئى څه دپاره راوړه دې لونه

په ترتیب، جوابات دادی،

(۱) یو جواب داچه ایمان صله باء او لام دواړه واقع کیږی باء هغه وخت کښی واقع کیږی چه ایمان په معنی تصدیق قلبی وی او لام هغه وخت واقع کیږی چه کله ایمان په معنی داقرار او تصدیق لسانی وی نو اصل عبارت داشان راځی

(الف) ولاتؤمنوا، ای ولاتقروا فضیلة احدالالمن تبع دینکم

(ب) یا لاتصدقوا فضیلة احدالالمن،

(ج) یا حاصل بالمعنی ترې مراد دې یعنی اجحدوا فضیلة کل احدالالمن،

(۲) جواب دې چه داجمله (قل ان الهدی هدی الله) لې خکه میخ کښی راوړه چه دوئی خان ته په حقه رنیل نو الله اول دهغوئی رد او کړو اشاره دیته چه باطل کله په خیل حقانیت اقرار کوی نو زر جواب ور کوه

(۳) دریم جواب داجمله (قل ان الفضل بیدالله) لې خکه راوړه چه مخکښی دوئی داخبره کړله (ان یؤتی احدمثل مااوتیتم) ځه مطلب چه تاسو که ددوئی تابع شوئی نو ستاسو درجه به ورته ملاؤشی نو الله اووې،

(قل ان الفضل بیدالله) ګویا که دوئی عدم ایمان دپاره دوه علته ونیلی وو یو علت (اویحاجوکم عندربکم) نو هغه جواب یې و کړو (قل ان الهدی هدی الله)

(عِندَ رَبِّکُم) ایت ۷۳، ای عندلقاء ربکم یاعند کتاب ربکم) دا رنګه خبائث سورة البقرة ایت ۷۶ کښی ذکر کوی

(یَختَصّ بِرَحمَتِهٖ) ایت ۷۴ دا یل جواب چه نه وایې زه غوره یم نو الله اووې نه نه والله یختص برحمته من یشاء،

دارنګهسورة البقرة ایت ۱۰۵ کښې وائي،

(بِدِيْنَارٍ) ایت ۷۵ دینارته دینارځکه وائي لأنه دین ونار دیر اشیاء داشان مسم
دی لکه برستن اصل براس تن دے یعنی دبدن براس دارنګه ګولډانګ سپی
ته ولے داوائي دااصل کښې بول داګ انګلش کښې بول غواته اوډاګ
سپی ته وائي،

اوبلتیږسپی ته ولے وائي دااصل کښې بول تیږدے بول غواته اوتیږشلونکی
ته وائي دارنګه جیننی په معنی دښځوالي واخی لوچه کورکښې وی هلد جیننی
ده دارنګههلك عبراني ژبے لفظ دے اصل کښې هللوو په معنی
دخوشحالئی لو په هلك هم خوشحالي کیږی،

(اِلَّامَادُمْتَ عَلَيْهِ) ایت ۷۵ چه ورته وائے زرینی م درخښه ده زرینی م درخښه
ده لولنهپه وائي نشته،

(لَيْسَ عَلَيْنَافِى الْاُمِّيِّنَ) ایت ۷۵ ،اوس هم وائي مال موذی خوراك غازی
ابن جریر دی خاني باندی وائي چه دوني وئیل لیس علیناحرج فی اکل
اموال امین العرب،

(يَشْتَرُوْنَ بِعَهْدِ) ایت ۷۷ چه څوك لوظ ماتوی نو الله به عذاب ورکړی،
الله علم نه هم لوظ اخستے دے کنزالعمال ۱۹۰ ج ۱۰ (سیاعلی متقیؒ)
حدیث ذکر کوی ماعطی الله عالماًعلمه الااخذالله علیه المیثاق ان لایکتمه
(کتمان حق داوعده ماتول دی)چه لوظ نی مات کړونوقرآن په دفعے ذکر کوی
(۱)......اولئك لاخلاق لهم فی الآخرة (۲)......ولایکلمهم الله،
(۳)......ولاینظر الیهم یوم القیمة
(٤)......ولایزکیهم،

(۵) ولهم عذاب اليم ،دارنگه سورة البقرة ايت ۱۷٤،
قرطی دلته سوره بقره باندی ذکر کوی چه مبتدع ته قرآن مه ښائي،
(وَمَاهُوَمِنْ عِنْدِاللّٰهِ) ايت۷۸دازیے به آره وی دحسن بصری شاګرد وو.
معتزلی وو نو کله چه بيان به وکړه نو بیابه یئے وئیل هذارأی الحسن یوه
ورځ چاونیول چه داته خه وايئے نوهغه ورته اووے چه زه خوداسے نه وايم
بلکه زه وايم هذارأيي الحسن (دازماسےرايه ده)ژبه به آړوله.
(مَاكَانَ لِبَشَرٍ) ايت ۷۹ ،لسم خيانة افتراء على العبادالصالحين اوس هم
داکوی چه فلانی داویلی دی،
(رَبّٰنِيّٖنَ) ايت۷۹قال ابن قتيبة العلماء وقال فی غريب القرآن الربّانى الّذى
يصلح النّاس عقيدةً وعملاًوقال المبرّدالربّانى الّذى يربّى العلم ويربّى النّاس
به اى يعلّمهم ويصلحهم (انظرالتفصل فى مفتاح دارالسعاده ۱۹۰ ج۱
(اَنْ تَتَّخِذُواالْمَلٰئِكَةَ وَالنَّبِيّٖنَ ، اَرْبَابًا) ايت ۸۰دونی والی چه مشرکينوبتان
رامدرکول داوګوره خوك يئے رامددکول دارنګه سورة المائده ايت ۱۱٦
سورة السباء ايت ٤۰ چه پيريان يئے رامددکول دارنګه سوره الکهف ايت
۱۰۲ دارنګه سورة الاحقاف ايت ۵وهم ضمير ذوى العقول راوړی،
(لَتُؤْمِنُنَّ بِهٖ وَلَتَنْصُرُنَّهٗ) ايت ۸۱په دی آيت تفصيل کښی حافظ ابن کثيرپه
قصص الانبياء صفحه ۲۱۹ ج۲ کښی ليکی (واماالّذين ذهبوا الى انّه قدمات
ومنهم البخارى)داهغه کسان ذکر کوی چه خوك دخضرمرګ قائل دی
دارنګه داآيت دليل دے په مرګ دخضرباندی خکه چه بدر کښی شريك
کسانونوموند نشته خوهغه کښی دخضرنوم نشته خلق والی داسيندونوپه غاره

کړئ او نسه نی داده چه په کتب کوته کښې یئے هاو کی نشته نو حافظ ابن کثیر تفصیل کوی هغه وائی (ومنها ان الله قال لتؤمنن به ولتنصرنه) قال ابن عباسؓ مابعث الله نبیاً الا اخذ الله علیه المیثاق لئن بعث محمداً وهوحیٌ لیؤمنن به ولینصرنه وامره ان یاخذ علی امته المیثاق لمن بعث محمداً وهم احیاءٌ لیؤمنن به ولینصرنه)

(ذکره البخاریؒ عنه فالخضر ان کان نبیاً وولیاً فقد دخل فی هذا المیثاق فلو کان فی زمن رسول اللهؐ لکان اشرف احواله) دویم داچه نبی یوه ورځ پاسیدو چه اوس کوم کسان ژوندی دی دابه سل کاله بعد نه وی نو که ژوندے نو بیاهم خضروفات دے،

(*طَوْعاًوَّكَرْهاً*) ایت ۸۳ په خوښه او په زوره دارنګه سورة العنکبوت یت ٦٥ سورة القمان ایت ۳۲ سورة الیونس ایت ۹۰ سورة المؤمن ایت ۸٤،

(*ومن یتبغ غیر الاسلام دیناً*) ایت ۸۵ نبی علی السلام مونږه ته صفادین پر یخودلے دے خکه حدیث کښې راځی (ترکتکم علی ملة بیضآء لیلها کنهارها) داسے صفادین پیغمبر پریخودلے دے دی وجهی نه مبتدع نه عبادت قبلیږی نه دعاحدیث کښې راځی (ابی الله ان یقبل من صاحب بدعة صلوٰة ولازکوٰة ولاحجاً ولاصوماً ولا صرفاًولاعدلاًولا خیاراً) دمبتدع عزت هم ګناه ده (من وقرصاحب بدعة فقداعان علی هدم الاسلام)

(لَنْ تُقْبَلَ تَوْبَتُهُمْ) ایت ۹۰، ای یوم القیامة اولن تقبل توبتهم فی هذه الحالة چه په خوله توبه اوباسی نو نۀ قبلیږی.

یوسالک وائی،

توبه برلب تسبیح برکف دل پر از ذوق گناه   معصیت را خنده می آید ز استغفار ما

(وَلَوِافْتَدٰى بِهٖ) ایت ۹۱ دا ربګه سورة رعد ایت ۱۸۔

(لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ) ایت ۹۲ ترغیب الی الانفاق چه کوم مال درته خوښ وی هغه خرچ کوه داته چه زیاتی شی نوجماعتی شی۔

مولاناروم وائی۔

هرچه داری صرف کن دراه او   لن تنالوا البر حتی تنفقوا۔

اوبرنه مرادجنت ذکرد سبب مرادترے مسبب دے۔

(كُلُّ الطَّعَامِ) ایت ۹۳ دوتی دلیل چه یعقوب مونږ پاندغوښه دواړی بند کړے لیکن هغه دځپل علاج اوپرهیز دپاره طبیانوپه بند کړی وه خکه چه هغه عرق النسآء وولکه کشاف وائی (اشارت الیه الاطباء باالاجتناب منه) دعلاج دپاره پرهیز کول صحیح دی لکه حضرت علیؓ باره کښی وائی کله چه هغه بیماری نه راپاسیدو ونوخلے ته ئی کجهوره واچوله نبیؐ ورته اووے مه مه فَاِنَّكَ نَاقِهٌ (نه بیمارئی) خکه چه پرهیزمات کړے بیابیماری راشی نوبیا علاج مشکل وی۔

(بِبَكَّةَ) ایت ۹۶ دا باء بدل دمیم واقع ده اصل کښی مکه وو اودی ته بکه خکه وائی چه دا په معنی دسر ماتولو راځی او دلته هم دخلقو سرونه ماتیږی۔

(عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ) ایت ۹۹ ای عن كتاب الله۔

(يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اِنْ تُطِيْعُوْا) ایت ۱۰۰ ربط مخکښی خبانث داهل کتابو ذکرشول نو اوس تهدیدور کوی مؤمنانه بموالات الکافرین۔

(وفیکم رسوله) ایت ۱۰۱ داهغه وخت کښې چه پیغمبر ژوندے وو اوس پیغمبر وفات دے نو مراد سنت دپیغمبر علی السلام دی لکه سورة الانفال ایت ۳۳ په دې ایت دانفال کښې دوه اشیاء مانع دعذاب بنے ذکر کړه یو وجود دپیغمبر دویم استغفار اوس پیغمبر نشته صرف استغفار باقی دے لکه بخاری تاریخ کبیر ۳۳ ج ۱ کښې وائي،

(کان امانان فی زمن رسول الله ﷺ رفع احدهما وبقی الآخر احدهما وجوده وثانیهما الاستغفار) که پیغمبر موجود وے اوس به عذابونه ولے راتلل نو ژلولو سره خلق ولے هلاکیدل خو پیغمبر وفات دے دا رنګه ابوبکرؓ دنبیؑ په وفات بیان کول (من کان یعبد محمدا فانّه قدمات ومن کان یعبد ربّ محمد فانه حیّ لایموت) داهم دلیل دپیغمبر په وفات دے،

(یایها الذین امنوا) ایت ۱۰۲ ددې خائي دریم حصه دسورة په بیان دجهاد او انفاق فی سبیل الله کښې ده چونکه ددواړو دپاره تنظیم ضرورت وو نو ددی وجے نه دتنظیم اصول ذکر کوی او دااصول پنځه ذکر کړی،

(۱)..... اول اصل او قاعده چه عقیده به برابره وی ایت ۱۰۲،

(۲)..... آئین او قانون به قرآن وی ایت ۱۰۳،

(۳)..... دریم قانون اراکین دجماعت به فعال وی ایت ۱۰۴،

(٤)..... څلورم قانون اراکین دجماعت په جماعت باندی انفاق کوی ایت ۱۱۵،

(۵)..... پنځم قانون غیر به تاسو کښې رازدارنه وی ایت ۱۱۸،

کله چه داقوانین ذکر کړه نو دوه واقعې په پنځمه قاعده تفریع کړی

(۱)..... واقعه دجنګ بدر (۲)..... واقعه دجنګ احد،

ی مطلب چه تاسو پخپله قاعده پابندی غیر تاسو کښې وازدارنه وو تو
خنگ بغیر کښې کامیاب شولی او چه دپخپله قاعدې پابندنه وی
نو احد کښې ناکام شوئی پس ددی نه پیاآداب لامیر الجماعه او لامیر الحرب
ذکر کوی او حالت دمؤمنانو۔
او سوره ختموی دلته نه اول قانون چه عقیده به ټولو یوه وی کچرې عقیده
یوه نه وی نو هغه تنظیم نه پاتے کیږی کوم جماعت چه بنیاد په عقیده وی
نو هغه دوام لری۔
(وَلَا تَمُوتُنَّ اِلَّا وَاَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ) ایت ۱۰۲ مرگ خو چا اختیار کښې نه دی چه
ورته والی مه مرئی مگر مسلمانان جواب مطلب دادې چه ټول عمر په اسلام
تیر کړئی لکه سړے دکاندار مړشی نو خلق والی فلانی دکاندار مړدے۔
(وَاعْتَصِمُوْا بِحَبْلِ اللّٰهِ) ایت ۱۰۳ دولی والی تاسو (اشاعت والہ) اتحادنه
کوئی موږ وایو که اتحاد دیته والی چه ډیرے کپړئی راجمعه شی نو پیښور
بازارته لاړشه هلته ډیرے کپړئی راجمع دی او کچرې داله بلکه عقیدے
او دقرآن وی، نو بیا راشه په قرآن او سنت باندې عمل وکړو۔
(فَاَلَّفَ بَيْنَ قُلُوْبِكُمْ) ایت ۱۰۳ محکښې اووے په قرآن اعتصام او اتفاق
وکړئی نو (واذکروا نعمت الله) (ای القرآن) سره مثال دااتفاق چه دشمنی
ختم شوے او زړونو کښې الفت راوستو قرآن دارنګه سورة الانفال ایت ۶۳
کښې هم ذکر کوی۔
(وَلْتَكُنْ) ایت ۱۰۴ دریم قانون، چه ملګری به کار کوی دانه چه والی چرګ
دیم خو پیږه دم مه۔

(الی الخیر) ایت ۱۰٤، ای الی اتباع القرآن والسنة (ابن کثیر)

(بالمعروف) ایت ۱۰٤، المعروف ماعرف من الکتاب والسنة (مدارك)

والمنکر ماانکر عن الکتاب والسنة،

(وینهون عن المنکر) ایت ۱۰٤، منکر منع کوی څکه زه ملګروته وایم،

ایاغلمة الذین مالی أراکم	تغاضیتمواعن منکرات الاوامر
أماالامربالمعروف والنهی فرضکم	فأعرضتم عن ذاك إعراض هاجر
أماأخذالمیثاق ربی علیکم	بأن تنصحوابالحق أهل المناکر

دا رنګه نبیؐ وائی (لتامرن باالمعروف ولتنهون عن المنکر) ورنه الله عذاب به راشی (فضائل اعمال و کوره) اوشیخ القرآنؒ اصول السنة کښی یو روایت راوړے دے چه هلکانو دچرګ نه پرے وېستے اویو بوډا ولاړ وو دهغه نندے تر یونه شو نو دالله عذاب اول په دی بوډا راغلو بیاپه نورو،

قال اویس القرنیؒ ان الالدمربالمعروف والنهی عن المنکرلم یدعاللمرء صدیقا

(یوم تبیض) ایت ۱۰۶ (ای اهل السنة والجماعة) قرطبیؒ اعتصامؒ

ابن کثیرؒ دا رنګ سورة الیونس ایت ۲٦، اهل السنة والجماعة خلك دی،

•ابن کثیرؒ په تفسیر سوره الاحقاف لاندوائی (واما اهل السنة والجماعة فیقولون کل قول وفعل لم یثبت عن الصحابة فهو بدعة لانهم لم یترکوا خصلة من خصال الخیر الاوقدبادروالیها،

(وتسود وجوه) داتو رمخی بدعتیان وی بدعتی ته به دالله نبی سفارش هم نه کوئی انسؓ چه نبی لس کاله یانهه کاله خدمت کړے ده یوه ورځ نبی علیه السلام ته پئے اووے چه ته به زماشفاعت کوے نبی علیه السلام اووے هاؤ

نو انسؑ اووے (فاین تجدك قال علیه السلام عندالمیزان)انسؑ ورته اووے که هلته نه وے (قال عندالصراط)انسؑ بیا که هلته نه وے (قال عندالحوض انیته کعدد نجوم السمآء ومن شرب منه لم یظمأ ابداً آ. ه اشد بیاضاً من اللبن واحلی من العسل)

او زه به حشر میدان کښې ولاړ یم (واقول هلموالیّ هلموالیّ) ماته راشئ نو یو ډله به روانه وی (فلیذادان عن حوضی کمایذاد البعیر الضآل فأقول أصیحابی أصیحابی فیقال یامحمد لاتدری مااحدثوابعدك) او یو روایت کښې (ماغیروابعدك) راځی (فأقول فسحقالهم فسحقالهم)

(كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ) ایت ۱۱۰ تیر یو په قاعده ثالثه.

(لَنْ يَّضُرُّوْكُمْ) ایت ۱۱۱ ربط هر کله چه امر بالمعروف نهی عن المنکر کوے نو داسے نه ده چه څوك درته ډکلو نه هاویه اچوی بلکه ښکے او کلك شه لکه سو ؤالمائده ایت ۵۹ چه ملایان به دخلاف کوی دلته هم لس طریقو سره دهغوئی اذیت ذکر کوی او تسلی درکوی چه خفه کیږه مه.

(۱) لن یضروکم الااذی (۲) وان یقاتلوکم یولوکم الادبار،

(۳) ثم لاینصرون، (٤) ضربت علیهم الذلة،

(۵) وباء وابغضب من الله، (٦) وضربت علیهم المسکنة،

(۷) بأنهم کانوا یکفرون بایٰت الله (۸) ویقتلون النبیین،

(۹) بماعصوا، (۱۰) وکانوا یعتدون.

(وَمَايَفْعَلُوْامِنْ خَيْرٍ) ایت ۱۱۵ خورمه قاعده چه اراکین دجماعت به جماعت باندخرچه کوی یو خل امتحان دپاره هم په ملګرو لس لس روپے

کړي ده چه کوره مخلص دے او که نه نو که مخلص نه وي نو بیا به وائي چه داپسے به څوك جمع کوي داسے او داسے حیلے او بهانے به کوي نه که مخلص وي هغه به وائي چه پنځو په خاني مانه لس واخله .

(یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا) ایت ۱۱۸ ربط محکمیٰ کارونه دو کرل نو حفاظت نه یئے هم کوے داپنځم قانون چه غیر به تاسو کیٗی رازدارنه وي دادجماعت حفاظت دپاره نو حلف واخله.

۱) یو په دی خبره چه زه دجماعت کارکن یم،

۲) دویم په دی چه امیر اطاعت به کوم،

۳) دریم داچه جماعت کاربه خپل کاربانذمقدم کوم نو کچرے زره کښې غل وي نو زربهٔ خان غصه کړي چه مونږ بانذشرطونه ایګدی او حلف خله آخلی مونږ درته مخلصان نه ښکارو نو داچه غیر به تاسو کیٗی رازدارنه وي دافانون جماعت حفاظت کوي که غیر رازدار شو نو جماعت به تباه او برباد شي او جماعت به تس نس وي لکه سیداحمدشهیدؒاو شاه اسماعیل شهیدؒ تاریخ وګوره چه کله یه اټك قلعه یئے حمله کوله نو منګري راغلو مشوره یئے کوله په دکښی سیدامیرؒ صاحب هم وو ،اوده سره سوات صاحب هم وو نو سیداحمدشهیدؒورته اووے (سیدامیرؒته) چه داسوات صاحب او باسه نو سیدامیرؒ اووے دانیرتیك سړے دے او بیرپرده یئے نو دوئي مشوره وکړه چه دااټك قلعے بانذی دحملے دپاره به یوړنی ولګوو اولس ـ ۱۰ ، لس ـ ۱۰ ، یاشل ـ ۲۰ ،شل ـ ۲۰ ، کسان به ورواړو وهغوئي به دننه جنګ شروع کړی او بیابه نور دوئي پسے ورواوړی نو دوئي داکارو کړو او یاوړنی یئے جوړے

کړے هلته یئ اورسولے نوبوه ورځے داسوات صاحب مریدانو سره ناست وو نومریدانو ته ئی اووے چه ماته داسے کشف شوے دے چه صحابه اپنے قلعه باندحمله کړی اوداسے داسے چل دے نودی چل کشف اوکرامت په مریدانو پخولو نوهلته دمریدپه جامه کښي ورسره دانگریزانو جاسوس ناست وونوهغه خبرورسول اوانگریزانو فوراهغه کوربانه ګیره واچوله چه کوم نه ددوئی دحملے پروگرام وواوباز ئی یئے راوویستے اوډیر کسان قتل اوډیر گرفتار شو دادغیرراز داری دوجے نه(فافهم وتدبر)

(لَا يَأْلُونَكُمْ) ایت ۱۱۸، ال یالوابمعنی کمی دے اودلته نه دغیرراز دار دپاره علل اونقصانونه دهغه ذکر کوی،

(۱)...... لایالونکم خبالا، ایت ۱۱۸ (ای فساداًونقصاناً)

(۲)...... ودواماعنتم،

(۳)...... قدبدت البغضاء من افواههم،

(٤)...... وماتخفی صدورهم اکبر،

(۵)...... تحبونهم ولایحبونکم،

(٦)...... واذالقوا کم قالواامنا،

(۷)...... واذاخلوا عضوا،

(۸)...... ان تمسسکم حسنة تسؤهم،

(۹)...... وان تصبکم سیئة یفرحوابها،

(۱۰)...... لایضرکم کیدهم، ایت ۱۲۰،

(قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَاءُ) ایت ۱۱۸ (حسد) حسدداعلماء کاردے یو خل شیطان په

خره بانده سامان روان کړے وونو بوسړے ترے تپوس وکړو چه
ماماداده ساليه بار کښې د خدايې دى شيطان ورته اووے مکوسړے داخولا
آخلى شيطان اووے سخر دى سړے اووے دادويم سائنو کښى څه
دى شيطان اووے دهوکے دى سړے داخولا آخلى شيطان سياسى ليډران په
انتظار دى سړے داپاسه ته څه دى شيطان مره داخو حسد دے سړے دابه هم
خولا آخلى نو شيطانانوهو دى باره کښى پروس کال ملايانو پيسے راکړى
ديلو ملايانو کښى حسد پرېات دے ۔
(عَضُّوا عَلَيْكُمُ الْاَنَامِلَ مِنَ الْغَيْظِ) ايت ۱۱۹ ډيرتاؤ به آخيستے وى نو يه تابه
يتے وس نه رسى نو نور ملګرى به ورته يدظن کوى دابه دقصاب پيرے وى
يو کس ووهغه سره پيرے ملګرے وونو دى کس قصاب سره جګړه شوه
نو دى کس خپل پيرنى ته اووے چه په قصاب ورشه نو قصاب لاس کښى
چاړه ود هغه ته لى څه وتيلے نه شو نو يه بل کس به يتے ورنوب کړه ۔
(اِنَّ اللّٰهَ بِمَا يَعْمَلُوْنَ مُحِيْطٌ) ايت ۱۲۰ لګه څرنګه دلته قواعددى تنظيم بيان
کړے دارنګه سوره مزمل ايت ۲۰ کښى هم درے قسمه خلق ذکر کوى
(۱) مدرسين دقرآن (۲) منفقين (خرچ کونکى) بالجماعة (۳) مجاهدين
دارنګه سورة مجادله کښى درے قاعدے ذکر کوى دجماعت دپاره په لفظ د
(يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا) سره (۱) اوله قاعده په ۹ کښى (وتناجوا بالبر و التقوى)
اى باشاعة التوحيد والسنة (قرطبى روح المعانى) دويم چه اشاعت التوحيد
والسنت باندى به جرګه کوئے ۔
(۲) قاعده په ايت ۱۱ (تفسحوا فى المجالس) مطلب داچه ملګرو به خيال ساتے

(۳) قاعده په ایت ۱۲ کښې (فقدموا بین یدی نجواکم صدقه) چه حکمې دحرگې نه صدقه (ف) او دی کښې درې خله ذکر للمنافقین په لفظ الم سره

(۱) اول ځل په ایت ۷.

(۲) دویم ځل په ایت ۸ کښې چه غلطې حرکې مه کوئی په توحیداو سنت جماعت ختمولو باندې،

(۳) دریم ځل په ایت ۱٤ کښې (ماهم منکم ولاهم منهم) دا صنف ثالث وی صنف پیژنې یو صنف تر ان دویم صنف سخې دریم صنف خنثی مشکل دے نو داخنثی مشکل دے چه تاته واتی داهم سه دے او فلانی هم سه دے.

(وَاِذْغَدَوْتَ مِنْ اَهْلِكَ) ایت ۱۲۱ د دے خانې نه دوه واقعې په دی چه تاسو پنځمې قاعدې تابع او پابندنه توئې تو جنګ احد کښې ناکامه شوئې او چه پا بندوئې نو جنګ بدر کښې کامیاب شوئې .دهجرت په دریم کال دشوال میاشت کښې صحاباؤته پته ولګیده چه کفار په مدینه حمله کوی نونبی علیه السلام صحاباؤته مشوره واخیسته چه څه وکړو چادنه دمدینې مشوره کوله چادباهر وتلو آخرباهر وتو باندې اتفاق راغلو نونبی علیه السلام ،

مصعب بن عمیرؓ ته جهنډو کړه او حمزهؓ ئې دهغې دستې کماندړ جوړ کړو چه کومې آزغرې نه وے (او حمزهؓ باره کښې سیر اعلام النبلاء کښې ذکر کوی

(کان حمزةٌ فی احد یقتل بین یدی رسول الله باالسَّیفین ویقول اناا سدالله انااسدالله)

دا رنګه عبدالله بن جبیرؓ ئې دستې امیر جوړ او پاسه په غونډئی ئې کینول نو جنګ چه کله فتح شو بیا هلته نه څه صحابه را کوز شول او میرسره

اجتهادی غلطی وشوه اوراکورشول توخالدبن ولیدبل طرف ته راغلونو دغه غونډنی طرف ته ئی حمله وکړه اوفتح په شکست بدله شوه نودلته امیرسره خلاف وشوا وپنځمه قاعده باندعمل اونه شونوشکست ورته ملاؤشو.

اشکال دلته اذغدوت والی چه نبی علی السلام سحراووتواوحدیث کښې راځي چه نبی علیه السلام هلته ماښځې مونځ وکړو.

جواب نبی علیه السلام سحراووتوبیاهلته شپه وکړه نوځه خلاف راغلواوشپې ته بعدنبی علیه السلام نقشه دجنګ تیاره کړه خودیره عجیبه نقشه جرنیل چه نقشه تیاره وی نوڅلورڅیزونه ضروری ګڼړی.

١) دښمن کمزوری کولوطریقه.

٢) دویم دتښتې لارورته پریږدی که تښتې لارئی نه وی نوبیامجبوراناسره جنګ کوی.

٣) دویم خان دپاره تیښتې لار.

٤) دحیل وروسته نه دښمن دحملې کولودپاره لارې بندول اودابول نبی علیه السلام کړی وو.

(بِخَمْسَةِ آلَافٍ) ایت ١٢٥ اشکال اول یې درې زره(٣٠٠٠) ذکرکړې اوس پنځه زره(٥٠٠٠) ذکرکړی داولې جواب ددی وجه داده چه کافربه والیل چه زمونږدطرف ته کرورس جابرراروان دې کله به یې وې چه ورسره (٣٠٠٠) درې زره فوج دې کله نه یې وې چه ورسره ٥٠٠٠ پنځه زره فوج دې نوالله ددی سره مؤمنانوته تسلی ورکوله چه که هغوی دوې زره نفری دی نودرې زره ملائک درغلل اوکه هغوی پنځه زره نفری

وی نو پنځه زره در غلل (ورنه یو هم کافی وه) گوره اوس یئ میز الل نه کروز نوم یعنی ده دا دمسلمانانو دخلاف نه،

(وَمَا النَّصرُ) ایت ۱۲٦ (نه دے فتح) کله مراد ابتداء دفعل وی کله انتهاء دفعل نو دلته (نصرنه) انتهاء دفعل (یعنی فتح) مراد ده،

(لِيَقْطَعَ) ایت ۱۲۷ دی ایت کښی درے اشکالات دی،

(۱)......اول اشکال داچه لیقطع کښی لام چاپورے متعلق دے۔

(۲) ....دویم دلته یو څو الفاظ راوړی (اویکبتهم اویعذبهم) وغیره نو دلته او او راوړی نو ددی څه معنی ده ځکه چه او دپاره دشك راځی نو ولے دالله شك دے څه

(۳) ....دلته (لیس لك من الامرشئی) داجمله نی څه له راوړی ده په ترتیب جوابات دادی،

(۱)......اول جواب داچه لیقطع کښی لام متعلق دنصرالله پورے دے،

(یعنی ومالنصر الامن عندالله پورے) نو معنی داامداد کوی الله دمؤمنانو دی دپاره چه کښے کړی دی سره څه حصه،

(۲) ....دویم جواب چه اوشك دپاره نه دے بلکه تنویع دپاره دے یعنی مطلب دا چه کفارو د څو قسمه شی اول قسم به ذلیله کړی دویم قسم ناامیده (فینقلبوا خائبین) دریم قسم الله به مهربانی په و کړی (اویتوب علیهم) څلورم قسم الله به عذاب ورکړی په آخرة کښی (اویعذبهم)

(۳) ....دریم جواب داچه (لیس لك من الامر) جملے سره دفعه دوهم یئ کوله چه گوره پیغمبر لاس کښی اختیار شته ځکه چه دومره پرفوح څنګه غالب

شونو جواب ذوهم نے و کړو،

(وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ) ایت ۱۳۲، اشکال، دلته وائی چه پلنوالے دجنت به آسمان زمکه برابروی حالانکه ادنی مومن دپاره خوجنت یو په لستوب دزمکے ده جواب،

(۱) — یو داچه زمکه او آسمانونه خواره کړے نو دومره به ئی صرف پلنوالے ری طول به یئے څومره وی.

(۲) — دویم داچه دانشیه دغیرمحسوس دمحسوس سره ورکړه څکه چه انسان ذهن کښی همدغه او ده سګاری دی وجے نه ئی ذکر کړو،

(قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِكُمْ) ایت ۱۳۷ دخالی نه تسلی ورکوی مؤمنانوته اونبی علیه السلام ته چه تکلیفونه به راځی خوصبرو کړئی دانکلیفونه محکمی خلقو باندهم راغلی وو.

(هٰذَا بَيَانٌ لِلنَّاسِ) ایت ۱۳۸ ترغیب الی القرآن،

(وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا) ۱۳۹ تحضیض للمؤمنین،

(اِنْ يَمْسَسْكُمْ قَرْحٌ) ایت ۱٤۰ تسلی مؤمنانوته چه دانکلیفونه به راځی دارنګه نسآء ۱۰٤ کښی علامه ابن قیم وائی،

لاتخش من كيد العدو ومكرهم فالله ناصر عبده بامان

فجنود أتباع الرسول ملائك وجنودهم عساكر الشيطن

(وَتِلْكَ الْاَيَّامُ نُدَاوِلُهَا) ایت ۱٤۵ یه چاپادشاهی په چافقیری.

یو سالك وائی

کسی کو تخت سلطان کسی کو در در گدائی میرے مولا تیری مرضی جدھر چاہے ادھر کردے

عبیدالله سندهیؒ چه کله کابل ته هجرت وکړو نو امیر امان الله خان دهغه
شاګرد وو بیا کله چه وروسته امیر امان الله خان انګریزانو سره واړ پیدا کړو
نو عبیدالله سندهیؒ مکے ته هجرت وکړو شیخ القرآنؒ وئیل چه کله زه
عبیدالله سندهیؒ سره هلته وم نو دا آیت راغلو نوهغه اووے چه بل کالے دلته
امان الله خان راغلے وو ددې وجے نه چه هغه نه کابل کښې بغاوت شوے
وو نو ماته ئې وئیل چه کابل ته لاړشه او ما دپاره کار وکړه نو ما ورته دا آیت
اووے (وتلك الأيام)
(وَمَا مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُوْلٌ) ایت ۱۴۴ ربط مخکښې تنظیم قواعد کیخودے شوے
جهاد شروع شو نو میخ کښې امیر وفات شولو ته به تنظیم پریږدے نه نه بلکه
جماعت به نه پریږدے کله چه کسان چه نبی علیه السلام هغوئی په غونډئی
باندد دشمن حملے دخطرے نه کیولی وو هغه پاسیدهٔ نو خالدبن ولید هغه
طرف نه په مسلمانانو حمله وکړه او مسلمانان خواره شوی ل په شا شولو
نو دی وخت کښې شیطان آواز وکړو (الا ان محمدا قد قتل) نو صحابا و
لاسونو نه توری پریوتے ډیرے همته شولو ابوبکرؓ او جت ځائی ته وختو او
آواز ئی کړو (من کان یعبد محمدا فانه قد مات ومن کان یعبد رب محمد فهو
حیّ لا یموت) نو صحاباؤ بیا همت وشولو داخالدؓ هغه انسان وو چه مسلمان
شو نو بیائے په هر جنګ کښې ۹/۹ تورے ماتے کړی وے چه مړیدو نو اووے
بیے چه دیے غیر تو دستر ګی اوچے نشی ما هر جنګ کښې ۹/۹ تورے ماتے
کړے دی خو زما شهادت به الله ته نه وو خوښ
(اَنْ تَمُوْتَ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ) ایت ۱۴۵ یو خل بادشاه د بیت الله طواف کول او

نول خلق پئے اوپستو او فوج لے گیره کښی راجول یوسړے چه شلیدلی کپړے لے وے دغو حبانوصفونه پئے وشلول او راغلو بادشاه ته محکښی به حجراسود ته تله او بادشاه ته به لے و نیل چه باهر خو ظلم کوے چه بیت الله کښی دهم ظلم شروع کړه بادشاه ډیر غصه شو فوج ته لی حکم وکړو چه دا بیت الله نه اوباسے نودے او پستو جلادینے راوغوښتل چه سر تری کټ کړه نوبر مکی وزیر بادشاه نه اووے چه دالیوے دے پریږده پئے نوهغه سړے په خنداشو وزیر وورته اووے چه وګوره دالیونے دے اووے چه خدائی قدرتونو ته حیران یم چه بادشاه لیونے وزیر پئے هم لیونے دے الله تعالی وائی (وماکان لنفس ان تموت الاباذن الله کتبا مؤجلا) نو بادشاه به ماخه قتلوی او وزیر به م خه خلاصوی نو بادشاه آزاد کړو فرزدق ولاړو و خو اشعار پئے اووے۔

هذا الذی تعرف البطحاء قدمه (بطحاء اسم المکة) والبیت تعرفه والحل والحرم دا دعلیؓ نواسے زین العابدینؒ وو۔

(وَحُسْنَ ثَوَابِ الْاٰخِرَةِ) ۱٤۸ چه نیك عمل وکړے نو الله به بدله ورکوی لکه سورة النحل ایت ۹۷۔

نشان مرد مؤمن باتو گویم چون مرگ آید تبسم بر لب اواست

(يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ تُطِيْعُوا) ایت ۱٤۹ ربط محکښی اووے۔

(وَثَبِّتْ اَقْدَامَنَا) ایت ۱٤۷ کلك شئی نودے به وائی چه نورو سره خه وکړم نو دلته مقاطعه عن اعداء الله تعالی ذکر کوی چه بائکاټ وکړه۔

(بَلِ اللّٰهُ مَوْلٰىكُمْ) ایت ۱۵۰ ربط هر کله چه بائکاټ م وکړو نو ماسره به خوك

وی نو الله والی (بل الله مولکم)

(سنلقی) ایت ۱۵۲ ربط هر کله چه الله والی زه د مولی و گرځم نو زه به

دشمن به زړه کښې رعب واچوم اودې آیت کښې تخویف۔

(مالم ینزل به سلطنا) ایت ۱۵۱ مشرك سره دلیل نه وی دا رسورة الانعام

ایت ۸۱ سورة الفاطر ایت ۴۰ سورة الاحقاف ایت ۴ سورة النجم ایت ۲۳

(ولقد صدقکم الله) ایت ۱۵۲ اشاره کوی واقعے د جنگ احد ته۔

(والله ذو فضل علی المؤمنین) ایت ۱۵۲ قرآن دلته بو جملے ذکر کړے

گروه محکښې آیت ۱۴۴ کښې ولیلی ووچه پیغمبر وفات شی دا سے نه وی

چه جماعت پو پرډے بلکه کلك شه او چه کلك شوے الله به ستا بانډې خیر

انعامات و کړی،

(۱)۔۔۔ وسیجزی الله الشاکرین ایت ۱۴۴،

(۲)۔۔۔ وسنجزی الشاکرین ایت ۱۴۵،

(۳)۔۔۔ والله یحب الصّبرین ایت ۱۴۶،

(۴)۔۔۔ والله یحب المحسنین ایت ۱۴۸،

(۵)۔۔۔ دلته والی والله ذو فضل علی المؤمنین ایت ۱۵۲،

(غمّا بغمّ) ایت ۱۵۳ غمّا ای بغلبة الکفار بغم ای بقتل النبی ﷺ

یا غما ای بسبب اغمام الرسول ﷺ

(ان الذین تولّوا) ایت ۱۵۵ دی ایت کښې بیان دزجر،

(یاایها الذین امنوا) ۱۵۶ دی خائی نه آداب لامیر الحرب،

(ولئن قتلتم) ایت ۱۵۷ تشجیع ور کوی،

(فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ) ایت ۹ ددی خاتی نه آداب لأمیر الجماعة ذکر کوی څکه چه کله به فتح راځي ،او کله به شکست وی که شکست دمر ګرد مستی دوجي نه شوے وی نو ملګرو حیثیت نه ګورے بعض به غلطي ترے نه شوی وی نودے دهغوئي حکم ذکر کوی چه ورته نرم شه اوبعض کسان هغوئي به قصدا کړی وی نو هغوئي دپاره حکم به توبه ۸۳ کښې . چه خان نه ئے لرے کړه بعض کسان چه هغوئي قصدا یو کار کړے وی نو هغه که ذ خان لرے کوے نو فتنه درته جوړ وی نو هغه به جدا کوے نه. بلکه تعلق به ورسره ساتی لکه عائشةؓ نه روایت دے چه یو کس روان وو نبي علیه السلام او وے

"بئس ابن العشیرة أو أخو العشیرة" او کله چه هغه سړے

نبي علیه السلام خواته راغلو نو فلان له القول (نرمی ئے او کړه) ، نو عائشةؓ تپوس وکړو چه تا اے رسول الله ﷺ چه داناکاره سړے دے او تا بیاورسره په نرمی خبرے وکړی . نو نبي علیه السلام ورته او وے

متى وجدتنى فحّاشا یاعائشة داجدا جدا موقعے دی یو ځل نبي علیه السلام ته کس راغے او تپوس ئی وکړو (ای الاعمال افضل فقال علیه السلام الصلوة لمیقاتها) بو بل راغلے دے تپوس کوی (ای الاعمال افضل قال علیه السلام الجهاد فی سبیل الله) کله یو ته فضیلت ورکوی کله بل ته دا دمخاطب په اعتبار سره،

(اللّٰهم اهد قومی فانهم لایعلمون) او چه یهود ته تقریر کوی نو وائی یااخوان القردة والخنازیر وعبد الطاغوت خیبر کښې یهود ګرفتار شوی دی نو صحابه ئے حلالوی او نبي علیه السلام ورته په دیر

کښې ناست دے تماشه ئے کوی نو دلته ولے تماشه کوی

نبی علیہ السلام میدان کښې ولاړ دے او آواز کوی
(انا النبی لاکذب انا ابن عبدالمطلب)

یو صحابیؓ میدان کښې ولاړ دے غښې اولی نو نبی علیہ السلام ورته وائی
(ارم ایها الغلام الحزور فدیتك بأبی وامی)

صحابہ کرامؓ نی چہ پہ چل سره کافرو قتل دپاره بوتلی وو نو نبی علیہ السلام قنوت نازله وائی (اللّٰهم العن الیهود والنصاری اللّٰهم شتت شملهم اللّٰهم فرق جمعهم اللّٰهم مزقهم کل ممزق)

د دوه کسانو په اوبو جنگ دے نبی علیہ السلام فیصلہ وکړه یو کس ته یئے اووے چہ اول ته اوبه وکړه بیا دی ته اوبه ورکړه چہ بئی اوبه کړی نو هغه کس اووے نبی علیہ السلام طرفداری وکړه نو نبی علیہ السلام اول کس ته اووے چہ داسے خپل پټی ته اوبه کړه چہ په پلو اوبه راواوړی بیائے ورته پریږده۔

علیؓ دویم واده کول د ابوجهل لورلے په نکاح کوله نو نبی علیہ السلام په منبر کیناسته تقریر لے شروع کړو او دائے اوفرمائیل
لست بمحرم ما احله الله او کماقال علیہ السلام لیکن زه دومره درته وایم۔
لاتجتمع بنت رسول الله وبنت عدوالله فی بیت واحدٍ

یو ځل نبی علیہ السلام سره عائشہؓ منډه وهی او کله ورته وائی چہ حبشو مقابلہ وګوره دا ټول جدا جدا حالتونه دی هر یو حالت په جدا طریقه دے
وشاورهم فی الأمر ایت ۱۵۹

فی الأمر نه مراد تنظیمی کارونه دی ځکه چہ دینی کارونو کښې شریعت شته هر کله چہ مشوره دی او کړه بیا به څه کوے، نو ورپسے وائی

(شاد عزمت) واحد صیغه وائی جمع نه وائی ځکه مشوره مامور بهو مسره د کوله او کار چه کوی نو حیله به کوی بو ور پسے وائی (فتوکل علی الله) توکل وکړه بوهعه ته اسبابو ضرورت دے لکه مبسوط حدیث عمرؓ کښی ذکر کوی چه څه کسان مسجد کښی ناست وو عمرؓ تپوس وکړو چه دا څوک دی (قالوا هم المتوکلون فقال عمرؓ (اوبل) لا بل هم المتکلون)

او اسباب د جماعت هغه هم وغیره دی.

(وان یخذلکم) ایت ۱۶۰ دلته خرنگه وائی دا رنگه انبیاء سورة ۴۳ کښی هم وائی (لقد من الله علی المؤمنین) ددی خائی نه صداقة القرآن والرسول ذکر کوی خرنگه دلته بعثت دنبی علیه السلام مقصد تعلیم القرآن بیانوی دارنگه سورة بقرة ایت ۱۲۹ کښی ۱۵۱ کښی هم دا مقصد بیانوی.

(ویزکیهم) ایت ۱۶٤ ای من الاخلاق الرذیلة چه اخلاق صحیح کیږی نو الله کتاب او اتباع د پیغمبر علیه السلام باندی صحیح کیږی

(اولما) ایت ۱۶۵ لتشجیع ورکوی.

من عندانفسکم، ایت ۱۶۵ ای بکسلکم فی قول الأمیر سورة النساء ایت ۷۹ سورة الروم ۴۰ سباء ۱۷ بقرة ۹۵ چه ته څه کوی نو الله کوی نو الله به دی. (امداد کړی څونه څونه کوه کنه هغه بیتو متل دیے د کولو یے زو به څه څو کړیه

یوسالك وائی

مجبور کی دل جوئی کا سامان بھی دیکھو

ایک پھول بھی رکھا ہے ستمگر نے قفس میں

داهر څه چه کیږی دانسان دلاسه ځکه انسان کاسب دے او الله خالق دے

الله نعمتونه هسے ورکوی اوعذاب په سبب داعمالو سره حدیث کښے راځي
(سبقت رحمتي على غضبي)دالله په رحمت ستا پیدائش اوشونو اوس هغه
کارمه کوه چه دغضب سبب وی
(وليعلم المؤمنين)ایت ۱۶۶ د امتحان غرض پتے وښایلو.
بوسالك والي
جزى الله الشدائد كلّ خير عرفت بها عدوى من صديقي
(وليعلم المؤمنين)ایت ۱۶۷ زجر للمنافقين.
(قتالًا)ایت ۱۶۷ یوه معنی داچه مونږ په طریقه دجنګ پوهیدے دویم داچه
مونږ پوهیدو پیدی خبره چه داجنګ دے یعنی که زمونږ داعقیده وه.
(الذين قالوا) آیت ۱۶۸ زجر للمنافقين وركوى
(بل احيآء عندربهم يرزقون)ایت ۱۶۹
(رزق ورکولے شی)نورزق دهغه جهان سی او ژوند د دنیا نوژوندهم دهغه
دنیااوهنه یادی کښے اشاره حمراء الأسد ت دے.
(الذين استجابوا)ایت ۱۷۲ چه کله جنګ احدنه بعد روان شول
نوابوسفیانؓ اوویل فيكم محمد نونبی علیه السلام اووے جواب مه
ورکوئی بیاهغه اووے هل فیکم ابن ابی قحافه (ابوبکر صدیقؓ)نونبی علیه
السلام اووے جواب مه ورکوی بیاهغه اووے هل فيكم ابن الخطاب(عمرؓ)
نونبی علیه السلام اووے جواب مه ورکوی نوابوسفیان اووے اعل هبل اعل
هبل (هبل جیت دی کړه)نبی علیه السلام بیا اویل جواب ورکړی لنا المولیٰ

ولا مولا لکم نو ابو سفیان بیا اووے لنا عزی ولا عزی لکم نو نبی علیه السلام
اول جواب ولے نه ورکول خکه چه که دا درے واړه کسان نه وی نو الله
خرشته دا کسان خو جهادنشی کیدلی کله چه ابو سفیان یو ځائی پورے
لاړو نو بیائی اراده وکړه چه مسلمانان به سم ختم کړو نو نبی علیه السلام ته
جبرائیل علیه السلام راغلو چه مازغره نده ویستی او تاا وویسته نو نبی علیه
السلام بیا چه کوم صحابه زخمیان شوی وو روان کړ ابو سفیان باندی رعب
راغلو هغه وے چه آزمریان کله زخمیان شي نو هغه څوك نه پریږدی نو واپس
شول او صحاباؤ هلته تجارت وکړو بیا راواپس شو۔
(الذین قال لهم الناس) ایت ۱۷۳ صرف مسعود بن جروی یا نعیم الأشجعی
ته یئے تعبیر په الناس او کړو چه خلقو ورته راستولے وو چه ورته او وایه چه
کفار درته جمع دی نو هغی ته اشاره دے۔
(فزادهم ایمانًا) ایت ۱۷۳، ایمان په باره کښی داحنافو قول دادے چه ایمان
کښی کمی اوزیاتی نه راځی بلکه الرد ایمان کمیږی اوزیاتیږی او که ته اولی
چه راځی په اعمالو سره نو کوم صحابه چی مکې کښی وفات شوی دی چه
نه هغه وخت کښی مونځ وو نه جهاد او نه حج وغیره نو هغوئی ایمان ناقص
وو او که کامل که ناقص وو نو بیا صحابه معیار حق نه شول داخبره امام
ابو حنیفهؒ دخط په جواب کښی لیکلی وه آثار السنن نقل کړی دے او مونږ وایو
چه ایمان بسیط دے چه عبارت دے دتصدیق قلبی نه لکه حدیث کښی راځی
تعلمنا الایمان ثم تعلمنا القرآن نو ددی مقصد دادے چه اول مونږ ایمان په زړه
راوړو بیا مونږ قرآن ته کیناستو او قرآن هم نسبت زړه ته کوی وقلبه مطمئن

باالایمان(چه زړه مطمئن په ایمان وی)او نوروالی چه ایمان مرکب دے دتصدیق قلبی اقرار باللسان عمل باالارکان نه او موږ داوایو چه تصدیق قلبی ایمان دی او اقرار باللسان او عمل باالارکان ورته شرط دے داجراء داحکام دمسلمانو دپاره او که ته والی چه نه احنافو داعقیده دجهمیه و عقیده ده نو بیاستاهم دخوارجو عقیده ده خکه چه معتزلی هم ایمان مرکب والی،

(حسبنا الله) ایت ۱۷۳ داهغه کلمه ده چه ابراهیم علیه السلام اور ته غورځیدو وخت کښی وئیلی وه داهغه کلمه ده چه سعدبن ابی وقاص چه کله دریاب ته ولاړو تو مر ګروته والی چه ترڅو پورے دلته وو سحرمونځ نے وکړوختی او سعدبن ابی وقاص اوورے چه زه یوه خبره کوم تاسوهم والی قولو احسبنا الله ونعم الوکیل نو آسونه ئی په دریاب واچول او لک ساعت کښی پورے شو،

(ولایحزنك) آیت ۱۷۶ خطاب لأمیرالجماعة

(ولایحسبن الذین) آیت ۱۷۸ تسلی للنبی ﷺ ولامیر الجماعة

(ماکان الله) آیت ۱۷۹ دفعه دوهم چه الله په موږ جهاد ولے کوی(معاذالله)

جواب ـــــ جهادسره منافق او مجاهد جداشی خبیث او طیب جداشی

(ولکن الله یجتبی من رسله من یشاء) آیت ۱۷۹ بعض خلق د دی نه علم غیب ثابتوی لیکن داصحیح نه ده خکه چه لکن د پاره د استدراك دے او دااستثناء منقطع ده نوروسته خان ته مبتداء او خبر جوړیږی نو خازن معنی کویو لکن الله یجتبی من رسله للرسالة من یشآء انبیاء علیهم السلام ته علم غیب نشته بلکه انباء الغیب ورته کیږی لکه یوسف ایت ۱۰۲

(ولایحسبن الذین) زجر للبخلاء ور کوی،

(لقدسمع اللّٰه) آیت ۱۸۱ ربط ... هر کله چه زجر للبخلاء نی ور کړونو په ضمن دهغی کښې زجر للیهود دے څکه چه دوئی وئیل په اللّٰه فقیر دے چه موږ نه غواړی العیاذ باللّٰه،

(ان اللّٰه فقیر) آیت ۱۸۰ دامقوله دقول دے،

(قالوان اللّٰه عهدالینا) ایت ۱۸۳ دادوئی چه کوم خبره کوله دائی دروغ وئیل (مخکې امتونو کښې چه به چا قربانی اوکړه نو آسمان نه به اور راغلواوبیا به سوزیده لکه آدم علیه السلام واقعه مائده ۲۷) چه نه قربانی وکړه چه هغه اوسوزی نوهلته دموږ متونو اللّٰه الزامی جواب کوی،

(قل قدجاء کم رسول) چه مخکښې انبیاؤ دا پیش کړی وے نوهغوئی ولے نه منل،

(متاع الغرور) ایت ۱۸۵ که لفظ غرور په ضمے سره شی نوپه معنے د دهو کے او که به فتحے سره شی نومعنی دهوکه باز لکه فاطر ایت ۵

(من عزم الامور) آیت ۱۸۶ (داد پخو کارونونه دی) شیخ القرآن به ویل دا دخو الالو کار دے لقمان حکیم صاحب هم خپل بچی ته والی لکه سورة لقمان ایت ۱۷

(واذاخذاللّٰه) ایت ۱۸۷ دی کښې زجر ور کوی علماؤ ته اللّٰه تریے نه وعده آخستی دے، کنز العمال ۱۹۰ جلد ۱۰ کښې یوروایت ذکر کوی،

مااتی اللّٰه عالماعلمه الااخذعلیه المیثاق ان لایکتمه هم دغسی،

مجموعة الرسائل ۳۳۶ کښې شامیؒ ذکر کوی

(ان فی خلق السموٰت)ایت ۱۹۰ ربط مخکبنی دعوی د توحید نی ذکر کړه په لله مافی السموات سره نو اوس پری دلائل ذکر کوی او دا تنمه د سورة بدعوی التوحید ده ولکه څرنګه په دعوی توحیدنے شروع کړے وو۔

(سمعنامنادیاینادی للأیمان)ایت ۱۹۳ ،اثبات الرسالة،

(ان امنوابربکم فآمنا)ایت ۱۹۳ بخاریؒ تاریخ کبیر کښی واقعه ذکر کوی چه منیب وائی زه یو خل مکے ته لاړم نو مصفله چوک کښی یو کس ولاړدے او داوائی،

(یآیهاالناس قولو لااله الاالله تفلحوا)نو چه دا آواز و کړی نو خلق فمنهم من یسب ومنهم من یحصوا علیه الترابدا ولہ نیره شی بلہ ولہ راشی نو هغوئی ته هم داوائی نو هغوئی هم دا کار کوی مائیوس و کړو چه دا څوک دے ماته اوویلے شو دامحمد بن عبدالله دے چه د نبوت دعوی ئے کړی ده نو بیاوائی حتی انتصف النهار غرمه شوه آمدو رفت بندشو نو یوه جینی راغله ورسره لوښه ده او دی سری ته اوبه آچولی او ډوډی ئے ده ورته وے چه زاره مه الله زه دی دپاره راغیرلے یم،

یو کس نبی علیه السلام ته مدینے ته راغے اوورته وائی چه زه دی اوپیژندم نبی علیه السلام اوفرمائیل چی نه هغه ورته اووی چه زه هغه سړے یم چه تا په بازار کښی خیمو مخے ته آواز کول چه قولوا لااله الاالله تفلحوا،

نو خماخیمے ته راغلی اویو کس تاپسے روان وو کنئی ئے راخیستے دی اوته پئے پری وینئی اودابه ئے وئیل چه داصابی دے خماخیمے ته چه راغلے ما توره راوویسته هغه کس ته م اووی چه که څدار دی و کړو سوبه دقلم کړم بیا

دی کس ایمان راؤړو او چه قوم ته لاړ دے مسئله نے کړی دے نوقوم ورته والی (یازمام امالتقی البرص والحزام)

(سیا تنا) ایت ۱۹۳ سیات معنی مصائب او خوړك والی چه صغائرترے مراد دی خوهره گناه دبل په نسبت صغیره هم ده او کبیره هم ده او دلته ترے مصائب مراد دی ځکه چه صغائر په ذنوبنا کښے راغلی دی،

(لایغرنك) ایت ۱۹٤ دفعه دشبهے ـــ چه کافر که چرے دالله دشمنان وی نومال اودولت ولے ورکوی او که مومن دالله دوستان یونوپه مومن به عذابونه ولے راتلل،

جواب ـــ مال ورکول دالله نه په درے قسمه دی،

(۱) ـــ دمهربانتیاد پاره

(۲) ـــ امتحان د پاره

(۳) ـــ دعذاب دپاره

او تکلیف په خو قسمه دے،

(۱) ـــ لرفع الدرجات کماعلی الانبیاء

(۲) ـــ للعذاب کماعلی الکفار

(۳) ـــ لعفوالذنوب کماعلی المؤمنین

(نزلًا) ایت ۱۹۸ (ملیمانه به کړے شی میلمستیا دطرف دالله نه) ایضا فی کهف ۱۰۷ نحل ۹۹، او کوره دلته نی اورے چه میلمانه به وی دا ولے

جواب ـــ ځکه چه میلمه سره غم نه وی غم کوربه سره وی،

(یاایها الذین امنوا) ایت ۲۰۰ تتمة د سورة په خلاصے دسورة سره امتوای

بـــــــــا الــــــتـــــوحـــــيـــــد والـــــــرســـــــالة

(ورابطوا) ایت ۲۰۰ (آسونه اوړئ) حدیث کښې راځي (رباط في سبيل الله خير من الدنيا و ما فيها)

(لعلكم تفلحون) ایت ۲۰۰ سر دسورة کښې نے وئیلي وو (الله لا اله الا هو) نو دا مسئله اومنه (لعلكم تفلحون)

(دسورة مختصره خلاصه)

سورة دوه حصے وو،

اوله حصه کښې اثبات التوحيد او هغه درے بابونه وه هر باب کښې شپږ شپږ خبرے اوپه سر د باب کښې اول مسئله د توحيد، داولی حصے په آخر کښې پنځه اقوال دپیرانو ذکر کړه،

دویمه حصه د (٦٤) ایت نه پدی کښې اثبات الرسالة، او ١٥ خبائث داهل کتابو بیان شول،

دریمه حصه د (١٠٢) ایت نه پدی کښې بیان دجهاد او انفاق، چونکه دی دپاره دتنظیم ضرورت وو نو پنځه قوانین دپاره دتنظیم، بیا تفریعات ددو وواقعو په پنځه قاعده، بیا آداب لامير الحرب ولأمير الجماعة بیان شویدی،

سورة کښې یو اهم او بهترین مضمون هغه شان صحابه رضوان الله تعالی علیهم اجمعین هم په ضمن کښې بیان شو،

....

﴿شان صحابه رضی الله عنهم﴾

په دی سورة کښې یو اهم مضمون شان صحابه بیان شویو کال دلته څیرووډ عرمی وخت وویو بیوداسې راغلوشیخ القرآنؒ سره کیناستوتپوسونه ئې شروع کړو خبوی بی کولے.

شیخ القرآنؒ ته وائی چه زه د مفتي محمودؒ استاذ یم اوزه دډیره اسماعیل خان یم اوفی الحال مفتي محمودصاحب ته راغلم (مفتي محمودصاحب هغه وخت کښې وزیر وو)ماوی آنی خان کښې دشیعه زردکولو ،نوهغوئي د ماجواب نه شو کولے نواوس هلته جماعت اسلامی واله پیداشول اودشیعه زمرسته ئې شروع کړه نوهغوئي مضبوط شول اوس ماته وائی چه ته کوم عظمت صحابه دپاره قربانی کوے که دادومره اهمه مسئله وی نوقرآن کښې ئې وښایه نوزه سوچ کښې وم دی وخت کښې یوعالم وودسنده مولانامحمدصدیق ولی الهی هغه ماسره ملاؤشو(اودادعبیدالله سندهیؒ شاګرددے سیاح او ۱۰۰ سال عمرلی وو)نوهغه ماته اووے چه پنج پیرته لاړشه هلته به ستامسئله حل شی اوس تاته راغلے یم شیخالقرآنؒ ورته اووی بسه ده کنه نوماته ئې اووے چه قرآن راواخله نوماقرآن راوغیستواوورم کړه

﴿عظمة الصحابة من القرآن﴾

شیخ القرآنؒ ورته اووے چه که صحابه زجرم وی نودبه لوئے جرم بل نشی کیدے چه نبی علیه السلام ئې دئوروميدان کښې پریښودے اوهغوئي تړے تښتیدلی دی سره ددی چه داکارشوے دے اودسورة العمران کښې هغه

واقعه بیان ده څو ګړه الله څه وائی،اول العمران ۱۵۲ (ولقدعفاعنکم)زما
دی په خپل ذات باندی قسم وی ماستاسو ته عفوه کړی ده)دعفوح څه معنی
ده دا ده چه ګناه وه الله معاف کړه بلکه الله وائی چه ستاسو ګناه ته ما اوږ
ګناه نده ویلی دعفوے څه معنی،المسامره لابن الهمام ۲۳۳ کښی معنی
کوی قال القشیری لیس العفوههنابمعنی غفربل کماقال النبی علیه السلام
عفا الله عنکم عن صدقة الخیل والرقیق ای لم تجب علیکم ولم یلزمکم
نومعنی ددی داده ده چه ګناه ترے شوی وه بلکه داشکلی دګناه وو لکه کله
کله شکل دګناه وی،لکه روژه دارسړے روژه کښی اوبه وڅکی په هیر
دویم ځل آیت ۵۵ (ولقدعفاالله عنهم)تحقیق الله ترے نه عفوه کړی ده)
دریم ځل ۱۵۹ پیغمبرپاک ﷺ ته وائی (فاعف عنهم)
څلورم (واستغفرلهم)
پنځم (وشاورهم فی الأمر)
بیاآیت نمبر ۱۷٤ (واتبعوارضوان الله)دوئی هم تابع دی دالله د رضامندیا
ایت ۱۱۰ (کنتم خیرامة)تاسوغوره امت یی په دی وخت کښی مخاطبین
صحابه وونوچه هغوئی خیانت ګراوظالمان شونوغوره څنګه شو،
سورة البقرةایت ۱٤۳ (امة وسطاً)تولګئ" ای خیاراوعدلاً"الله وائی دوئی
غوره دی سورة فتح ۱۸ (لقدرضی الله عن المؤمنین)الله وائی چه زه ترے
راضی یم خودوئی (الشیعة واحبابهم)وائی چه مونږترے رضانه یو،
سورة فتح ۳٦والزمهم کلمة التقوی دوئی سره ما کلمة التقوی لازمه کړی
دے اوبل ځائےحجرات کښی الله وائی انّ اکرمکم عندالله اتقاکم،نوصحابه

زول عزتمند دی،توبه ایت ۱۰۰ (رضی الله عنهم ورضوا عنه)

سورة الواقعه (والسابقون)

انفال ٦٤ والف بين قلوبهم وربسے والی یاَیهاالنبی حسبك الله حشر ایت ۸،

۹الله والی زه تریته رضایم پیغمبرنه هم ترے راضی شه او دوئی ماغوره

انصاف دارعادلان کامیاب خلق او زرونو کښی م ئے ایمان لازم کړے دے د

دی نه نور زیات خه شان صحابهؓ وی،

دارنګه احادیث و ګوره حدیث کښی راغي

﴿الاحاديث النبويّة﴾

بوسعیدخدریؓ نه روایت دے نبی علیه السلام فرمائی(لا تسبّوا اصحابی

فوالّذی نفسی بیده لو انفق احدکم مثل احد ذهبا ما ادرك مد احدهم و لا نصیفه

ابن عباسؓ نه روایت دے نبی علیه السلام فرمائی (مهما اوتیتم من کتاب الله

والعمل به لاعذر لأحدکم فی ترکه فان لم یکن فی کتاب الله فسنةٌ منی

ماضیة فان لم یکن سنةٌ منی ماضیةٌ فما قال اصحابی ان اصحابی بمنزلة

النجوم فی السمآء)

تشبیه ئی ستورو سره ورکړه (کلا والقمر)نبی علیه السلام سپوږمئی ده

او سپوږمئی نه بعد ستوری رڼا کوی،

۳۔۔۔۔ عمربن الخطابؓ نه روایت دے (العواصم من القواصم) کښی ابن عربیؒ اوله

مقدمه اول باب کښی چه هغه اصحاب رسول الله ﷺ عدول بتعدیل الله

... نه لهم و لاينتقص احدامنهم الازنديق،

نو هغه روایت کښی راغي قال رسول الله ﷺ سالت ربی فیمااختلف فیه

اصحابی من بعدی فاوحی الله الی فقال ان اصحابك عندی بمنزلة النجوم من السماء بعضها اضوء من بعض)

(٤) انس بن مالكؓ نه روایت دے قال رسول اللهﷺ ان الله اختارنی واختارلی اصحابی فجعلهم اصهاری و جعلهم انصاری وانه سیجیی فی آخر الزمان قوم ینتقصونهم الا ولا تناکحوهم الاولا تنکحوا الیهم الاولا تصلوامعهم الاولا تصلواعلیهم)

٥..... دامام ابوزرعةؒ قول دے (اذارأیت الرجل ینتقص احدامن اصحاب رسول الله فاعلم انه زندیقٌ)

٦..... ابو داؤد یو حدیث راوړی باب الرجم کښې چه صحابه په لاره روان وو، یو صحابی رجم شوے وو، دهغه تذکره ئے کوله نبی علیه السلام واوریده خو ئے اونه کړو،

حتی مربحمارشائلٍ برجله نونبی علیه السلام اووی (این فلان وفلانٍ قالانحن ذان یارسول الله قال علیه السلام انزلا فکلامن جیفة هذاالحمار(یو صحابه یوه شوچه حضرت غصه دے تپوس کوی (قالامن یاکل من هذایارسول الله فقال علیه السلام فمانلتمامن عرض اخیکمااشد من الأکل منه)هغه صحابه وو هغه(مرجوم صحابی)خه بی عزتی کړی وه خو صرف دا ئی اووی چه رجم شوے دے اودا ئی رښتیا اووی خو په نبی علیه السلام بداولګیدل اووی فرمائیل،

(والّذین نفسی بیده انه الان فی انهارالجنة ینغمس فیها)دولی والی چه صحابه ؤ داکړی دی مو یروایو بالفرض که شوی دی اوته غائبانه دهغه بد

وائی نو دا سی دے لکه مردار خره غوښی خوړے یاهغه نه هم بدتر د صحابه

بدولے شروع شو،

اقــوال الــعــلــمــاء

مرام الکلام صفحه ٤ کښې عبدالعزیز فرهاری ذکر کوی چه اصل باعث ددی خبرو

تو هغه وائی (لماانقرضت دولة المجوسية عن فارس تشاور بعض الشياطين فى افساد

الاسلام فاحدثوا القول بان الصحابة ظلموا اهل البيت) دا ئے خکه کول چه خلق

صحابه ژنه بد دل کړی چونکه صحابه د دین ستنی وے ،سند ورلو دونی چی بدنام

شو ،نودین هم بدنام شو خکه چه دین هغوئی راوړے دے امام مجددؒ هم مکتوبات

۳۳۰ مطبوعه ترك کښې دفتر دوم کښې وائی

اگر عثمان وصدیق وفاروق مطعون باشد متروک العدالت شو بر قرآن چه اعتبار باشد،

او صفحه ۷۷ کښې وائی ،

کسی که طعن بر اصحاب وسلف صالحین گیرد رافضی است

امام ابو حنیفهؒ هم د سلفونه روبیا صفحه ۲۰۸ کښې وائی

محاربات صحابه محمول بر محامل نیک هستند ،او صفحه ۱۸۹ کښې وائی

(ماامن برسول من لم يوقر اصحابه) صفحه ۸٤ کښې وائی

اگر اصحاب مطعون شود دین هم مطعون میشود

صفحه ۸۰ کښې وائی همه اصحاب را جز به نیکی یاد نه باید کرد نه صحابه ژبد به نه وائی.

ایمان کامل یامرام الکلام ۸۰ کښې عبدالعزیز فرهاریؒ ذکر کوی

جنگها کاندر صحابه شد پدید ... از قضائی حضرت رب المجید

یاد شد او در دلش اولی تر است ... یاد او کردن حرام ومنکر است

شیخ الاسلام علامه ابن تیمیهؒ مجموعة الفتاوی ۱۵۴ جلد ۳ کښې وائی

من طعن فی احد من الخلفاء الاربعة فهواضل من حمار اهله

شرح العقیدة الطحاویة ۵۲۸ کښې وائی ۔

ونبغض من یبغضهم وبغیر الخیر یذکرهم ولانذکرهم الابخیر

قرطبی ۱۳۰۸ جلد ۱، الابانه صفحه ۹۶ کښې وائی

(کل الصحابه ائمة مؤمنون غیر متهمین فی الدین وقد اثنی الله تعالیٰ علی جمیعهم وتعبدنابتوقیرهم وتعظیمهم والتبری من کل من ینتقص احدًامنهم والکف عن الطعن فیهم والثناء علیهم کما ثنی الله علیهم)

ابو المنتهی صفحه ۲۷ کښې وائی

(ولانذ کراحدامن الاصحاب الا بخیر)

الابانة صفحه ۹۵ کښې وائی

(وماجری بین علی وزبیر کان علی تاویل واجتهاد)

بعض خلق وائی،چه تاریخ لیکلی دی نوځکه مونږ وایو لکه البدایه لیکلی دی فلانی لیکلی دی فلانی لیکلی دی نوزه وایم چه دولی وائی چه تاریخ لیکلی دی ځکه ماؤلیکل نوزه که تا ته کنځل وکړم خفه کیږے خوبه نه ځکه چه تا ته فلانی هم کړی دی او بیا ګوره یو طرف ته دصحابی عظمت لره موازنه لے او کړه،

نیست مدح ایشان بجز مدح رسول طعنه بر ایشان خصلت مردجهول

طعنه بر ایشان طعنه بر پیغمبر است آنچه گفته شاعر گویم درست

او که ته وائی تاریخ لیکلی دے نوزه وایم،

نیست جز افسانہ تاریخ وطن   اینچنیں تاریخ را در آتش فگن

او کہ مؤرخ لیکلی دی نو دینہ پئے لیکلی دی چہ تا تہ پتہ لی چہ فلانی داویلی دی ھغہ صحابہ بدناموَل مؤرخ خولیکی خو دا مقصد ئے نہ دے لکہ قرآن موسی علیہ السلام بارہ کښی دفرعون قول ذکر کوی چہ ھغہ وئیل انی لأظنك یموسی مسحورا نو تہ بہ وائی چہ قرآن وئیلی دی چہ موسی علیہ السلام جادو کړو نہ بلکہ داد فرعون قول نقل کوی چہ ھغہ داویلی دی زہ یوتن دوہ نہ یادوم ،بلکہ ھر څوك چہ د صحابی بدوائی ھغہ رافضی دے کہ ھغہ شیعہ دے کہ مودودی دے او کہ غیر مقلد غیر مقلدین ھم د صحابہ وتنقیص کوی کتاب کښی ئے لیکلی دی چہ بس دی نہ هیڅوك نہ دی خلاص دائی کتاب کښی لیکلی دی خو دائی منکری دی او عبداللہ بن مسعودؓ بارہ کښی وائی چہ تہ وو داسے وو داسے وو مودودی صاحب ھم خلافت ملوکیت ۹۰ کښی وائی

حضرت علی کو لوگوں نے کہا کہ آپ بھی حضرت معاویہ کی طرح بیت المال کا منہ کھول دے یعنی مطلب داچہ ھغہ کھولاؤ کړی وہ صفحہ ۱۲۵ کښی وائی چہ ھغہ مطلب دادے چہ معاویہؓ باغی او بدنظمہ وو،

اس سے بڑھ کر زیادہ غیر آئینی طرز عمل دوسرے فریق یعنی حضرت معاویہؓ کا تھا جو معاویہ بن سفیان کی حیثیت سے نہیں بلکہ شام کے گورنر کے حیثیت سے حضرت عثمان کا بدلہ لینے کیلئے تمام مرکزی حکومت کی اطاعت سے انکار کیا

نو چہ مرکزی امیر اطاعت نہ انکار وکړی نو باغی دے کنہ او بیا وائی یہ سب کچھ دور اسلام کے نظامی حکومت کے بجائے زمانہ قبل اسلام کے

قبائلی بدنظمی کی اتباع هے،

معاویهؓ باره کښې صفحه ۱٤۷ کښې وائي چه خلافت يې په ملوکيت بدل کړو ۱٤۸ کښې وائي

دطمع او ډيرے نه يزيد خيل زرني دپاره ئے خلقونه بيعت واخستو،

صفحه ۱۵۸ کښې وائي چه دخلافت حاصلولو دپاره ئے جنګ او کړو،

صفحه ۱۷۳ کښې وائي حضرت معاويهؓ سنت بدل کړو،

صفحه ۱۷٤ کښې وائي چه د کتاب الله او سنت نے صريح خلاف ورزی وکړه،صفحه ۱۷۵ کښې وائي د بلاربه زناء نے شهادتونه واخستل

يو بو صحابي پسے بدوائي او داسے داسے الفاظ ذکر کوی حضرت عثمانؓ باره کښې وائي چه معيار مطلوب ئے قائم نه کړو او دبيت المال نه ئے

خپلو خپلوانو ته تحفے ور کړے او تقسيم ئے کړو او رشته دارانو له ئے عهدے ور کړی،

صفحه ۹۹،۱۰۹ کښې وائي او دا اعتراض په عثمانؓ شيعه ؤ کړے وو،

لکه السيف المسلول ۳۳۲ کښې قاضي ثناء الله پانی پتی دشيعه ؤ اعتراض

نقل کوی او دهغه نه جواب کوی مختصر تحفه اثناء عشريه ۲۶۲ کښې

دشيعه ؤ اعتراض ذکر کوی او جواب کوی المنتقى دامام ذهبیؒ ۳۷۸

الصواعق المحرقه ۱۱۳ کښې (لابن الحجر الهيثميؒ)

العواصم کښې ابن عربیؒ ترے نه جواب کوی مودودی پدی خفه شوے دے

چه دوئی جوابونه کوی نو وائي چه ماهغوئی خبره پرېښودی ده او هغه

جوابونه م ونه کړل نو ۳٤۸ کښې وائي چه دا ماولے ذکر له کړل داځکه چه

هغوئی خپل کتابونه د تاریخ په حیثیت نه دی لیکلی بلکه هغوئی خان نه د صحابه ؤ وکیلان جوړ کړی دی او وکیل خو خامخا خان نه صفائی کوی ددی وجې نه موږ وابونیهگ ده کنه خو په علیؓ هم اعتراضونه شوی دے نو چه کله هغه ذکر کړی بیا جوابونه کوی او بیا ۱۱۷ کښی وائی

انہوں نے ایک طویل فرض مرتب کی جن کی جوابات ممکن تھی اور بعد میں دی گئی

دحضرت علیؓ باره کښی داوائی نو حضرت عثمان باره کښی داولے نه وائی

ہم نے چھپایا لاکہ محبت نہ چپ سکی آنکھوں نے رو کہ یار سے اظہار کر دیا

مودودی دی خائی کښی شیعه ؤسره محبت ښکاره شو حالانکه عثمانؓ اعتراضاتو هم جوابونه کړی لکه تاریخ الطبری ۱٤٥ کښی وائی چه عثمان دور کښی ۳۳ بنوامیه وسره عهدیے وے او په هغه کښی ۱۸ عهدیے دعمرؓ د زمانے وے ده خپلو انو له عهدیے ور کړیے

دمال تقسیم باره کښی تاریخ طبری ۱۰۳،۱۰۲ کښی اوګوره عثمانؓ وائی (ولااستحل اموال المسلین لنفسی ولالاحد من الناس)

او دا زما خپل مال دیے هغه ور کوم او دامی دابوبکرؓ او عمرؓ زمانه کښی هم ورکولو یو کال مدرسه توی جوړیده دافغانستان انقلاب نوے راغلے وو یو څو ملایان دلته راغلی وو یو حسین اخونزاده چه وروسته ئے ورته شیخ جمیل الرحمٰن وے الله دی اوبخی دشیخ شاګردان وو دمودودی په سرئے بحث کولو (او هغه وخت ئے خپل تنظیم نه وو جوړ کړیے) نو شیخ القرآنؒ ورته دمودودی یوه یوه خبره بیانیله او جوابونه ئے کول شپه ترنیمه تیره شوه اویوه خبره دحضرت عثمان مال ورکولو الزام جواب پاتے شوا او ده شول

نوشیخ القرآنؒ یوه کیښته بعد کتابونه لاس کښې راخستې او راغلو هغوئی بیداوکړ، شیخ القرآن ورے چه زه اوده شوم نو سرے م کولو چه که صیام شوی نو الله به درته نیوس کوی چه دصحابي په سر بحث شروع وو او تا خوبونه کول نو راپاسدم) او په هغے درته بحث وکړو وبیالا ر کورته،

تمت بالخیر

بسم الله الرحمٰن الرحیم

سورة نسآء

مدنی سورة دے په نزول کښې ۹۲ پس دسورة الممتحنة نه نازل شوے دے

روابط السورة النسآء

(۱) ـ محکښې سوره فاتحه کښې درے فرقے منعوم علیهم، مغضوب علیهم، ضآلین اجمالاً بیان شویابقره کښې تفصیل دمغضوب علیهم او آلعمران کښې تفصیل دضآلین وشونودی کښې تفصیل دمنعوم علیهم کوی

(۲) ـ سورة آلعمران کښې اصلاح دعقیدے او کړنودی سورة کښې اصلاح دمعاشرے کوی

۳) ـ محکښې قوانین دتنظیم اوجماعت دپاره بیان شوتودی کښې قوانین او احکام بین الراعی والرعیت بیانوی

٤) ـ سورة آلعمران کښې دامی دتوبے شرطونه ذکر کړل نودی کښې دمنافق د توبے شرطونه ذکر کوی

٥) ـ محکښې سورة ختم کړے وو په تقوی (واتقوا الله لعلکم تفلحون) نوداسوره شروع کوی په تقوی (یآیها النّاس اتقوا ربکم)

) ـ محکښې وئیلی وو چه عیسی علیه السلام م یے پلاره پیدا کړے دے نودی کښې تفصیل کوی په (انما المسیح ابن مریم) سره

ـ محکښې وئیلی وو (انی متوفیك ورافعك الی) نودی سورة کښې تشریح دهغه اوردپه هغه چاچه وائی چه عیسی علیه السلام مو بړ وړلے دے

(۸)— محکمی ونیلی وو(وتوفنا مع الابرار)۱۹۳ نودی سورة ۶۹ کښی ابرار بیانی

(۹)— محکمی شهادت بالتوحیدویه ۱۸ کښی نودی کښی شهادت بالرسالة دے

(۱۰)— محکمی سورة کښی آلعمران دمحبوبان اوشونودی کښی د عاموسخو بیان کوی

امتیـــــازات الســـورـــةالنســـآء

(۱)— داسورة ممتازدے په بیان دهغه امورو چه اصلاح راری په هغه سره بین الراعی (بادشاه) والرعیت (عوام)

(۲)— داسورة ممتازدے په بیان داحکامو دمیرات باندی

(۳)— داسورة ممتازدے په بیان دمهرونو دسخو باندی

(٤)— داسورة ممتازدے دتورونه په بیان دهغه سخو چه نکاحاحرامی دی

(۵)— ممتازدے په بیان دتعدادجوازی دوادونوباندی

(٦)— ممتازدے په حکم دقتل خطاباندی

(۷)— ممتاز دے په بیان ددرجی دقاعدین من الجهاداومجاهدینو باندی

(۸)— داسورة ممتازدے په بیان دتوبے دمنافق باندی دهغې شرائط ذکر کوی

دعویٰ السورة النسآء

بیـــان دهغـــه احکـــامو چه هغه سره اصلاح راځی بین الراعی والرعیت

تقسیم السورة النسآء

دا سورة درے حصے دے ،اوله حصه تر ۵۸ پورے په دی کبنی ۱۶ احکام بین الرعیة بیانوی

دویمه حصه تر ۱۳۵ پورے په دی کبنی ۸ ،احکام بین الراعی والرعیة بیانوی

دریمه حصه تر آخره په دی کبنی بیان فرق ثلاثه ؤ (مؤمنان ،اهل کتاب او منافقین)دی سورة کبنی زواجر درے واړه ډلو ته

(۱)......یهود ته اوله حصه کبنی دولس زواجر ،او آخری حصه کبنی شپږ زواجر ورکوی ټوټول اتلس شول

(۲)......منافقینو ته اوله حصه کبنی اولس زواجر او آخری حصه کبنی شپږ زواجر ټوټول ۲۳ شول دامنافقین دیهودو تربیت شده خلق وو څو یهودو نه خبائثو کبنی زیات شول ځکه چه یهودو ته بوویشت او منافقینو ته درویشت شول

[illegible]

وکنت امرامن جندابلیس فارتقی به الحال حتی صار ابلیس من جندك

(۳)......اومؤمنانو ته اول حصه کبنی درے او آخری حصه کبنی دوه زواجر ورکوی سمط الدرر کبنی شیخ القرآن په دی خالی ذکر کوی.

وفیه زجر بالتضعیف والتنصیف (ترجمه دی سورة کبنی زجر دے په دو چندی او په نیمو الی بالندی

ددی قاعدے خمطلب دے دقاعدے مطلب دادے چه زواجر په تضعیف (دو چندئی) داسے دی چه مؤمنانو ته اول حصه کبنی درے زواجر وو نو درو دو چند شپږ وو نو منافقینو ته آخری حصه کبنی شپږ دی بیا دو چند دولس وو نو یهودو ته په اول حصه کبنی ۱۲ زواجر وو دا په دو چندی سره او تنصیف

(تیجوالی واله)په دی ترتیب سره چه دولس نصف شپږ او د شپږ و نصف درے دی نو تنصیف شو شیخ القرآنؒ فرمائیل چه دا قاعده مادی وجے کړه چه میراث کښی قاعده دتضعیف وتنصف مشهوره قاعده ده نوما ددی مطابق داقاعده دلته بیان کړه ځکه چه دی سورت کښی احکام دمیراث بیانوی

حل مشکلات السورة النسآء

(يَآاَيُّهَاالنَّاسُ اتَّقُوا) ــ دا آیت بطور براعة الاستهلال دے یعنی (دامعروفه اصطلاح په مینځ دعلماء کښی ده چه مصنفؒ خطبے کښی داسے الفاظ راوړی چه وروسته کتاب په مضمون باندی دلالت کوی چه کوره یونفس نه پیدا ئے بیاهم دیوبل میراث اوغوبسی خوری

نفس واحدة

(۱) :نفس واحد نه چه حواء دآدم علیه السلام نه پیداشوه نودهغی خلقت بطریق التوالد نه دے مرادځکه چه بیاځکه نکاح کیده یا مراد ترے نه جنس دے حدیث کښی راځی (المؤمنون کنفس واحد)

(تسآء لون به)ای تساء لون بواسطته یابمعنی عنه ای تساء لون عنه

(والارحام)

(۱) ......دامفعول دفعل محذوفه دے په حذف دمضاف سره ای اتقوا قطع الارحام

(واتواالیتمیٰ اموالهم)

(۲) ......ددی خائی نه اول قانون مابین دبادشاه اورعیت کښی بیانوی نول شپارس احکام دے۔

(۱) حفظ اموال الیتامی (۲) حفظ النفوس الیتامی

(۳) اعطاء المهور للنسآء (٤) حفظ اموال السفهآء

(۵) اعطاء الحق لمن هواهله (حقوق ور کول خپل حقدارانو لره

(٦) تقسیم الأموال بالفرائض المقررة من اللّٰه تعالی

(۷) ردالفواحش وتطهیرالأنفس

(۸) ښځې په میراث کښې مه آخلئ

(۹) دمشرانو بے ادبی مه کوئ (۱۰) النهی عن نکاح المحرمات

(۱۱) النهی عن اکل اموال المحرمة (۱۲) النهی عن العدوان

(۱۳) ایفاء العهد (۱٤) امیرالبیت الرجل

(۱۵) الصلح بین العشائر (۱٦) العبادة للّٰه وحده

دلته لفظ دیتیم ذکر کوی باعتبار دما کان سره یعنی مخکښې داشان ووخکه چه اوس خوان شوے دے .او اول شروع ئے یتیم نه وکړه ځکه چه د یتیم خوګ تپوس نه کوی او زیات مظلوم وی

کـــــــــــــــان حـــــــــــــوبًـــــــــــــا

(حوب، هغه ګناه ته وائی چه حدته رسیدلی وی

فـــــــــــانـــــــــــکـــــــــــحـــــــــــوا مـــــــــــا

(ما، نه مرادصفت دے یعنی نکاح وکړے په هغه صفت او داصفت خوشی دے مفسرین وائی لجمالها ولدینها ولمالها ولنسبها،

الاتـــــــــــعـــــــــــدلـــــــــــوا

(ای ان لا تظلموا)

ومن کان غنیا فلیستعفف

څوک چه مالدار وی نو یتیم مال نه دی خان بچ کړی،

ومن کان فقیرا فلیاکل بالمعروف

او څوک چه محتاج وی نو په ښه طریقه داوخوری نو څه مطلب راووتو

اصل کښی دا مطلب نه دے بلکه غنی دغناء نه بمعنی دابے پروائی راری لکه

اشعارو دعرب کښی راځی

کلانا غنی عن اخیه حیاته ونحن اذا متنا اشد تغانیاً

(تغانی او غنی بمعنی بے پرواهی دے) حدیث کښی راځی

لیس منامن لم یتغن بالقرآن نو دلته په معنی دښه آواز نه راځی بلکه دامعنی چه

څوک بے پرواه نه کړی خپل ځان په قرآن باندی دامطلب ددی وجے نه

علامه قرطبیؒ ذکر کوی من هداه الله للاسلام و علّمه القرآن ثم شکی الفاقة

کتب الله الفقربین عینیه الی یوم یلقاه او عثمانؓ ته غنی ولے وائی یو ددی

وجے نه چه مالدار وو دویم ددی وجے نه چه قرآن جمع کولو واله روا و

نور خلقو نه بے پرواوو نو دلته معنی داده څوک چه بے پرواوی د کسب نه په

مال دیتیم کښی نو ځان دی بچ کړی او څوک چه محتاج وی کسب نه په مال

دیتیم کښی نو پس خوری دمزدوری خپله دیتیم مال نه په ښه طریقه،

(للرجال نصیب) پنځمه قاعده چه حقدارانو له خپل حق ور کړی،

(وللنساء نصیب) د ښځو ذکر ئے ځان ته وکړو داځکه چه عربو به ښځوته

مالونه نه ور کول

(واذاحضر) بعض مفسرینؒ وائی داآیت منسوخ دے ځکه چه اول به میراث

تقسمی دونو غریبانو ته به نه ورکول او اوس دانشته او اس داحکم استحبابی باتے دے خو مونږ وایو چه په ترك دمستحبو باندی ولی الله تعالی زجرورکوی په (ولیخش الذین لوترکوامن خلفهم) سره ،اصل کښی دایتامی او مساکین په اولوا القربی کښی داخل دی او خان ته لے ذکر د ترحم دپاره دے

(وقولوالهم قولامعروفا) حضرت زبیرؓ چه جنګ، کښی زخمی شونو وینه ترے زیاته تله زونی ته وصیت ئے اوکړو چه په ما باندی ذخلقو قرضی دی نوځه زمامال نه ورکوه او کچرے کم شو نو بیا زمادوست (الله) ته اووایه کله چه قرضے ورکولے نومال ختم شوزونی ئے الله ته شپے او ژړل سحرورته خبر راغلو چه ستاغابه مقام کښی زمکه راوتی ده دعمرؓ خلافت وو نوزمکه ئے خرڅه کړه او قرض ئے اداکړو بیا دزبیرؓ خلورښځی وے هرے یوے ته ئے دوویشت لاکهه درهم هم ورکړو داصرف اتمه حصه دمال خومره دولت وو (۸۸ لاکهه صرف ثمن دمال وو)

(مایأکلون فی بطونهم الاالنار) خوك چه د یتیم مال خوری نو حدیث کښی راځی چه قیامت کښی به ئے خولے نه اور ځیژی نوس به کیږی چه داخوك دے ونیلے به شی داهغه خوك دے چه د یتیم مال به ئے خوړلو،

کومه ښځه چه په مړی زاری هغی باره کښی راځی

لیس منا من ضرب الخدود وشق الجیوب ودعابدعوی الجاهلیة نن صباهم په مړو باندی شعرونه وائی

دارنګه حدیث کښی راځی (ان المیت لیعذب ببکاء اهله) نو دلته دمړی ځه

گناه دے دا اصل کښی ددی وجے نه چه هغه به وصیت کړے وی چه په مامه زاری خو که وصیت ئے نه وو کړے نو عذاب به ور کولے شی دیتیم مال کښه

کښی آچول داور آچول دی او دی آیت کښی اول زجرو و مؤمنانو ته

(یوصیکم اللّٰه) شپږم قانون تقسیم الأموال باالفرائض المقدرة من اللّٰه تعالی

(مثل حظ الانثیین) سوال سړی ته ولے ددوه ښځو برابر حصه ده داظلم نه دے

جواب داالله ورته پوره اکړی دے ځکه چه یوه حصه پلارنه آخلی اویوه

دخاوند نه آخلی نودوه حصے شولے

(یوصی بهااودین) آیت ۱۱ دلته وصیت محکښی دے او قرض وروستو دے

جواب اصل کښی حضرت علیؓ وائی چه قرض محکښی دے او وصیت

وروستو دے په اداکولو کښی مال به درے حصی کولے شی دریمه حصه

کښی به قرض او وصیت اداکولے شی ټول مال د مړی نه اونورے حصے به

تقسیمولے شی

(غیرمضارّ) خبرد کان محذوف دپاره یعنی کونوا غیر مضارّاو دامخکښی ټو

لو احکاموسره لګی

(وصیةً من اللّٰه) آیت ۱۲ وصیت ورته ځکه وائی چه وصیت نه منسوخ کیږی

نودغسی داالله داحکم نه منسوخ کیږی

(والّتی) آیت ۱۵ اووم قانون ردالفواحش وتطهیرالأنفس

ربط.........هر کله چی د زنانه ؤ ذکر کیدونوداسے نه چه ممتی شی ....فوا

حش شروع کړی نو اوس ردالفواحش کوی او په دی به گواهان نیسی

حدیث کښې راځي نبي علیه السلام ته یو کس راغلو چه، ښځه به زناء و کړی او مونږ به ګواهان لټوو نو څه وکړو، نبي علیه السلام ورته اووې (اناغیورمنك والله اغیرمنی) زه تا نه ډیرزیات غیرت مند او الله زمانه زیات غیرتمند دے مطلب داچه دحد جاری کول دپاره ګواهان دی او باقي ښځه درته معلومه شوه نو ځان ترې خلاص کړه ګنه خو هسې نه چه دغیرت په نوم هسې قتلونه شروع شي.

(لهن سبیلا) سبیل او لار حکم دقاضي دے او هغه سورة النور ایت ۲ کښې ذکر دے (والذان یاتینهامنکم فآذوهما) دلته صرف فاذوهما مطلق اذی (تکلیف) ئے ذکر کړو ځکه چه سزالے زیاته ده علیؓ او امام ابوحنیفهؒ وائی دے دکمرنه وغورځوی چه ددی بے غیرته خو ځټ مات شي او دافعل چی چا کړی وو په هغوئی دوه عذابونه راغلل لکه قوم لوط.

علامه ابن قیمؒ وائی عدة الصابرین ۱۳۲ کښې چه خنزیرغوښه ولے حرامه دے داځکه (لان لیس فی البهایم لوطیٌ سواهٗ) مدخل کښې ابن الحاج دیوعالم قول ذکر کوی هغه وائی (لأن اؤتمن بسبعین عذرآء احب الیّ من ان اؤتمن باالأمرد)

تفسیر کبیر کښې امام رازیؒ وائی (لایجوز النظرالی الأمرد فیه شبهة الشهوة) علامه سیوطیؒ دیوعالم واقعه ذکر کوی چه هغه خائسته نصرانی هلك ته او کتل نو استاذ پری راغلو او ورته اووې داځه کوے هغه وے (او ملامتة وو) چه ماداسوچ کولو چه دومره خائسته مخ به هم جهنم کښې سوځی استاذ ورته اووی چه ته هغه خالي ته ګورے چه حافظه کمزوری کړی هغه عالم وائی

ماته شلو کالو بعد ددې نتیجه معلومه شوه،

امام ذهبیؒ وائي چه يو سړے خائسته هلك ته وګوري او دهغه په زړه

دخائست اثر اونه شي داد روغ دى سيدسنډپير خائسته وو يو خل ئے مخ

باندې خاؤره پريوته نو بل طالب ورته اووې (يليتني کنت ترابا) کاش چه زه

خاؤرے وه ستا په مخ پريوتے وے)سيدسنډ ورته اووے (ويقول الکفريليتني

کنت ترابا)

(ياايها الذين امنوا)الخ قانون ميراث کښې ښځې مه اخلي چه داخصوصاً کوښه

ده بل به ئې نه کوي وغيره،

(وعاشروهن باالمعروف)آيت ۱۹ (ښځوسره ښه ژوندتيريوئ) دحبشوتير اندازي وه

عائشهؓ ته نبي عليه السلام وائي راشه تماشه وکړه نوعائشهؓ خپله زنې يقال له

في اللغة العربية الذقن دنبي عليه السلام په اوږه(کندها)ايښي وه اوهغه لوبے

ته ئے کتل مقصد سړوته کتل نه وو،

نبي عليه السلام سره عائشيؓ منډه وهله داخه عجيب ژوندګي وه بل طرف ته

نبي عليه السلام بي بي باندې تهمت لګيدلے دے ،نونوروسخوته نبي عليه

السلام تپوس کوي او عائشه ئے دپلار کورته استولې ده نبي عليه السلام خان

ته خفه ناست دے دکورسخوته خفه شوے دے عمرؓ چلے لورته راغلو چه

جهګړے مه کوئي داحال به مروي نبي عليه السلام خفه دے بيانبي عليه

السلام ته لاړوورته وائي چه موږمکه کښې وونوسخو باندې موږ غالب

وو اوس مدينے ته راغلونو موږ باندې ښځې غالبے شوے دانصاروسخوته ئې

چل ازده کړونبي عليه السلام مسکئ شو داسے ژوندګي دپيغمبرهر خه طريقه

دالله حکم سره

(ولاتنکحوا)نهم قانون یے ادبي دمشرانومه.کوئی

(ومقتا) یا غت دخصي یاد الله اویا دمشرانو

(حرمت علیکم)ددی خائي نه لسم حکم نهي عن نکاح المحرمات داچکه

الله حرامي کړی دے چه دوئی په نسب کښي،دیرے نودے دی او دوئی

طلاق سره خپل عیخ کښي خلاف دکورنی راغي

(والمحصنت) محصنت دحصن نه دے ،قلعي ته وائي او ښځي دپاره قلعه

دوه اشیاء دی

(۱)پاکدامني ۔۔۔(۲)خاوند ......نودی معني پاکدامنے ښځي اوشادي

شده ښځي دواړه راغلي

(اخدان)اخدان دخدن جمع ده په معني دهغه دوست راځي چه دهغه په

ذکرتامجلس کښي شومیږے

(وان تصبرواخیرلکم)داجمله مخکښي ټولواحکامو سره لګي

(یآیهاالذین امنوا)دایولسم قانون نهي عن اکل اموال المحرمة،

(ولاتقتلوانفسکم)دامخکښي ټولواحکامو سره لګي

(ومن یفعل ذالك)دادریم زجرمؤمنانوته دے واړرزواجرو کښي لفظ

نارذکرکوی اول زجرپه ۱۰ کښي نوهلته وائي(انمایأکلون في بطونهم نارا)

دویم زجرپه ۱٤ کښي نوهلته وائي یدخله نارا ،اودریم زجردلته نووائي

فسوف نصلیه نارًاداچکه یتیم مال خوری نوځیته،کښي اورآچوی اورته به

داخل شي اواورته به ئي داخل کړم دادرے زواجرمؤمنانوته،

(نکفر عنکم سیاٰتکم) بعض خلق دلته وائی چه کبائرنه کوے نوصغائرالله معاف کوی داخبره صحیح نه دے ځکه کبائرغیردتوبے نه نه معاف کیږی (واذااصرت علی الصغائرفهی من الکبائر)

او دویم داچه صغائراو کبائروتعریف څنګ نوهغوئی وائی چه کبائرهغی ګناه ته وائی چه قرآن کښې ئے سزاذکروی اوصغائرچه قرآن کښې نی سزانه وی ذکرداصحیح نه دے ځکه خلاف عهدکول ګناه کبیره دے اوسره ددی قرآن کښې ددی سزانه دے ذکراصل کښې صغیره او کبیره په اعتبار دآمیروی لکه پلارچه بچی ته اووائی اوبه راوړه نوهغه ورته اووائی نه راوړم نودلوئے جرم دے اوچه یوکس ته دهغه ملګری اووائی چه نه راوړم نوداوئے جرم نه دے الله تعالی آمیردے دهغه حکم نه خلاف کول ګناه کبیره دے اوکه ته وائی سیئات بیاڅه مطلب نوسیئات په معنی د مصائب دے لکه سورة الاعراف ایت ۹۵،۱۳۱،۱۶۸،

(ولاتتمنوا)دولسم حکم نهی عن العدوان چه کورسموے نوزیاتے مکوه که زیاتے دی کولونوګوربه روان شی خدائے چه دستا وروورته دولت ورکړه نوداخبره دخوشحالی خبره دے،

(واسئلو الله من فضله)دالله نه غواړه بدنیتی مه کوه بل ته

الله یغضب ان ترکت سؤاله وبنی آدم حین یسئل یغضب

سورة الفرقان ایت ۵۹ چه الله نه سوال وکړه دربه کړی

شیخ القرآنؒ نیل السائرین کښې په ترجمه دسهیلی کښې چنداشعارذکرکوی

یامن یریٰ مافی الضمیرویسمع انت المعدلکل مایتوقع
یامن یرجیٰ فی الشدائدکلّها یامن الیه المشتکیٰ والمفزع
یامن خزائن رزقه فی قول کن امنن فان الخیر عندك اجمع
مالی سوی فقری الیك وسیلةٌ فبالافتقار الیك فقری ادفع
مالی سوی قرعی لبابك حیلةٌ فلئن رددت فأیّ بابٍ اقرع

بدنیتی مکوه پو کس خوب ولیدوچه آخرت دے اودرے کوهان (کوټی)دی نولو کښې خلق سوزی خو په دوو باندی فرشتے ولاړی دی او په یوه باندی نه دی ولاړی نوسحر ملاته راغلوتپوس ئے وکړوچه داڅه وجه دے ،

ملاورته اووے چه دادرو کښې نورخلك وواودایوه کښې پښتنه وونودوئی نه دفرشتو ضرورت نه وو څکه چه دوئی خپله یوبل دبل دخپونه راځکی ،

(ولکل جعلنا)دلته نه دبارلسم قانون ایفاء العهدذکر کړی چه وعده وکړے نوپوراکړه دوست نه دخپو بوښان مه جوړوه چه په کارښی صفائی کړے او کله چه په کارنه وی نوبیا گوټ، کښې پراته وی

مصرعه

زماپرے هسے نوم بدنام دے په تیسم کښې خندا بل سره کوینه

(والّذین عقدت ایمانکم)ایمانکم نه مراداخوت اسلامی دے دااخوت اسلامی صحاباؤقالم کړی وو ،

(الرجال قوامون)داخوارلسم حکم امیرالبیت الرجل که معاشره سمول غواړے نود کورمشرسړے جوړکړه نبی علیه السلام یوځل دعائشهؓ په غیره کښې پروت وواذجاء مبشریشره او گدروایت دے اوبیائے اوبئل چه فلان

ملک حلقو دپاشاه لو رمشوره کره نو نبی علیه السلام اووے (لن یفلح قوم ولوامرهم امرائة) چه هغوئی ښځه حاکمه کړه بو بل اورد روایت دے هغه کښی راځی (اذا کانت امراء کم شرارکم واغنیاء کم بخلاء کم وامورکم الی نسآء کم فبطن الارض خیرلکم من ظهرها)

(حفظت للغیب) حفاظت کونکی وی مال ددے په وقت دغائبوالی دخاوند کښی) هوښیاره ښځه هغه ده چه دخاوندمال ساتی ښځه رربی نکوی ښځه جمع کوی کم عقله ښځه وی نو لسوپه ځانی شل نکوی نبی علیه السلام ښځوته تقریر کول نو اووے چه ماجهنم کښی ډیرے ښځی ولیدے اودادی وجے نه یکفرن العشیرچه خاوندنه اوغونډه څه و کوری نو وائی (مارایت منك خیراقط) دخاوندټول نعمتونه هې کړی خاوندلے دېځونه سرکښی شوے وی اوبده ورځ نه نی خله که غابړنه نه وی اودایه مزے کوی

(تخافون نشوزهن) چه بداخلاقی کوی نو څو طریقے ذکر کوی دسمولو،

اول...... فعظوهن،

دویم...... (واهجروهن فی المضاجع) که په دی هم پوهه نه شی نو بیا،

دریم...... (فاضربوهن) که بیاهم پوهه نه شی نو بیائی اوواهه

(فلا تبغوا علیهن سبیلا) ای سبیل الطلاق که ښځه په مخکښی کارونو نه سمیده نو بیاطلاق ورکړه په سنت طریقه چه سوچ بکښی اوکړی ورنه دیوث کیږه مه،

(وان خفتم) پنځلسم قانون...... الصلح بین العشائر،

(فابعثوا حکماً) (ولیږئی حاکم فیصله کن) کله چه حضرت عثمانؓ مقتول

شول لوعلیؓ اومعاویهؓ مابین کښی اختلاف راغلو لومیخ کښی عمرو بن العاصؓ
اوابوموسی اشعریؓ لی فیصله کن وکرخول لودی وخت کښی ځلورزره
کسانواوونیل چه علیؓ اومعاویهؓ دواړه(معاذالله) کافران دی ځکه الله والی،
(ومن لم یحکم بماانزل الله فاولئک هم الکافرون) ابن عباسؓ ورغلواوهغوئی
ته ئی تقریر کولو لودا آیتونه (وان خفتم شقاق بینهمافابعثوا حکماًمن اهله
وحکماًمن اهلها)(وان طائفتین من المؤمنین اقتتلوافأصلحوابینهما)نورآیتونه
ئی اوړے لودی وخت کښی دوه زره کسان خوارج بیاراو اپس شول اودوه
زره پخپل حال پاتے شوداخوارج بیاکړو، شول بے دینه او گمراه شو،
د عبدالرحمن بن ملجم (قاتل علیؓ)په مدح کښی دا اشعارو لیلی

یاضربة من تقی ماارادبها الاليبلغ من ذیؒ العرش رضوانا
انی لأذکره یوماًفأحسبه اوفی البرية عندالله میزانا

ددی په جواب کښی اهل السنة والجماعة والی

یاضربة من شقی ماراد بها الاليبلغ من ذی العرش غضیانا
انی لأذکره یوماًفأحسبه اشقی البرية عندالله میزاناً

(واعبدوا الله) دلته ارسم قانون تفریع دمے ماسبقه باند العبادة لله وحده مطلب
داچه داسے نه وی چه اصلاح دمعاشرے کوے اوتوحیددرنه ورک شی او
یولس اشیاء ذکرکوی داځکه چه یولسمے خوان شے دایو لس اشیاء اومنه
(۱)واعبدوالله(۲)ولاتشرکوابه (۳)وبالوالدین احساناً(۴)وبذی القربی
(۵)والیتامی(۶)والمساکین(۷)وابن السبیل(۸)والجارذی القربی
(۹)والجارالجنب(۱۰)والصاحب بالجنب(۱۱)وماملکت ایمانکم

(والجار الجنب) ایت ۳۶ جار جنب نه مراد کافر گاوندی دے حضرت ابن عمرؓ یو خل څوک وړته راغلو نو اووے (اهدیتم لجارنا الیهودی) د یهودی خیال نی ساتلو نن یهودی لعنهم الله و کړو.

(ان الله لایحب) ایت ۳۶ دی خالی نه تر ۴۳ پورے زواجر للمنافقین وو کوی (ماآتٰهم الله من فضله) ایت ۳۷ چه څه الله در کړی وی نو مه پټے پټوه بلکه ښکاره یئے کړه نبی علیه السلام ته یو صحابی راغلو نبی علیه السلام ورته اووے (هل لک من مال قال قداتنی الله من الابل ومن البقرو من الغنم قال ﷺ فلیری علیک) ښکاره ده چه په تا او لیدے شی او یو حدیث کښی راځی (افضل الدینار دینار ینفقه الرجل علی عیاله و افضل الدینار دینار ینفقه الرجل فی سبیل الله و افضل الدینادینار ینفقه الرجل علی دابته) فی سبیل الله ځان باندی خرچه کوه پټوه یئے مه

(قسآء قرینا) ایت ۳۸ (څه بد دوست دے د اشیطان) عائشهؓ ته اشعار منسوب دی.

عن المئر لاتسئل واسئل عن قرینه   فکل قرین بالمقارن تقتدی
فان کان ذاخیر فقارنه سرعةً   وان کان ذاشر فجانبة تهتدی

حضرت علیؓ کوفی ته لاړ نو په دریمه ورځ ئے
تقریر و کړو نو اووے "قدعلمنا شرارکم من خیارکم هغوی ورته اوئیل چه داڅنګه خودرے ورځی، او شوے نو حضرت علیؓ ورته اوئیل چه مونږ سره شرار او خیار دواړه راغلی وو نو فاتضمّ شرار نا الی شرارکم وخیارنا الی خیارکم.

(وجئنابك على هؤلاء شهيدا) ايت ٤١ مسلم کښې روايت دے عبدالله بن مسعودؓ ته نبي عليه السلام اووے چه قرآن تلاوت کړه نوعبدالله بن مسعودؓ اووے چه نازل په تاسو دے نبي عليه السلام ورته اووے چه ماته بل والى نوخوندکوى نوعبدالله بن مسعودؓ سورة نسآء شروع کړه چه دى آيت ته راغلو وجئنابك نوعبدالله بن مسعودؓ ته ئے اووے چه بس کړه عبدالله بن مسعودؓ وائى ماچه ولیدل (فاذاعيناه تدمعان) بيانبي عليه السلام وفرمايل اقول كماقال العبدالصالح(عيسىؑ)اوسورة مائده ١١٧ آيت ئے تلاوت کړواودوئى وائى چه نبي السلام باندى هره جمعرات عرض الأعمال کیږى اودكنزالعمال روايت ذكركوى په هغى ابن كثيرجرح كوى چه دى کښې انقطاع ده حديث ده اذاصليتم على النبى فاحسنوا صلا لكم فانه تعرض على النبى وفى رواته اخرى من صلى على عندقبرى سمعته قال ابن جوزى هذاالحديث موضوع قال صاحب الميزان فى الميزان فيه محمدبن مروان وهومتروك لوضعه وردعليه صاحب احسن المطالب فيه فى ٢٠٠ داروايت دعبدالله بن مسعودؓ نه ده اوعبدالله بن مسعودؓ دوه شاګردان وويوعلقمه او بل ذاذان علقمه تابعى دوهغه چه روايت كوى نووائى لعله تعرض على النبى (شايدچه پيش شى)اوذاذان شيعه ووچه هغه نه روايت کیږى نوهغه وائى فانه تعرض على النبى نودواړوروايتونوکښې فرق دے نودوئى دشيعه روايت قبول کړواودتابعى روايت ئے پريخودواوصحيح بخارى هغه روايت دے چه نبي عليه السلام فرمائى زه به حوض كوثرباندى ولاړيم فليذادان عن حوض تردمے چه فرښتے به ماته وائى انك لاتدرى مااحدثوابعدك

نو دالاتدری ولے وائی چه عرض الأعمال په کیږی
(الاعابری سبیل)دامشثنی د(ولاجنبا)نه ده مطلب داچه لا تقربوا مواضع
الصلوة الاعابری سبیل
(الم ترالی الذین)ددی څائی نه زواجرورکوی یهودوته تر ٥ ٦ پورے
(والله اعلم باعدائکم)دادشمن ذرته بیاسورة فاطر ٦ کښې ځائی
(واسمع غیرمسمع)غیرمسمع پوخومعنے دی
(١)---- ندی اوریدلے شی ستاهه خبره
(٢)---- واله آوزے نه خبره
(٣)---- نه دے منظوره ستاخبره
(٤)---- نه معنی ده چه مخکښې ستانده آوزریدلی داخبره
(٥) ندی آوزولے شوے ستانه بده خبره داهم نه معنی ده خودوئی به تریے غلطے معنے اخستے
(ومن یشرك بالله فقدافتری اثماً عظیما)داځه شان آیت په ١١٦ کښې هم دے اوهلته آخرکښې وائی (فقدضل ضلالامبینا)اودلته وائی
(فقدافتری اثماعظیمًا)داولے
جواب ----داځکه چه افتراء نسبت چه کوی دادرجی خطاب دیهودوعلماؤ سره اوهلته خطاب دنصاراؤامیانوسره وونوځکه لے ضلالت نسبت اوکړو،
مطلب داچه افتراء علماؤوکړه ځکه دوئی پوه وواوضلالت امیانو اوکړو،
(ولایظلمون فتیلاً)قرآن کریم کښې درے الفاظ ذکرکیږی
(١)----فتیل (٢)----نقیر (٣)----قطمیر

فتیل والی هغه تار ته چه کهجورے هډوکی جوړ کښی وی
نقیر والی چه د کهجورے هډوکی کښی هغه داغ اوچو
قطمیر په هډوکی باندی چه کوم نرے پوستکے وی هغه ته والی،
(بالجبت) کوډمنترے داپه معنی دسحر ساحر نجومیان باره کښی حدیث
کښی راځی (من صدق کاهناً فقد کفر بما انزل علی محمد ﷺ)
(والطاغوت) ابن کثیر والی (کل ماعبد من دون الله) خو دا (من دون الله)
په عبادت راضی وی
(والذین امنوا) ای باحکام السابقة او دا بشارت دے
(ظلاً ظلیلاً) ظل بمعنی سورے دے اخوجنت کښی خو سورے نه وی نو مراد
دی نه آرام دے دلته ذکر دسبب او مراد لرے نه مسبب دے او دامعنی فتح
الرحمن هم کوی
(ان الله یامر کم) ددی خائی نه دریمه حصه دسورة ده او دی کښی هغه احکام
بیانوی چه په معنی سره اصلاح بین الراعی والرعیة راځی اته احکام او نهم
برے تفریع

(۱) — اول حکم اداء الأمانات الی اهلها (۲) — اطیعوا الأمیر
(۳) — القتال فی سبیل الله (٤) — احتیاط فی القتل
(۵) — اصلاح النیة (٦) — الهجرة فی سبیل الله
(۷) — حکم الصلوة (۸) — قانون به ستاسو قرآن وی
(۹) — نهم حکم تفریع په ماسبقه باندی او تنویر علی ماسبقه په ۱۲۷ کښی
او بیا آخر کښی دعوی دتوحید ۱۳۲ کښی او دا په ۱۳۵ ختمه ده دلته نه

اول حکم (اداء الامانات الی اهلها) داحکم دبادشاه دپاره
(ان تؤدوا الامنت الی اهلها) هرمشرنه به د کشرتپوس کیږی حدیث کښی
راځی (الاکلکم راع وکلکم مسئول عن رعیته)
(کان سمیعا بصیرا) دادوه صفتونه ولے ذکرکوی اصل کښی دلته دوه کارونه
دی
(۱) — یو دامیر (۲) — بل دمامورنو الله سمیع دے په حکم دامیر او بصیر دے
په کار دمامور باندی
(یاایها الذین امنوا) دویم حکم — اطیعوا الأمیر او داحکم رعیت ته دے
(و اولی الأمر منکم) اولوالا مرنه مراد څوك علماء، قضاة او اکثرتر ے نه امیران
آخلی حدیث کښی راځی نبی علیه السلام وائی
من طع الأمیر فقد اطاعنی ومن اطاعنی فقد اطاع الله ومن یعص الأمیر
فقد عصانی ومن عصانی فقد عصی الله (عن ابی هریرةؓ مسلم باب الأمارة)
بل ځائی فرمائی اسمعوا واطیعوا ولو کان عبدا حبشیاً ابن عباسؓ نه روایت دے
قال قال رسول الله ﷺ من رای من امیره شیئا یکرهه فلیصبر فانه من فارق
الجماعة شبرا فمات میتة جاهلیة
(فردوه الی الله والرسول) ددی دامطلب نه دے چه تقلید نشته بلکه مطلب
دادے چه امیران فیصله دی په قرآن او سنت کوی ورنه سورة النسآء ایت
۳۵، ۵۸، ۸۱، او ګوره هلته څه وائی او ائمه ؤخو دقرآن او حدیث تشریح
کړے ده موږ وایو،
گرچه ماداریم تقلید امام قول او باشد مدلل بردوام

نیست قولش بیدلیل ای علیل　　نیست هر کس را ولی علم دلیل

آیت باشد دلیلش یا خبر　　بابراین هر دو قیاس است ای پسر

(الرسول) بمعنی السنة (امام شافعیؒ)

(لیصدون عنك صدودا) سورة النور ایت ۹ ٤ سورة المائده ایت ۱۰٤

علامه ابن قیمؒ وائی ددوی نقل کوی

اذا اجتمعتم فی المجالس فالغوو　　والغووا اذا ما احتج بالقرآن

(جاء وك) ددی آیت نه مبتدعین په وسیله بالذوات الفاضلة باندی دلیل نیسی دروند اعرابی قول ذکر کوی چه کله نبی علیه السلام وفات شو نو اعرابی راغلو او نبی علیه السلام قبر سره دا آیت ئے اووے او خو اشعار لے اووے،

یا خیر من دفنت بالقاع اعظمه　　فطاب من طیبه القاع والکرم

نفسی الفداء لقبر انت ساکنه　　فیه العفاف وفیه الجود والکرم

نو اووی چه زه اوده شوم نو ماته خوب کښې نبی علیه السلام اووے چه نه اعرابی اوو وایه (وبشره بان الله قد غفره) شیخ القرآنؒ البصائر کښې او صیانة الانسان ۲۵۵ کښې محمد بشیر السهوانیؒ او الصواعق المرسلة کښې مولنا خان بادشاه صاحب په دی کلام کړے دے

یٰایها الذین امنوا) دی ځائی نه خلاصه ددویم امر چه د امیر اطاعت به کوی او ترقی علی ماسبقه

(لمن لیبطئن) دا معنی لازمی دواړه راځی،

(۱)... لازمی معنی چه ستړی په خپله د جهاد نه

(۲)... متعدی معنی ستړی نور خلق د جهاد نه

(فلیقاتل)... دریم حکم القتال فی سبیل الله

(او یغلب)... یو ځل مسلمانان او کافر جنګیدل نو د کافرو جرنیل مسلمانان نو جرنیل ته پیغام راولیږو چه یو کس راواسته وه چه زه ترې تپوس نه او کړم نو مسلمانانو جرنیل ورته مغیرة بن شعبهؓ ورو استولو نو دده شلیدلی او زړے کپړے وے او ورسره یوه وړه غوندی توره او نیزه وه، او جرنیل ته ورغلو مخامخ ورته ودریدو نو جرنیل ورته وائی چه ګوره تاسو ډیر کمزوری ئے او زه به درته څه در کړم او خمارز له غواړی چه ستاسو وینه تو یه شی نو مغیرةؓ ورته اووے چه ستا خبره خلاصه شوه، اوس زما خبرے ته غوږ کیږده نو هغه ورته دا اووے (کنا نعبد الحجر و الشجر و نأکل النوی و التمر) نو الله احسان او کړو انبیاء ئے راولیږل او مونږ ئے ذیل چاته سر ښکته کولو نه منع کړو نو دا تندے اوس بل چاته نه ښکته کیږی او ته ایمان راوړه هغه جرنیل ورته اووی که ایمان نه راوړم نو بیا مغیرةؓ ورته اووے نو بیا جزیه جرنیل ورته اووی که داهم نه وی نو بیا مغیرةؓ ورته توره راویسته چه بیا دا نو هغه ډیر حیران شو هسلده مغیره بن شعبهؓ چه یو ځنګل کښے چهاؤنی جوړه له نو هغه ځنګل ته ودریده نو وائی

یا حشرات الأرض و السباع نحن اصحاب محمد ﷺ

و نحن داخلون بها فارتحلوا فمن وجدناه قتلناه

نو ټول ځناور راووتل

خالدبن ولیدؓ چه بستره باندی وفات کیدلو کوته نی وچته کړه چه بے

غیرتو دستر کی وچتے نه شی ماهر جنگ، کښی ۹۰۹ تورے مانے کړ دی

خو الله ته، خما شهادت خوښ نه وو

(انّ کیدالشیطٰن کان ضعیفا)(چل دشیطان کمزورے دے)

علامه ابن قیمؒ وائی

لاتخشی من کیدالعدوومکرهم   فالله ناصرعبده بأمان

فجنوداتباع الرسول ملٰئك   وجنودهم فعساکرالشیطٰن

دلته شیطان چل ته کمزورے وائی اوبیاسورة یوسف کښی دبنځوچل ته لوئے

وائی ځکه چه مکردبنځودسړی مقابله کښی دے اودشیطن دالله مقابله

کښی دے

(قل متاع الدنیا)دلته نه درے جملے

(۱)......(قل متاع الدنیاقلیلٌ) په دی کښی اهانة الدنیا

(۲)......(ولاٰخرة خیرلمن اتقی) په دی کښی ترغیب الی الآخرة

(۳)......(ولاتظلمون فتیلاً)په دی کښی ترغیب الی الأعمال الصالحة

(٤)......وربسے آیت (کتب علیکم القتال این ماتکونوا)سره ترغیب الی القتال

(وارسلنك)اثبات الرسالة مع الشهادة

(واذاجاء هم امرٌ)ددی آیت مطلب دادیے چه جنگ، کښی یولوئی کماندر

وی اودهغه لاندی نور دیر کماندران وی نوچونکه الحرب خدعة چه جنگ

کښی چل ول دے نوهغه غټ کماندر نورو کماندرانوته اووائی چه زه کله

اووایم چه نن حوب کړونوموږ نه هغه ورځ حسله کوواوکله چه اووایم چه

حمله کوونوهغه ورځې به ارام کوو کله چه کمان دار اوو ائي چه نن حمله کوو او منافق دا خبره واوري نوهغه نور و کسانو ته وائي چه امیر حملے ته و تلي دی او تاسو خوب کوی دا رنګ بالعکس چه امیر خوب ته اووائي نو منافق خلقو ته وائي چه دامیر دحکم نه خلاف کوئي،

(امر من الأ من اوالخوف اذاعوا به ولوردوه)یعنی که الله اورسول ته نے یا کماندار انو ته ئي دا خبره وړې وے او اشاعت ئے نه کولو

(لعلمه الذين يستنبطونه منهم)نو حامخادی په مطلب به ئے پوهه کړې وو (دامفهوم تر یے نه ځکه آخلي چه خبره دقتال شروع دے)

(فقاتل)دا تنویر على القتال دے کړه

(من يشفع)ترغيب للمؤمنين او شفاعة بمعنی بیان دے،

(مقيتاً)ای رقيباً شهيداً یا عادلاً یامعطي القوت ای الرزق

(واذاحييتم)عام خلق دا وائي چه ددی آیت مطلب دادے چه کله څوك په تا باندی سلام واچوی او ووائي السلام علیکم نو ته ورته وعلیکم السلام ورحمة الله وایه که هغه ورحمة الله هم اووائي نوته ورسره بر کاته وایه مونږ وایو خبره دجهادشروع دے اوته سلامونوته راغلے بلکه د آیت مقصد دادے چه یو استاذ تابه توحیدباندی ژوندے کړی نو که هغه څوته زر (۱۰۰۰) کسان په توحیدژوندی کړی وی نوته دوه زره ژوندی کړه که هغه مثلاً یوه ګهنټه درس کړے وی نوته دوه ګهنټه درس و کړه که نه وی نو یوه ګهنټه خواو کړه یاد آیت دامطلب دے چه که ستا استادیو مجاهدتیار کړے دے نوته دوه تیار کړه ورنه یو خو تیار کړه کنه،

(اللہ لا الٰہ الا ھو) ربط..... چه جهاد کوی ذکه دپاره جواب دمسئلیه دتوحید
اللہ لا الٰہ الا ھو د پاره او کړه

(فمالکم فی المنافقین) ددی ځائی نه داذکر کوی چه خپل جماعت دمنافق دپاره مه تس نس کوی دمدینې نه باهر منافقان ووهغوئی سره دجنګ خبره راغله نوبعض مؤمنانو اووے چه کوویئے اوبعض اووی چه نه ئے کوو

(وماکان لمؤمن) دی ځائی نه ځلرم حکم احتیاط فی القتل
ربط هم ماسبقه سره دادے چه جهاد کوے نوسوچ کوه داسے نه چه مسلمان قتل کړی،

(قتل مؤمناً خطأً) قتل سره ئے دخطا قیداو لګولو ځکه چه قتل په څو قسمه دے

(۱) قتل عمد...... قتل عمد دیته وائی چه اسباب هم دقتل وی او اراده هم د قتل وی
(۲) قتل شبیه بالعمد...... دا دیته وائی چه اسباب د قتل نه وی او اراده د قتل ئے وی
(۳) قتل خطأ...... دیته وائی چه اسباب د قتل وی او اراده د قتل نه وی
(٤) قتل نسیان...... دادیته وائی چه نه اسباب د قتل وی نه اراده د قتل وی لکه بچی باندی موورا او اوړی په دی اقسامو کښی دهر یو حکم جدا جدادے دلته مراد قتل خطاء دے او دهغه حکم بیانوی

(ومن یقتل مؤمناً) دلته وائی چه مؤمن څوک قصداً قتل کړی هغه به همیشه جهنم کښی وی حالانکه قتل دمؤمن ګناه کبیره دے،
جواب...... دلته دوه توجیهات دے (۱) یو داچه دلته حکم شوے دے په مشتق باندی چه مؤمن دے او کله چه مشتق باندی حکم اوشی نو مبدء علت وی

نو دلته کښې مراد ماده اشتقاق (ایمان) دے نو معنی داچه چا قتل کړو مؤمن لره
علت دایمان نه نو جزاء د جهنم ځکه چه ایمان ذریعه نے قتل کړی نو
دے کافر دے او کافر به همیشه جهنم کښې وی لکه فرقان ایت ۶۹

(۲) ...... دویمه توجیه دا دے چه د مؤمن قتل روا کړے نو ده حرام حلال کړل او تحلیل
ماحرمه الله کفر دے نو دے کافر شو او کافر به همیشه جهنم کښې وی

(یاَیُّها الَّذین امنوا) څلورم حکم اصلاح النیة۔

(لایستوی القعدون) په دی آیت کښې اشکال دے اول وائی چه قاعدون
او مجاهدین نه دی برابر او بیا وائی چه مجاهدینو ته په قاعدینو باندی پواجر
سره الله غوره والے ورکړی دے بیا وائی چه مجاهدینو له الله غوره والے په
اجر عظیم ورکړے دے

جواب اصل کښې قاعدین په دوه قسمه دے

(۱) ...... یو سالم عن المرض والعذر

(۲) ...... دویم غیر سالم۔

نو کوم چه قاعدین غیر سالم یعنی معذورین دے نو مجاهدینو ته په دوئی یوه
درجه بهتر والے دے او دا یوه درجه ځکه دے چه دوئی دامیر د امارت ماتحت
روان دے او کوم چه قاعدین سالم دی نو څوئی نه مجاهدین په اجر عظیم۔
اوچت دی

(واسعة فتهاجروا فیها) د الله زمکه فراخه دے بل ځائی ته لاړشه هجرت اوکړه

ملک خدا تنگ نیست پائی گدا لنگ نیست

(ومن یهاجر) شپږم حکم الهجرة فی سبیل الله۔

(یجد فی الارض مراغمًا) او به مومی زمکه کښی فراختیا) زمخشریؒ والی
وقد جرّبنا ذالك مرار امونږ داخبره تجربه شوی دے
(من بیته مهاجرًا) نبی علیه السلام چه کله مکے ته تللونو یو صحابی ورته
اووے (این ننزل غدًا فان عقیلا لم یترك لنا منزلا فقال علیه السلام فی المحصب
(نبی علیه السلام اووے په محصب وادی کښی به ایسار یږو) دالی کورونو
کښی هم ته پریخودل،
(واذا ضربتم) اووم حکم حکم الصلوٰة ربط ماسبق سره دانه چه داسی نه وی
چه مجاهدشے نو بیا مونځ نه کوے مونځ او کړه
(کانوا لکم عدوًا) عدوًا لفظ مفرد ذکر کوی پکار جمع وه خو دامفرد بمعنی
عداوة دے،
(واذا کنت فیهم) په دی خالی قرطبیؒ والی هذه الآیة خطاب للنبی ﷺ وهو
یتناول الأمراء الی یوم القیامة،
(ولیأخذوا حذرهم) (او راواخلی اسلحه خپله) کوره مانځه کښی عاجزی
وی نو دلته والی اسلحه راواخلئ،
جواب داځکه چه اوس ددی موقعه دے دشمن مخے ته به ځان نه کمزورے
کوے ،نبی علیه السلام طواف کښی درمل حکم او کړو ،دادی دپاره چه
دشمن مخے ته کمزورے ښکاره نه شی دعمرؓ په دور کښی یو هلك بازار
کښی نازك نازك روان وونو عمرؓ راواغوښتو تپوس ئے تری او کړوچه بیمار
ئے هغه هلك اووے نه بیائی ترے تپوس وکړوچه بل څه چل دے هغه ورته
اووے نه نو عمرؓ په مخ یوه څپیړه ورکړه چه سم څه دی بازار کښی به یهود ا

اونصاری وی هغوئی به تاو گوری نو وائی به چه مسلمانان کمزوری شوی
دی

(انا انزلنا) اتم حکم قانون به ستاسو قرآن وی،

(ولاتکن للخائنین خصیما) خائن بو منافق ووچه وره او اسلحه لی پته، کړی
وے اونبی علیه السلام ته پته نه وه نو دهغه طرف ته نبی علیه السلام جهګړه کوله

(ولولا فضل الله علیك ورحمته) جواب دلولا محذوف دے نو اصل عبارت
داسی دے ولولا فضل الله علیك ورحمته لا ضلوك ،وعلمك مالم تکن تعلم
بریلیان وائی چه دلته مالم تکن کښی ماعام دے نو الله پیغمبر ته علم کلی
ورکړے دے او ملا کاشفی قول پیش کوی نو هغه خو شیعه وو ماتمونو ته تلل
او نه وائی چه ما عموم دپاره دے نو علم کلی ثابت شو نو بقره ۱۵۱ کښی
والی ویعلمکم مالم تکونوا تعلمون نو دلته هم ماد عموم دپاره دے
نو بیا خو ټولو خلقو ته علم کلی ثابت دے نفی دعلم غیب پیغمبر نه قرآن کریم
کوی لکه توبه ۱۰۱ ،اعراف ۱۸۸ انعام ۵۰ دلته مانه مراد علم غیب نه دے
بلکه مانه مراد احکام وی

(الا اناثا) کامل میر دمعنی کوی اناثای الأموات او مؤنث سره ترے نه ولے
تعبیر کوی خکه چه دوئی د مړو سره د ښځه پشان مینه ده شالونه او دوپټی
پرے اوچوے،

(فلیبتکن اذان الأنعام) (پس شلوی به غوږونه د څنګرو) اوس هم غوږونه
پرے کوی مخکښی به پښتنو کښی موږ به بچی کښی بچی ته غاړه کښی
چاقو او پیه او ګه لے ورته خادر اچول دائے غیرت ور کولو چه د

ستاڑونه‌چاقووالو کښې دے اوداخادربه ستا کفن وی نوررووسته خلقونړیے بیابل څه‌جوړ کړل په،غوږونو کښې‌بالی واچولے هلکان نوته اوجنګړغوږونو پریکوی،

(والذین امنوا)ایت ۱۲۲ کښې بشارت

(لیس بأمانیکم)ایت ۱۲۳،ای لیس النجاة بأمانیکم،

(وهومؤمن)جمله حالیه ئی شرط راوړه(یعنی حال داچه مؤمن وی چه مؤمن نه وی نوعمل ئے نه قبلیږی لکه نحل ایت ۹۷،انبیاء ایت ۹٤

(وهومحسن)ابن کثیروائی ای اتبع فیه السنة بیا وائی،فان للعمل المتقبل شرطین،احدهماان یکون خالصًالوجه الله تعالی وثانیهماان یکون موافقا للسنة فأی عمل غیرموافق للسنة فهومردود کمافی الحدیث من احدث فی امرناهذامالیس منه فهورد،

(واتبع ملة ابراهیم)ایت ۱۲۵ چه عقیده دی سمه شوه،اوعمل دی دپیغمبرد طریقی موافق شونوابراهیم علیه السلام په شان دتوحیدچغه کړه کمافی انعام ۷٤ مریم ٤۲،

(ویستفتونك فی النسآء)ایت ۱۲۷ دا لهم حکم تنویرعلی ماسبقه دے چه ښځوته میراث ورکړی حدیث کښې راځی (حبب الی من دنیاکم اثنین النسآء والطیب)(ښځی اوخوشبو)نوښځوته مرادحقوق دی یعنی ښځوحقوق ښکاره کول ماته ډیر پسندډی

(ولله مافی السموٰت)ایت ۱۳۲ دعوی د توحید

(وکفی باالله)ایت ۱۳۲ څوك وائی باء زائده دے خوباء الصاق دپاره دے

یعنی جخت شه الله پورے کمافی بنی اسرائیل ایت ١٤
(فعندالله ثواب الدنیاوالآخرة)ایت ١٣٤ دعوی دتوحیدځ مطلب چه صرف دنیاغواړے نودواړه ولے نه غواړے الله سره دواړه دی
(یآیها الذین امنوا)ددی خالی نه دریمه حصه دسورة په دی کښې زجردرے واړوفرقوته اول ٢ آیتونو کښې مؤمنانوته چه دین کښې دچا لحاظ مه کوئ
(ان یکن غنیاًاوفقیراًفالله اولی بهما)ایت ١٣٥ فالله اولی بهمادوه معنے دی
(١)..... الله زیات مهربان دے په دی دواړوباندی ستانه
(٢)..... الله دیرنزدے دے دواړوته تاسوته ددی ځه مطلب شوداول معنی مطلب دادے چه ته وائی فلانی مالداردے عزت لے خرابیږی همدرانګه فلانی فقیر دے زړه م پری سوزی خرابیږی نوالله وائی زه ستانه پری زیات مهربان یم اوددویمی معنی مطلب دادے چه که ته وائی زه فلانی مالداریاندی ګواهی وکړم نواحسانونه راسره پریږدی اوکه فلانی غریب باندی وکړم نوهغه زماخدمت پریږدی نوالله وائی زه دواړوته ستانه دیر نزدی یم
یآیها الذین امنوا امنوا)ایت ١٣٦ دریم امنوامضبوطوالی دے مصنفك(داخکه ورته وائی چه کم عمر کښې تصنیفات کول)دامام رازیؒ نواسے وو بادشاه نغاره وهله جهاددپاره داځکه چه هغه زمانه کښې بادشاهانو به جهاددپاره لښکر استولو ،اقدامی جهادبه لے کولو هر کال)شامیؒ وائی چه مسلمانانو بادشاهانودپاره په کال کښې یوځل جنګ کول فرض دے)نوده نه ئے تپوس اوکړه چه دانغاره څه وائی دی ورته اووے چه داوائی
(یآیها الذین امنوا امنوا بالله،یآیها الذین امنوا امنوا بالله،

او دی آیت کښی څلور اصول مهمه بیانیږی

(۱)..... اثبات التوحید په امنوا بالله سره

(۲)..... اثبات الرسالة ورسوله سره

(۳)..... صداقة الکتاب په والکتب الذی سره

(٤)..... ایمان بالآخرة په والیوم الآخر سره

(انّ الّذین امنوا) ایت ۱۳۷ دی ځائی نه زواجر للمنافقین تر ۱۵۳ پورې

(ایبتغون عندهم العزة) ایت ۱۳۹ فان العزة لله جمیعًا وایضا فی یونس

(سبیلاً) ایت ۱٤۱ لا رد ملاحتیا یا لا رد دلیل،

(الی الصلوٰة) ایت ۱٤۲ (رابلنو دالله یادین نه) ذکر دصلوة دے مراد تری نه

ټول دین دے صلوة فی ذکر کړو ځکه دااهم جزء وو

(الاقلیلاً) ایت ۱٤۳ ،ای زمانا قلیلا او بذکر قلیل

(مذبذبین بین ذالك) ایت ۱٤۳ (مذبذب چه تا سره دهغه خلاف ارهغه سره دَ

ستاخلاف خبری کوی دوه مخے وی دلته لګه څرنګه چه اضطراب فی

الحروف دے دغسی اضطرب فی المعنی دے حدیث کښی راځي

(من کان ذا وجهین فی الدنیا کان ذا وجهین فی النار)

(لاتتخذو الکفرین) ایت ۱٤٤ کافران په دوه قسمه دی

(۱)..... یوچه په تاسونے حمله کړی وی،

(۲)..... دویم چه حمله ئے دربارندی نه وی کړے او جنګ درسره نه کوی ددواړو

حکم په ممتحنه ایت ۹ کښی ذکر دے

(مایفعل الله) ایت ۱٤۷ دلته په (ما) کښی دوه توجیهات دے،

(۱) (ما استفهامیة) نو معنی داخه کوی الله ستاسو نه په عذاب در کولو که ستاسو شکر اوباسی،

(۲) (ما نافیه) نو معنی داچی عذاب نه در کوی الله تاسو ته که شکر اوباسے او ایمان راوړی او دا رنګه سورة فرقان ایت ۷۷ دی نه مخکښی آیت کښی دمنافق توبے څلور شرطونه بیان شول

(۱) توبه --- تابوا، (۲) اصلاح العمل --- واصلحوا،

(۳) اعتصام بالله --- واعتصموا، (٤) اخلاص فی العمل --- واخلصوا دینهم،

(الا من ظلم) ایت ۱٤۸ (مګر چاباندی زور او کړے شی) عام خلق دامعنی کوی نه خوښوی الله کنځل مګر چه ظلم ورسره او شی نو بیا خیر دے که کنځل کوی خو دامعنی دقرآن سره خلاف ده لکه سورة انعام آیت ۱۰۸،

شیخ القرآنؒ دامعنی کوله چه نه خوښوی الله کلمه دشرك مګر چی چاباندی زور او کړے شی او ددی معنی تائید نحل ایت ۱۰٦ کښی دے شیخ القرآنؒ وئیل چه دامعنی ما کوله خو تفسیرونو کښې م نه وه لیدلی بیا ورځ ما تفسیر قرطبی کتو، نو هغه دا قطرب النحوی محمد بن محمد بن المستمیر نه دامعنی نقل کړې ده،

(محمد بن المستمیر المتوفی ۲۰٦ چه دسیبویه شاګردانو نه دے او امام بخاری نه پنځوس کاله مخکښی وفات شوے وو او ددی نه قطرب ولے وائی قطرب وائی هغه مرغی ته چه سحر وختی پاڅی) مخکښی به داستاذ ددرس قانون داوو چه څوك به وختی سبقه ته راغلو نو هغه به استاذ ته کتاب کیخودو بل طالب چه به راغے نو هغه به هم کتاب کیخودو دکتابونو انباریه

جوړشه نو کوم طالب چه به اول کتاب ایخے وو هغه ته به استاذ سبق اول
اویلو نو قطرب به دشپې ناوخته پورے مطالعه او کړه بیابه لی کتاب کیخو
دلونو یو ورځ ورته استاذوویل انت قطرب نو په دی لقب مشهورشو
(ان تبدوا خیرًا) ایت ۱٤۹ چه کله دربانذی زوراو شی تو دری صورتونه وی
اول......چه ذ توحید بیان او کړی ان تبدوا خیرًا،
دویم......چه ایمان زړه کښی پټ او ساتی او تخفوه،
دریم......چه ورته اووائی چه توحیدنه پریږدم او تعفوا عن سوء،
(او تعفوا عن سوء) ایت ۱٤۹ کله چه خبیبؓ نے شهید کولو نو هغه دا اشعار اووی

لقد جمع الأحزاب حولي واجمع — على قبائلهم واستجمعوا كل مجمع
فمالي حذر الموت واني لميت — وانا الى ربي ايابي ومرجعي
وذالك في ذات الاله وان يشا — يبارك لي في اوصال شلو ممزعي
فلست ابالي حين اقتل مسلماً — على اى شق كان لله مصرعي

(كان عفوا قديرًا) ایت ۱٤۹ دادوه صفتونه الله ذکر کوی ځکه که چرے تا کلمه دشرك اووئیله نو عفو کونکی دے او که چرے په تا باندی اکراه اوشوه نو الله ستاپه دشمن قادر دے
(يسئلك اهل الكتاب) ایت ۱۵۳ دی ځائی نه زواجر اهل کتابو ته تر ایت ۱٦۱ پورے بیا اصول دایمان ذکر کوی اوسورة ختموی او دااعتراض سورة انعام ۷ کښی سره ذجواب ذکر کوی دغسی اسراء ایت ۹۳ کښی
(فلا يؤمنون الا قليلاً) ایت ۱۵۵ ای زمانا قليلا تائيد العمران ۷۲ یالږ کسان یالږ و احکامو باندی سورة البقرة ایت ۸۵

(الالیؤمنن به قبل موته)ایت ۱۵۶ دلته کثر اعتبارات جوړیږی په اعتبارد ارجاع دضمیرین سره،

(۱)---- د "به" او "موته" ضمیر راجع شی عیسی علیه السلام ته

(۲)---- "به "ضمیرراجع عیسی علیه السلام ته "موته "ضمیر راجع نبی علیه السلام ته

(۳)---- "به "ضمیرراجع عیسی علیه السلام ته موته اهل کتاب ته

(٤)..... "به "ضمیرراجع نبی علیه السلام ته موته ضیمراهل کتاب ته

(۵)---- "به" ضمیرراجع الله ته "موته" ضمیراهل کتاب ته

(۷)---- "به " ضمیر راجع قرآن ته "موته" ضمیر راجع اهل کتاب ته

،،لکن الرسخون،،ایت ۱۶۲ دلته مقاصداربعه او اصول دایمان ذکر کوی

،،کمااوحینا الی نوح،، تشبیه دوحی دنبی علیه السلام لے دوحی دنوح علیه السلام سره وو کړه داځکه چه دانبیاء سلسله دوه قسمه وه

(۱)---- یوه صرف آمرین بالمعروف دی ځکه هغه وخت کښی منکرنه وو

(۲)---- دویم قسم آمرین بالمعروف اوناهین عن المنکردواړه اوداسلسله نوح علیه السلام نه شروع وه نودی کښی اشاره دے چه لکه هغه نهی عن المنکر کوله دارنګه ته به یئے هم کوے

(واتینادا ؤدزبورا) دلته دابراهیم علیه السلام صحیفے لی ذکر اونه کړی اوداؤد علیه السلام زبورذکرکوی داولی

جواب---- اصل کښی دی نه یهودمنکروو نودارداعلی الیهوددے

(رسلالم نقصصهم علیك) ځکه چی دلته وانی دغسی ابراهیم۹ رعد۷فاطر ۲٤

(علی اللّٰه حجة) داخبره بیا بیا ذکر کوی لکه سورة مائدة ۱۹، انعام ۱۵۷

اسراء ۱۵ طه ۱۳٤، قصص ٤۷

(لکن اللّٰه یشهد) دلته شهادت ذکر کوی په صداقة الکتاب باندی دا رنگ

شهادت په اثباة التوحید آلعمران ایت ۱۸ سورة الانعام ایت ۱۹

او شهادت په اثباة الرسالة سورة الرعد ایت ٤۳ سورة النسآء ایت ۷۹

شهادت په اثباه القیامة سورة الیونس ایت ۵۳ سورة السباء ایت ۳

(ان الّذین) دا تخویف ورکوی

(یآیّها النّاس) صداقة الرسول

(لاتغلوافی دینکم) درمنثور معنی کوی، لاتغلوا، ای لاتبتدعوا فی دینکم

دغسی سورة المائده ایت ۷۳

(ولاتقولوا ثلثة) مودودی وائی چه اهل کتابو شرك نه وو کړے توجه درے الٰهه

نے منل، دا به مودودی په نیز شرك نه وو

مسدس کښی حالی وائی

کرے مومنوں پر کشادہ ہیں راہیں | پرستش کریں شوق سے جس کے چاہیں
نبی کو جو چاہیں خدا کر دکھائیں | اماموں کا رتبہ نبی سے بڑھائیں
شہیدوں سے جا جا کے مانگے دعائیں | مزاروں پہ جا جا کے نذریں چڑھائیں
نہ توحید میں کچھ خلل اس سے آئیں | نہ ایمان بگڑے نہ اسلام جائے

شاه ولی اللّٰه حکه وائی مامن بلدة الاولها الهة تعبد،

(من فضله) فضل، دیدار الهی لکه یونس ۲۶

بسم الله الرحمٰن الرحیم

سورة المائدة

دمکی سورة دے په نزول کښی ۱۱۲ پس دسورة فتح نه نازل شوے دے

روبط السورة المائدة

(۱)...... هر کله چه مخکښی بیان دتنظیم ورنودی کښی هغه مسئله بیانوی چه دهغے د پاره د تنظیم ضرورت دے چه هغه رد د نذر و نیاز دے

(۲)...... هر کله چه مخکښی امور مصلحه دمعاشرے لی بیان کړل نودی کښی امور مصلحه د طعام بیانوی

(۳)...... هر کله مخکښی سورة شروع وه په خطاب عام "یایها النّاس اتقوا" بالندی نو دا سورة شروع وه په خطاب خاص "یایها الذین امنوا" بالندی نو د دی وجی نه وریسے لی راوړو

(٤)...... مخکښی سورة آخر کښی وئیلی وو "یبین الله لکم ان تضلوا" چه گمراه نه شی څکه احکام لی بیانول نودی سورة کښی نوراحکام بیانوی

(٥)...... مخکښی حقوق الله او حقوق العبادتے ذکر کړل نودی سورة په اول کښی والی "اوفوا بالعقود"

(٦)...... مخکښی زواجر وو یهود و نه . او نهی وه دهغوئی د دوستی نه نودی سورة کښی په هغی زیادت کوی

(۷)...... مخکښی سورة کښی یو قسم خبیث مال لے ذکر کړو چه مال د یتیم ، بے وقوف او د ښځے دے نو په دی سورة کښی بل قسم مال خبیث چه

"نذرلغیرالله" دے ذکر کوی

(۸)۔۔۔ مخکښی نی قرآن ته برهان وئیلی وو په ایت ۱۷٤ کښی، نودی سورة ایت ۱۵ او ۱٦ کښی په هغی زیادت کوی

(۹)۔۔۔ مخکښی نی وئیلی وو "ولاتقولواثلثة" ایت ۱۷۱ کښی، نودی سورة کښی په هغه چا رد دے چه هغوئی درے الهه اومنل په ایت ۷۳ کښی.

(۱۰)۔۔۔ مخکښی زواجرو یهودوته نودی کښی نهی دهغوئی د دوستی نه کوی.

امتیازات السورةالمائدة

(۱)۔۔۔ دا سورة ممتاز دے د نورونه په تفصیل دمسائل اربعه

(ا)۔۔۔ تحریمات الله (ب) تحریمات العباد

(ج)۔۔۔ نذورالله (د)۔۔۔ نذورالعباد

(۲)۔۔۔ دا سورة ممتاز دے په ذکر د کفارے

(۳)۔۔۔ دا سورة ممتاز دے په بیان دحکم دښکاریانو(مرغواوسپو)باندی

(٤)۔۔۔ داسورةممتاز دے په بیان دحکم دمذبوحے داهل کتابواوجینکودهغوئی چه مسلمانانولره حلالے دی

(۵)۔۔۔ داسورةممتاز دے په واقعے "اذاهم قوم ان یبسطوا الیکم "سره

(٦)۔۔۔ داسورة ممتاز دے په بیان دحکم دسارق اوسارقی باندی.

(۷)۔۔۔ داسورةممتاز دے په ذکردجواب دعیسی علیه السلام چه قیامت کښی به ئی کوئی

(۸)۔۔۔ داسورةممتاز دے په حکم ترك دسوالات ډیهودو سره

(۹)...... داسورة ممتاز دے په بیان د اقسامو د کفارئ بانذی .

(۱۰)...... داسورة ممتاز دے په ذکر دمائدے

دعوی السورة المائدة

بیان دمسائللو اربعه

(۱)...... تحریمات الله...... چه کوم څیزونه الله حرام کړے وی

(۲)...... تحریمات العباد...... چه بندګانو خود ساخته خان نه یوشی حرام کړے وی

(۳)...... نذور الله...... دالله په نوم نذر

(۴)...... نذور العباد...... دبندګانو په نوم نذرونه

او تحریمات العباد او د نذور العباد استعمال ناجائز دے . او تحریمات الله او نذور الله جائز دے نن سباهم د رسوم جاهلیت په شان تحریمات العباد او نذور العبادیه بندګانو کښی نوتلی دی او پښتو کښی رائج دی ددی دیرے زیاتے نمونے دی چه تحریمات العباد کوم پښتو کړی دی لکه په باب د نحوست او توهم پرستی کښی .

(۱)...... لکه ساتل دهغه چرګی چه بانګ په لے وکړی او نیل به یئے چه داسپیره دے .

(۲)...... شنی جامی ،شین خادر نه جوړول خکه چه داسپیره دے مونګ یو مرګ ری شنی جامی جوړی کړی وی . کورته چه لاړ مور ورته په ژړاشو د چه دامو نړیسے نه نی ستاپلار هم تری له مړ دے نوهغه ورته وے چه سه کیږے لے بدلی کړی او کیږوته کیناستو اوژاړی موروورته وی ولی ژاړهغه ورته اووی چه مرګوی می موروورته اووے چه داخنګه مړول کوی نو

زمونګ مرګ ری ورته اوو ے چه اوس م آغوندی وے تاونیل چه مړ ګول کوی

(۳)۔۔ هفته 'بده' اومدګل ورځ باندی کارنه ګول ،خکه داسپیری دے۔

(٤)۔۔ چه سحر به کارته تلونوسپی اوخربه ئے ولیدونوونیل به ئے چه نن م به محه سپیره شوے دے

(٥)۔۔ د ماشوم رسمونه،اول چه بچے به پیدا کیدونوخره لمسی به یئے ورته واچوله دی د پاره چه د خری بچے ز رکیږی چه دے به زرهم اوشی

(٦)۔۔ چه وروکے به پیداشونوغوږبه یئے ورته سوری کړو، او والی به ئے ورته واچوله

(۷)۔۔ چه وروکے به پیداشونوبیل باندی به ئے خرڅ کړو دائے خدائے سره دهوکه کوله چه که زما زوئی مړ کوی نو دا زما نه دے

(۷)۔۔ اووه ورځے به ئے ورته جدا،جدا نومونه کیږدول چه عزرائیل علیه السلام غلط شی

(۸)۔۔ دواده رسمونه۔۔۔ اول چه کوژودن به ئی کوله نوجینئی ته به ئے دترو کیږے واچولے اوهلك به جینی کره تلل نوحلوه به ئے پخوله اوخوږه به ئی، چه خپلو کښی خوږه شی هلك به ئے جینی کورته بوتلونوهلته به ئے جامی ورته آچولے او کټ کښی به یئے نیغولوراتیغولوجینئی ته به تلل د شپے به ئے نکریزے ورلے اوهلته به په کښی ډیرے بلے کړی وے

(۹)۔۔ هلك به ئی په اس سور کړواوناوی به ئے کړو

(۱۰)۔۔جینی ته سحر کور کښی اول هلك ور کول دپاره ددی چه نربچے ئے پیدا شی

(۱۱)...... قرآن به نے ور کولو دی دپاره چه بختوره شی

(۱۲)...... اول به نے پراخ پخوله

(۱٤) دمړی رسمونه ...... اول چه مړے به او شو نو په هغه به ئے نظمونه ونیل او ژړل

به ئے او خان به ئے وهلو، لکه رسوم جاهلیت کښې نجم الدینؒ ذکر کوی چه

یو سړے مړ شو نو لور ته ئے وصیت کول

نوټ...... اشعار او بقیه رسومات په آخر ددی سورة کښې وګوره انشاء الله

تقسیم السورة المائدة

داسورة لس بابه دے اول باب کښې پنځه آیتونه دی او په دی کښې مسائل اربعه

دویم باب دایت ۵ نه ترایت ۱۱ پورے او په دی کښې امور مصلحه الممدة للمبلغ

دریم باب دایت ۱۱ نه ترایت ۱۹ پورے په دی کښې مثال دناقضینو دعهد ذکر کوی

څلورم باب دایت ۱۹ نه ترایت ۲٦ پورے په دی کښې حکم دهغه چاچه د الله په حکم کښې سستی کړے وے او شکر به ئے آدانه کړه

پنځم باب دایت ۲۹ نه ترایت ٤۰ پورے په دی کښې جزاء دظالم اونهی عن رحمة اللهؒ ذکر کوی

شپږم باب دایت ٤۰ نه ترایت ۵۰ پورے په دی کښې اول تسلی پیغمبر ته اوترغیب الی القرآن اوقبائح داهل کتابو ذکر کوی

اووم باب دایت ۵۰ نه ترایت ۵۸ پورے په دی کښی تهدید للمؤمنین بموالات الکفرین ورکوی او بیا زجر للمنافقین

اتم باب دایت ۵۸ نه ترایت ۶۶ پورے په دی کښی تهدید للعلماء السوء از قبائح داهل کتابو بیانوی

نهم باب دایت ۶۶ نه ترایت ۸۶ پورے په دی کښی ترغیب فی التبلیغ او تسلی نبی علیه السلام ته ورکوی

لسم باب تر آخره پوری دلته بیا مسائل اربعه ذکر کوی خو لهجه بدلوی دسرنه اول باب په دی کښی څلور مسئلے بیانوی

(۱)...... تحریمات الله داپه غیر محلی الصید وانتم حرم سره شروع دلته بیانوی دارنګه (۹۰) کښی دریم ځل په (۹۶) کښی وحرم علیکم صید البر مادمتم حرما

(۲)...... تحریمات العباد دابیانوی په احلت لکم بهیمة الانعام سره چه خلق که داحرامه وی لو حرام نه وی شروع دلته بیانوی دارنګه ۸۷، ۹۶، ۱۰۳

(۳)...... نذور الله چه دالله په نوم نذر جائز دے داپه ۲ آیت کښی چه مذکوره اشیاؤ احترام کوه

(۴)...... نذور العباد چه دغیر الله په نوم نذر وی لوهغه حرام دے داپه ۳ ایضاً ۹۰ والانصاب کښی

وماذبح علی النصب تحریمات العباد او نذور العباد کښی فرق

تحریمات العباد: هغه دی چه کله درته پته ولګیده او توبه دے اویسته لو داشینی حرام نه ده لو خوړل یئے درته جائز ده،

نذور العباد هغه دی چه کله درته پته ولګیده چه داشی حرام دے لو هغه

خوړل درته حرام دی ترڅو چه سبی ته یه یئے هم نه آچوے هغه بیا نه حلالیږی،

حل مشکلات السورة المائدة

(یایها الذین امنوا) ایت ۱، امنوا سره یئے خطاب وکړو ځکه چه ځان ته مؤمن وایئے نواوفوابالعقود

(بهیمة الأنعام) بهیمه وائی البهیمة ذات اربعةاقدام سواء فی البروالبحر اوخولك وائی البهیمة مالانطق له وذالك لمافی صوته الأبهام اوانعام هی الأبل والبقروالغنم والجوامیس او اضافت دبهیمه انعام ته بیانی دے

شعائرالله ،الشعائرماجعل علماالطاعة الله،

(وتعاونواعلی البروالتقوی) ای علی اشاعة التوحیدوالسنة (روح المعانی عن سهل بن عبدالله التستری)

(علی الاثم والعدوان) الاثم ماکان محرمة الجنس کالشرك

(والعدوان) ماکان محرم القدروالزیادة کالبدعة الأضافیة (تفسیرابن قیم ۲۲۸)

(وماذبح علی النصب) (درګاهونوباندی ذبح شوی حرام دے) نصب جمع دنصب ددرګاه ته وائی شیخ القرآنؒ البصائرکښی په دی تفصیل کوی اوالملل والنحل ۲۵۹ کښی معنی دنصب کوی، په درګاه ذبح شوے حرام دے هدایة الابرار ۱۰۰ تذکره الابرار ۲۴۲ کښی وائی

فالذابح مشرك والمذبوحة میتةٌ وامرأته بائنة

دارنګه شیخ عبدالقادرجیلانیؒ الفتح الربانی ۸۷ کښی وائی

کل ماتعتمدعلیه فهو الهك و کل شئی تخاف منه وترجوه فهو الهك.
دارنګه ۷٤ کښې والی یافقیر الخلق یامشرکابهم احدران یأتیك الموت وانت علی مافیه الفتح الله لروحك بابه ولاینظر الیهالانه غضبان علی کل مشرك
دارنګه٤۷ کښې والی لیس بایدیهم نفع ولاضربل هم کالجماد
دارنګه ۱۱۷ کښې والی أرفعوا الوسائط بینك وبینه
دا رنګه ۱۲۷ کښې والی ویلك ما تستحی تطلب من غیر الله
(و ان شئت التفصیل بمسئلة النذر لغیر الله فارجع الی البقره ایت ۱۷۳)
(بالازلام)..... داغشی وودی کښې دری قسمه غشی وو، په وئی لیکلی وو ،،خه،،په بل نی لیکلی وومه خه په دریم لیکل نه وویعنی خالی وو نو داغشی به نی اجول حدیث کښې والخی مااستظل رسول الله بظل شجرة عبدت تحتها او دابه هره وروځ درګاه کښې ناست وی
(الیوم اکملت لکم دینکم)شرح فقه اکبر ۱۱ کښې والی فلانحتاج فی امرالدین الی امرخارج عن الکتاب والسنة.
دارنګه امام مالکؒ وائی فمالم یکن یومئذدینافلایکون الیوم دینا
(والمحصنت من الذین اوتوا الکتب)داهل کتابو محصنانو نکاح ولے جائزده البدائع والصنائع ۲۷۰ اجلد ۲ کښې والی دارنګه احکام القرآن کښې ابن عربیؒ چه دادوجے دخصوصیت ددوئی نه چه دوئ کښې انبیاؤباندی ایمان لرے راوړے وونوطمع داسلام ورے،
(یآیها الذین امنوا)ایت ٦ ددی خالی نه دویمه حصه اور مصلحه العمدة للمبلغ

ربط ماسبقه سره هر کله چه ته نذرونیاز ردکړے نوبیااودس وکړه چه پلیت

وے نوځه مسئله به بیان کړے خلق به دمړ کړی نوخوك به غسل درکولوهم

نه وی

(یاَیّھاالّذین امنوا)ایت ۱۱ دلته نه مثال دپاره دمبلغ مسئله بیان کړه الله به

دامدادو کړی۔

(اذھم قوم)ایت ۱۱ په دی آیت کښی واقعے ته اشاره ده ے نبی علیه السلام

جنګ تبوك نه راتلو نو یوه ونه لاندآرام کولودپاره خملاستو اوتوره یئے پاسه

کیخوده یو سړے راغلواوهغه توره راواخیسته په نبی علیه السلام یئے

راوویسته نونبی علیه السلام بیدارشواعرابی ورته اووے چه څوك به درانه

خلاصوی نبی علیه السلام ورته اووے الله نوهغه باندی رعب راغلو۔

(فبمانقضهم)ایت ۱۳ چاچه وعدے ماتے کړی وے په هغوئی دفعے

(۱)لعنّٰهم (۲)وجعلناقلوبهم قٰسیة

(۳)یحرفون الکلم عن مواضعه (٤)ونسواحظًّامماذکروابه

(٥)ولایزال تطلع علی خائنة منهم

(یاَاهل الکتٰب)ایت ۱٥ اثبات الرسالة

(ان الله هوالمسیح بن مریم)ایت ۱٦ دوئی والی چه بتان یئے رامدد کول

داخویئے انسان رامددکول بت یئے دبنده شکل جوړکړے وه۔

قبروں سے تجھ کوامیدیں خداسے ناامیدی مجھے بتادو تیرااورکافرکیاہے

رسائل ومسائل ۲۰۲ حصه اول کښی مودودی لیکی چه مشرك پسے مونځ

کیږی او اهل کتابو ته هغه(مودودی)مشرك نه والی

(یخلق مایشآء)ایت ۱۷ دارنگه قصص ۶۸ شوری ۴۹،

(واذقال موسیٰ)ایت ۲۰ دی خالی نه خلورمه حصه دی کښی مثال دهغه چاچه دالله حکم کښی سستی کوله اودهغه شکریئے آدانه کړه،اوسره ددې الله ورله ددین اودنیا مشرت ورکړه وو،

(۱) مشروانی په دین کښی(اذجعل فیکم انبیآء)

(۲) مشروانی به دنیا کښی(وجعلکم ملوکا)

(۳) مال اودولت یئے ورکړے وو(وآتکم مالم یوت)

(وجعلکم ملوکا)ایت ۲۰ بادشاهان ورته وائی داټول خونه ووخونسبت تولوته کړی داداسے مثال لری لکه دامطلب چه هرسړے بادشاه تیرشی نونورخلق وائی چه پښتوواناندی بادشاهی وکړه یادامطلب چه هرسړے بادشاه دے چه درے اشیاء ورسره وی.

(۱)ښځه کور(۲)ښځه خوراك(۳)ښځه اوبه نوښکه ورته بادشاهان وائی

(جبارین)ایت ۲۲ وهم عمالقة.

(علیهما)ایت ۲۳ وهماموسی وهارون علیهماالسلام،

(یتیهون فی الارض)ایت ۲۶ حیران سفیان وائی یامعشرالعلماء کنتم نجوم السماء یقتدیٰ بکم فصرتم ظلمایامعشرالعلماء کنتم نجوم السمآء یقتدی بکم فصرتم حیرةً،

(واتل علیهم)ایت ۲۷ دلته نه پنځمه حصه پئدی کښی جزاء دظالم چه رحمت الله نه لرے شوے دے اگرکه دپیغمبربچے دے،

(قربانا)ایت ۲۷ القربان مایتقرب به الی الله تعالی

(فبعث الله غرابا) ایت ۳۱ فقاتلا فقتل احدهما آخر کوره الله کارغه را واستولو دراستولو کښی حکمت دا وو چه دا پر - باناك دے او سه پورے چاپه جماع له دے لپاره تردے چه فلاسفه تر یے نه انکار کوی تو الله دانسان استاذ حیاناك جوړ کړو،

(ومن حیاها) ایت ۳۲، ای بالقرآن والسنة کمافی الانعام ایت ۱۲۲

(انماجزآء) ایت ۳۳ ربط مخکښی اوړے ومن احیاها خوك بئے ژوندے کړی په قرآن اوسنت نو او س چه خوك مخالفت کوی دهغه سزا ذکر کوی

(ان یقتلوا) ایت ۳۳ خوك چه فساد کوی نو قتل بئے کړئی، یو خل حضرت عمرؓ دور کښی یو حاکم ورته خبر راولیږلو چه دلته یو سړے ده هغه دشر خبرے پهیلاؤ کوی عمرؓ ورته اوو یے ماته ئی راولیږه کله چه بئے راولیږلو نو عمرؓ سم سم او وهلو بیا جیل ته داخل کړه درو ۳ ورځو وبعدیئے بیا او وهلو بیادریم ځل بیا وهلو ته ئی راوویستو نو سړی چغے کړے چه بس یام مړ کړے خودامه کوه تو به ئے اوویسته هغه نه بعدیئے واپس ولیږلو او حکم ئی وکړو چه یو کال پورے به خوك ورسره خبرے نه کوی نو هغه کال به شریف شو داهغه عمرؓ دے چه مجاهد خط به ئی مجاهد کورته حپله وړلو او حواله کولو بئے که دجواب ضرورت به وو حپله به ئے ورته لیکل

(یاَیُّهاالّذین امنوا) ایت ۳۵ ترغیب الی الأعمال الصالحة

(وابتغوا الیه الوسیلة) ایت ۳۵ وسیله په کثرمعنو راحی البصائر ۳۰۰ کښی شیخ القرآنؒ دی تفصیل کړی دے وسیله لغت کښی بمعنیٰ قربت راخی لکه شاعر وائی

ولماعصينابالسيوف تقطعت وسائل كانت قبل سلماحبالها

(وسائل بمعنی قربتونه) دارنګه والی

ان الرجال لهم اليك وسيلة ان يأخذوك تكحلي اوتخضبي

(وسيله بمعنی قربت) دارنګه ابوطالب والی

ولمارأيت القوم لاودعندهم وقدقعوا كل العرى والوسائل

ای القربات دارنګه متبی والی

الاليست الحاجات الانفوسكم وليس لناالاالسوف وسائل

(۲) دويمه معنی دايه معنی دمقام راځی لکه آذان نه بعدوالی اللّهم رب هذه الدعوة الیٰ وابعثه مقامامحمودا، اوموږ وسيله منو ځوك چه وسيله نه متی هغه قرآن نه متی ليکن مراد، دوسيلې نه وسيله باالأعمال الصالحة دی نه باالذوات الفاضلة لکه څرنګه

(۱)....تفسير النيشاپوری ذکر کوی المرادبالوسائل هی العبادات والطاعات

(۲)....او ابوسعود محمدبن احمدالمتوفی ۹۵۱ تفسيرابی سعود کښې والی الوسيلة مايتوسل به ويتقرب الی اللّٰه تعالی من فعل الطاعات وترك المعاصی

(۳)....دارنګه شيخ محمدالنووی معنی کوی وابتغوا اليه الوسيلة بفعل المامورات

(٤)....قرطبی معنی کوی الوسيلة من فعل الطاعات وترك المعاصی.

(٥)....خازن معنیٰ کوی يعنی اطلبوا اليه القربة بطاعته

(٦)....امام راغب المتوفی ٥٠٢ اصفهانیؒ والی فعل الطاعات والتقرب الی اللّٰه. مفردات کښې.

(۷)....علامه قسطلانیؒ المتوفی ۹۲۳ والی الوسيلة القربة بالطاعة

ارشادالساری ۹ ۰ ۳ جلد ۲

(۸) ابو الطاهر محمد یعقوب فیروز آبادیؒ وائی فعل الطاعات وترك المعاصی (تنویر مقیاس)

(۹) شیخ طنطاویؒ وائی: فعل الطاعات وترك المعاصی (الجواهر)

(۱۰) مدارك وائی الوسیلة هی كل ما یتوسل به الی الله تعالی من فعل الطاعات وترك السیئات

(۱۱) علامه ابو الحسن معنی کوی من فعل الطاعات وترك المعاصی دی نه علاوه

۱ـ ابن کثیر ـ ۲ غرائب القرآن ـ ۳ ابن جریر ـ ٤ احکام القرآن ـ ٥ زاد المسیر ـ ٦ امام رازی ـ ۷ زاد المعاد ـ ۸ تفسیر بغوی ـ ۹ جواهر القرآن ـ ۱۰ تفسیر منار محمد رشید رضا ـ ۱۱ تفسیر قاسمی ـ ۱۲ تسهیل لعلامه ابن جزیؒ داټول وسیلے نه مراد عمل صالح آخلی دارنګه قرآن کریم چه کله وسیله ذکر کوی نو اعمال ذکر کوی لکه اعراف ایت ۴۳ طور ۷ ۲ :۲۸ صفت ایت ۱ ٦ زخرف ایت ۷۲ دهر ۲ ۱ نازعات ایت ۰ ٤ مرسلت ٤۳ ،انعام ایت ۲۸ دا قرآن کریم او مفسرین نول ذکر کوی تردے چه شاه منصور بابا هم خپل تفسیر کښی ذکر کوی او دارنګه حدیث کښی هم راځی لکه حدیث غار چه درے کسانو په خپل نیکو اعمالو وسیله ونیوله مونږ حبشه عیبونه داتیوس کو و چه تاسو وسیله بالذوات کوئی نو ذوات نه خه مراددی کچرے مراد ذواتو کسب او پیشه وی نو داخونه صحیح کیږی او کچرے مراد دولی غوښی او هډوکی وی نو بیاهم نه صحیح کیږی او که مراد دوئی عمل صالح وی نو بیاهم نه صحیح کیږی ځکه قرآن

والی(وان لیس للانسان الاماسعی)نو یاذوات فاضله نه څه شئ مرادمے
اومبتدعین په تفسیرروح المعانی استدلال نیسی لیکن دوئی په پوهیږی نه
هغه په رد کړدے روح المعانی ۱۲۹ جلد ۶ دآیت لاندو ګوره دارنګه
شرح العقیدة الطحاویة ۲۶۱ کښی والی ان لفظ بحق فلان مردود لایجوز
اوخلق والی: چه تاسو بحق فلان نه منی نو مونږ وایو چه دعاء من الحی الحاضر
جائز ده اوهرچه مړی نه نو ګنجړے ته وایئے چه هغه ماته سوال کوی اوقبر
کښی راته دعاء کوی نو حدیث کښی راغی اذامات ابن آدم انقطع عمله
اوبل حدیث کښی راغی الدعآء مخ العباده نو عبادت خوقبر کښی نه کیږی
دارنګه مائة مسائل صفحه ۳٤ کښی په لفظ حق فلان رد کوی
(والسارق والسارقة)ایت ۳۸ ربط محکښی اووے (انّ الّذین کفروا) یعنی چه
نذرلغیر اللّه خوړلی دی اوخلقو عقیده تباه کوی نو دلته والسارق والساقة
حکم اوسزاذکر کوی چه لاس یئے کټ کړه اوچه ستاندراوستاعقیده تباه
کوی نو هغه خوبطریق اولی ختم پری کړه.
(الم تعلم)ایت ٤٠ نفی شرك فی التصرف
(یآایّها الرسول)ایت ٤١ ددی خالی نه شپږمه حصه دی کښی تسلی پیغمبرته
اوپلیتنی داهل کتابو ذکر کوی اوترغیب الی اتباع القرآن ددی آیت نه
دامعلومیږی چه چاړه کښی دردوی نو خوك چه غلط کار کوی نو ددی زړه ته
دردرسی نو اللّه تسلی ورکوی
(للکذب)ایت ٤١ ای لیکذبو علیك غوږ به کیږدی دی دپاره چه ستاباندی
دروغ جوړ کړی *(املاء مامن به الرحمٰن)*

(اکلون للسحت)ایت ۴۲ دحرامو خوړونکی به وی خپل کسب وکړه چرته
چه مړه وشی دابه ور کښی وی امام سرخسیؒ مبسوط صفحه ۲۴۶ جلد ۳۰
کښی باب الکسب راوړی اوهغه کښی بیادیوبویبیء کسب ذکر کوی نوهغه
وائی (ان النبی ﷺ صافح سعدبن معاذ(نومعاذلاسرئه کلك وو)
فسأله نبی الله ﷺ عن ذالك فقال الخ،
(نوهغه اووے زه کار کوم اوخپل اهل وعیال ته نفقه گټم)بیاوائی
فقبل رسول الله ﷺ یده بیاوروسته والی وکذانوح علیه السلام کان نجارا
یاکل من کسبه وادریس علیه السلام کان خیاطاوابراهیم علیه السلام کان
بزازا(کپړوتجارت کونکی)
علی ماروی عن النبی علیه السلام وداؤدعلیه السلام کان یاکل من کسبه
علی ماروی انه کان یخرج(چکرباندی به وانو)مستنکر(ځان به پټے بدل
کړے وو)فسال عن سیرة اهل مملکة حتی استقبله علی جبرائیل یوماعلی
صورة شاب فقال له کیف تعرف داؤدایهاالفتی قال نعم العبدالاان فیه خصلة
قال وماهی قال انه یاکل من بیت المال وان خیرالناس من یاکل من کسبه
فرجع داؤدالی محرابه باکیامتضرعاویقول اللهم علمنی کسباتغنینی به عن
بیت المال فعلمه صنعة الدرع ولین له الحدیدحتی کان الحدیدفی یده
کاالعجین فی یدغیره قال الله تعالی (والناله الحدید)وقال عزوجل وعلمنٰه
صنعة لبوس لکم فکان یضع الدرع ویبیع کل درع اثنی عشر الفافکان یاکل
من ذالك ویتصدق وسلیمان صلوت الله علیه یصنع المکیال من الجوص
فیاکل من ذالك وزکریاعلیه السلام کان نجارا وعیسی یاکل من غزل امه

وربما كان يلتقط السنبلة فيأكل من ذالك ونبينا ﷺ كان يرعى في بعض الاوقات دا رنګه مذهب حنفي کښې ائمه صدي پورے

دي کسه عالم فتوی نه قبلیده چاخان سره حلوائي حصاص خصاف (موچي) لیکل امام کرخي فالج اووهلو نوشاګردانو يئے سيف الدولة بادشاه ته لا رل

چه خپل استاذته وظيفه مقرره کړه نوهغه (۱۰۰۰) زرا شرفئي مياشتے مقررے کړے امام کرخيؒ چه خبرشو نوهغه سوال وکړو چه ياالله مااوسيف الدوله عطيه يوځائي نه کړے نوهغه شان وشول چه دسيف الدوله عطيه ددیه

شهر را ننوته نو دي جنازه دشهرنه اووته دارنګه کله به چه پخوا دیوبند کښې عالم فارغ شونو درے اشیاء به يئے ورته ښودل

(۱)— خياطي (۲)— علم طب (۳)— صابون سازي

دادي دپاره چه دا کسب وکړخوي يوځل حضرت عمرؓ مسجد کښې ناست

څه کسان وليدو نوتپوس يئے وکړو، من هؤلاء قالوا هم المتوكلون قال لا بل هم المتاكلون، نوکارے يئے داو اخيستو اوویشته به يئے دارنګه کله چه صحابا ؤ هجرت وکړو مدينے ته نوبيا يو مهاجر ديو انصاري سره ملګرے

شول نويو صحابي مهاجر دانصاري صحابي سره ملګرې شولونو انصاري صحابي ورته اووے زما دوه ښځې دي يوه به طلاقه کړم ته يئے په نکاح

واخله اومال به درسره تقسيم کړم نو مهاجر صحابي دهغه شكريه آدا كړه او ورته ئے اویل،

دُلّني عَلَى السوق بازار را ته وښايه نوبازار ته چه لاړنواوله ورځ يئے څه پنير او غوړ لي او ګټل تجارت يئے کولو آخر واده يئے وکړو نوپه صحابيؓ

رنګ لګېدلي وو لېږلي وو نبي عليه السلام ته راغلو نو نبي عليه السلام ورته اووے چه

داخه دي صحابي ورته اووے ما اراده کړے دے نبي عليه السلام ورته اووے

اولم ولو بشاة داخه کسب وو او چه بل ورکوره فارسي جرګه کړي چه روي

(انزلنا التورٰة فيها هدي ونور) ايت ٤٤ تورات ته دلته ربراواني او قرآن ته بي

ايت ١٥ کښې ونيلې وو

(فاولئك هم الفاسقون) ايت ٤٧ ګوره درے جملې بنيے راوړے اول په

ايت ٤٤ کښې دريمه په ايت ٤٥ کښې دريمه په ايت ٤٧ کښې

اول ورته کافر واني په دي اعتبار چه دالله د کتاب (حکم) نه منکرشي نو کافر دے

او بيا ورته ظالم واني (په دي اعتبار چه خان ته فاسق نه واني کله چه الله په

کتاب فيصله نه وکړي)

بيا ورته فاسق واني (په دي اعتبار چه دالله په کتاب فيصله نه کوي خو خان

ته فاسق واني)

يا کافر ورته په دي اعتبار سره واني چه عقيدتا فيصله ونه کړي،

او ظالم ورته په دي اعتبار واني چه حاکم وي څه عذر دوحے نه پاتے شي

او فيصله ونه کړي،

او دريم نه مراد رعايت (عوام) دي چه په قرآن دخه وجے نه فيصله نه وکړي

(يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا) ايت ٥١ دي خان ته او ومه حصه په دي کښې تهديد

للمؤمنين بموالات الكفرين او بيا زجر للمنافقين ورکوي

(يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا) ايت ٥٤ دا تسلي ورکوي چه ستا طريقه ني بربخوده نو خفه

نه شے

(ولایخافون لومة لائم)ایت ٥٤ مؤمن دچاملامتنی نه نه یریږی

یوسالك وائی

عاشقان مست عشقنددائم لایـــخــــافــون لــومة الائــم

(انماولیکم)ایت ٥٥دلته نه بیاتسلي دوتی به تاملامت کوی خوپروامه کوه الله ستاملګرے دے

(فان حزب الله هم الغلبون)ایت ٥٦ کله چه بعثت نبوی پنځم کال باندی مکه کښی ظلم شروع شولوصحاباؤحبشه ته هجرت وکړو،

حضرت جعفربن ابی طالب سره څه ملګری وو نو کفاراووے چه داسے نه وی هلته ملګری تیار کړی اوپه مونګ حمله وکړی نوتحفے تحائف یئے تیار کړوبریف کیس کښی یئے واچولے روان شواوعمروبن العاص لړهوبیارونوهغه ته لی ور کړے کله چه لاړل:بادشاه ته ئی ووے :چه ستاملک ته داسے کسان راغلی دی چه عیسی علیه السلام له نه منی اوهغوئی خپل دین پریخودلے دے اوباغیان شوی دی مونګ دهغوئی خپلوانورالیږلی یوچه هغوئی مونږ ته راکړے نوبادشاه پولیس واستول حضرت جعفرؓ چه اتلس کاله نوجوان ووهغه ئی راوستل

اوپولیس اجازت دپاره نواتونوهغه دیرے څه وتیلے نه شواودبادشاه دربار کښی ولاړروحضرت جعفرؓ تګ شونودیرپه زوره یئے اووے

(الاانّ حزب الله هم الحاضرون)نودرباریه ګړنګارشونوتپوس ئی وکړوچه داڅوك دی اوحاضرئی کړی کله چه حاضرشول نوسجده یئے وله کړه عمروبن العاص اووے :چه شاهی آدابومطابق یئے ناته سجده ونه کړه

حضرت جعفر او وے کنا نعبد الحجر والشجر ونا کل النوا والتمرخو اللہ

مونگ تہ پیغمبر راولیږه هغه اووے لاتسجدوا للشمس ولا للقمر

بیا عمرو بن العاص بادشاہ تہ اووے چہ دوئی عیسی علیہ السلام الوهیت نه

منکر دی،

نو بادشاہ حضرت جعفر له تپوس وکړو چه ته څه وایئے نو هغه ورته اووے چه

هغه وایم کوم چه مونږ ته پیغمبر ویلی دی او بیائی سورة مریم تلاوت

کړو بادشاه هم په ژړا شو وزیران هم اوژړل او تحفے ئے واپس کړل

او حضرت جعفرؓ ته ئی د هرخائی تقریر اجازت ورکړو،

دارنگه حضرت مجدد الف ثانیؒ چه کله جهانگیر بادشاه دربار کښی سجدے

شروع شوے نو حضرت مجدد دهغه خلاف وکړو نو بادشاه خان ته راوغو

ښتو نو یوه کهړکی ورته جوړ کړه چه هغه باندی سړے ننواتو نو سر به ئی بادشاه

ته ټیټیدو حضرت مجددؒ چه کله ورغلو نو هغه سوچ وکړو چه داخو ماته چل

دے نو هغه وروسته لاسونه ولګول او خپے ئی دننه کړے نو بادشاه ډیر غصه

شو او جیل ته ئی راچولو نو حضرت مجددؒ دوه مریدان یو دپیښور ګورنرو

محبت خان دویم دبنګال ګورنرو و نو دوارحمله وکړو او بادشاه ئی ګرفتار کړو

مجددؒ ته جیل ته خبر راغلو چه ستا مریدانو بادشاه ګرفتار کړی دے نو مجددؒ

خط ولیکلو چه دا فقیر د بادشاهت دپاره نه جنګیږی بادشاه ئی آزاد کړو

نو وروسته اللہ جل جلاله محمد طاهر فتنیؒ پیدا کړو دهغه علاقه پټنه

(هندوستان) ته اکبر بادشاه راغلو نو علماء ئے راجمع کړل نو محمد طاهر فتنیؒ

هم وو سپینه لونګئی ئے په سره کړی وه نو بادشاه تریے تپوس وکړو چه پګړی

ولې نه واهي دوهره لوېئے عالم اوبی بگړې هغه ورته اووې چه ماالله سره عهد کړې دې چه ترڅو بدعات نه وی ختم کړی ترهغه به بگړی نه پسروم نو اکبر اعلان وکړو چه دخه شنی ته بدعت وائی ترهغه به بندوی نوټول رسمونه او رواجونه ختم شو بیا ورورسته دامحمد طاهر فتنیؒ شیعه ؤ قتل کړو نو بیا ورورسته الله شاه ولی اللهؒ پیدا کړو چه هغه برطانیه حکومت خلاف عالمگیر تحریك وچلول او بیاالله ورته داسې بچی ورکړو چه هغه دهلی بالدی اول دارالحرب فتوی ورکړه چه شاه عبدالعزیزؒ وو بیاالله شاه اسماعیلؒ دهغه نواسی پیدا کړو چه هغه وجنگیده اوبیرحکومت یئے آخیستے وو خو بیاخلقوورسره غداری وکړه آخر کښی شیخ القرآنؒ پیدا کړو الله

(یٰآیهاالذین امنوا) ایت ۵۷ زجر للمومنین،

(قل یااهل الکتاب) ایت ۵۹ دخالی نه اتمه حصه په دی کښی علماء سوء ته تهدیدورکوی اوقبائح داهل کتابو بیانوی

(وجعل منهم القردة) ایت ۶۰ نبی علیه السلام یهودو ته تعریو کول نواووې یااخوان القردة والخنازیرو عبدالطاغوت

(لبئس ماکانوایصنعون) ایت ۶۳ مدارك وائی

هذاذم للعلماء والأول للعامة (لبئس ماکانوایعملون ایت ۶۲)

خکه ملایانو به جوړ اول اوعوامو به کول ملایه بدعات شرکیات جوړول اوامیانو به کول،

(کثیرامنهم) ایت ۶٤ دامفعول اول دې دیزیدن اومفعول ثانی طغیاناو کفرا دې اوماانزل الیك دافاعل دې ددوئی د کفر نقشه حج ایت ۷۲ مدثر ایت ۱۸

کښی شانی

(لاکلوامن فوقهم) ایت ٦٦ فوقهم نه مراد باران باران بندش زکوٰة نه ورکولو دوجے نه وی لکه ابن ماجه کښی روایت دی عمروؓ والی او ګوره چه څوک دالله دکتاب خدمت کوی نو بیاداسے شوی دی چه رحمت دروازے ورته کهولاؤ دی امام رازیؒ چه کله تفسیر شروع کولو نود کورسامان یئے دقلم اوپر چودپاره خرڅ کړو خولکه چه تفسیر نه فارغیده نوبیاسلطان شهاب الدین غوریؒ سره به ئی مدد کول اوهغه ددی په مال بادشاه شوے وو

(یاایها الرسول) ایت ٦٧ دلته نه نهمه حصه ترغیب فی التبلیغ اوتسلی نبی علیه السلام ته

(فریقا کذبوا وفریقا یقتلون) ایت ٧٠ چه وس به نه رسیدو نو تکذیب به ئے کولو او چه وس به ئے رسیدو نو قتلول به ئے

دا رنګه حق پرست به یئے قتلول شاه اسماعیل شهیدؒ وګوره هغه یه دملك راغلے وو او دهغوئی مرکز خدوخیل کښی پنج تار نوم کلی کښی جوړ کړے وو او دسکه خلاف ئے جهاد کولو نو داناکاره ملیان اوپیران دهغوی خلاف شو او فتوے ئے ورکړے چه هغه اوس هم موجود دی۔

(کانا یاکلان الطعام) ایت ٧٥ دا جمله ردیه نصاراؤ دے۔

بوسالك والی

اعباد المسیح یخاف صحبی ونحن عبید من خلق المسیحا صرا

(ولا نفعا) ایت ٧٦ ایضاً سورة الفرقان ایت ٣

(وضلوا عن) ایت ٧٧ درے خله ضلوا ذکر کوی ضلوا، واضلوا، وضلوا عن

سواء السبیل۔

محکښې هم اوس هم ورو سته هم گمراه دی شیخ القرآن اصول السنة کښې وائی

(لایهتدون ولا یهدون تابعهم اضل المفقودضل القائدالهادی)

(کانوالایتناهون عن منکر) ایت ۷۹ دلته وای چه نهی عن المنکر پئے نه کول نو دوئی تباه شو نبی علیه السلام وائی

(لتامرون بالمعروف ولتنهون عن المنکر) ورنه الله به تاسو عام عذاب کښې گرفتار کړی

اياعلماء الذين مالی اراکموا تغاضیتمواعن منکرات الأ وامر

اماالاءمر بالمعروف والنهی فرضکم فاء عرضتمواعن ذالك اعراض هاجر

ماأخذالمیثاق ربی علیکموا باء ن تنصحوا بالحق اهل المناکر

دمبتدع ،عزت هم گناه ده حدیث کښې راځی

،،من وقرصاحب بدعة فقداعان علی هدم الأ سلام ،،

دارنگه مدخل صفحه ۶۶ کښې هم یوروایت ذکر کوی

فضیل بن عیاض وائی،،من جلس الی صاحب بدعة فاحذروه،،

دارنگه وائی من احب صاحب بدعة احبط الله عمله واخرج الله نورالأ سلام من قلبه

دارنگه وائی اذارأیت مبتدعافی طریق فخذطریقا آخر

دارنگه وائی ،من اعان صاحب بدعة فقداعان علی هدم الأ سلام

حضرت انسؓ نه نقل دی چه نبی علیه السلام وفرمائیل چه کله دفاسق صفت

کبری نو اللّٰه غصه کیږی (ضیاء النور فصل فی ذم البدع والتبری عن المبتدعین وګوره) مبتدع ته بنکاپ وکړه سورة هود ایت ۱۱۳ ایت ۱۱۶ اوپه دی خائی مدارک لیکی ،،وفیه دلیل علی ان ترك النهی عن المنکرمن العزائم (کبیره ګناه ته ده)

،،یایها الذین امنوا،، ایت ۸۷ دلته ته لسمه حصه اوپه دی کښی هغه مسائل اربعه (تحریمات اللّٰه الخ) بیا راعادکوی او دلته لهجه بدلوی،

،،لایؤاخذکم اللّٰه،، ایت ۷۹ ربط: کچرے تاقسم وخوارچه چرګه بانګ اووالی نوزه به یئے نه خورم نو اللّٰه والی قسم دمات کړه یعنی که دتحریمات العبادته دیے قسم خوړوی نوقسم مات کړاوحرام ورته مه وایه،

،،واحفظوا ایمانکم،، ایت ۸۹ ددی دوه مطلبه دی

(۱) یو داچه خان ساتی دقسم خوارلو نه

(۲) دویم داچه قسم دمات کړو نو کفاره ورکړو داحفاظت دیعن هغے

،،لعلکم تشکرون،، ایت ۸۹ چه اللّٰه کتاب ته کیناستے نو اللّٰه شکر اداکره شیخ عبدالقادرؒ به چه قرآن درس ته کیناسته نو دااشعار به وے

شکر للّٰه که نه مردیم رسیدیم بدوست آفرین بادبراین همت مردانی ما

،،یایها الذین امنوا،، ایت ۹۰ مخکښی آیت نمبر ۸۷ نه ردوو په تحریمات العبادنو دلته بیان دتحریمات اللّٰه کوی.

،،رجس،، ایت ۹۰ رجس اونجس کښی فرق دیے رجس هغه پلیتی ته وائی چه بوئے تریے نه خی اونجس چه بوئے تریے نه خی

،،اذامااتقوا،، ایت ۹۳ دی آیت کښی مطالب دی

اذا ما اتقوا۔ ۱ عن الشرک ۔ ۲ عن الحرام وامنوا۔ ای بالتوحید
ثم اتقوا۔ ۱ عن الخمر والمیسر۔ ۲ عن الکبائر وامنوا۔ ۱ علی الاحکام
۔ ۲ اوعلی الدوام با الایمان،، ثم اتقوا ۔ ۱ ای الخمر والمیسر اذا
رجعوا الیه ۔ ۲ ای عن الشبهات واحسنوا۔ ۱ ای اخصلوا۔

،،یایها الذین امنوا،، ایت ۹٤ بیان دنذر لله کوی.

،،وَحُرِّمَ عَلَيْكُمْ صَيْدُ الْبَرِّ،، ایت ۹٦ کوره ددریاب ښکار نه دے حرام او دوچے حرام دے داخکه چه بیت الله په وجه کښې ره نودوحیے دتعظیم دبیت الله نه لی حرام کړو،

،،قُلْ لَا يَسْتَوِي ایت ۱۰۰ ردپه نذرلغیر الله

،،یایها الذین امنوا،، ایت ۱۰۱ ربط ماسبق سره هر کله چه نه نذرلغیر الله رد کوے نو تپوسونه به شروع کړی جمع مونږ دلته کیږی او کله تابه مسئلے نه آراوی نوادب ہے،خایه تپوسونه مه کونی

ماجعل الله،، ایت ۱۰۳ دلته نه ردعلی تحریمات العباد. اودلته څلور اشیاء
(۱) بحیرة (۲) سائبه (۳) وصیله (٤) حام

څوک تحرمات العبادله کوخوی څوک نذور العباد کنجوے اول نه شی نو په تحریمات شیئ حرام نه کرځی او که نذر للعبادنه شی نو بیا شیئ هم حرام دے بحیره هغه اوښی نه وائی چه هغه لس ځله وضع حمل(ننګون) کړیے وو اوبحیره دبحرنه دے ددریاب نه وائی چونکه هغه زمکه شلوی نودوئی به هم دیته غوږ پریکړو او وبه یئے شلول اوبیابه یئے پریخوده نوبیا که دچا یئے اوفصل ته ورغله نوچابه ورته څه نه وئیل

سائبه: ددی طریقه داوه چه یو سړے به سفرته لاړ نو هغه به وئیل که زه خیریت سره واپس شوم فلانئ سائبه زماوه به سائبه دی

وصیله: چه یوه اوښه به لنکه شوه نو دوه بچي یو نر او بل ماده به یئے راوړو نو دوئی به وړے وصلت اخاها نو هغه به یئے پریخودله

حام: هغه اوښه ته وائی چه لس اوښی به ترے بلاربے (حاملے) شوے نو ئیلی به یئے قدحمی ظهره (شائبئے گرماشوی دے) نو پرېږدوله به یئے نوچابه ورته څه نه وئیل چه دبانددی دچانظر دے

،،حسبنا ما وجدنا،،ایت ٤ ٠ ١ ایضاً بقره ایت ٠ ١٧ ،اعراف ایت٢٨ زخرف ایت٢٢

،،لایضرکم من ضل اذا اهتدیتم،،ایت٥ ٠ ١ دآیت ظاهری مطلب دادے چه ضرر نه در کوی تاسو ته هغه خوك چه گمراه وی کله چه تاسو په هدایت وے حالانکه هغوئی خو ضرر ورکول لکه انبیاء قتلول حق پرستو ته تکالیف ورکول۔

جواب: اصل کښی دآیت مطلب دادے چه ضرر نه در کوی تاسو ته گناه دهغه چاچه گمراه وی کله چه بیان کوئی تاسو دتوحید نو گناه دهغه په تاله دے

،،یایها الذین امنوا شهادة،،ایت٦ ٠ ١ ربط ماسبقه سره: هر کله نذرلغیر الله ناجائز وو نو قسم هم په غیر الله ناجائز دے،

،،فیقسمن بالله،،ایت٦ ٠ ١ دواړه به وړلے قسم خوری دادی وچے نه چه دواړه منکر دی یو ددی وجے نه چه هغه وائی ماغله نده کړی دویمه ددے وجے نه چه هغه وائی چه ماته نی مال پورانه دے واکړے نو دواړه به قسم

خوری

،،ولو کان ذا قربی، ایت ۱۰۶ (اګرکه دامال دیر خوږ دے)

،، یجمع الله الرسل،، ایت ۱۰۵ ربط ماسبقه سره: تاسوځکه نذرلغیر الله
ورشو   حه اولیاء ستاسوپه حال خبردی، نو الله نفی کوی دعلم غیب
دانبیاؤ..

،،اذقال الله یعیسی ابن مریم،، ایت ۱۱۰ تخصص دعیسی علیه السلام ددے
وجے نه کوی چه دهغه عبادت یئے کول بی علیه السلام علیٰ ته وے
،،انی اجدفیك شبهة ابن مریم،، چه زه تاکښې مشابهت دعیسی علیه السلام
مومم ددی مطلب دادے چه لکه عیسی علیه السلام ته قتل منصوبه جوړه وه
دارنګه ته به هم قتل شے دارنګه عیسی علیه السلام باره کښې دړے ډلے
جوړے شوی وی یوے یئے تکفیر کول بلے یئے دالوهیت درجه ورکړه
او دریمے پکښې اعتدال وکړو نو ستاباره کښې هم دړے ډلے به جوړیږی

۱ — یوه به یئے تکفیر کوی لکه خوارج

۲ — دویمه ورته دالوهیت درجه ورکوی لکه روافض

۳ — دریمه به اعتدال کوی چه صحابی به ورته وائی لکه اهل سنت والجماعة

،،واذ اوحیت،، ایت ۱۱۱ دوحی کرمے معنے دی

(۱) — بمعنی وړل لکه انعام ایت ۱۱۲

(۲) — بمعنی حکم لکه نحل ایت ۶۸، انفال ایت ۱۲

(۳) — بمعنی لیږل لکه نجم ایت ۱۰، فاوحی الی الخ

(٤) — بمعنی الهام لکه دلته

،،قال سبحنك،، ایت ۱۱٦ چه ادبناك شاګردوی او که زولی وی نو بیا به خوږ وی دهارون الرشید دوه خاص زو

(۱) امین دادا صیلے سخی زولی وه او مامون دویمی خویږو سخی ورته اوی چه په تا مامون ولے ګران دے بادشاه ورته اووے چه هغه ډیر ادبناك دے نو امتحان یئے دواړو ته واخیستو بادشاه مسواك راوویستو نو امین یئے را واخو ستوو ورته وے

،،ماجمع هذا،،

ددی صیغه دجمع څه راځی هغه اووے :مساویك نو داجواب صحیح وو خو (ك) که دخطاب شی نو معنی ګناهونه دستا بیا یئے مامون راوغوښتو نو هغه ته یئے اووے

،،ماجمع هذا،،

هغه سوچ وکړو که زه مساویك وایم نو بے ادبی راځی نو اووے،

ضدمحاسنك، ستاد نیکو خلاف شی نو هغه مساویك راغله نو هارون حخی ته اویل او ګوره کوم هوشیار دے دارنګ عیسی علیه السلام ته الله تپوس کوی نو ادبناك شاګردیشان ورته جواب ورکوی

اول جواب،،سبحنك،، ستاشان دنه پاك دے

دویم،،مایکون لی ان اقول مالیس لی بحق،،چه ستاسره دامناسب نه دی چه زه وایم

دریم جواب،،ان کنت قلته فقدعلمته،، چه تاته به معلوم وی ما څه ویلی دی

خلورم جواب ،ماقلت لهم الاماامرتنی به،،چه ماداشان دوئی ته وئیلی

وواودوئی بدل کړے دے،

،،ان تعذبهم فانهم عبادك،،ایت ۱۱۸ کله چه اسری(قیدیان)دبدرلی راوستو

لونبی علیه السلام مشوره واخیسته چه څه ورسره وکړو

لوعمرؓوورته اووے چه رشته دارد رشته دارقتل کړی ابوبکرؓ اووے چه جزیه

تربے واخله اومعاف ئی کړه نولبی علیه السلام اووے

عمرؓستامثال پشان دموسی علیه السلام اونوح علیه السلام دے

نوح علیه السلام وئیل ،،رَبِّ لَاتَذَرْ عَلَى الْاَرْضِ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ دَيَّارًا،،

اوموسی علیه السلام وئیل ،، رَبَّنَا اِنَّكَ اٰتَيْتَ فِرْعَوْنَ وَمَلَاَهٗ زِيْنَةً الخ،،

اوابوبکره ستامثال په شان دابراهیم اوعیسی علیه السلام دے

ابراهیم وئیل ،مَنْ تَبِعَنِيْ فَاِنَّهٗ مِنِّيْ وَمَنْ عَصَانِيْ فَاِنَّكَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ،،

دارنګه عیسی علیه السلام وئیل ،،اِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَاِنَّهُمْ عِبَادُكَ ،،داآیت پئے اووے

،،لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ،، ایت ۱۲۰ دعوی دتوحید

خلاصة السورة دی سورة کښی څلورخبربیانوے

(۱)......تحریمات الله (۲)......تحریمات العباد

(۳)......نذورالله (٤)......نذورالعباد

نودادیره ګرانه خبره ده نودسورة کښی بشارت ورکوی اوبارباروړکوی

اول خل په ایت ۷ آیت کښی چه قرآن زده کړه اوبیان کړه داته بیاچه وطن

کښی غلے شے نوورپسے ایت ۸ آیت کښی وائی کونواقوامین لله (چه کلك

شئ تکلیفونه به راځی نوحفه کیږه مه ورپسے آیت ۹ کښی،

وعدالله الذین امنوا الخ چه الله به جنت در کړی نو چه کله کلی ته لاړشے
نو خلق به درته وائی څه دراؤړی دی نو ایت ۱۵ آیت کښی (داچغه کړه
قدجاء کم من الله نورو کتب مبین
دارنګه ایت ۱۹ کښی چاچه دامسئله او منله قرآن پنے زده کړه نو بشارت
واخله دارنګه ایت ۳۵ آیت کښی راشی راشئ الله ته په قرآن نزدیکت
حاصلوو
وجاهدوافی سبیله راځیء راځیء تو جدبیان کوو نو هغوئی به وائی څه لیونے
شوے ټول کلے یو طرف ته او ته بل طرف ته پنے نو ایت ٤٤ کښی
'فلاتخشوالناس واخشون،، خلقوته مه یریږئ خدائی نه ویریږئ نو منله
داخیستے ده مسجدته ورسیدے نو
وایه ومن لم یحکم بماانزل الله فاولئك هم الکفافرون ایت ٤٤ هم الظالمون
ایت ٤٥ هم الفاسقون ایت ٤٧
دارنګه وایه لکلٍّ جعلنامنکم شرعةً ومنهاجاً ایت ٤٨ نو دوئی به وائی چه کلی
ته اوځه کلے جداشو خپلوان تربوران جداشواوستاخیره له منی نو ورپسے
ایت ٥٤ کښی یایها الذین امنوامن یرتدمنکم عن دینه فسوف یاتی الله بقوم،،
الی،، ولایخافون لومة لائم ورته وایه الله به خوانان پیدا کړی دچادملامتیانه
به یریږی دادالله دله ده خپله خبره مه پریږده نو ایت ۱۱۹ کښی
لهم جنٰت تجری من تحتها الانهر،، واه تاله باغونه څکه دنیا کښی
چاکور کښی نه پریخودلے واه تاله نهرونه څکه چه چادرته او به هم نه
درکولے

،،رضی الله عنهم ورضوا عنه،، وا ه الله به درنه راضی وی ځکه دنیا کښې

دټول دشمنان وو خوداخه دپاره دمسئلې دپاره

،،لله ملك السموت والارض،، مسئله دتوحید دپاره،

* * * * * * * * * * * * * * *

* * * * * * * * *

* * *

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

سورۃ الانعام

دامکی سورت دے په نزول کښی ۵۵نمبردے نازل شوے دے پس دسورةحجرنه

روابط السورة الانعام

قرآن کریم په اعتبار دفهم څلور حصے وو

۱ اوله حصه دخالی پورے وه اودی کښی مقصودی مسئله

خالق لکل شیئی هوالله وه

۲ دویمه حصه ددسورة شروع کیږی په دی کښی مقصودی مسئله

مربی لکل شیئی هوالله

ربط ددواړو حصو:هر کله چه پیدا کونکے دهرشیئی یوالله دے نوچه

پیدائی کړلو تربیت به هم الله ورکوی او انسان ته تربیت ضرورت ده.

(۱) مخکښی سورة اول کښی رددشرك فعلی وو آخر کښی رددشرك

اعتقادی نودسورة کښی دهغے برعکس اول کښی رددشرك اعتقادی

بیاآخر کښی رددشرك فعلی کوی.

(۲) مخکښی رددشرك وشومفصل نودی سورة کښی اثبات التوحیدده

تفصیلاسره دررددشرك.

(۳) مخکښی سورة کښی عجزدعیسی علیه السلام ئی ذکر کړه نودی

سورة کښی دنوروزمخلوقاتوعاجزی ذکر کوی

(٤) مخکښی بیان دمائده ئی وکړوچه په بنی اسرائیل باندی رالیږلی وو

نودی سورة کښی عام الفاظ ذکر کوی(وَهُوَيُطْعِمُ وَلَايُطْعَمُ)چه هرڅائه رزق،ور کوی.

(۵)......محکښی بعض انعام محرمه ذکر کړل لکه بحیره سائبه نودی سورة کښی بعض انعام محلله ذکر کوی په ایت ۱٤۲ کښی

(۶)......محکښی نفی دعلم غیب وه انبیاؤنه نودی سورة کښی دهغه خلاصه په ایت ۵۹ کښی.

(۷)......محکښی آخر کښی وئیلی وو(لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ) چه اختیاردالله ده نودی سورة کښی وائی (اَلَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ) چه خالق هم الله ده ترقی په ماسبق باندی دی .

(۸)...... محکښی اوورے ایت۸۷ کښی ،،لَاتُحَرِّمُوامَآاَحَلَّ اللّٰهُ لَکُمْ ،،او څه اقسام ئی بیو دلی وو نودی کښی نوراقسام ذکر کوی.

(۹)......محکښی امورداصلاح دطعام ئی ذکر کړه نودےسورة کښی اصلاح دعقیدے کوی نودی وجے نه وربسے راؤړو.

(۱۱)......محکښی آخر کښی اوورے ،،لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ،،نود الله بادشاهت او اختیاردے نودی سورة په ایت۳ کښی وائی

،،وهوالله فی السمٰوٰت والأرض،، چه عالم هم یو الله دے .

(۱۲)...... محکښی سورة کښی نفی دعلم غیب وه انبیاؤنه

،، قالوا لا علم لنا،،ایت ۱۰۹ سره نودی سورة کښی دهغه خلاصه ذکر کوی په ایت ۵۹ کښی

امتیـــــازات الســـــورة الانـــــعـــــام

(١) داسورة ممتازدہ پہ کثرت ادله عقیله ژ ٢٥ ادله ذکر کوی

(٢) داسورة ممتازدہ پہ تفصیلی ردشرك باندی

(٣) داسورة ممتازدہ پہ بیان دعقبات سته ژباندی

(٤) داسورة ممتازدہ پہ کثرت اعتراضات دمشرکینو

(٥) داسورة ممتازدہ پہ تفصیلی رداقسامو دمشرکینو باندی

(٦) داسورة ممتازدہ پہ بیان ١٥٦ دامثله ژدموحدینو ار مشرکینو باندی

(٧) داسورة ممتازدہ پہ زیات زواجرو باندی مشرکینو ته

(٨) داسورة ممتازدہ پہ دی چه کله داسورة نازلیده تریو خائی نازل شوہ وو او اویازره فرشتے ورسره راغلی وے "کلهم یهللون ویسبحون"

(٩) نارنگه پہ تقریر دابراهیم علیه السلام باندی۔

(١٠) پہ تقسیم دانعامو باندہ (حمولة وفرشا)

دعوی السورة الانعام

ردشرك مفصلاً او اثبات التوحید

تقسیم السورة الانعام

داسورة دوه حصے دے

(١) اوله حصه ترایت ١١٨ پورے پہ دی کښی ردشرك اعتقادی وو

(٢) دویمه حصه ترآخره پہ دی کښی ردشرك فعلی دے۔

داسورة نوم انعام دے څکه چه انعامو ١٣٨: ١٣٩: ١٤٢: ١٣٦ ذکر پہ کښی زیات

کړی او سورة الحجة هم ورته والی څکه چه دلائل په کښی زیات دی او ورسره لفظ
حجت هم والی لکه ایت ۸۳ ایت ۱٤۹

شرک دوه قسمه دے

(۱) اعتقادی (۲) فعلی،

بیا اعتقادی څلور قسمه دے.

(۱) شرک فی العلم (۲) فی التصرف

(۳) فی الدعاء (٤) فی العبادة، قرآن کریم دا ټول اقسام رد کړی

ردد شرک فی العلم:

اول په ایت ۳ کښی یعلم سر کم الخ دانسان درے وار و (سر جهر کسب)
حالتونو باندی پوهه الله دے) دویم په ایت ۵۰ کښی

دریم په ایت ۵۹ ،،وعنده مفاتح الغیب،، الخ الله سره دغیبو چابیانے دی
څکه یا علم غیب ته نے تالا وهلی ده (درے واره واجمع کړه)

څلورم په ایت ۷۳ ،عالم الغیب والشهاده،،

پنځم په ایت ۸۰ ،،وسع ربی کل شیئی علما (دا پنځه واره راجمع کړه).

(وَاِنْ تَعُدُّوْا)ایت ۳٤ ددی ایت لاندی اشعار دعلامه اقبال وګوره سورة رعد

کښی او ګوره داشان په سورة نحل ۱۸ کښی هم ذکر کوی خو هلته خاتمه

بدلوی ان الله غفور رحیم وائی او دلته ان الانسان لظلوم کفار ذکر کوی

اصل کښی یو میلمه وی یو قربه (میلمه چه روټی قربه سره وخوری نو هغه

دقربه شکریه آدا کړی او خوشحاله شی خو انسان د الله میلمه وو هغه داسے

ونه کړل بلکه لظلوم کفار شو او قربه چه کله میلمه ته روټی ور کړی نو قربه

وائی چه بس یو وخت روټی ور کړم نو خلاص به شم نو الله قربه ده خو

داسے نه ده بلکه اِنَّ اللهَ غفورٌ رَّحیمٌ هروخت درکوی بووخت نه درکوی نونحل کښی حالت دَ مُنعِم ذکر کوی اودلته حالت دَ مُنعَمٌ ذکر کوی

(اَسکَنتُ مِنْ ذُرِّیَتِیْ)ایت ۳۷ ابریمؑ خپل اهل وعیال راواستو هاجره دباشاه لُوروه خومره به نازلوبه شوی وه نوګنده اوجاره کښی لے پریخوده مؤرخین ذکر کوی چه ابراهیمؑ ترے نه روان شو نوهاجره ورته والی

الی من تکلنا یا ابراهیم لیس فیها ذرعٌ ولاماءٌ ولاانسٌ الخ آواز ورته کرو بیاورته هاجره داووے ابراهیمؑ بیاجواب ورنه کرو دریم ځل هاجره بی بی ورته اُووی آالله امرك بهذا نوابراهیمؑ ورته مخ راوړول اوورته اُووے نَعَمْ اَمرنی رَبی نوهاجرورته وائی قالت اذاً لایُضیّعنَاالله چه به مو ترنه ضائع کوی نوهاجر دَ اخلاص دګه مند ه اوواهله الله ته خوښه شوه نوبادشاهان اوس هلته منده وهی دارنګه اسماعیلؑ خپے اوواهلے نوهاجره ورته وائی زمّ زمّ نوشګی ترے چاپیره کړے نودنیا به ترے سیراب کیده اودا اوبوکښی تبرك شته صحابه ؤهم ؤرلے

(تَهْوِیْ)ایت ۳۷من هوی (ضرب)بمعنی میلان (سمع) بمعنی محبت

(اِسْمٰعِیْلَ وَاِسْحٰقَ)ایت ۳۹ اسماعیلؑ هاجر بی بی زوئی وو.... اواسحاقؑ د ساره بی بی زوئی وو

(وَاِنْ کَانَ مَکْرُهُمْ)ایت ٤٦ ددی دوه۲ معنے دی۔ ۱ اِنْ مُخفف دمثقل نه الجبال پخپله معنی نومعنی به داشی یقیناً وُو تدبیرٌ ونه ددوئی چه جر کیدل به ترے نه غرونه

۔ ۲ اِن بمعنی مانافیه اوالجبال په معنی دَحق پرست دپشان دَغرُونو

نومعنی داشوه نهٔ دی تدبیرونه ددوئی چه ؤ حرکیږی نوے نه حق پرست پښان دغزونو حق پرست ذ غروهم کللك وُو

(غیرُ الارُض)ایت ٤٨ دازمکه ولے بدلوی دادی وجے نه چه پهٔ دی زمکه ګناه هُونه شوی دی اوعدالت دځرم خالی کښی نه کیږی

بسم الله الرحمٰن الرحیم

سورة الحجر

مکی سورة دے په نزول کښی ٥٤ پس د سورة یوسف نه نازل دے

روابط السورة الحجر

(١)......محکښی ترغیب فی التبلیغ وونودی کښی دهغه چا انجام ذکر کوی چه دی مسئلے نه منکردے

(٢)......محکښی حالت د قیامت بیان شونودی کښی حسرت او افسوس دهغه چا ذکر کوی چه قیامت ته ئی تیارے نه وو کړے

(٣)......محکښی افتتاح د سورة وه په حکمت نزول القرآن نودی افتتاح کوی په صداقة القرآن باندی

(٤)......محکښی ئی ونیلی وؤومکروامکرهم وعندالله مکرهم ایت ٤٦ نودی کښی دمکرنمونے لکه صالح علیه السلام خلاف ذکر کوی

(٥)......محکښی دوه فرقے مؤحدین مشرکین بیان شوے نودی کښی ددواړو انجام ذکر کوی

(٦)......محکښی سورت په آخر کښی اوو ے

(قل انما هو الله واحد ولیذکر اولو الألباب) نو دی سورة کښې د اولوا الالباب منزل بیانی

(۷)......مخکښې سورت کښې ونیلی وو (یوم تبدل الارض) ایت ۴۸ نو دی کښې زیادت په هغې کوی

(۸)......مخکښې ۵۲ کښې مسئله د توحید لی ذکر کړه نو دی سورة آخر ۹۶ کښې مسئله د توحید راوړی

امتیازات السورة الحجر

(۱)......دا سورة ممتاز دے په افسوس د مجرمینو په قیامت کښې

(۲)......دا سورة ممتاز دے په حقیقت دابو الجن وابو الأنس باندی

(۳)......دا سورة ممتاز دے په بیان د ابواب جهنم باندی

(٤)......دا سورة ممتاز دے په امر باند پیغمبر ته چه ترمرګه عبادت کوه

(۵)......دا سورة ممتاز دے په ذکر دحفاظت د قرآن باندی

(٦)......داسورة ممتاز دے په فتوی باندی په هغه چاچه دالله د رحمت نه ناامیده وی

دعوی السورة الحجر

دی سورة کښې دوه خبرے ذکر کوی انجام د مجرمینو او نجاة المؤحدین

خلاصة السورة الحجر

داسورة تتمه ده د ماقبل د پاره مخکښې دوه فرقے بیان شوے نو دی کښې د هغوئی انجام بیانی ،سورة ذوات الرآء نه دے اول کښې ترغیب الی القرآن بیا ایت ۱۶ نه ادله عقلیه باثباة التوحید ذکر کوی ، بیا وروستے رکوع کښې

ایت ۲۶ نه انجام د سرکشی د شیطان ښائی، او بیا اثباة القیامة کوی نو بیا واقعات دانبیاء کرام علیهم السلام شروع کړی په هغی کښې انجام د نه منونکو، او نجات دمؤحدینو ذکر کوی

تقسیم السورة الحجر

سورة درے ۳ حصے ده اوّل ۱۵ ایت پورے پری کښې اشاره دی واقعاتو داقوام سابقه ؤته

دویمه حصه تر ۵۰ پورې ادله عقلیه پری توحید

دریمه تر آخره پری کښې تخویف داقوام مهلکه

حل مشکلات السورة الحجر

(اٰیٰتُ الْکِتٰبِ وَقُرْاٰنٍ مُّبِیْنٍ) ایت ۱ لفظ الکتاب فی اول السورة مشعرٌ بان فیها واقعة من الکتب السابقة ولفظ القرآن فی اولها مشعر بان فیها تعریف القرآن الکریم ولفظ المبین فیه اشارة الی ان فی السورة ادلة نقلیّة

(لَمَجْنُوْنٌ) ایت ۶ النبیّ الذی قالوا له الصادق ویقضی علیه فالآ ن یقولون له الساحر والمجنون لوجه التوحید ایضاً سورة صٓ ۴

(نَسْلُکُهٗ) ایت ۱۲ ۔ ۱ الضمیر راجعٌ الی القرآن ۔ ۲ اوالی الانکار ۔ ۳ او الی الاستهزاء

(وَلَقَدْ جَعَلْنَا) ایت ۱۶ دی رکوع نه ادله عقلیه باثباة التوحید

(اِلَّا عِنْدَنَا خَزَآئِنُهٗ) ایت ۲۱ الله سره د هرشی خزانے دی نو الله نه ئی غواړه دعیسٰی علیه السلام یوقول دے

اجعلوا رزقکم فی السمآء فان قلب الرجل عند کنزه
شیخ عبدالقادر جیلانیؒ وائی اغلق ابواب الخلق الیک
(وَاَرْسَلْنَا الرِّيٰحَ)ایت ۲۲ بعض خلق وائی چه ریاح جمع په رحمت کښې او ریح مفرد په عذاب کښې راځی دوجې نبیؐ دُعا کوله
اللّٰهم اجعلها ریاحاً ولا تجعلها ریحاً خو داسې نه ده بلکه اصل کښې چه ډیر باد و نه راشي نوهغه وریځې یو ځائې کړی او چه یو طرف ته وی نو هغه وریځې خوارې کړی
لَوَاقِحَ)ایت ۲۲ او به آچونکی ګوره ریاح مذکر دے او سحاب مؤنث دے نو کله چه مذکر او مؤنث یو ځائې شي نو هغه حمل شده شی ، داهم بیا لواقح وګرځیږی اصل کښې عرب وائی، لقحت الناقة ،بلاربه شوه اوښه،
علامه اقبالؒ وائی،
کون لایا کھینچ کر پچھم سے بادِ سازگار خاک میں یہ کس کا ہے نورِ آفتاب
(وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ)ایت ۲٦ دی رکوع کښې انجام د سرکشی دشیطان بنائی
(صَلْصَالٍ)ایت ۲٦ صلصال هغه خټې ته وائی چه کړنګه کوی او ،حما تورے خاؤرے ته وائی،مسنون،د سن یسن نه دے چه کالو ته په تیر شوی وی یعنی خمبیره شوی ته وائی خکه خټه خمبیره شي نو هغه بیا کړنګار کوی
(لِّاَسْجُدَ لِبَشَرٍ)ایت ۳۳ شیطان تکبر وکړو نو غرق شو
خو د ۱ یو تکبر دے۔ ۲ بل احساس کمتری ده۔ ۳ ،او بل په خپله درجه برابر والے دے تکبر دیته وائی چه خپلے درجے نه ځان غټ وګنړے احساس کمتری دیته وائی چه اللّٰه یو درجه درکړی او ته دهغه نه ځان ښکته

حساب کړي لکه پلار چه بچي ته ځېلتي سموي، او په پخپله درجه پالنے کیدل دارو ادي، او دانور دوه ناروادي

(وَلَاُغْوِيَنَّهُمْ) ایت ۳۹ شیطان چه دا اعلان وکړو نو الله مونږ ته اعلان کوي لکه فاطر ٦

(لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطٰنٌ) ایت ۴۲ یو روایت کښي راځي چه عمرؓ به په کومه لاره تلو په هغه لاره به شیطان نه تلو،

(اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ) ایت ۴۵ هر کله چه د مجرمینو حالت ذکر شو نو اوس دلته د متقینو حالت ذکر کوي

(مِّنْ غِلٍّ اِخْوَانًا) ایت ۴۷ حضرت عليؓ به وې چه دا زما او معاویهؓ باره کښي دے او دی آیت تفصیل طور په ۴۷ کښي وګوره

(اَنَا الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ) ایت ۴۹ خو مره د تسلي آیت دے چه ته ګناه کوه توبه او باسه زه به دي معاف کوم حدیث کښي راځي چه کله آخر د شپے شي نو الله اول آسمان ته راشي او آواز کوي

هل من مسترزق فارزق له هل من مستغفر فاغفرله

یو بل حدیث کښي راځي چه بني اسرائیلو کښي د یو سړے کفل، نوم وو هر قسم ګناه ئي کوله، یو ورځ یوے ښځي سره ئي زنا کوله نو هغه ښځه په ((ریږدو)) شوه کفل ترے تپوس وکړو چه ولے، هغې ورته اووی چه الله نه یریږم نو کفل ترے راپاسیدو، او توبه ئي اووسته، صبا ته مرګ ورته راغلو نو په دروازه ئي لیکلي وو

قد غفر الله الكفل، دا رنګه یو سړے ډیر قتلونه ئي کړي وو

(وَنَبِّئۡهُمۡ عَنۡ ضَيۡفِ) ایت ۵۱ ربط مخ کښې دجهنمیانو او جنتیانو دوارو بیان وشونو اوس ښائی چه دجنتیانو نه ابراهیمؑ دے

(اِنَّا مِنۡكُمۡ وَجِلُوۡنَ) ایت ۵۲ کوره دلته داذکر کوی چه مونږ تاسو نه یریدو نوهغوئی سلام واچول او ابراهیم علیه السلام ترې نه یریدودا ولے

جواب..... قرآن کریم کله کله یوه واقعه ګڼړ ځایه کښې ذکر کوی لکه واقعه د موسیٰ ۱۳۰ ځایه ذکر کوی او هرځائی کښې جدا جدا مقصد د پاره، د غسې د نورو انبیاؤ علیهم السلام، او دلته واقعه د ابراهیم علیه السلام دی د پاره ذکر کوی چه وګوره نجات نی اوموندو، او چاچه سرکشی کړی وه هغوئی تباه شول،

(او دا واقعه په ،هود، کښې هم ذکر کوی هلته د دی خبرے تفصیل کوی ۲۹ کښې) محدثین هم ګڼړ ځایه یو روایت ذکر کوی خو یو باب کښې دهغی موافق ټکړا دحدیث وی او بل باب کښې دهغی موافق.

(فَلَمَّا جَآءَ) ایت ۶۱ واقعه دلوط علیه السلام د پاره د دفع د بے حیائی

(وَاتَّبِعۡ اَدۡبَارَهُمۡ) ایت ۶۵ کوره امیر خو مخکښې خی، او دلته امیر وروسته روان دے

جوب ..... دا څکه چه امیر مخکښې ځی نو داهغه وخت کښې چه مصیبت مخکښې نه وی او دلته مصیبت ورروستو نه وونو ددی وجے ورروستو طرف ته تلو دی کښې اشاره ده دیته چه کوم طرف کښې سختی وی امیر به هغه طرف ته ځی

(بَنٰتِيۡٓ) ایت ۷۲ دی نه مراد د ګاوند جینکۍ دی ،لکه ،ابن کثیرؒ او زاد المسیرؒ

هم ذكر كوى.

(لعمرك)ايت ۷۲ ـ ۱ اى شاهدعمرك ـ ۲ ياكراو دے نا له در كونكے دعمر

وخطاب يا لوط عليه السلام ته يا نبى عليه السلام ته

(حجارة من سجيل)ايت ۷٤ شيخ عطار وائى

آن خداوندکہ بنگامی گر کردقوم لوط رازیروزبر

(اصحب الايكة)ايت ۷۸ دلته يو كوهے او بوخو ونے ئے

(اصحب الحجر)ايت ۸۰ اوس دى خائى ته وادى اولى وائى

(المرسلين)ايت ۸۰ كوره اصحاب الحجر خود يو پيغمبر تكذيب كرے

وو او دلته مرسلين صيغه جمع راؤړى.

جواب د يو پيغمبر تكذيب كول د ټولو تكذيب كول دى .

(سبعا من المثانى)ايت ۸۷ مراد د دى نه سورة فاتحه ده ځكه هغه ۷ آياتونه

دى او بار بار تلاوت كيږى او والقرآن العظيم كښى خو دا داخله وه

ـ ۱ خو يادقبيلے دعطف العام على الخاص نه دے.

ـ ۲ يا دوجى د اهميت نه ځان ته ئى ذكر كوى

بعض خلق وائى چه دى نه مراد اووه څيزونه دى

اوهغه اثبات التوحيداثبات اثبات الرسالة صداقة الكتاب ايمان باالآخرة دليل

عقلى نقلى وحى دى او بعض وائى چه مراد ترے اووه مفصلات دى خو دا

خبره صحيح نه ده ځكه دهغى وخت كښى هغه پوره نه وو نازل

(لا تمدن عينيك)ايت ۸۸ قرآن د دنيا ګټلو د وجى نه پرے نه ږدوے

حديث كښى راځى ليس منامن لم يتغن باالقرآن .او غناء بے پروائى ته وائى

لکه اشعارو د عربو کښې راځي

كِلَانَا غَنِيٌّ إِذَا كَانَ حَيَاتُنَا وَنَحْنُ إِذَا مِتْنَا أَشَدُّ تَغَانِيَا

(عَلَى الْمُقْتَسِمِينَ) ایت ۹۰ دی نه مراد یاقوم صالح علیه السلام دے چه هغوئی اوس ته نمبر تقسیم کړی وو او الذین جعلوا القرآن داخان ته کلام دے یا دی نه مراد اهل مکه دی چه موسم د حج کښې لارے ئی تقسیم کړی وے چه د نبی علیه السلام باره کښې حاجیانو ته جادوګر لیونی کاهن وائیل نو بیا وروسته آیت خان ته کلام نه دے

(فَاصْدَعْ) ایت ۹٤ صدع شیشے ماتولو ته وائی لکه څرنګه چه شیشه ماته شی ټوټې ټوټې شی دغسی ته هم صفا صفا بیان او کړه

(الَّذِينَ يَجْعَلُونَ مَعَ اللَّهِ) ایت ۹٦ مخ کښې آخر ایت ٥٢ کښې مسئله د توحید راوړی وه نو دی سورة آخر کښې ئی هم راوړه،

(حَتَّى يَأْتِيَكَ الْيَقِينُ) ایت ۹۹ حتی انتهاء د پاره راځي نو معنی دا چه ترمرګه به عبادت کوے یعنی مرګ به په تا راځي او بیا د مرګ نه بعد عبادت نشته نو ته چه وائی پیغمبر ژوندے دے نو دی آیت څه مطلب شو،

بل ته وائی چه عبادت کوی نو دی آیت څه مطلب دے ابوبکرؓ په وفات د پیغمبر څه وائیل او ګوره یقین په معنی د مرګ راځي لکه سورة مدثر ٤٧ کښې راځي شیخ عبد القادر جیلانیؒ وائیل چه یو ځل ماته آسمان نه تخت راغلو او ماته ئی چغه کړه چه عبدالقادر نور عبادت مه کوه ستا عبادت دومره ډیر دے ما ورته اووے چه پیغمبر ته وائی چه ترمرګه به عبادت کوے نو بیا ماته څنګه معاف شو نو تخت دوه ټکړے شو او چغه شوه چه ډیر

م گمراه کړی دی خوته په علم سره یج شوے،

بسم الله الرحمن الرحیم

سورة النحل

دامکی سورت دے په نزول کښې ۷۰ پس ډسورة کهف نه نازل شوے دے

روابط السورة النحل

(۱)...... مخکښې عذاب د سابقینو ئی ذکر کړو نو دی کښې عذاب دموجودینو ذکر کوی.

(۲)...... مخکښې خلقة د ابو الجن او ابو الأنس ئی ذکر کړنو دی سورت کښې ډ عام انسانانو خلقت ذکر کوی

(۳)...... مخکښې ئی الله خپل قدرتونه بیان کړل نو دی سورة کښې عاجزی د انسانانو بیانوی

(٤)...... سورة ابراهیم کښې ترغیب فی التبلیغ وو سورة حجر کښې نمونے د عذابونو وے نو په دی سورة کښې اصل مسئله چه په هغے ترغیب او ترهیب ورکولے شی

(٥)...... مخکښې اوو ادْخُلُوهَا بِسَلٰمٍ اٰمِنِيْنَ نو دی ۳۲ کښې په هغه ترقی ده

(٦)...... مخکښې پیدائش ډ انسان ئی ذکر کړو نو دی کښې انقلاب ډ انسان ذکر کوی،

(۷)...... مخکښې والیلی وو انی اناالغفور الرحیم نو دی سورت کښې نمونے د الله ډ بخشش ذکر کوی

(۸)...... مخکښې مسئله د توحید او انجام دمنکرینوني ذکر کړو نو دی سورة کښې اثباة التوحیدذکر کوی

(۹)...... مخکښې دل تنګی د جناب رسول الله ﷺ ذکروه نو دی کښې تسلی نبی علیه السلام ته ورکوی،

(۱۰)...... مخکښې ئی دهغه چا بیان وکړو چه هغوئی کثرالهه نیولی دی ایت ۹۶ نو دی کښې،انه لااله الا انا فاتقون،سره بیامسئله بیانوی،

(۱۱)...... مخکښې حالت د مؤحدینواومنکرینوئی ذکر کړو نودی سورة ایت ۳۶ کښې خلاصه ذکرکوی

امتیازات السورةالنحل

ـ ۱...... دا سورةممتاز دے په اثباة التوحیدبالادلة المتنوعة

ـ ۲...... دا سورة ممتاز دے په منافع د انعامو باندی

ـ ۳...... دا سورة ممتاز دے په بیان د بعض فوائدو ددریاب

ـ ٤...... دا سورة ممتاز دے په بیان د رسم جاهلیت چه ژوندے لونړه ئی خخولے

ـ ٥...... دا سورة ممتاز دے په بیان دحکم د الله مجوته

ـ ٦...... دا سورة ممتاز دے په بیان د فوائد د ګبین باندی

دعوی السورةالنحل

اثباة التوحیدبالأدلة المتنوعة

خلاصة السورة النحل

دی سورة شپږ بابونه کښې تقسیم دے

اول باب...... تر ۲۲ پورے په دی صرف ادله عقلیه باثباة التوحید ذکر کوی

دویم باب...... د ۲۳ نه ۳۵ پورے په دی کښی زواجر وبشارت ذکر کړی

دریم باب ...... د ولقدبعثنا ۳۶ نه تر ایت ۴۷ پورے اوپه دی کښی دلیل

وحی ودلیل نقلی اجماعی من الأنبیاء باثبات التوحید

څلورم باب...... د ۴۸ نه تر ۶۵ پورے په دی کښی دلائل ذکر کړی چه

کُلُّ شَیْیٍ متضرعٌ الی الله یعنی ټول مخلوق عاجز دے الله ته

پنځم باب...... د ۶۶ نه تر ۸۳ پورے په دی کښی بیان ددی چه

النعم کلهم من الله یعنی ټول نعمتونه د الله د طرفه دے

شپږم باب...... د ۸۴ نه تر اٰخیره پورے په دی کښی تسلّی جناب نبی ﷺ ته

او تخویف اواحوال المشرکین په قیامت کښی او مثال

دعمل دمشرك اوترغیب الی القرآن اورد شرك فعلی

حل مشکلات السورة النحل

(اَتٰی اَمْرُاللّٰه) ایت ۱ دا صیغه دماضی بمعنی مضارع ده او ماضی لتحقق الوقوع راوړی

(خَلَقَ السَّمٰوٰتِ) ایت ۳ دلته نه یو قسم ادله خالق لکل شیء هو اللّٰه

(دِفْءٌ) ایت ۵ د بیجاؤ سامان لکه عائشةؓ وائی چه نبی علیه السلام به کله کله یدفؤبی په ماخان پخنئی کښی ګرمول،

(وَالْخَیْلَ) ایت ۸ ای وخلق الخیل اللّٰه درته خانستهٔ آس پیداء کړے دے خانسته ئی زین

اعزمکان فی الدنیاسرج سابح وخیرالجلیس فی الزمان کتاب

(فیه تُسِمُوْنَ)ایت ۱۰ کښې ۔ ۱۹دا یالی شی سام یسیمُ نه نوبیاپه معنی دځرولودے او که چرے داواوی شی،سام یسوم نه شی بیا په معنی دخو ځرلولکه حدیث کښې راځي لاتسوموا احدکم علی سوم اخیه (نو مطلب دَ دِه چه دوررورسودابائد،پاسه سودا مه کوی)

او دلته اول معنی مراد ده

(وَالنُّجُوْمُ مُسَخَّرَاتٌ)ایت ۱۲ ستوری او ګوره تابعداردی لکه یوشاعروائی

تدبّرفی النجوم ولستَ تدریٰ وربّ النّجم یفعلُ مایُرِیْدُ

(لِّقَوْمٍ یَّذَّکَّرُوْنَ)ایت ۱۳ اول نی اووے ایت ۱۱ کښې لقوم یتفکرون،ایت ۱۲ کښې اووی ،لقوم یعقلون،اوس دلته وائی لقوم یذکرون

(اِنَّ اللّٰهَ لَغَفُوْرٌرَّحِیْمٌ)ایت ۱۸ داهغه شان آیت ابراهیم ۳۴ کښې هلته توجیه اوتفصیل وګوره

(وَاللّٰهُ یَعْلَمُ)ایت ۱۹ سورة رعد کښې لکه څنګه دلائل ذکرکول دغسې دلته هم بیانوی اول نی اووے ،خالق لکل شيءٍ هو اللّٰه نواوس وائی عالمٌ بکل شيءٍ هو اللّٰه،اوګوره دلیل مطابق رد کوی کله لی چه اووے خالق لکل شيءٍ هو اللّٰه ،نوبیا نی اووے ،افمن یخلق،۱۷،اواوس وائی عالم بکل شيءٍ هو اللّٰه ،نوچه اللّٰه پوهه دے نوده ته فریا دوکړئی نووائی والذین یدعون من دون

(وَهُمْ یُخْلَقُوْنَ)ایت ۲۰ ایضا فرقان ۳

(قَدْمَكَرَ الَّذِيْنَ)ایت ۲۶ ربط..... کله چه مسئله د توحید بیانوي نو دوئی به ستاخلاف تدبیرونه کوی نو دی کښې دما کرینو حالت ذکر کوی ،

(وَقِيلَ لِلَّذِيْنَ)ایت ۳۰ اوس باب د بشارت دے

(قَالُوْا خَيْرًا)ایت ۳۰ ای انزل خیرًاوهوالقرآن

(وَلَنِعْمَ دَارُ الْمُتَّقِيْنَ)ایت ۳۰دی نه مخکښې ۲۹ کښې کافرانو باره کښې وائی فلبئس مثوی المتکبرین،او کافرو قول چه کله قرآن ذکر کوی په بارے د قرآن کښې نو مرفوع ذکر کوی ،قالوا اساطیر الأولین،او د مؤمنانو قول د قرآن باره کښې منصوب ذکر کوی قالوا خیرا ۳۰ دا ولے

جواب..... کافران چونکه د قرآن د نزول قائل نه وو نو د کافرو قول ته هی ،محذوف منلے شی،اومؤمنانوقول ته انزل، محذوف منلے شی

(طَيِّبِيْنَ)ایت ۳۲(خوشحاله به وی)مخکښې د کافروحالت ئی ایت ۲۸ کښې ذکر کړو نو دلته مؤمنانو حالت ښائی

یو سالک وائی

نشان مرد مؤمن باتو گویم چون مرگ آید تبسم برلب اواست

۱ ابو الدرداء چه کله وفات کیدو نوښځے ئی ژړل،چه کله هوش کښې راغلو نوښځے ته وائی،اعملی اعملی ولاتأکلی الصدقات،نوښځه ورته وائی ان عجزت که زه بوډئی شوم،فقال التقطی سنبلا وږې راغونډه وه، ولاتأکلی الصدقات

۲ حضرت بلال چه وفات کیدو نوښځے ئی ژړل،نوده ورته وی چه ولے ژاړے هغې ورته اووے چه ته مړیږے کنه،بلال ورته اووے واه یے وقوفے،

زه اُمیّه واهلے وَم شکو کښې آجولے وَم اوس مانه الله هغه اجر راکوی

۳ دا رنګه هاران بن ملحانؓ په سینه کښې په نیزه وهلے شوے وینه ترے څی مرګ حالت ئی دے، وینه را آخلی او په مخ ئی آچوی، او چغه وهی، «فُزْتُ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ»

٤ خبیبؓ باندی کفار جمع دی قتلوی ئی نو هغه دا اشعار وائی

لقدجمع الأحزاب حولی واجمعوا	قبائلهم واستجمعوا كلّ مجمع
فمالی حذرالموت وانّی لمیتٌ	وانا الی ربیّ ایابی ومرجعی
فلست ابالی حین اُقْتَلُ مسلماً	علی ایّ شقٍ کان لله مصرعیْ
وذاك فی ذاتِ الالٰهِ وان یشأ	یبارك علی اوصال شلوٍمُمَزَّعیْ

حدیث کښې راځی چه کله نیك سړی نه روح اخستے شی تونزدے خلقو ته وائی چه مانه لرے شی چه د رحمت فرشتے راته نزدیے شی،

(وَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا) ایت ٤١ ربط — که چرے مسئله د توحید بیانولوته دی نه پریږدی نو لاړشه هجرت وکړه او چا چه هجرت کړے دے نو الله آباد کړی دی،

زمحشریؒ هم وائی «قد جربنا ذالك مرارا»

پیربابا سیدعلی ترمذی، ترمذ نه راغلے وو دامغل بادشاه رالیږلے وو دی دپاره چه پښتو کښې یو پیر ابایزیدانصاریؒ معروف روښن پیر هغه ئی بدنام کړو کله چه پیربابا پیرروښن ولیدو نو هغه اوو ے چه داخو نیك بنده دے دے څنګه بدنام کړم نو واپس تلے نشو نو دیر په غرونو کښې آباد شو او هلته وفات شو

سیدعلی هجویریؒ دهجویر نه لاهورته راغلو او لاهور کښې آباد شو خلق ورته

داتا گنج بخش والی خکه هغه والی،

یا علی خلق ترا گنج بخش میگویند ولکن دردست تو یک حب نیست

(وَمَا اَرْسَلْنَا)ایت ۴۳ دفعه د وهم ...... چه ستا نه مخکښې انبیاء لکه انسانان نه

ورونو دلته،الاّ رجالاً نّوحی الخ،

(یَتَفَیَّؤُ ظِلٰلُهٗ)ایت ۴۸ بعض خلق وائی چه نبی علیه السلام خکه نور وو چه د

هغه سورے (سایه)نه وه موږ وایو داسی نه ده.بلکه دنبی علیه السلام سورے

وو طبقات الکبری صفحه ۱۲۸ جلد ۸ کښې ذکر کوی ام المؤمنین نه

روایت دے

کنّافی منتصف النّهار فاذا رأنا بظلّ رسول الله،

(لَاتَتَّخِذُوْٓا اِلٰهَیْنِ)ایت ۵۱ دوه خدایان مه نیسئ او ئن مؤمنان څه کوی،

مگر مؤمنوں پر کشادہ ہیں راہیں پرستش کرے شوق سے جسکو چاہے

نبی کو جو چاہے خدا کر دکھائے اماموں کا رتبہ نبی سے بڑھائے

شہیدوں سے جاجا کے مانگے دعائیں مزاروں پہ جاجا کے نذریں چڑھائے

نہ توحید میں کچھ خلل اس سے آئے نہ ایمان بگڑے نہ اسلام جائے

(اَمْ یَدُسُّهٗ)ایت ۵۹ (دلته مشهوره واقعه د لور خخولو دابوسفیان) دوئی به

لور په زمکے کښې خخولے د فرزدق نیکه وو یوه ورځ یو سړی لور دوانه

کړی وه نو ده ورته اووے چه یواوښه به درکړم او دا ماته راکړه،نو هغه داسے

وکړل اودی ورته اوښه ورکړو بیاهرسړے به دیته راتلو اودفرزدق نیکه به

اوښه ورکولو آخر دا چه دکرسل پیغلے جینکۍ جمع شوی وے اوفرزدق

چه په جریر باند فخر کوی نو داورته یاده وی

(الْمَثَلُ الْاَعْلٰی)ایت ۶۰ ای فی قلب المؤحدخکه چه د مؤحد زړه صفاوی

یو سالك وائی

اذاسکن الغدیرُعلی صفاهُ وجنّبَ ان یُّحَرِّکَهُ النَّسِیْمُ

ترٰی فیهاالسمآءَ بلا انفطارٍ کذاك الشَّمسُ تبدُوْا وَالنُّجومُ

کذاك قلوبُ اربابِ التَّجَلِّیْ یرٰی فی صفْهاالله العظیمُ

(وَلَوْیُؤَاخِذُ)ایت ۶۱ دی خالی نه تخویف اودفعه دوهم چه دوئی

دومره گناه کوله نو الله عذاب ولے نه ورکولو

جواب..... که الله دنیاکښی سزاور کوله نو یوزنده سر به پاتے نه وے ،

(شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ)ایت ۶۹ یو صحابی نبی علیه السلام ته وائی ان اخی استطلق

بطنه نبی علیه السلام ورته اووے اسقه عسلاً بیا ورته راغلوچه هغه خونوره

خرابه شوه نو بیا نبی علیه السلام ورته اووے اسقه عسلاً بیا ورته راغلو چه

نوره خرابه شوه نبی علیه السلام بیا ورته اووے اسقه عسلاً نو خلورم ځل

راغلوچه ټهیك شوه،نونبی علیه السلام ورته اووے ستا وررورخیټه دروغجنه

وه، قرآن دروغجن نه دے ،

(لِقَوْمٍ یَّتَفَکَّرُوْنَ) ایت ۶۹ او ۶۵ کښی اووے ،ان فی ذلك لایة لِّقَوْمٍ یَّسْمَعُوْنَ،

ایت ۶۷ کښی اووے ،ان فی ذلك لاٰیة لقوم یعقلون، نو دلته وائی

لقوم یتفکرون

(وَاللّٰهُ خَلَقَکُمْ)ایت ۷۰ سوره اوّل کښی دلائل وُو نو ۶۵ نه نی بیا شروع کړل

اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ایت ۶۵ بره نه دریاندی اوبه ووری بیا ئی اووے

وان لکم فی الانعام لعبرة ایت ٦٦

چه غوا ببنی کښې او بیزې ته و گوره خوړلی دی وابه تو خکلی دی او به یو طرف ته وینه بل طرف ته غوشایه روان تربنه شو ده شرّ بهیری او ته نې خکلی دادرله چاپیدا کړی دی بیا وائی ومن ثمرات النخیل والاعناب واه کهجورے ته وګوره خومره دخواړه پسته مسته ،بوډا سړے ئی هم خوړے شی دارلګدانګور ته وګوره خنګه وروکے غوندکوده اوالله خواږے اوبه آچولی دی بیاوائی واوحی ربك الی النحل واه مچی ته وګوره خکلی دی اوبه نوخوړلی دی ګلان یو طرف ته زهر بل طرف ته ګبینان،دواړه کارخانه چا پیدا کړی ده نو بیاوائی والله خلقکم ایت ٧٠ چه داهرڅه پریمنده او انسانه خان ته وګوره دخوانی ته شے بوډا نوروان ئی په همسادا انقلاب در کښی راستے دے بیاچاو دانګورئی درته وائی

باګشت عصا بر دم اشارت میکند پیری که امروز است یا فردا جا اینجا است یا انجاء

دانګورئی دی په لاس کښی ده اوهغه درته وائی بوډا قبرډ یاداخی ده یادایا داخانی ده دے وخت کښی آواز درکوی

غافل تجھے گھڑیال یہ دیتا ہے منادی تو کچھ نه کرسکا عمر فصول گھٹادی

(وَاللّٰهُ فَضَّلَ)ایت ٧١ کله چه محکښی نی اووے ،خالق لکل شیء هوالله نو دی خانی ته نور دلائل چه تا ته الله څه درکړی نو بل ته نه ورکوے اوالله وګوره تا ته رزق درکوی نوالله رامدد کوه

(وَحَفَدَةً)ایت ٧٢حفدة نواسی ته وائی اصل کښی حفیدمطیع ته وائی نواسے هم دیکه تابعداری ی نواسے دیکه خدمت کوی جمات ته ئی روان کړے

وی او نو اسی سره مینه ډیره زیاته وی داخکه چه دابچت وی زولی خو سرګنده وی،

(ضَرَبَ اللّٰهُ)ایت ۷۵ داہل مثال دپاره داللّٰه او دَغیر اللّٰه داللّٰه مثال دهغه چا په شان چه هغه سره ډیر څه وی او غیر اللّٰه چه لاس کښې لی هیڅ نه وی نو کوم یو بهتر دے او انسانه ته هغه چاته غوارے چه هغه سره هیڅ نشته

(وَضَرَبَ اللّٰهُ)ایت ۷۶ دادریم مثال چه یو ګونګی دے بل خبرلرچ نو کوم یو غوره دے

(هَلْ يَسْتَوِيْ)ایت ۷۶ چرته مؤحد چرته مشرك

علامه ابن قیمؒ ددی نقشه پیش کوی

چه نه دی برابر هغه والی چه یو بادشاه وو یو خائی کښی ترے بغاوت او شو بادشاه خپل غلامان راغوته کړل یو ته ئی اووے چه ته لاړشه دبغاوت دفاع وکړه هغه ورته اووے بادشاه سلامت چه تاته ماپخپله روټی نه وی در کړے نو زما زړه نه صبریږی

دویم ته ئیے اووے نو هغه ورته اووے چه ماوبه نه وی در کړے نو زمازړه صبرنه کوی

دریم ورته اووے چه بستره م درته نه وی خواره کړی

څلورم ته ئیے اووے نو هغه اووے ډیره ښه ده نو لاړو بغاوت ئی دفع کړو نو انصاف وکړو چه کوم یو بهتر دے

(تَقِيْكُمُ الْحَرَّ)ایت ۸۱ دګرمی ذکرئے وکړو او سړه ئی پری قیاس کړو دا خکه چه ګرم ښهرونه دیخونه زیات دی

(نِعْمَتَ اللّٰهِ)ایت ۸۳ ای توحید(ابن قتیبةؒ)

(یُنْکِرُوْنَهَا)ایت ۸۳ ویقولون بانه من شفاعة الهتنا(زادالمسیرؒ ابن قتیبةؒ)

(یَوْمَ نَبْعَثُ)ایت ۹٤ ربط..... کله چه مخکښې دلائل بیان شو بیا هم نه منی نو تخویف ورکوی

(اِنَّ اللّٰهَ)ایت ۹۰ دلته نه امورمصلحة الدافعة للعذاب

عبد القادر جیلانیؒ وائی، که ټول قرآن کښې صرف دا آیت نازل وے نو دا هم کافی وو

(وَالْاِحْسَانِ)ایت ۹۱ احسان وائی *ان تعبدالله کانك تراه فان لم تکن تراه فانه یراك*

(کَالَّتِیْ نَقَضَتْ)ایت ۹۲ داعربو کښې یوه لیونۍ ښځه وه سحر به ئې ورئی جوړه کړه اوماښام به ئې خرابه کړه هم دغسې مشرك هم دے

(فَلَنُحْیِیَنَّهٗ)ایت ۹۷(ژوندخوشحالی به ورکړو) اعتراض راځی چه مونږ دیر موحدین ګورو چه غریبان وی او څه ورسره نه وی فقراوفاقه ئې مړوی

جواب، اصل کښې دا ژوند دخوشحالی نه دے که ژوند د خوشحالی داوی چه سړے ډیری میوے خوری نو مارغان بیا به ژوند تیروی که ژوند د خوشحالی داوی چه سړے په هر ځا زوروَر وِی نو بیا زمرے د ټولو نه به زندګی تیروی ،بلکه،ژوند د خوشحالی دا دے چه غم خوشحالی یعنی هر حال کښې زړه په ایمان مطمئن وی(تفصیل دپاره ضیاء النورـ ۸۷و ګوره)

(یُعَلِّمُهٗ بَشَرٌ)ایت ۱۰۳ نبیؑ سره یوتن کیناستو اوهغه عجمی وو نو کافرووے چه قرآن ورته داعجمی ښائی،

(انّ ابراهیم)ایت ۱۱۹ کله چه ابراهیمؑ پشان کللك شوے نو اُدعُ الخ

(بالحکمت)ایت ۱۲۵ امام رازیؒ والی العلم والعمل والبیانؒ ماوردیؒ والی الامروالنهی

بسم الله الرّحمٰن الرّحیم

سورة بنی اسرائیل

دا مکی سورت دے په نزول کښی ۵۰ پس د قصص نه نازل شوے دے

روابط السورة بنی اسرائیل

ف ۱......مخکښی سورت شروع وو په توحیدنو دا سورت هم شروع کوی په توحیدنو دی وجی نه نی وریسی راوړو،

ف ۲......مخکښی سورت په اول کښی اعلان اوشو چه د الله عذاب به راځی نودی سورت کښی وجوه د عذاب بیانی چه څه د وجی نه عذاب راځی

ف ۳......مخکښی ترغیبات وو هجرت ته نودی سورت کښی هجرت دنبی ﷺ مسجد حرام نه مسجد اقصی ته ذکر کوی،

ف ٤......مخکښی ئی وائیلی وو، انما جعل السبت علی الّذین ،چه ښکاربندوو نودی سورت کښی شریعت د اصحاب السبت ذکر کوی،

ف ۵......مخکښی ئی وائیلی وو، ولا تك فی ضیق مما یمکرون،نودی سورت کښی د هغی مثال بیانی،

ف ٦......مخکښی ئی وائیلی وو، انّهٗ لیس لهٗ سلطنٌ، نودی سورت کښی تفصیل د عدمِ زورد شیطان بیانی(چه دشیطان زور نیشته)

ف ۷......محکیٔني لی وائیلي وو ،زدنهم عذاباً فوق العذاب ایت ۸۸ نو دی سورت ایت ۹۷ کښې په هغې زیادت کوی ترقی علی ما سبق بائله

ف ۸......محکیٔني ایت ۱۲۵ لی وائیلي وو اُدْعُ الی سبیل ربك بالحکمة نو دی سورت کښې والی چې دا کار کوی نوخلق به دی کلی نه اوباسی نو زړه مه تنګوه،

ف ۹......محکیٔني لی وائیلي وو انّ اللّٰه مع الذین اتقوا والذین هم محسنون نو دی سور کښې نمونه د نصرت د اللّٰه مرحدینو سره بیانی،

ف ۱۰......محکیٔني لی وائیلي وو واصبروماصبرك الا باللّٰه نو دی سورت کښې نمونې د صبر ذکر کوی

ف ۱۱......محکیٔني لی عذاب بالاقوام السابقه ذکر کړو نو دی سورت کښې وجوه د عذاب بالناس الأتی ذکر کوی

ف ۱۲......محکیٔني تخویف دنیوی وو نو دی سورت کښې تخویف اخروی ذکر کوی

ف ۱۳......محکیٔني لی اووی چه قران موثر رُشد اوهدایت د پاره رالیږلے دے نو دی سورت کښې وائی چه پخوا می هم کتابونه رالیږلی وو،

ف ۱٤......محکیٔني اثبات التوحید اوشو نو دی سورت کښې وائی چه چا توحید نه دے منلے نوعذاب پری راغلے دے،

ف ۱۵......محکیٔني مسئله د توحید بیان شوه خلق لی نه منی اونبی علیه السلام زړه تنګ شوے دے نو دی سورة کښې سیل دنبی علیه السلام ذکر کوی څکه چه سیل کول پس د زړه تنګوالی باندی سه لګی،

امتيازات السورة بني اسرائيل

۱...... داسورة ممتاز دے په بيان دعللو دعذاب باندی

۲...... دا سورة ممتاز دے په ۲۵ اوامر اونواهی باندی

۳...... داسورة ممتاز دے په واقعه د اسراء باندی

٤...... دا سورة ممتاز دے په بيان د تاريخ د اسرائيلو باندی

۵...... دا سورة ممتاز دے په بيان د دوو عذابونو د بنی اسرائيلو باندی او دوه سر کشئ دهغوئی بیالی،

٦...... ممتاز دے په مطالبه د يو سورة د جناتو،انسانانو ټولونه،

دعوى السورة بني اسرائيل

بيان د امورو اربعه ز ،چه مرتکب ئے مستحق د عذاب ګرځي،

خلاصة السورة بني اسرائيل

دی سورت کښی څلور امور بيانوی چه کونکے ئی لائق د عذاب دے ،

۱...... شرك مستمرة سبب للنزول العذاب

۲...... هتك شعائر الله سبب للنزول العذاب

۳ اخراج الرسل اواخراج الأمرين بالمعروف والنّاهين عن المنكر سبب للنزول العذاب

٤...... الاستهزاء بالرسل سبب للنزول العذاب

حل مشكلات السورة بني اسرائيل

(سُبْحٰنَ الَّذِىْٓ) ايت ۱ واقعه د معراج د نبی ﷺ د مسجد حرام نه مسجد اقصٰی ته دی ايت نه ثابت دی اودا سفر د نبی ﷺ په براق باندی وو

او اسمانونو ته تلل د سورت ایاتونو سره ثابت دی او دا سفر د نبی ﷺ په یو زینه (پوړئی) وو دا رنګه احادیث متواتره سره هم دا واقعه ثابت ده تقریباً دیرش صحابه کرامو نه دا روایت مروی دے

پاتے دا چه پیغمبر روحانی تلی وو که جسمانی هم وو نو پیغمبر دواړه حیثیت سره لاړو او کوم روایت کښی چه راغی چه روحانی لاړه نو هغی کښی نفی د جسم نشته نبی ﷺ سره د جسم لاړدے

او یله خبره د چه الله جل جلاله ئی لیدلے دے او که نه نو نبی ﷺ نه دی باره کښی تپوس شوے وو جواب کښی ئی اوفرمائیل نُوْرٌ اَنّٰی رَاه ریاده ریا م وُلیده (یو روایت داسی دے نورٌ انّی راهٗ ریا وه او وریا چرته لیدے شی)

او عائشه رضی الله عنها د رویت نه منکره وه

(وَاٰتَیْنَا) ایت ۲ ربط ــــ محکښی دلیل نقلی وو نو دلته دلیل وحی ذکر کوی

(اَلَّا تَتَّخِذُوْا) ایت ۳ خرنګه چه دا مسئله د تورات ده دغسی قران هم ذکر کوی لکه سورة مزمل ایت ۹

(ذُرِّیَّةَ) ایت ۳ ـ ۱ دا یا منصوب بنا بر نداء محذوفه چه حرف ندا محذوف ده ـ ۲ یا مفعول دے الا تتخذوا د پاره

او دویمه توجیه سره رد په هغه چا چه هغوی وائی چه اقوام سابقهٔ بتان رامدد کول نه بلکه هغه خوك چی نوح علیه السلام سره کشتی کښی سوارهٔ وو هغه ئی رامدد کول

(عِبَادًا لَّنَا) ایت ۵ یا مراد دی نه جالوت دے یا بخت نصر چه الله پری مسلّط

کړے وو،

(لِيَسُوْءٗا وُجُوْهَكُمْ)ایت ۷دا متعلق دے په بعثا پوری یعنی راولېږل موږ بیا بندګان دی د پاره،

35

(وَلِيُتَبِّرُوْا)ایت ۷دویم ځل الله پری حضرت عمرؓ مسلّط کړو یهودو نے قلعه کښی بند کړل نو هغی اُووی چه موږ تسلیم کېږو خو موږ ته مشر او ښائی، نو صحابه وُ ورته عبیدة بن الجرّاح وښائیلو، چه هغوئی ولیدو نو هغوی اُووے چه دا ستاسو مشر نه دے دی کښی هغه نښے نیشته نو بیا ئی عمرؓ پسی واستولو او هغه مدینی نه روان شو غلام ورسره وو لاره کښی به کله دا په اوښ سواریدهٔ او کله غلام نو دی چه هغه ځائی ته ورسیدل نو د غلام نمبر وو غلام ورته اووی ته سور شه عمرؓ ورته اوویل نه ستا نمبر دے غلام ډیر زوروُلګولو، عمرؓ نه منل، آخر غلام سور شو چه هلته لاړل نو عمرؓ ته ئی شاهی لباس راچولو چه کله عمرؓ په اس کیناستو او قلعی طرف ته روان شو نو لږ چه لاړو جغه ئے کړه چی ماته خپل لباس راوړئی دا نهٔ آچوم نو خپل لباس کښی پواځی قلعی طرف ته ورغلو راهبانو چی قلعے نه ولیدو نو هغوی اووی دا ستاسو مشر دے د دی پیشنګوئی موږ ته شوی وه (عمرؓ هغه سړے وو چه د مجاهد خط به راغلو نو هغه به خپله د مجاهد کور ته ورسولو، او حواله به ئی کړو، یا به ئی ورته اولوستو، او بیا به کوټه کښی کیناستو او جوابی خط به ئی ورته اولیکلو،

(اِنَّ هٰذَا الْقُرْاٰنَ)ایت ۹ ربط مخکښی عذابونه ئی ذکر کړل نو که ته د عذابو نو نه خان ساتی نو قرآن ته لاس کړه،

داخکه چه دولی به کله (طٰٓئِرَهٗ فِیْ عُنُقِهٖ)ایت ۱۳ دالی ولے اوو ے ،جواب ...... بو کار کولو نومرغی به خپلے جالی ته پاسوله که ههغه به ښی طرف ته لاړه نو بیا به ئی وے چه کار م کیږی او که کس طرف ته به لاړه نو بیا به ئی وے چه نه کیږی نو بدفالی به ئی نیوله خکه طائر سره تعبیر ئی و کړو د اعمالنامے نه ،

(اَمَرْنَا مُتْرَفِیْهَا)ایت ۱٦ ـ ۱یا امرنا په تخفیف سره دے نومعنی دادے حکمنامترفیها (حکم او کړو مونږ) باطاعة الله ورسوله ففسقوا (دا قول د ابن جنی دے)

ـ ۲ یا په تشدید سره دے ،اَمَّرْنَا ،بمعنی ،کثرنافیهاالأمراء ففسقوا،

ـ ۳یا،امرنابمعنی فیصله،فیصله او کړه مونږه په مالدارود فسق ففسقوفیها

(مَنْ کَانَ یُرِیْدُ الْعَاجِلَةَ)ایت ۱۸ څه مطلب چه دنیا به نه غواړے ، حالانکه سړے چه مسجد نه راوځی نو وائی اللّٰهم انی اسألك من فضلك اوحج باره کښی الله وائی وابتغوامن فضل الله حدیث کښی راځی،

لاحسدالافی اثنتین رجل أتاه الله علماً ورجل أتاه الله مالاالخ

نودلته ولے مال ته پسخیدل شته

جواب اصل کښی یودنیا په دنیاحاصلول دی ،اودویم په دین باندی د دنیا گټل دی نو دا ممنوع دی ،اودلته دا مراد دے ،

فضیل بن عیاض هم وائی ،

لان اطلب الدنیابطبل ومزمارأحب الیّ من ان اطلبهابالدین

مجدد دوانی تدریس وافتاء وقتی نافع آیند که خالص لوجه الله باشد

عبدالله بن مبارك هم اشعارو کښی وائی

قَدْ يَفْتَحُ الْمَرْءُ حَانُوتًا لِمَتْجَرِهِ وَقَدْ جَعَلْتَ حَانُوتَكَ بَيْنَ الْأَسَاطِينِ

وَصَيَّرْتَ دِينَكَ شَاهِينًا تَصِيدُ بِهِ وَلَيْسَ يُفْلِحُ أَصْحَابُ الشَّوَاهِينِ

اومفتاح دارالسعادة کښی علامه ابن قیمؒ او اصول السنة ،صفحه۳۳

ضیاء النور ۵۹ کښی شیخ القرآن نورالله مرقده پدی سره کلام کړے دے

(لا تجعل مع الله)ایت ۲۲ ربط...... مخکښی ذکرشوچه عذاب به راځی

نواوس امور مصلحة الدافعة للعذاب ذکر کوی څه اوامر او څه نواهی ،دولس

اوامر او دیارلس نواهی ذکر کوی نوټول ۲۵ شول داځکه چه ۲۵ کاله

کښی سړے پیکه کوځی ،ځکه چه سړے دولس کالو باندی واده وکړی

نو ښځ میاشتو بعد دسری حلالی بچے کیږی نودده بچے پیدا شو ،نو هغه ته

دولس کالو باندی لی واده وکړو نو ښځ میاشتی بعد د هغه بچے پیدا شو

نو ۲۵ کاله شول ،نودے نیکه شو نو نیکه نه خلق مشورے آخلی ،نو ته هم

دا ۲۵ ،اوامر او نواهی باندی عمل اوکړه چه نیکه شے خلق به درنه

مشورے آخلی،

نواهی

- ۱ (لاتجعل مع الله)ایت ۲۲
- ۲ (الا تعبدوا الا ایاه)ایت ۲۳
- ۳ (فلاتقل لهماآف)ایت ۲۳
- ٤ (ولا تنهرهما)ایت ۲۳
- ۵ (ولاتبذرتبذیرا)ایت ۲۶
- ۶ (ولاتجعل یدك)ایت ۲۹
- ۷ (ولاتبسطها) ایت ۲۹
- ۸ (ولاتقتلوا اولادكم) ایت ۳۱
- ۹ (ولاتقربوا الزنی)ایت ۳۲
- ۱۰ (ولاتقتلوا النفس)ایت ۳۳
- ۱۱ (ولاتقربوامال الخ)ایت ۳٤
- ۱۲ (ولاتقف مالیس لك)ایت ۳۶

۔ ۱۳ (ولاتمش فی الارض مرحاً)ایت ۳۷

اوامر

۔ ۱ (الاّ تعبدوٓا الاّ ایاہ)ایت ۲۳ ۔ ۲ (وبالوالدین احسانا)ایت ۲۳

۔ ۳ (وقل لهماقولا کریما)ایت ۲۳ ۔ ٤ (واخفض لهما)ایت ۲٤

۔ ۵ (وقل رب ارحمهما)ایت ۲٤ ۔ ٦ (وات ذاالقربی)ایت ۲٦

۔ ۷ (والمسکین)ایت ۲٦ ۔ ۸ (وابن السبیل)ایت ۲٦

۔ ۹ (فقل لهم قولامیسورًا)ایت ۲۸ ۔ ۱۰ (اوفوابالعهد)ایت ۳٤

۔ ۱۱ (اوفوالکیل)ایت ۳۵ ۔ ۱۲ (وزنوابالقسطاس)ایت ۳۵

(وَبِالْوَالِدَیْنِ اِحْسَانًا)ایت ۲۳ موږ پلار سره ښه سلوک کوے دانه چه ښخه درته ګوري کوږ کړي نو بس بیا مور باندې شروع شي.اوبیا ته ورته دا ګوري چه مورم مونځ نه کوي یامشرکه ده اوته دسخي تاؤ په اوباسے هغه یو سړی تربور سره نه لګیده یوه ورځ تربورانی ولیدو راغلے دے په کټ، کښې پروت دے اوقبلے ته ئې خپے کړې دی نودے چه حجرے ته راغلوهغه ئې اولیدو نو کور ته ئې منډه کړه اوغټ کوتك ئې ولیدو اوراغلو ددخپوته په دواړو لاسو په اخلاص سره کوتك ئې راخلاص کړو نوهغه چغې کړے خلق راغلو چه څه چل دے، ده ورته وے چه پرېږ دوه م ئې چه زه په خانه کعبے غیرت او نه کړم بیا به په څه کوم نوبهانه ئې ورته خانه کعبه کړه

یوحدیث کښې راځي صحابی نبی علیه السلام ته راغلو،

قال من ابربارسوالله قال امك قال ثم من قال ﷺ امك قال ثم من قال ﷺ امك ثم من قال ﷺ اباك ثم الاقرب فالاقرب ،

یو شاعر وائی،

علیك ببر الوالدین كلیهما وبر الاقارب وبر الاباعد

ابو هریرهؓ ته یو سړی راغلو ورته وائی ان لی امرأة وان امی تأمرنی بطلاقها

هغه ورته اووے نورنه یم خبر خو

سمعت رسول اللهﷺ یقول الوالد اوسط ابواب الجنة

عمرؓ ته یو سړے راغلو چه زوئی زما حق نه ادا کوی عمرؓ د هغه بچے

راوغوښتو تپوس ئی ورنه او کړو چه دا ولے ، هغه بچی ورته اووے چه ده

بالدی زما هم څه حق شته او که نه ،عمرؓ اووے چه ستا حق هم شته او هغه

دادے چه تا ته ښه نوم کیږدی او تا ته ښه دینی تعلیم درکړی، او تا ته نکاح

او کړی هغه ورته اووے چه زما یو حق ئی هم نه دے پوره کړے ،عمرؓ پلار ته

ئی اووے چه اول ده سره تا ظلم کړے دے او بیا تا سره دے ظلم کوی

نن صبا چه دوالدینو حقوق نه پوره کوی داځکه چه انسانیت ئی ورنه وړی

بیوولے،

دا رنګه یو حدیث چه غار کښی درے کسان ګیر شوی وو ، او هغه کښی

دخلاصی وجه دا هم وه چه د مور پلار ئی خدمت کړے وو،

یو حدیث کښی راځی،

ثلاث دعوات مستجابات لاشك فیهن دعوة المظلوم ودعوة المسافر،

ودعوة الوالد علی ولده،

یو حدیث کښی راځی، ما اکرم شاب شیخا الاقیض الله له عند سنه ،

دمشر ادب او عزت پکار دے لکه څنګه چی د مور پلار حقوق دی ،

دارنګه دخویندو هم حقوق دی،

یو روایت کښی راځی،من له ثلاث بنات او اخوات فله الجنة،

صحابی تپوس کوی که دوه وی ،نبی علیه السلام وائی که دوه وی ،نوهم دهغوئی قدر کوی،

(رَبُّكُمْ اَعْلَمُ)ایت ۲۵دا جمله ولے ذکر کوی جواب داځکه که د مور پلار خدمت کوے خوزړه کښی داوی چه جائیداد ترے قبضه کړم نو الله خبر دے

(فَاِنَّهٗ كَانَ لِلْاَوَّابِيْنَ)ایت ۲۵دالی ولے ذکر کړل جواب......داځکه چه که محکښی چرته ګناه دی کړی وی مورپلاربی عزتی دی کړی وی نو توبه اوباسه الله ته راو ګرځه،

(مَغْلُوْلَةً)ایت ۲۹ نن صبا دا مصیبت جوړشوے دے هرسړے سوال کوی غټ سړے به وی په غټ به ئی د اتو کنډیوساره ترلے شی اوهغه به سوال کوی دارنګه بیخی مصیبت شوی دی هره یوه کوره چه درته والی به زه کونډه یمه څه راکړئی(ته ورته وایه چه خاوند م درته لیدلے ده)

چه الله مال دوکړونو په اولاد ئی خرچ کړه ،حدیث کښی راځی، ،افضل الدینار دینار ینفقه الرجل علی رفقائه او کما قال النبی ﷺ ،

(خِطْأً)ایت ۳۱بفتح الخاء ترك الثواب سهوا ویکسر الخاء ترك الثواب عمدا ای العدول عن الثواب (ماوردی)

(وَلَقَدْصَرَّفْنَا)ایت ۴۱ربط...... کله چه اوامرو نواهی بیان شول نو اوس زجر بانکار القرآن ورکوی

خکه چه او امر او نواهي خو قرآن کښې ذکر دي چه دینه انکار او کړے
نو هر څه لاړل.
(الیٰ ذی العرش سبیلاً)ایت ۴۲ داخکه والي چه هر یو تالب د خپل مناب
درجه غواړي لکه وزیرد صدر درجې ارماني وي نو دوئي به هم هغه
شان کړي وے
(لاتفقهون تسبیحهم)ایت ۴۴ مرغان هم تسبیح والي
هر گیاه کی از زمین روید وحده لاشریک له گوید
(وقل لعبادی)ایت ۵۳ ربط ...... محکښې زواجر بالشرك بیان شول
او ترغیب الی القران وونواس تعلیم للعبا دذکر کوي
(وآتینا داود زبورا)ایت ۵۵ زبور ذکر خکه کوي چه دی سره ردعلی
الیهود دے یهودیانو زبور نه منلو
(الوسیلة)ایت ۵۷ وسیله بمعنی قربت
لکه اشعار ودعربو کښې راځي،
ان الرجال لهم الیك وسیلة ان یاخذوك تکحلي او تخضبي
(وان من قریة)ایت ۵۸ ددی خاني نه دویمه خبره هتك (بے عزتي)
شعائر الله سبب للنزول العذاب
(الرؤیا)ایت ۶۰ ـ ۱ رؤیا نه مراد یا هغه چه نبي علیه السلام ته په شپه د معراج
کښې ښودلي وونو کفار اعتراض کول چه داخنګه کیږي
ـ ۲ یا هغه خوب چه نبي علیه السلام لیدلے وو چه مونږ مکې ته به ـ
صلح حدیبیه اوشوه نبي علیه السلام واپس شو نو اعتراضونه ئي شروع کړل،

(وَالشَّجَرَةَ الْمَلْعُوْنَةَ)ایت ۶۰ کفارو دا اعتراض کولو چه شجرة الزقوم به خرنګه جهنم کښې وی سوځې به نه،

(وَاِذْقُلْنَا)ایت ۶۱ ربط ـــــ محکیې نې اووے ،فمایزیدهم الاطغیانا کبیرا، ذکر دسر کشی وشونودلته سبب د سر کشۍ چه ابلیس دے د هغه ذکر کوی

(لَاَحْتَنِكَنَّ)ایت ۶۲ (مونډویستل) کمایقال للعرب احتنك الجرادماعلی الأ رض

(واذامسکم الضر)ایت ۶۷ دی خالی باندی حافظ ابن کثیرؒ دابو جهل دزوئی عکرمهؓ واقعه بیانوی چه کله فتح مکه وشوه نو حیشے ته وتښتېدو په لاره کښې کشتۍ په درياب کښې ودريده اوډوبیده نو خلقو الله ته چغے کړے عکرمه ورته اووے دا ولی هغوئی اووے چه دی وخت کښې بل څوك نشی رامدد کیدے نو عکرمه کشتۍ کښې پاسیدو ،اووے والله که زهٔ خلاص شم نو لاُضعنَّ یدیٔ فی یدمحمد ﷺ ولاٗ جد نّهٔ رؤفارحیما)نوبیا نبی علیه السلام ته راغلو چه کومه مسئله م په وجه نه مله هغه م درياب کښې اومله یو جنګ کښې خالدبن ولیدؓ د شپیته زره (۶۰۰۰۰) کسانو مقابله کښې ۳۰ کسان راوویستل چه دوئی به دهغوئی مقابله کوی اوسفیان ورته اووے چه خالدؓ دا کم نه دی حضرت خالدؓ ورته اووے چه کله کافران وونونه بریدو، نو اوس ولے یریږو د کفارو نه .خو بیاورته امیراووی چه ۶۰ کسان نورهم اوباسه نوهغه کښې یو عکرمهؓ هم وه د کفارو سره چه مقابله شوه، نو چه خبریدل زر کسان قتل اوزر کسان ګرفتارشوی وو

(یَوْمَ نَدْعُوْا)ایت ۷۱ دلته بأمامهم نه بعض خلق وائی چه امام جمع د ام ده اوقیامت کښې به د مور په نامه سرے راغواری ،اودادرجی داحترام د

عیسی علیه السلام نه چه د هغه پلار نشته ،خو داخبره غلطه ده،ام، جمع

،امهات،راځي نه امام ،او دلته امام نه مراد یا مقتداء دے،

لکه علیؓ وائی،یا اعمال نامه ده لکه قتادهؒ وائی،

(كُلَّ اُنَاسٍ)ایت ۷۱ هر سړے لیډر پسے روان وی،

،اذاکان سید القوم الغراب تهدیهم سبیل الهالکین،

(مَنْ كَانَ فِي هٰذِهٖ اَعْمٰى)ایت ۷۲ علامه ماوردیؒ په کتاب الأدب للدین

والدنیا صفحه ۹۲ کښې لیکي،

ان العلم عوض عن کل لذة وممنع عن کل شهوة ومن تفرد بالعلم لم توحشه خلوة

(خفه به نه کړی خان نه کیدل)وَمَنْ تَسَلّٰى (تسلي و کړه)لَمْ تَحُطُّه،

(برباد به نه کړی)تسلیةٌ ومن اَخْتَنَهُ (خوك چه مشغول ئې کړل)

قرأة القرآن، لم توحشه مفارقة القرآن،

(وَاِنْ كَادُوْا)ایت ۷۶ دی خائي نه دریمه خبره

اخراج الرسل او الآمرین بالمعروف والناهین عن المنکر سبب للنزول العذاب

(لَايَلْبَثُوْنَ خِلٰفَكَ)ایت ۷۶(ستا وروستو به پاتے نه شي)او دهغه شان وشوچه

کسانو کله نبي علیه السلام اویستو نو هغه کسان یا جنگ بدر کښې هلاك

اومردارشول،

مولاناروم لی چه بلخ نه اوویستو نو بیا هغه خائي کښې عالم پیدا نه شو،

(اقم الصلوة)ایت ۷۸ دخائي نه امور مصلحه بیانوی ربط ـــ کله چه تا کلی

نه اوباسي نو خفه کیږه مه،دا کارونه کوه،

(فَتَهَجَّدْ بِهٖ)ایت ۷۹ هجود اصل کښې خوب کولوته وائی ،اوتهجد باب تفعل

نه دیاره دسلب ماخذ راخي یعني بمعني دخوب نسولو ،او تهجدو نه صلوة

اللیل ،وائي ،او دنبي علیه السلام او امت دواړو دپاره نفل دی، دا نه چه پیغمبر

ﷺ باندی فرض وو ،او دا به نبي علیه السلام په رمضان او غیر رمضان

دواړو کښی کول اته رکعاته، لکه څرنګه چي عائشهؓ نه روایت دے،

کان لایزید في رمضان ولا في غیره علی احدی عشرة رکعة ،او درے رکعته وتر

واجب وو او اته تهجد وو لکه بیهقي صفحه ٤٩٦ /٢ مجموعه شرح

مهذب صفحه ٤/٣٤ مصنف ابن ابی شیبة ٢/٢٩٣ مسند احمد ١/٣٨٠

شرح السنة ٤/١٢٤ مؤلفات شیخ الاسلام عبدالوهابؒ صفحه ١٥٧

او علامه ابن تیمیهؒ مجموع الفتاوی کښی ذکر کوی ،او دا صرف رمضان

پورے خاص نه دی لکه غیر مقلدین چي وائي،

(، اهو شفاء) ایت ٨٢ قرآن شفاء ده لکه تسهیل ذکر کوی ای شفاء بالرقیات

والتعاویذ به،

او قرآن باندی یااسماء حسنی باندی دم اچول یا تعویذ کول جائز دی

خو کوره یو تمیمه ده بل تعویذ دے ،دی کښی فرق دے،

ذکر الاخبار للاصفهانيؒ صفحه ١٠٢ /جلد ١ کښی عائشهؓ نه روایت

ذکر کوی چه وائي،

امامن علق قبل البلاء فهو تمیمة واما ما علق بعد البلاء فلیس بتمیمة،

تعویذ جائز دے او تمیمه شرك دے

یو شاعر هم وائي

اذاانشبت المنیة اظفارها الفیتَ کل تمیمةٍ لا تنفع

تعویذ باره کښی د عمرو بن العاصؓ نه روایت دے چه هغه کوم بچی غټ وو په هغوئی به ئی دمونه یاده ول ،اوچه کوم واړه وو هغوئی ته به ئی تعویذ کولو او هغه باندی،اعوذ بکلمات الله التامات، وغیره دمونه لیکلی وو ،باقی داچه دم باندی پیسی اخستل ناجائز دی،اوکوم چه ابو سعید خدریؓ نه دلیل نیسی چه هغه دم اچولے وو په هغه ئی دیرش بیزے اخستی وے نو دم باندی د پیسو اخستل جائز شول نو جواب دا دے ،چه یا خو هغه دار الحرب وو اودار الحرب نه چه په کومه طریقه باندی مال راؤړے شی راوړه ئی، دوئم دی کښی نبی علیه السلام وائیلی وو اجعل لی فیهاسهماً،

رما ته هم حصه وکړځوی تو نبی علیه السلام خو ته حصه اخسته ځکه هغه خو دم نه وو اچولے بلکه داماِل فیء وو ،ځکه ئی وے ،اوتعویذ شته ،

سنن الدارمی بدی مستقل باب ایخے دے ،باب التعویذللحائض،

اوبیا قرطبی سورة فاتحة کښی په دی تفصیل کړے دے ،

(کُلَّمَا خَبَتْ)ایت ۹۷ددی عامه معنی داکوی چه سوړشی عذاب خو سورة بقره کښی وائی ،لایخفف عنهم العذاب،سپکوالے به نه شی کولے نوچه سوړ شو نو سپک شو نو ددی څه مطلب ،

جواب:...... اصل کښی د ،خبت،معنی داچه یو حدته روسیری او د دی معنی تائیدنحل اية ۸۸ کښی دے ،اوچه سوړ ته وائی دا راتلونکی عذاب متعلق ورته وائی چه هغه زیات وی،

(وَلَقَدْ اٰتَیْنَا)ایت ۱۰۱ ددی خائی نه خلورمه خبره الاستهزاء بالرسل (حق پرستو پورے)سبب للنزول العذاب

(تِسْعَ اٰيٰتٍ)ایت ۱۰۱ دی دوه ۲ معجزے اعراف ۱۰۷ ۱۰۸ کښی اودوه اعراف ۱۳۰ کښی ذکر دی،او نورے اعراف ۱۳۳ کښی ذکر کوی،

(وَبِالْحَقِّ اَنْزَلْنٰهُ وَبِالْحَقِّ نَزَلَ)ایت ۱۰۵ قرآن کریم اول الله عالم غیب نه عالم شهادة ته په یوځل راورو،اوبیا عالم شهادة نه عالم دنیاته جبرئیل علیه السلام نازلیږاوړو، نو بالحق انزلنه نه مرادعالم غیب نه عالم شهادة ته او وبالحق نزل نه مراد عالم شهادة نه دنیا ته راتلل مراددی

(وَيَخِرُّوْنَ لِلْاَذْقَانِ)ایت ۱۰۷ اذقان ولے ذکر کوی سجده خو په تندی کیږی جواب ..... دا ئی ذکر کړه ددی وجے نه چه مینه په دقن (زنی) باندی کیږی نو د محبت خائی ئی ذکر کړو

(اَوِادْعُوا الرَّحْمٰنَ)ایت ۱۱۰ دوه نومونه ئی ذکر کړل ځکه عربو کښی دوه نومونه مشهوروو،یو الله دا به شمالی عرب کښی اوبل لفظ د رحمن په جنوبی عرب کښی،نو ځکه ئی دا دوه نومونه راوړل،

(وَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ) ایت ۱۱۱ سورة شروع کیدونو وائیلی ئی وو سبحان الذی نو اوس وائی قل الحمدللّٰه اوبیاوائی کبره تکبیرًا نودرے واړه یوځائی شول ۱..... سبحان اللّٰه ۲..... الحمدللّٰه ۳..... اللّٰه اکبر

(لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا)ایت ۱۱۱ دی سره ردعلی الیهود والنصاری کوی لانهم یقولون عزیرابن الله والمسیح ابن الله او ولم یکن له شریك سره رد کوی په مشر کینو ولم یکن له ولی من الذل سره رد کوی په مجوسو لانهم یقولون لولااولیاءُهٗ لَضَلَّ قد تم تصحیح السورة الاسراء فی یوم الخمیس فی الدار القرآن الفنجفیر ۱۴۳۲/۱۷ ویلیه من مجلد الثانی

تصنیفات و تالیفات

المکتبۃ البیانیہ جامعۃ الامام محمد طاہر دار القرآن پنج پیر

تصنیفات حضرت شیخ القرآن [illegible] مولانا محمد طاہر رحمہ اللہ تعالیٰ

- ☆ سمط الدرر فی ربط الآیات والسور — عربی
- ☆ العرفان من اصول القرآن — عربی
- ☆ البصائر للمتوسلین باهل المقابر — عربی
- ☆ النشاط عن حیلة الاسقاط — عربی
- ☆ نیل السائرین فی طبقات المفسرین — عربی
- ☆ ضیاء النور لدحض البدع وابانة الفجور — عربی
- ☆ المعدن من خلاصة سورة القرآن — پشتو
- ☆ الانتصار لسنة سید الابرار — اردو
- ☆ حقیقت مودودی — اردو
- ☆ ارشاد الانام فی ترک الفاتحة خلف الامام — اردو
- ☆ تقیة الاکابر من الحیوة المستعار — اردو

تصانیف حضرت شیخ القرآن [illegible] مولانا محمد طیب طاہر [illegible]

- ☆ العوارف الذاتیہ (تفسیر سورۃ الفاتحہ) — اردو
- ☆ مسلک الاکابر فی تحقیق الحیوۃ و عدم السماع لاهل المقابر — اردو
- ☆ کتاب الجہاد — اردو
- ☆ کلمۂ حق — اردو
- ☆ ازالۃ الا[illegible] — پشتو
- ☆ د [illegible] — اردو
- ☆ مخزن الدرر فی [illegible] الآیات [illegible] سمط الدرر — عربی
- ☆ تنویر الحسن فی مشکلات القرآن — پشتو

مطبع: اشاعت کتب [illegible]
[illegible] محلہ جنگی پشاور
0333-4653836 / 0300-6391643